

# د محبت لومړی ښار

## لیکوال: مستنصر حسین تارړ

## ژباړن: استاد محمد نصیر حیدري

دا کتاب د عشق ،امید او ژوند قصه لري چې د انساني احساساتو ژورتیاوې په زړه پورې بیانوي

www.dawatmedia24.com
www.af.dawatmedia24.com

ټول حقوق محفوظ دی 2025 ©

**او د محبت په لومړی ښار کې پاسکل**

زه د مستنصر حسين تارړ په کتاب باندې داسې ورولويدم لکه د لسو ورځو يو وږې سړی چې په ډوډۍ باندې ورولويږي . ما پوره شپږ مياشتې ددې څخه خوند اخيسته . په اول کې خو زما ټوله دلچسپي د ژبې له کبله د ستونزې سره مخ وه . مګر په لوستلو لوستلو سره زما دلچسپی مخ په زياتدوه شوه . زه د يو حساس شخص د داخلي نړۍ او د هغه د خپلو سترګو له لارې د ليدل شوې بهرنۍ نړۍ د اغيز څخه پرته پاتې نه شوم . په ځانګړې ډول په دې نړۍ کې چيرته چې د پاسکل په څير نازکه او بدبخته نجلۍ ژوند کوي . زه هم ښځه يم او پر ما باندې دې قصې ډير اغيز کړې دی. د ماسکو پوهنتون د اردو څانګې محصلين هم د پاسکل څخه ډير اغيزمن شوې دي او بې اغيزې پاتې نه شو . دا ددې څخه څرګنديږي چې د شنبې په ورځ ( په کومه ورځ چې د تارړ کتاب لوستل کيږي ) نو هيڅ زده کوونکې به د ناروغۍ ،د کوم خپلوان د راتګ يا د ملګري د واده په پلمه غير حاضري نه کوله .

ستيمر دشپې په تياره ،يخو او مستو څپو کې د فرانس د دنکرک د ساحل خواته روان وو . سره له دی داسې احساس کيږي چې لکه په ټوله روسيه کې چې وبا خپره شوې وي او يا ټول محصلين د واده په درشل کې وي . ددې څخه پرته هر محصل هڅه کوي چې په روسي ژبه کې ښه ژباړه وکړي .

ګالينا ډشنکو
د ماسکو پوهنتون د اردو څانګې مشره استاده او پروفيسوره

www.afdawatmedia24.com

په ژوره تیاره کې د څپو زیات شور او تیزې هوا د یو ستر طوفان د راتلو وړاندوینه کوله . د سمندر خطرناکه څپره به د سمندر د سینې څخه راپورته کیده او په یو ډاروونکې غږ به د ستیمر سره لګیده. د لګیدو سره به ستیمر د یو بوډا شرابي په څېر ټالی وخوړه او بیا به په همدې شیبه کې بیرته آرام شو لکه همدی شرابي چې په لیری ځای کې کوم پولیس لیدلی وي . اما دا سکون به یې تر ډیر وخت نه پاتې کیده . او ستیمر به یو ځل بیا په خوځیدو راته .
سنان په همدې ستیمر باندې د لندن څخه پاریس ته روان وو .
د انګلستان د ساحل په غاړه د ډوور د ښار سره تړلي مشهور سپین غرونه چې په تیاره کې خاورین ښکاره کیدل په قرار قرار لیری کیدل . د غرونو تر څنګ د پخوانې قلعی د ډبرینو دیوالونو سیوري ښکاره کیدل . د قلعی په منځ کی لوړې چوترې په برقي ګروپونو روښانه شوی وی .د څپو په شور او په ژوره تیاره کې د قلعې د برجونو څخه په راوتوونکې تته رڼا کې یوه ډاروونکې او توره ښکلا وه . لکه هغه چې آسیب زده وي .
د ډوور سپین غرونه او پخوانې قلعه تر پیړیو پورې د انګلستان د محکومو هیوادونو څخه د راتلونکو خلکو لپاره د خپل پلرني وطن لومړی نظاره وه چې په لیدو یې د هغوي په غلامو روحونو یوه مستي راتله . د انګلستان په سلطنت کې چې کله به لمر په کې نه ډوبیده او د سمندر په څپو به یې هم حکمراني کوله د مرکز د لندن ښار دروازه ډوور په هغو ورځو کې دیوې مغروره سینګار شوې بوډۍ په څېر وو .چې ګران بیه ګاڼې یې د غلامو قومونو د خولواو وینوثمره وه. او بیا ددې محکومو هیوادونو حریت پسنده خلک راپیدا شول او ددې بوډۍ ښځی څخه یې ټول ګاڼه چې د تهذیب په نوم یې ددوی له مشرانو اخیستي وو بیرته واخیستل . د هری ګاڼې په اخیستو سره به دا بوډۍ په غصه کیده او د یوی منحوسه بلا شکل به یې جوړاوه. مګر نن دا بوډۍ ډیره ارامه وه . دې د حالاتو سره خپل ځان عیار کړې وو .
نن ورځ د یوې سترې ماضي یادونه یوازې په پخوانیو شراب خانو کې د عمر خوړلو انګریزانو د بې ربطه خبرو پورې محدود شوی وو. نن ورځ د ډور قلعه او سپین غرونه د یو ورک شوی تهذیب سیوري دی چې په لیدو سره یې جلال نه بلکه جمال په زړه باندې اثر کوي . دا ځل سنان هم د لیري ځایه څخه دانګلستان په ساحل د ډوور د جادویي قلعه او سپینو غرونو د لیدو څخه په جذباتي ډول غیر متأثره وو . ددې علت شاید دا وو چې د ده او د هسپانیه تر منځ فاصله کمیدله. دده اراده داسې وه چې شپه په پاریس کې وکړي او بیا مستقیما غرناطه ( هسپانیه) ته ولاړ شي . د ډوور قلعه او د هغې په برجونو کی روښانه ګروپونه اوس د یو ګرد توپ په څېر ښکاره کیدل. سپین غرونه مکمل په یوه تیاره کې ډوب شوی وو.
سنان بل لور ته د فرانس د ساحل خواته لیدل . د ډنکرک ښار ډیر لیرې وو.
سنان د یخنې څخه د بچ کیدو په خاطر د خپل سپین کوټ کالر د خپلې غاړې څخه تاو کړ او د خپل اوږد سیاحتي سفر په هکله یې فکر پیل کړ. تقریبا د شپږو میاشتو مخکینې خبره ده چې هغه په لاهور کې وو او پخپل اطاق کې ناست وو او په یو سور پینسل یې د دنیا د نقشې په مخ کربښې ویستلی او د خپل سفر خاکه یې جوړوله . او بیا یې دا سفر د وچې څخه پیل شو .د

www.dawatmedia24.com

افغانستان ، ایران ، ترکیې ، بلغاریا ، استریا ، ایتالیا، سویتزرلینډ، جرمني ، ډنمارک ، سویډن ، ناروی، هالینډ او د بلجیم څخه تیر شو او انګلستان ته ورسیده. دی اوږده سفر هغه ستړی کړی وو. د لندن څخه د روانیدو په وخت کې هغه دا حس کړی وه چې اوس ددی سفر پای ته رسیږي او د فرانس او هسپانیا د سفر څخه وروسته به هغه بیرته خپل کور ته ځی. د هغه د میني ډک کور چیرته چې د هغه کوچنی خویندی او مهربانه والدین د هغه د بیرته راتلو انتظار باسي . حتی چې مور او پلار یې د دومره اوږده سفر اجازه نه ورکوله .

هغه ته یې پلار ویلې وو :

زویه ؛

ته به په نورو هیوادونو ګرځی د نامعلومو لارو مسافر به یې خدای خبر چې په هغو هیوادونو کې به د کومو ستونزو سره مخ کیږی او بیا که د کومی ستونزی سره مخ شی نو ؟ ددی خبری سره سم د هغې غږ له ژړا څخه ډک شو .

ده به په خندا جواب ورکړ پلار جانه پیښه چیرته نه شی کیدلی. دلته د کور مخته د سړک څخه د تیریدو په وخت کې هم کیدلی شی .

مور یې خاموشه وه اما د هغې په سترګو کې د ژور خفګان څخه دا له ورایه معلومیده چې هغه هم د خپل ځوان زوی د سیاحت شوق نه خوښوي . د تللو په وخت کې یې مور د زوی مټ ونیوه او ورته یې وویل زویه د خپل ځان ډیر خیال ساته . که په تا څه وشو نو زه به دلته په آشپز خانه کی په ناسته ، ناسته مړه یم . ددې نږدی ملګري فخر هم ورته ویلي وو سنانه ستا اعصاب خراب دي . ته به هیڅکله یو بریالې انسان نه شی . د شپږو میاشتو د غیرحاضرۍ له کبله به ستا کاروبار ختم شي زه خو وایمه اوس هم خپله اراده بدله کړه . راځه چې په شیزآن کې یو پیاله چای وڅکو او بیا چیرته فلم ګورو.

سنان ورته وخندل او جواب یې ورکړ. هو په کوم هوټل کې د چایو پیاله . په مال روډ بې هدفه چکرونه او بیا ماښام د تلویزیون مخ ته اوږده ، اوږده غزیدل او خوب کول ددې خلکو لپاره یوه کامیابه زندګي ده . دده په وړاندې خو رنګین کمان ټول رنګونه خپاره واره پراته وو یو نامعلوم افق دده تر نظر لاندې وو .

هو البته د سنان ګرانو خویندو په ده باندې هیڅ اعتراض نه وو . او ورته به یې ویل ... ورور جانه موږ اوریدلي دي چې د لندن ښار رن بی ستریت سره ښکلې ښخینه لباسونه خرڅیږي نو لطفا یو جوړه ما لپاره راوړه ..

په دې کی به یې منځنې خور په قراره سره وویل یوه ما لپاره هم ....

کوچنې خور به یې د شرارت څخه اوږدو بانو ګانو سره سترګک وواهه او ورته به یې وویل خیر یوه به زه هم واغوندم .

په لندن کې د قیام په وخت کې که څه هم ما د ځان لپاره څه وانخیسته خو ددې درې واړه خویندو لپاره مې لباسونه حتمي واخیسته . کنه درې واړو ته د خارج څخه د ډالۍ د نه وړو په صورت کې چا ټول عمر سوځیدلي توس او د بانجان کدو په څیر سبزیاني خوړلی شوی .
سنان فکر کاوه چې ستیمر به دا تر سهاره د فرانسې د ډنکرک تر بندرګاه پورې ورسوي. د هغه ځای څخه به په موټر کی سپور شي او تر ماښام پورې به پاریس ته ورسیږي . او دشپې د تیرولو څخه وروسته به هغ د غرناطه او قرطبه د سحر انګیزه ښارونو په لور حرکت وکړي. د کوم ځای چې د محرابونو او محلونو په رسۍ دا ټړل شوې وو . په کوچنیوالي کې د جهازي ناولونو په لیدو ، لیدو سره دده په زړه کې دداسی ښارونو د لیدو هیله پیدا شوې وه .هغه غوښتل چې خپله لاړ شي او هلته وګوري چې واقعا اوس هم هلته ښکلی سترګې عامې دي او د ښو غشي اوس هم په زړه تأثیر کوي .
اوس د دوبي د موسم وروستي ورځې وی د هغه داسی فکر وو چې د منی د موسم پیل په اندلس کی وکړی او د ژمی د راتلو څخه مخکی به بیرته خپل وطن ته لاړ شی ځکه چې د ترکیې د د واورو په طوفانونو کې کورته د بیرته تلو تشویس وروسره وو . او هسی هم هغه ددې اوږد سفر څخه نور ستړی شوی وو او غوښتل یې چې بیرته ژر تر ژره خپل هیواد ته لاړ شي .
یوه تیزه څپه د ستیمر سره وجنګیده او دسمندر مالګیني اوبه د فوارې په شکل د سنان په مخ وغورځیدی.ده د جیب څخه رومال راویسته او خپل مخ یې ورباندې وچ کړ او یوه او بله خوا یې نظر واچاوه .د کښتۍ پاسنۍ نم جن پوړ له خلکو څخه خالي وو ټول مسافر د شپني یخ او د سمندر د نمجنو هواګانو څخه د بچ کیدو په موخه د کښتۍ د لاندیني پوړ قهوه خانې ته ښکته شوي وو . هوا اوس لږه تیزه چلیده او یخه هوا د هغه په کوټ کې د جذبیدو ، جذبیدو له کبله د هغه پلنه سینه یخوله .
قهوه خانه له خلکو څخه ډکه وه د لته د څپو د شور په ځای د انسانانو د غږونو غوغا وه ځینی خلک د کافي او شرابو په څښلو کې مصروف وو او زیاتو خلکو په کرسیو کې پینې اوږدې غځولي وی او د نیمه خوب په حالت کې وو . یو بوډا انګریز چې تور لباس او ګرده خولۍ یې په سر وه او چترۍ یې په لاس کې نیولې وه دروازې ته یې تکیه کړې وه بی حسه او بی حرکته ولاړ وو . داسې بریښیده چې د فرش په غوړیدلي کوټ باندی د یوی ځواني جوړې دحرکاتو له کبله وربانده سکته راغلې وه چې پاریس ته درسیدو د انتظار پرته هملته د فرانسوي رومانس په زده کولو هم تن مصروف وو . بلې خوا ځوان هنرمنده انګریزان د خپلو اوږدو قدونو په مرسته تکیه او خوبولي وو. او داسی ښکاره کیده چې هغه د شهرت تقاضا چې دوی په لندن کې درلوده نه ده تر لاسه کړی او اوس یې د فرانسې لاره نیولې ده . پاریس داسی یو ځای دی چې هلته د هر هنرمند احترام کیږي هغه که یو سندرغاړي وی او یا هم کوم مصور . سنان په دی ترتیبه هجوم یو ځغلنده نظر واچاوه او بیا یې د میزونو او کرسیو په منځ کې تر کاونتر پورې ځانته لاره پیدا کړه .
هغه خپل لوند کوت وویسته او د کاونتر تر شاه ولاړ کس ته یې وویل:

يوه کافي ... خو ژر ہی بیرته ورته وویل هو کافي باید توره وي یا جیټ بلیک وي پرته له شیدو ..
ویتر پرته له دی چې څه وواېی خپل سر ېی وخوځاوه او د کافي د جوړولو د ماشین لاسته يې تاو کړ. د کاونټر سره نږدې په یوه اوچته کرسۍ باندی یو ټیټ قدې سکات ناست وو چې مخ ته ېی د شرابو يو ګیلاس پروت وو خپلی ېی خمارې سترګی ېې په سنان کی ښخی کړی او هغه ته ېې وویل
شراب وڅکه ځوانه .
سنان یو نظر سکات ته ولیدل او بیا ېی ویتر ته ورغږ کړ هو زما په کافي کې بوره نه خوښیږي .
سکات په لږ قهرجنه لهجه ورته وویل بیا کافي ؟
سنان خاموشه وو .
سکات سنان د کوټ د کالر څخه ونیوه خپل ځان خواته ېې لږ کس کړ او ورته ېې وویل ما درته وویل کنه شراب وڅکه ؟ کافي خو د ښځو څښاک دی .
سنان په بیزارۍ سره ورته وویل زه شراب نه څکم .
سنان په غصی سره د کوټ کالر ورڅخه خلاص کړ او ورته ېې وویل چی ما درته وویل کنه چې زه شراب نه څکم .
سکات ورته وویل چې نه ېې څکی نو ته ډیر بی ذوقه ېی . ما خو ستا د ګټی خبره کوله .
سکات په کاونټر باندې پروت د شرابو ګیلاس راپورته کړ او سنان ته ېی وویل دلته په ستیمر باندې مالیه نشته . او دلته شراب په نیمه بیه پیداکیږي بیا ېی د شرابو ګیلاس په غړپ ،غړپ وڅکه . ویتر لکه چې په همدی انتظار کې وو د کافي د ماشین لاس ېې پریښود د الماری څخه ېی بوتل راواخیسته او ګیلاس ېې ټول ډک کړ بوتل ېې بیرته په الماری کې کیښود او بیا د کافي په جوړولو لګیا شو . سکات د ګیلاس څخه یو ګوټ وکړ وزنګیده او سنان ته ېی وویل زه خو هره هفته فرانس ته چکر وهم .
سنان ورته وویل آیا هلته دی څه خپلوان دی ؟
خپلوان ؟ سکات په قهقه وویل خپلوان ؟ د سکات لینډ د خلکو رشته داري یوازې د سکاټلینډی شرابو سره ده. سنان پوه شو له ځان سره ېې په قراره وویل بدبخته ډیر څکلي دی او بیا خاموشه ودریده .
اصلا ستیمر د شپی څخه تر سهار پورې فرانسې ته رسیږي زه هلته ټوله ورځ په یو قهوه خانه کې ناست یم او د بوردو او د کوني د منطقو له انګورو څخه د جوړو شوو شرابو څخه خوند اخلم او په دوهمه شپه بیرته انګلستان ته ځم د ستیمر دوه طرفه کرایه په همدی کرسۍ ناست د ارزانه شرابو څخه پوره کوم .
سکات خپل رنګ داره چارخانه ېې پشمیني لباس ته ولیدل او په ډیره حیرانتیا سره يې سنان ته وویل د نجونو لباس ؟
هو ، هو ، نه ، نه بیا سکات په یوه زوروې قهقې سره وویل دا خو د سکات لینډ د زړورو خلکو لباس دی چې کلټ بلل کیږي. زموږ ملي ستوري روب راېې هم دا لباس په تن کاوه .

سنان ورته وویل
دا روب راېي هم  د سکات لینډ وو .؟
سکات ورته وویل
هو سل په سله سکات وو .
سنان ورته په یوی مصنوعي خندا سره وویل دا خو هندو ښکاره کیږي .
سکات ورته وویل
ستا معلومات ډیر کم دي . سکات یو ځل بیا د شرابو تول ګیلاس تش کړ کلت یې پخپلو زنګونو راخپور کړ او سنان ته یې وویل .. هسی دا لباس ډیر د کار شی دی یوازې د تیزې هوا په وخت کې یو مصیبت شي .
سنان ورته وویل نو بیا دا لباس تاسو ولی اچوی؟
سکات خپله بدبویه خوله سنان ته نږدې کړه او په راز داره لهجه یې ورته وویل زه خو یوازی ددی لپاره دا اچوم چې فرانسوې میرمنې دا  ډیر خوښوي بلکه وربانډی شیدا دي . بیا په خندا شو او سنان ته یې وویل هسی د فرانسوې میرمنو په هکله ستا څه نظر دی ؟
سنان ورته وویل کله می ورسره ملاقات نه دی شوی .
په همدې وخت کې خدمه دسپینو ځګونو څخه ډکه یوه پیاله د سنان مخی ته کینوده او ورته یې وویل صاحبه ستاسو کافي تیاره ده سنان د کافي پیسې ورکړی. د ټیټ قدې سکات چې هوش یې نور په ختمیدو وو ددې وړتیا په کې نوره نه وه چې په ملګرتیا کې یې سفر ښه تیر شی نو خپله پیاله یې له کاونټر څخه پورته کړه شاته تاو شو او په دې لټه کې شو چې یو مناسب ځای پیدا کړي او په آرامه په کې کافي وڅکي . او که چیرته ممکن وي نو په پاتی سفر کې یوه سترګه خوب هم وکړي . د قهوه خانې ټول میزونه ډک وو.
سنان له ځان سره فکر وکړ چې ولی د کښتۍ پورتني پوړ ته بیرته نه ځم که څه هم هلته به یخني وی خو حد اقل سکون خو به وي سنان بیرته خپل کوټ واچاوه او د قهوه خانې له دروازې څخه بیرون ولاړه

کله چې سنان د کښتۍ پورتني پوړ ته راغی نو اوس هلته خاموشی خپره وه . البته د طوفان په شدت کې کموالې راغلې وو او ستیمر ډیر په سکون سره د فرانس خواته روان وو. د ستیمر چارچاپیره په اوسپنیزه کټارو باندې دوه ګروپونه چې په تارونو تړل شوي وو راځوړند وو د هغې تته رڼا د کښتۍ په لمدو تختو باندې ځلیده . د کښتۍ د کیبن سره په خوا کې د استراحت لپاره د کرسیو یو قطار وو. سنان همدلته په یوې کرسۍ باندې کښیناست . د جیب څخه یې د سګرټو یو ډبې راوویسته یوه سګرټ یې ولګاوه ا پخپله خوله کې یې کینوده ده به په ډیر مشکل سره لا دوه کشه هم نه وو کړی چې ظاهرا د آرام سمندر څخه یوه تیزه څپه راپورته شوه او د ستیمر سره ولیګده او د سمندر مالګینو اوبو یې مخ لوند کړ. سګرټ بیرته مړ شو

www.af.dawatmedia24.com

سنان د شونډو لاندې د ځان سره وبړيده او بيا يې لوند شوې سګرټ د کښتۍ په تخته ګوزار کړ او د کافي په ځکلو مصروف شو . د پيالۍ څخه يې يو غړپ وکړ بيا يې د رسيو سره د لګيدلو څراغونو د ليدو هڅه وکړه. هلته يوازې د اوبو شور او تو له تياره وه . لږ وخت وروسته هغه ته احساس وشو چې د کښتۍ په لومړي سر کې هغه يوازې نه دی بلکه په نږدې کرسۍ کې ورسره يو بل مسافر هم د موسم د تکليفونو څخه بې پروا خپلې پښې غځولې او بيده دی. هغه خپل ځان د سر څخه تر پښو پورې په يو غټ سور کوټ کې پټ کړی وو .

يو خوږ او لړزيدونکي غږ په نږدې کرسۍ باندې د پروت سور کوټ څخه راغی

اوف ، اوف دا څومره يخني ده سنان په اضطراب سره د کافي پياله لاندې کيښوده .

سور کوټ اوس هم د يخنۍ څخه ښه سم ريږديده .... اوف ، اوف

سنان له ځان سره فکر وکړ چې يو څه خو ورته ويل په کار دي .

سنان خپله خوله د کوټ هغه بڼ خواته ورنږدې کړه چيرته چې د ددې شاوخوا د خوږ غږ غوږونه وو او ورته .

تاته کوم هوښيار انسان دا مشوره درکړې وه چې په دومره يخنې کې د کښتۍ په لومړي پوړ باندې بيده شه .

کوټ د باد ديوی څپې سره پورته شو

اوف ... کوټ

د کالر د سر څخه دوه بيريدلو سترګو د سنان خواته وليدل د سنان څخه يې پوښتنه وکړه ته څوک يې ؟

سور کوټ دا پوښتنه داسی وکړه لکه څنګه چې په عادي خبرو کې د عامل و معمول تر منځ د ( ته څوک يې) د پوښتنې په څېر کيږي .

سنان په عادي ډول جواب ورکړ مسافر يم .

په تته رڼا کې هغه يوازې دومره وپيژندل شوه چې هغه يوه جينۍ ده . د هلکانو په څېر يې ويښتان کوچني کوچني پرې کړي دي او ښايسته هم ده . سترګې يې چې د ډار له کبله غټې شوی وی بيرته خپل اصلي حالت ته راغلی ډيری غټی وی.

سور کوټ په ټيټ غږ ورته وويل لاندې په قهوه خانه کی هيڅ ځای نه وو ساه مې وتله نو ځکه دلته راغلم .

سنان اوس په دی انتظار کې وو چې سورت لاندی نظر واچوي او سنان يې پاتی ښايست وګوري . په قرار ، قرار سره يې اوس سترګې د خوب د بوج له کبله پټيدلې.

سنان خپله غاړه تازه کړه او ورته یې وویل ( امم) که چیرته ستا خوښه وي نو زه تاته خپل کوټ درکولې شم . د سور کوټ له پاسه به دا هم واغوندی د اوبو له څاڅکو څخه ښه خوندي شی .

سور کوټ پاک انکار وکړ او بیا یې د خوب لپاره سترګې بندی کړی .

سنان خپله غاړه تازه کړه جینۍ ته یې وویل که چیرته تاسو غواړی نو خپل کوټ درکولای شم په سور کوټ یې واچوی د اوبو له څاڅکو به خلاص شی .

هغی پاک انکار وکړ او بیا یې یی د خوب لپاره سترګی پټی کړی .

سنان ته هیڅ خوب نه ورته هغه داسی فکر کاوه چې که چیرته دا جینۍ بیده شوه نو مجبور یم تر سهاره پوری به همداسی خاموشه ناست یم نو خبری دوامداره په کار دی .سنان په خوش دلی سره پوښتنه وکړه آیا نن رښتیا ډیره یخني ده ؟

سور کوټ په بی تفاوتې سره ځواب ورکړ نو ستا څه خیال دی چې زه د مستۍ څخه رپیږم ؟

سنان لږ په غصه شو ویی ویل عجیبه جینې ده د خبرو کولو آدب یې هم نه دی زده . په آروپا کې توری سترګې، تور ویښتان او مشرقي ښایست د نجونو لپاره د یو قاتل حیثیت لري . حتی د مشرقي هغه هلکان چې د شکل و صورت څخه به یې خپل مور و پلار هم ډیر مطمین نه وي خو چې آروپا ته لاړ شي نو د آروپایې نجونو څخه به د هیندسم سترینجر ( ښکلي اجنبي ) خطاب تر لاسه کوي . له بله خوا سنان هم د مشرقي ښکلا یوه نمونه وه . غټې غټې ښکلی سترګې او خنده رویه څېره ، نرۍ پوزه پراخه تنده او مناسب اندام ... که څه هم سنان په آروپا کې د خپلو دی ځانګړنو څخه کومه ناوړه استفاده نه وه کړی اما دې سور کوټ ددی هلک غرور ته لږ زیان رسولی وو. خدای خبر چې ولي به یې په سم انداز خبری نه ورسره کولی . هغه یو ځل بیا هڅه وکړه خوله یې خبرو ته راجوړه کړه په ډیر تحمل یې ورڅخه پوښتنه وکړه

آیا ته انګریزه یې ؟

سور کوټ ځان خبرو ته راجوړ کړ پخپله خوله یې لاس کش کړ سویلې یې وویسته او خدای خبر څه فکر ورغی له سنان څخه یې پوښتنه وکړه او ورته یې وویل ي وویل فرانسي ته روان یې ؟ په څېره یې له ورایه معصومیت ښکاره کیده .

اوس نو دسنان نوبت شو .سنان ورته وویل .. نو بل چیرته . آیا دا ستیمر افریقا ته روان دی . ښکاره خبره ده چې په دې ستیمر باندی سپاره ټول خلک فرانسې ته روان دي .

جیني په قهرجن نظر سره سنان ته ولیدل اوږد اسویلې یې وویسته خپل کوټ یې پخپلو سترګو راکش کړ او په قراره په کرسۍ وغځیده.

د سنان د خندا څخه پرته پاتی نه شو.په فرش باندې بی پرته پیاله راپورته کړه او خولی ته یې یوړه . کافی توله یخه شوې وه .په ډیر مشکل سره یې یو غړپ ورڅخه وکړ او بیا یې پیاله په فرش کیښوده. د لاسونو ګوتی یې یو بل کې سره ورکړی د ګوتو ستومانی یې لیری کړه او له ځان سره یې وویل اوس باید څه وشی ؟

د څنګ په کرسۍ باندې سور کوټ بی حسه او بی حرکته پروت وو . هغه دا حس کړله چې د هغې روش غیر دوستانه او غیر معقوله وو. خو په هر صورت غلطی یې خپله وه د یوی ښکلی بیدی جینۍ په غوږ کې د داسی چیغو وهل کوم شرافت دی.نو سنان پریکړه وکړه چې باید بخښنه وغواړي. سنان د هغې د کوټ کالر ونیوه او خپل ځان خواته یې کش کړه ورته یې وویل : هیلو

کوټ ساکن پروت وو .

سنان بیا په لړ لوړ غږ ورته وویل ( ما وویل هیلو )

کوټ یو دم راپورته شو سنان ته یې وویل څه مصیبت یې خوب ته می پرېږدی او کنه

هغه ډیره خفه ښکاریده

سنان د عذر په لهجه ورته وویل چې زه په اصل کی . زما هدف دادی زه ډیر افسوس کوم هسی می ته دومره وډار کړی .

جینۍ د یوی ماشومي په څیر خپل دواړه موټی بند او سترګی پټي کړی او سنان ته یې وویل یو ځل نه بلکه دوه ځل .

سنان د خولی څخه همغه جمله یو ځل بیا په غیر اختیاري ډول ووته د کومی څخه چې مخکی یو ځل لانجه جوړه شوې وه . (آیا ته فرانسې ته روان یې ؟ )

جینې ورته وویل آیا دا ستیمر افریقا ته روان دی ؟ په دی ستیمر کې ناست ټول خلک ... په دی خبری سره یې خپلی ګوتی ونڅولی او بیا خپله په خندا شوه .

په دې وخت کې د سنان په زړه کی تیره شوه چې کاش دده سره هم یو سور کوټ وی تر څو د هغې په جواب کې یې د هغې په څېر یو اوږد اسویلې کړی وو په سر یې کش کړی وو او هملته په کرسۍ باندی اوږد غځیدلی وی .

سنان ورته وویل ما یوازی د بخښنې غوښتنی هڅه کوله .

سنان د خپل خجالت د لیری کولو په موخه د جیب څخه یو سګرټ راوویسته او دلګولو هڅه یې وکړه د سمندر څخه اوس هم نرې، نرې پشم د هغه په مخ غورځیدده نو ځکه د هغه سګرټ ونه لګیده .

جینې د خپل کوټ کالر د خپلو سترګو څخه راښکته کړ او سنان ته یې وویل ښه نور څه ؟

هغه ربښتیا هم ښکلی وه .

سنان لږ غصه شوه ورته یې وویل ته اوس کولای شی بیده شی زه به ستا هیڅ مزاحمت ونه کړم.

جیني خپل څلور کونجه ساعت ته ولیدل او سنان ته یې وویل په نږدی یو ساعت کې به د فرانسې بندرګاه راته ښکاره شی که ته اوس بیده شی نو څه به وکړی .

سنان خاموشه ناست وو .

جینی د سنان خواته خپل ورمیږ لږ ورمات کړ او ورته یې وویل

آیا ته په لومړی ځل فرانسې ته ځی ؟ خو پرته له دی چې د هغه جواب ته منتظر پاتی شی په ډیر معصومیت یې ورته وویل زه خو هر کال ځم .

سنان ورغږ کړ ته هم هره هفته د هغه بوډا سکات په څېر ولی نه ځی ؟

جینی :د کوم بوډا سکاټ په څېر ؟

سنان ورته وویل ملګری می دی . لاندی په قهوه خانه کی ناست دی. او ویسکي څکي.

د جینی سترګی له حیرانتیا څخه خلاصی شوی .

د سنان موډ اوس یو څه ښه شوی وو . جینی ته یې وویل آیا ته هر کال فرانسی ته ځی ؟

جینی بیا خبری پیل کړی سنان ته یې وویل هو بالکل او هغه ځکه چې زما پلار انګریز او مور فرانسوۍ وه .

سنان : وه ؟

جیني : هو ، مړه شوی .

سنان : په دی غنچو باندی افسوس

د جینی سترګی نوری خلاصی شوی ځکه چی سنان دا جمله په اردو ژبه کې وویله .

جینی سر ته یو څنډ ورکړ سنان ته یې وویل عجیبه ، عجیبه خبری کوی .

سنان په ډیر آدب کی ورته وویل ما پخپله ژبه کې د افسوس اظهار وکړ.

خو په هر صورت . ښه تاسو وویل چې ستاسو مور وفات شوی ده نو دا بده واقعه څه وخت شوی ؟

جیني: زه ډیره کوچنۍ وم ماته یې څېره هم نه یادیږي.

سنان : نو دا هر کال فرانس ته له تګ سره څه تړاو لري؟

www.al-dawatmedia24.com

جينې د کوچنيانو په څېر خوشحاله شوه او سنان ته يې وويل اوس يې درته وايم .

زما خاله په پاريس کې اوسيږي زما ګران پلار جان په ګرميو کې ما هلته ليږي او بيا زه تر کرسمس پورې هلته يم .

سنان د خبرو په جريان کې ورتوپ کړل يعنی تر ۲۵ دسمبر پوری .

جينی ورته وويل ولی ستاسو په ځای کی کرسمس په جون کی کيږي .

سنان ورته وويل زموږ هيڅ کرسمس نه وی

جينې په حيرنتيا سره ورته وويل دا څنګه امکان لري ۲۵ دسمبر خو په هر هيواد کې راځی .

سنان ورته وويل هو اما کرسمس په هر هيواد کې نه وي . موږ مسلمانان يو او کرسمس نه لمانځو .

سنان ورته وويل ، ښه تا څه ويل غوښتل

جينی ورته وويل هر ځل د خبرو په منځ کی راغورځی پوره خبره نه شی اوريدی.

سنان سره ښکته کړ ورته يې وويل دا ځل به د خبرو په منځ کې نه درغورځم .

جينې خوله کږه کړه ورته يې وويل نه پوهيږم چې ما څه خبره کوله .

سننان ورته وويل ، ستا پلار انګريز دی ، مور دی فرانسوې ده ، مړه شوی ده . ترور دی په پاريس کې ده . کرسمس ......

جينی: هو ، هو نو زه تر کرسمس پوری په پاريس کې اوسيږم . او بيا – او بيا بيرته نوټنګهم ته ځم . هسی د انګلستان په نسبت په پاريس کې د ژمي موسم يو څه ښه تيريږي . زما ژمی هيڅ نه خوښيږي .

سنان اوس ددی جينې په معصومو خبرو کې ډيره دلچسپي اخيسته . په هغی کی بی حده ساده ګي وه .

سنان په خندا کې ورته وويل ، داسی وايې چې د هر انسان . بلکه د هر مهذب انسان دوه هيوادونه وي يو يې خپل او بل فرانس . او تا باندی دا خبره سل فيصده صدق کوي .

جينې ورته وويل

د فرانسي په ځای د پاريس ويل په کار دي . پاريس ډير ښکلی ښار دی .په ځانګړي ډول د سين د سيند غاړه چېرته چې زه هر ماښام ناوخته د قدم وهلو لپاره ځم او دشپی تر ناوخته پوری هلته يوازې ګرځم .

سنان : يوازې؟

جینی : هو ، یوازی

سنان له ځان سره فکر وکړ چې د پاریس په څېر ښار کې خلک دومره ښکلی جینی یوزای ګرځیدو ته څنګه پریږدي .

د صبح کاذب نښی په ښکاره کیدو شوی . په کټارو باندې په رسیو سره د تړل شوو ګروپونو روښناېی په کمیدو وه . د ستیمر شا و خوا پراخه سمندر چې تیره شپه بې د یو ډاروونکي شیطان په څېر حملی کولی اوس د یوی پراخه خاورینې صحرا په څېر خاموشه او پرسکونه وو . سیلۍ هم دریدلې وه . د افق لخوا یو نری خط ښکاره شو .

جینی د کرښی خواته اشاره وکړه سنان ته بې وویل ( فرانس )

سنان ورته وویل . هو فرانس ، چې سرحدونه بې د هسپانېې د هیواد سره لګیږي . په هسپانیه کې د اندلس په نوم یو ولایت دی .چیرته چې د قرطبه ، شیلیه، او د غرناطه په څېر د سحر انګیزه ښارونو قصرونه او محرابونه زما په انتظار دی.

جینی: د هسپانیه د لیدو څخه وروسته ته چېرته ځی؟

سنان : کورته

جینی : او کور دی چېرته دی ؟

سنان په خندا شو ،اووه زما هیر شو چې تاته خپل ځان در معرفي کړم . زه پاکستاني یم او بیا د لاهور په تاریخي ښار کې اوسیږم.

جینی: انګلستان ته د تحصیل لپاره راغلی یی ؟

سنان ورته وویل زه چیرته هم د کوم مقصد لپاره نه ځم . د خلکو سره نږدې ، بی مقصده اواره ګردۍ ته دسیاحت نوم ورکوم . زه یو سیاح یم .

جینی : د سیاحانو خو هم نوم وی .

د سنان په شونډو مسکا خپره شوه . ورته بی وویل زما نوم سنان دی .

جینی خپل کوچنی لاس وراوږد کړ ورته بی وویل زما نوم پاسکل دی .

د سنان غټ او دروند لاس د هغې ټوله یخني جذب کړه .

جینی : ما خپل لاس د ملاویدو لپاره درکړ په لاس کې د نیولو لپاره نه

سنان ورته وویل

اوه ، ډیر وبخښی ، او ژر بی لاس پریښود .

جینی: ته څومره خوش قسمته بې چې دومره په آزادۍ سره ګرځیدلې شی.

سنان ورته وويل چې په دی کې د خوش قسمتې څخه زیات د جنون لاس دی. د سیاحت د ګلانو فصل له ځان سره د عطرو خوشبوېی راوړی. د ملګرو په رایه کې هر دوهم او دریم کال زما اعصاب بیا واوړي. او زما په ذهن کې ښکلي ، ښکلي سیمي او د رڼو ، رڼو اوبو جهیلونه پیدا شی . او بیا زه په آرام نښم کښیناستلی او بیا زه د تاریخ څو کتابونه او یو لږ سامان په اوږه کړم او د خپل شوق د پوره کیدو لپاره راپورته شم .

پاسکل په خفګان سره ورته وویل کاش چې ما هم کولای شو چې ستا په څېر سامان په اوږه کړم ، پاسپورت په جیب کې واچوم او د نړۍ په چکر ووځم .

سنان ورته وویل

نو د کومی خبری یا کس انتظار کوی ؟

پاسکل : انتظار د یو داسی شهزاده دی چې زما په وجود کې ښښتی ستنې وباسی او ما د ازلي خوب څخه بیداره کړی .

سنان پوه نه شو .

جیني وویل ما لپاره خو داد لیونۍ یو خوب دی . جینې ډیره خفه ښکاریده . په لومړی ځل سنان هغې ته ډیر په ځېر ، ځېر سره وکتل . د هغې غټو ، غټو سترګو ژور شین رنګ درلوده د هغې نرۍ پزه بره خواته اوچته شوې وه. په ګرد، سور مخ ېی قیچي شوی کوچني ویښتان ډیر ښه ښکاریدل. د تیری شپې په تیاره کې هغه ما صحیح نه وه لیدلې هغه واقعا ډیره ښکلی وه .

سنان فکر وکړ که چیرته دې ته دهلکانو جامی واغوستل شی نو یو ډیر ښکلی او خوشحاله هلک ورڅخه جوړیدلې شی . سنان د هغې سترګو ته په لیدو سره وویل . د پاریس په باره کې د صوبیدار دل نواز خان د دوه خبرو څخه یوه خو ثابته شوه . اوس به وګورم چې دوهمه خبره ېی څه وخت ثابتیږي .

پاسکل د سنان خواته داسی ولیدل لکه هغه چې ورته وایې چې بیا عجیبه ، عجیبه خبری کوی .

سنان د خبرو سلسلې ته دوام ورکړ ، جینې ته ېی وویل ، زموږ په کلي کې د متقاعد صوبیدار په نوم یو کس تیر شوې دی. هغه د دوهم نړیوال جنګ په وخت کې د فرانسې په محاذ جنګیدلې وو. په کوچنیوالې کې به موږ د دده دیرې ته ورتللو او د فرانسې په باره کې به مو د قصو غوښتنه ورڅخه کوله . هغه به تل د دوه خبرو ذکر کاوه چې بچیه د پاریس د ټولو ښځو سترګې شنی دی او د هغه ځای ټول سړکونه د ښیښې څخه جوړ شوی دی .

پاسکل لږ شرمنده شوه . سنان ته ېې وویل لږ تر لږه خو دوهمه خبره غلطه ده د پاریس ټول سړکونه د ښیښې په ځای د ناهمواره تیږو څخه جوړ شوی دي .

سنان ورته وویل

تاته ښځګه معلومه شوه چې لومړی خبره صحیح ده .

د پاسکل مخ سور شو . سنان چې په غرب کی د مشرقي حیا دا انداز ولیده نو ډیر حیران شو . کنه د کوپن هیګن سره نږدی په یو باغ کی یوی جینی غاړه ورکړی وه او د ښکلې نانځکی خطاب یې ورته کړی وو . د بی شرمې ځخه می ډیر په مشکل ځان خلاص کړ .

پاسکل : ماته هم په کوچنیوالي کی وویل شوې وو چې په پاکستان کې یوازی راجه و مهراجه ګان او یا فقیر دی خو د منځنی طبقی خلک په کی هیڅ نشته . خو په دواړو کې یوه هم ثابته نه شوه. پاسکل په خندا سره ورته وویل .

سنان او پاسکل تر ډیره وخته پوری همله ناست وو او همداسې خبری یې کولی .هغې سنان ته د پاریس او شاوخوا سیمو د پراخه ځنګلونو او د ښکلو کلیو په باره کې خبری کولی او سنان هغې ته د خپل اوږد سفر په دوران کې د وریښنو شوو دلچسپه واقعاتو قصې کولی . چې هغه څه ډول د افغانستان په یوې پراخه بیدیا کې د یوی حادثې سره مخ شو او څو ورځی یې په یوه خرابه مسافرخانه کې تیری کړی. په واورو د پوښل شوو غرونو آرات ذکر راغی په یو روایت سره په سر یې د حضرت نوح ع کښتۍ ولاړه وه . ، د استنبول ځخه څو میله لیری د شهزاده ګانو په جزیره کې یې د یوی یوناني جینۍ سره ملاقات ، د سویټزرلینډ د اوچتو غرونو په یو آسیب زده کلي کې یې قیام ، د پنځلسمۍ سپوږمۍ په شپه په سویډن کې د جهیل په غاړه د یو غرڅه سره مخامخ کیدل،او بیا د جرمني په تور ځنګل کې کوچنۍ ویاله د کومه ځایه ځخه چې د ډینیوب رومانوي سیند سرچینه اخلي .

پاسکل چې سر یې په ځنګونو ایښې وو او په ډیره دلچسپی سره یې د هغه خبری اوریدی. د هر بیګانه او د لیری هیواد د نوم په اوریدو سره به د هغې څېره د خوشحالۍ ځخه تازه شوه. سنان چې فطرتا به خاموشه وو نن یې ډیری زیاتی خبری کولی. چې یوه قصه به یې خلاصه کړه نو پاسکل به وازه خوله ددې په انتظار وه چې اوس به د یو بل بیګانه ځای قصه کوي. په آخره کې سنان د عمر خیام د ښار نیشاپور په پخوانیو قصه خانو کې د خلکو بیان شوې قصی پیل کړی تر دی چې د فرانسوي ښار دنکرک عمارتونه ښکاره شو. ددوي شاوخوا ټولی آرامه کرسۍ اوس د مسافرو ځخه ډکې شوی وی. هغوی دومره په خبرو کې مصروف راغلي وو چې هغوی ته دومره احساس نه وو شوی چې څه وخت سهار شوی او څه وخت بیا د قهوه خاني ټول مسافر پورته راختلي دی . اکثره خلک د کټارو سره ولاړ وو او د ډنکر ښار او د بندرګاه خواته یې لیدل چې د نږدۍ ځخه نزدیک تره کیده . سنان او پاسکل لا همله ناست وو .

سنان فکر وکړ چې اوس به دا ستیمر بندرګاه ته داخلیږي او دا ښکلې جیني به هم د نورو آروپایې نجونو په څېر د بی وفایی مظاهره وکړی فقط دومره به وایې چې ستا د ملګرتوب ځخه مننه او نوره به پخپله مخه ولاړه شی.

www.ardawatmedia.com

خو هغه داسې نه غوښتل

بندرګاه ته په داخلیدو سره ستیمر په زوره ، زوره هارن وهل پیل کړل د کتارو شاوخوا او په کرسیو کې ناستو مسافرو هر یو خپل ، خپل سامان واخیسته او هغه خواته لاړل په کومه خوا کې چې بندرګاه ته د ښکته کیدو لپاره زیني لګیدلي وی. سنان د پاسکل خواته ولیدل هغه په ډیر آرام سره د خپل سور کوټ د بټن سره په لوبو مصروفه وه . داسی بریښیده چې هغه په ډنکرک کې نه تم کیږي بلکه ستیمر به هغه چیرته لیری یوسي .

سنان د خپل جیب څخه ږمنځ راوویستله او خپل لامده ویښتان یې جوړ کړل او د کرسۍ څخه پورته شو . د ټولی شپی ناستی د هغه وجود ډیر شخ کړی وو . هغه خپله سپینه باراني کورتۍ وویسته په اوږه یې واچوله او د پاسکل خواته یې ولیدل.هغه لا همغسی خپل سر ښکته کړی وو او د بټڼ سره په لوبو مصروفه وه .

سنان ورغږ کړ ... پاسکل

پاسکل خپل بانه پورته کړل. سنان ته داسي وبریښیده چې د هغې سترګې د یوی شفافه هنداریې په څیر دی چې په هغې کې د فرانسې د سمندر شینوالې ښکاره کیږي .

سنان : آیا همدلته دې د کښیناستلو اراده ده ؟

پاسکل خاموشه وه .

سنان ورته وویل : ستا د معلوماتو لپاره باید ووایم چې دا ستیمر اوس بیرته انګلستان ته ځی افریقا یا بل چیرته نه ځی. نو ښه داده چې په پټه خوله ددې ځای څخه پورته شی او بندرګاه ته ښکته شی .

پاسکل : ته لاړ شه موټر کې کښینه زه درځم .

سنان د پاسکل خواته په ډیر ځیر سره وکتل . د هغې رنګ الوتی وو هغه ډیره خفه ښکاره کیدله . سنان ډیر حیرانه شو چې په یوه لحظه کې د جینې د څیری حالت څنګه بدلیږي . د خندا او معصومیت پر ځاي یې په څیره د خفګان نښې وی .

سنان په نه زړه خپل سامان پورته کړ او د بندرګاه لورته د ورښکته شوو زینو خواته لاړه . هغه ته دا فکر ورغی چې دا جینې کیدلای شی چې د موټر په بله ډبه کې کښني او یا ممکن هیڅ سپره نه شی او د تل لپاره یې د لاسه ورکړی. سنان همدې فکر ډیر خفه کړی وو او سمدلاسه بیرته همغه ځای ته ورغی چیرته چې پاسکل لا ناسته وه او ښکته یې لیدل.

سنان ، ورغږ کړ

پاسکل

پاسکل سر راپورته کړ او د هغه خواته یې ولیدل. د هغې د سترګو په شین والې کې نمي وه.

سنان : زه ستا بیگ پورته کوم

پاسکل وخندل. خو په دې خندا کې بې د خوښې په ځای خفګان وو.

پاسکل : پلار جان مې زما سامان مخکې لیږلې. ماسره ددې سور کوټ او د لاسي بیگ څخه پرته بل څه نشته .

سنان لا هملته ولاړ وو . هغه غوښتل چې په دې خبره پوه شي چې دا جینی ددې سره په تګ کې څه مشکل لري.

سنان په ډیره نرمۍ سره ورته درخواست وکړ.چې سمه ده خو حد اقل تر موټر پورې خو راسره ولاړه شه . زه د لومړي ځل لپاره د فرانسې په خاوره قدم ږدم ماته د رهنماېې ضرورت دی .

پاسکل په ټیټ غږ ورته وویل یو سیاح ته د رهنماېې ضرورت څنګه پیښیدلې شی ؟

سنان: ځینې وخت یو تجربه کاره سیاح یوی داسې دوه لارې ته راشی چې د منزل د صحیح جهت ټاکل ورته ستونزمن شی .

پاسکل وخندل . خپل سور کوټ یې په اوږه کړ. مخامخ یې ولیدل . او په ډیره خود اعتمادۍ سره ودریده .

سنان : سنان د ځان ښودنې مظاهره وکړه ، ورتیټ شو ورته یې وویل ، لومړی تاسو ،هغه ډیر زیات خوشحاله معلومیده .

پاسکل : پاسکل خپلی نیلي سترګې د یوی لحظې لپاره په سنان کې ښخی کړی . ورته یې وویل مننه . سنان همداسې په ټیټه ملا د پاسکل د مخ څخه لیری شو .هغه لړه وشرمیده او بیا بندرګاه ته د ورښکته شوو زینو خواته روانه شوه. سنان نیغ شو او د هغې پسی روان شو. اما ونشو تللی. هغه ته داسې احساس شوه لکه د هغه ساه چې دریدلې وی. د هغه پښی د کښتی د فرش د لامده لرګي سره میخ شوی وي. هغه چې څه لیدل هغه د طبعیت یوه خوفناکه ټوکه وه . د خالق څخه پخپل تخلیقي عمل کې یو څه پاتی شوی وو. هغه نه شوه تللی بلکه د تللو په یو اذیت ناکه هڅه کې مصروفه وه .

معذوره ، مبارزه پاسکل . هغه ګوډه وه .

د بی وسۍ او د غصی د جذباتو څخه د سنان دماغ ګرم شو او هغه پخپله سینه کې ددی بی وسه جینی لپاره د بی اندازی رحم او مهربانۍ یوه داسې څپه احساس کړه چې د هغه ټول وجود یې مړ کړ. هغه د همغه آرامه کرسۍ سره بی حسه و بی حرکته حیرانه ولاړ وو.
پاسکل خپل یو لاس سره ران په ډیر تکلیف سره زور کاوه او په ډیر تکلیف سره ګوډه ، ګوډه روانه وه. کله چې زینو ته ورسیده نو د یوی لحظی لپاره ودریده او بیا یې په آرام سره شاته د سنان خواته ولیدل .

سنان ته یې وویل

آیا همدلته دی د ودریدو اراده ده ؟ د هغي په شونډو یوي حزن آمیزه خندا لوبی کولی .

سنان همداسی د ناآرامی په یوه نړۍ کي خپل سر ته یو ځل ښنډ ورکړ او همداسي خاموشه په ډیره تیزی سره یې د هغي خواته ځان ورساوه .

د پاسکل په سترګو کي نمي وه .

پاسکل په خبرو پیل وکړ سنان ته یې وویل ، ماته معلومه ده چي دا وخت ستا په زړه کي زما لپاره د مهربانۍ یوه څپه ده .

هو ، سنان یو ناڅاپه د یو ډاروونکي خوب څخه رابیداره شو. هغه ژر جواب ورکړ. نه داسي خو نه ده.

پاسکل: زما دروغ نه خوښیږي. د ټول خلکو په ما زړه درد کوي. زه تل د رحم د جذباتو سوالګره جوړیږم. ته له نورو څخه مختلف نه یاست.

هغه خاموشه ولاړ وو او د هغي خفه څېرې او په بنو باندي لړزیدونکو اوښکو ته یې لیدل.

پاسکل : ماتاته ویلي وو کنه زما ګران پلار له ماسره ډیره مینه لري. زما په ۱۶ کلیزه یې ماته یو تیز رفتاره سپورتي موټر په ډالی کې راکړ. د اولسمې کلیزې د رارسیدو څخه مخکی په یو خزان وهلی شپه د نوټنګهم په شیرووډ ځنګل کي زه دیوی حادثي سره مخ شوم.

زه ډیر افسوس کوم ، سنان نور څه ونشو ویلای. هغه ته په لومړي ځل دا احساس وشو چي په انګلیسي ژبه کي د همدردۍ او د افسوس د جذباتو اظهار یو څه ستونزمنه دی بلکه ناممکنه دی .

پاسکل : هغي په تلخی سره جواب ورکړ،هیڅ خبره نشته زه اوس عادي شوې یمه .

په بندرګاه باندې ولاړ د ستیمر کفتان دواړو ته مخاطب شو او په لوړ غږ سره یې ورته وویل ، آیا تاسو دواړه بیرته انګلستان ته د تللو اراده لرئ؟ ستاسو څخه پرته نور ټول مسافر ښکته شوی دي .

سنان د هغی د اوږې څخه سور کوټ واخیسته او دواړه په قرار، قرار په زینو باندې ښکته شو .

د ګمرک څخه د فارغیدو وروسته هغوي د بندرګاه سره نږدې د ډنکرک د اورګاډي ستیشن ته ولاړل چیرته چي پاریس ته تلونکی موټر تیار ولاړ وو .

هغوی دواړه په یوه ډبه کی کښیناستل .

www.al-dawatmedia24.com

د اته مسافرو په دې کوچنې ډبه کې ددې دوو څخه پرته دری راهبانې هم ناستې وی چې سترګې يې پټې او په لاسونو کې يې تسبې کلکې نيولې وی او په عبادت کې مصروفه وی.

په ټول سفر کې پاسکل خاموشه ناسته وه او د موټر د کړکيو څخه يې بيرون ته کتل . هغه داسې ښکاره کيده چې په دې ډبه کې د سنان او د نورو سپرو مسافرو د موجوديت هيڅ نه احساس کوي او هغه په خلا کې يوازې سفر کوي .

سنان ته معلومه وه چې دا بې وسه جينۍ هر کال له همدې لارو څخه تيريږي او د ډبې څخه بيرون د فرانسې د کليوالي سيمو په ليدلو کې کومه دلچسپي نه لري. هغې د شنو فصلونو او د پراخه ورشوګانو په لمنه کې سپين ، سپين غبار ددې څخه مخکې هم څو ځل ليدلې دی. دا ګڼ ځنګلونه او رڼې ويالې ددې لپاره نا آشنا نه وی. د هغې نيلې سترګې چی سنان ته يې په ليدو سره د ايران شين آسمان وریاد شوې وو په يوه بله دنيا کې وی.

سنان اوس د هغې په حسن کې د غم و خفګان په علت پوه شوې وو.هغه ته اوس ددې احساس شوې وو چې هغه ولې ددومره ښايست سره سره بيا هم د پاريس سحر انګيزه ماښامونه د سين د سيند په غاړه يوازې تيروي.ولی جهان ګردي او سياحت د هغې لپاره د ليونۍ يو خوب وو.هغه معذوره وه .هغه د ستيمر د آرامه کرسۍ څخه د پورته کيدو له کبله ولې ډاريدله.

خالق پخپل تخليقي عمل کې څه کمې نه وو کړی بلکه د انسان ساخته د اوسپنې يو انبار د ټول تخليق حسن عيب جن کړی وو.

سنان د تيرو شپږو مياشتو د سياحت په دوران کې په هيڅ هيواد کې د داسې يوې جينۍ سره نه وو مخ شوې چې دده په زړه کې ورته د بيا ليدو دومره شدت پيدا شوې وي . هغه د دې جينۍ سره بيا ليدل غوښتل .

سنان د پاسکل په غم زده سترګو کې يو ځل بيا خوښي غوښتله .

سنان د هغې د متوجه کولو لپاره د موټرد کړکې ښيښه وټکوله او ورغږ يې کړ پاسکل...

بلې ،

د هغې نيلي سترګې د ښيښې د ګوليو په څير بې روحه وې . د هغې سترګې ښکلې وی خو د ژوند احساس په کې نه ښکاره کيده .

سنان په مسکا سره ورته وړانديز وکړ که چيرته ستا خوښه وي نو پاريس ته په رسيدو سره به زه تا تر خپل کور ورسوم.

پاسکل : ددې ضرورت نشته .

سنان : اما زه به خوشحاله شم .

پاسکل : ما وویل کنه چي ددې ضرورت نشته . زما خاله ما پسې ستیشن ته راځي . هغې په مسلسل ډول بیرون ته لیدل.
سنان یو ځل بیا د موټر د کړکۍ ښیښه وټکوله پاسکل ته یې وویل :
پاسکل ، آیا ته ددې سفر په پای کې نن ماښام ماسره چیرته لیدلی شی ؟
هغې یو دم د سنان خواته مخ ورواړوه ، او داسې یې ورته ولیدل لکه هغه چې یوه نوی خبره کړي وی .
پاسکل : د څه لپاره ؟
سنان زه غواړم چې ته نوره د سین د سیند په غاړه یوازې ونه ګرځې. زه غواړم چې ستاسو ملاتړ وکړم .
پاسکل په خندا پیل وکړ. اما سنان ته دا خندا ډیره ډاروونکې ښکاره شوه.
پاسکل : زه پوهیږم چې زما خبره ډیره ښکلی ده .خو په دی څه وکړم چې ددې خبرې حسن په نیمه تیاره قهوه خانه کې یوازې د کرسی تر ناستی پوری محدود وي . د پاځېدو او تللو اذیت ناکه هڅه همدا ښکلی خبره ډیره بدرنګوي. او انسان خو په یو کونج کې ټول عمر په ناسته نشی تیرولې .
سنان په جذباتي ډول ورته وویل ، ددې ټولو خبرو د ژوند د حقایقو سره ډیر لیری تعلق هم نشته .
پاسکل : پاسکل په ډیر خفګان سره ورته جواب ورکړ. ته ماته د ژوند د حقایقو په باره کې وایې؟ لکه څرنګه چې په ځمکه باندې یوه کرښه د سرحد په ډول جوړیږي. په همدې ډول د دوه هیوادونو تر منځ د واقعیتونو پیمانې هم سره فرق کوي او همدا ډول د ژوند حقیقتونه هم د هر انسان لپاره مختلف وي. ستا په څېر د یو سیاح لپاره د ژوند حقیقت د یو اجنبي هیواد د لیدو لپاره د کور څخه وتل، د ښکلو درو خوب لیدل چې وروسته په حیقیت بدلیږي او یو بی قید و شرطه له شوره ډک ژوند کول دي . او زما په څېر د یوی معذوره بی وسې جینې لپاره په آرامه کرسیو او توشکونو باندې د سینګار د مجلو لوستل او د کتابونو د ورقو ګردان کول د ژوند حقیقت دی. تر ناوخته پورې د اطاق له کړکې څخه بیرون ته لیدل . د خپل زړه په چاړ کې د خلکو د جذباتو چان کول چې چیرته د رحم د جذباتو څخه پرته د محبت کومه ذره به په کې هم وي. او بیا په یوه نرمه بستره کې د ګران پلارجان او خاله د لاس په ټپاري سره داسې بیده کیدل لکه د شل، دوویشت کلونو جینې چې نه ی بلکه یوه داسی کوچنې ماشومه وي چې د پوکانۍ په ورکیدو سره بی حده خفه وی او بیده کیدلې نه شي .

سنان: که چېرته دا بې رحمه حقیقتونه له پامه وغورځول شي او د یو خوشحاله ژوند کولو هڅه وشی نو په دې کې څه مشکل دی ؟

پاسکل : پاسکل سر ته ځنډ ورکړ او سنان ته یې وویل

ستا فکر دی چې آیا ما به هڅه نه وی کړی ؟ په پیل کې زما ملګري هلکان او نجونې زما پوښتنې ته راتلل.

پاسکل ته به ډیره ژر ښه شی. بیا موږ ټول د رابن هډ قلعه ته د سیل لپاره ولاړ شو . د جینس د زوکړی په ورځ به موږ تاسو ته د Get well کیک وړاندې کړو. بیا همداسې وخت تیریده خو زه ښه نه شوم. د میاشتو وروسته به چیرته زما یوه ملګرې راپیدا شوه هغی به راته وویل .. اوه .. پاسکل ډیر وبخښه ..په اصل کې مصروفیت دومره ډیره شوې دی چې ستا لیدو ته نه شو راتللی. پرون موږ په چکر تللی وو. کاش ته هم راسره تللی شوی. نو ډیر خوند به یې کړی وو. یو دوه ځل زه پارټیانو ته هم دعوت شوم. هلته به په یو کونج کې ناسته وم او نورو خلکو ته به می د حسرت څخه په ډکو نظرونو ورلیدل. هلکان به ماته راغلل او په ډیر آدب به یې زما د حال پوښتنه وکړه او بیا به یې زما په څنګ کې ناسته جینی له ځان سره د رقص لپاره یوړه. د یو مشرقیوال په حیث شاید ته ددې خبری احساس ونه کړی چې د یوی آروپایې جینی لپاره د نورو څخه داسی جدا اوسیدل څومره لویه سانحه ده. بیا هم بیرون ته تګ راتګ پریښود او پخپل اطاق کې قید پاتی شوم. زما ددې تنهایې د لیری کولو لپاره زما پلار هر کال ما پاریس ته د ترور کره لیږي. اما په دی سره کوم خاص فرق نه راځی. په نوټنګهم کې زما د اطاق د کړکی څخه د شیروډ د ځنګل څو ونی ښکاره کیږي او په پاریس هم همداسې د کړکۍ څخه د فوټ پات یوه برخه او د څېړۍ ونې ښکاره کیږي. ځای بدلیږي خو تنهایې نه ځی .
سنان په خاموشۍ سره د دې د محرومیت قصه اوریده. هغه اوس د مخکې څخه لا زیات دا غوښتل چې ددې جینۍ سره بیا ځل وینې. په ډبه کې د ناستو راهبانو سنجیده څېرې ددې خبری ګواهي ورکوله چې هغوی په عبادت کی دومره هم مصروفه نه دی چې د پاسکل خبری د هغوی تر غوږونو پوری ورونه رسی. کله چې پاسکل خاموشه شوه نو هغوی دری واړو په یوه وخت پاسکل ته داسی ولیدل لکه چې هغوی وایې چې ( لوری موږ هم له تاسره خواخوږي لرو) .
سنان د یوی لحظې د خاموشۍ څخه وروسته په قرار سره پاسکل ته وویل
زه بیا هم وایم چې دا زما د زړه یو آرمان دی چې موږ دواړه یو ځل حتمي په پاریس کې سره وګورو.
پاسکل په داسې حال کې چې دواړه څنګلې یې په میز کیښودی او خپل مخ یې د لاسونو په ورغیو کې ونیوهاو په سنان کې یې سترګې ښخې کړی او ورته یې وویل :
فکر وکړه ، کله چې به زه تاسره روانه یم نو عمر خوړلې ښځی به پخپل منځ کې پټې ، پټې خبری کوي . نجونې به وایې چې دومره ښکلی مشرقي ځوان په ټول پاریس کې یوازې دا معذوره جینی خوښه شوه . او فرانسوي نارینه چې د هغوی لپاره د ښځی د ښکلا پیمانه د ورنونو څخه پورته نه ځی ستا په عقل به ماتم وکړی. او په تا باندی به رشخند وشي.
سنان په نرمۍ سره ورته وویل چې ته په دی عادي دلایلو سره ما نشی قانع کولی .
پاسکل : آیا ته فکر کوی چې زه ستا د قانع کولو هڅه کوم ؟ آیا کومه جینۍ کوم هلک د خپل بدرنګوالي په باره کی قانع کوی؟
سنان : نو بیا څه علت دی چې ته نه غواړی ماسرهووینی؟
پاسکل : ما وویل درته چې په تا به رشخند ووهل شي.

سنان : په يو داسې ځای کې چيرته چې زه بيخي بيګانه يم نو زما به څه تضحيک وشی ؟ما خو تيره شپه ستا د سترګو د ليدو څخه وروسته دا تصميم ونيوه چې زه به د بيا ليدلو لپاره تاته وايم .
پاسکل : کله چې نن سهار زه د آرامه کرسيو څخه پورته شوم او په فرش باندې ګوډه، ګوډه روانه شوم نو آيا هغه وخت تا خپل تصميم بدل نه کړ؟
سنان : نه بالکل نه . بلکه ستا د بی وسی زما ارادې ته لا تقويت ورکړ.
پاسکل يو دم لږه غصه شوه. بی وسي ؟ بس زه له همدې الفاظو ډاريږم. بی وسي... د رحم دا جذبات خو د ځناورو لپاره هم خلک احساس کوي. زه ددې غوښتونکې نه يم . په پيل کې خلک زما ښکلې څيرې ته ليدو ما سره د ملاقات کول خواهش څرګندوي خو کله چې دا څېره د هغوي د سترګو څخه ليری شی نو بيا هغوی ته يوازی زما معذورتوب په ياد وی او بيا هغوی د ماسره د ملاقات نه کولو بهانی کوي.
سنا په سوچ کې شو . هغه ته دا خيال ورغی چې ممکن دا جينۍ له پيل څخه په ذاتي ډول دا نه خوښوي او يوازې د تيری شپی د ښه رفاقت له کبله ددې د زړه په ماتيدو باندې اعتراض لري.
سنان خفه شو . او ورته يې وويل . ستا خوښه . که چيرته ستا په ذاتي ډول زه نه خوښيږم نو زه خو تا مجبوره کولی نه شم .
پاسکل : بالکل نه .
د هغې د لهجې بی اختياري د سنان لپاره ډيره حيرانوونکې وه .
پاسکل: خوښيدل – زما هدف دی ضرور ولی نه – زه له تاسره ليدل غواړم – حتمي هغې د کوچنيانو په څېر خپل سر داسې خوځاوه لکه هغه چې په مکمل ډول د خپلو احساساتو د بيانولو څخه قاصره وي.
سنان ته داسې احساس وشو لکه د هغه د سر څخه چې يو ستر بوج ليری شوی وي. په آرام سره يې کرسۍ ته تکيه وکړه. له جيب څخه يې سګرټ راوويسته هغه يې ولګاوه او په خندا شو .
سنان : زه په پاريس کې نا بلده يم ته يو ځای انتخاب کړه او په کاغذ يې راته نوم وليکه زه به راشم .
پاسکل په مسلسل ډول خندل او سر يې خوځاوه .
سنان : دا څه د لوبو د برقي شيانو په څېر سر خوځوی ما له تا څخه د ځای په هکله پوښتنه وکړه .
پاسکل : اوه ، يو دم يې وخندل – خاله می هم تل راته داسې وايي چې زما دا عادت ټول د کوچنيانو په څېر دی .
سنان : ستا ډير عادتونه د کوچنيانو په څېر دی . خو په هر ډول ته لومړی دا ووايه چې چيرته دی خوښه ده چې سره ووينو .
پاسکل : د سين د سيند په غاړه
سنان : کوم طرف غاړه ، ښي او که کينه غاړه

پاسکل : نه ؟ د سین په غاړه نه د سین سیند خو په میلیونونو میله خپور شوی دی.
سنان : نو بیا ؟
پاسکل : هو – د بولي وارډ سان ژرمین په قهوه خانه ، امن کی .
سنان: دا ماته ولیکه
پاسکل : نه دا هم نه – هغي بیا خپله اراده بدله کړه . په دی قهوه خانه کې هیڅ ځای نه پیدا کیږي تل به په ولاړه ورته انتظار کوی.
سنان : زما خو دا فکر دی چې تا هیڅ کور ته پرینښودم . د ستیشن څخه به مستقیم د سین د سیند په غاړه به لاړ شو .
پاسکل جدي شوه سنان ته یې وویل نه نه خاله ستیشن ته راځي. او هغه لږ پخوانۍ فکر لري . هغه دا نه خوښوي .
موټر د یو کلیوالي ستیشن سره ودریده او د هغوې هم سفره دری واړه راهبانې د ښکته کیدو لپاره راپورته شوی. په دې کې یوې راهبې په ډیره مینه د پاسکل په سر باندې لاس تیر کړ او ورته یې وویل لوری ،د آیفل ټاور لاندې په ملاقات کولو کې څه قباحت دی ؟
نورو دوه راهبانو د ډبې څخه د ښکته کیدو په وخت کی دوی ته دعا وکړه او ورته یې وویل یسوع خدای دی تل تاسو دواړه خوشحاله لري.
کله چې موټر بیا روان شو نو پاسکل بی اختیاره وخندل .
پاسکل : دی راهبې ته څنګه معلوم شو چې آیفل ټاور د هلکانو سره د ملاقات غوره ځای دی ؟
سنان : هغه بیچاره خو به د پیداکیدو سره سم راهبه شوې نه وي ؟ په منځ وققه کې شاید چیرته دل شکنه قلبي صدمه لیدلې او او له مجبورۍ څخه یې د رهبانیت لاره غوره کړی ده .
پاسکل : په هر ډول ، که چیرته دی محترمې ماته مشوره نه وه راکړی نو زما خو بیخي آیفل ټاور ته فکر نه وو . دا مناسب ځای دی .
سنان : نو بس خبره نهایې شوه .ساعت یو نظر ساعت ته ولیدل او ورته یې وویل زموږ موټر به پوره پنځه بجې پاریس ته ورسیږي.او زه به پوره اوه بجی د آیفل ټاور لاندې د سین د سیند په غاړه ستا انتظار کوم .
پاسکل په شوخی سره ورته وویل زه به پاو کم اوه بجی ځان ورسوم . او هو زه نن په کوم لباس کې راشم .؟
سنان : کوم لباس هم
پاسکل : اما د کوم رنګ ؟ ستا کوم ډول رنګ خوښیږي ؟
سنان : زما چې کوم رنګ خوښیږي هغه ستا په سترګو کی دی .
پاسکل :د پاسکل څېره چې د شرارت څخه سره وه ورته یې وویل د ښه نو ستا خړ رنګ خوښ دی .
سنان: سنان په خندا سره ورته وویل ، عجیبه ده ،پرون شپه خو شنی وی ،نن ورځ ددې رنګ خړ شو . زه خو به چیرته په رنګونو ړوند نه یم . یو ځل یې بیا وګورم ؟
پاسکل خپل اوږده بانوګان پورته کړل او ورته یې وویل هو وګوره .

www.afghanmedia24.com

سنان لږ وډار شو . ځکه چې هغه د نجونو په باره کې ډیر بی تجربې وو. د داسې روایتي مینی انداز د هغه هیڅ نه خوښیده خو هسې یې ورته ویلي وو.
سنان یو ځل پاسکل ته ولیدل چې سترګې یې خلاصې کړی او دده خواته په خلاصو ، خلاصو سترګو ګوری. په قرار یې ورته وویل چې بس ما ولیدلې.
پاسکل نو بیا ؟ کوم ډول رنګ دی. ؟
سنان : صحیح می ونشوی لیدلې
پاسکل : څه ؟
سنان : مقصد د سترګو رنګ –زما مقصد ستا په سترګو کې لیدل وو.
پاسکل : ما تر نن پوری د چا دومره توری سترګې نه دی لیدلي .
سنان لږ وشرمیده او ورته یې وویل تقریبا د ټولو پاکستاني هلکانو سترګې همداسې دی .
پاسکل د اصرار په ډول ورته وویل ، درواغ ، د نوټنګهم نیم خلک پاکستانیان دی خو په هغوی کې د هیچا سترګې هم ستا په څېر نه دي
سنان : ته هلته د هغوی په سترګو کې ګوری ؟
پاسکل : نه داسې نه ده کله ناکله می پلارجان د ماښام ډوډۍ ته پاکستاني رستورانتونو ته بوځی او هلته مې ورسره د لیدو اتفاق شوې دی . ویتران پاکستاني وی کنه .
سنان:د پاکستاني رستورانتونو څخه پرته د پاکستان په هکله ته نور څه معلومات لری؟
پاسکل : ما د رډیارد کپلینګ کتاب ( کیم) لوستې دی چې د هغې پیل په دې جملې سره کیږي چې کیم د لاهور د عجایب ګهر مخ ته په لوي توپ زمزمه باندې ناست وو.
سنان : او نور څه ؟
پاسکل : او نور دا چې کپلینګ به د لاهور د پادشاهي مسجد په منار به ناست وو او ښکلي نظمونه به یې جوړول.
سنان : کپلینګ د فرانس سره هم دومره مینه وه لکه څومره چې زما د لاهور د ښار سره ده .
پاسکل : هغه څنګه ؟
سنان: هر هغه کس چې د بشریت سره مینه لري د فرانسې سره مینه لري .
پاسکل وخندل ، ورته یې وویل ، لاهور او فرانس
سنان : سنان هغې ته وویل چې ددې اخبار دفتر ددې د کور سره نږدې واقع دی چیرته چې کپلینګ یو وخت دنده ترسره کوله . په دې دفتر کې د یو چوکیدار تر ټولو غوره دنده دا وه چې په خارجي سیاحانو باندې هغه یوازینې میز وپلوري کوم میز ته به چې کیپلینګ کښیناسته او خپل لا زواله کتابونه یې لیکلې دي. تر اوسه پورې به هغه چوکیدار داسې شل میزونه پلورلي وي.
پاسکل ورته وویل زموږ په هیواد کې به هم د ناپلیون ډایري د سلهاوو ځلي ډیره پلورل شوې وي.
سنان: یعني د پاکستان په باره کې ستا معلومات د ویترانو او د کیم تر ناول پورې محدود دي.

ددې څخه پرته -پاسکل د سر په ګرولو سره په فکر کولو پیل وکړ-– هو- ما یو ځل د شالیمار د باغ په باره کې یو نظم لوستې وو. او ، او – ما سره په نوټنګهم کې د یو پاکستاني د دستکارۍ د دوکان څخه اخیستل شوې ګاڼه هم ده .

سنان : پاکستاني ګاڼه ؟

پاسکل ورته وویل – هو په غوږونو کې اچول کیږي. دوکاندار ویل چې د ټولو پاکستانیو ښځو په غوږونو کې په پیدایشي ډول دا سورې وي چې په هغې کې د غوږونو کړۍ اچول کیږي.

سنان:هغه دوکاندار د مشرق د جادو په مټ په تا باندی د سحر کولو هڅه کوله .په پیدایشي دول باندې سورۍ نه وی بلکه وروسته په کې سورۍ کیږي.

پاسکل : ستاسو په ژبه کې د غوږنو کړۍ ته څه نوم اخیستل کیږي .؟

سنان : غوږوالۍ

پاسکل : غوږ-والۍ- ډیر ښکلی نوم دی . زه چې نن ماښام راځم نو اچوم یې. د سپین زرو دي.

سنان د هغې په معصومیت وخندل . هغه به واقعا په دی کې ډیره ښکلی ښکاره کیږي.سنان یو ځل بیا ورته تکرار کړه . پوره او بجې اوه بجې د آیفل ټاور لاندی.

پاسکل د ماشومانو په څېر سر وخوځاوه په خندا شوه او له شرارت څخه یې ورته وویل نه پاو کم اوه بجې .

موټر د مقرر شوې وخت څخه لس منټه مخکی د سینت لازار د ستیشن یو چټل تم ځای ته ورسیده .

دواړه چې د ډبی څخه راښکته شو. نو مخامخ د پاسکال چاقه خو خوش شکله خاله ولاړه وه .چې پاسکل د ( میو اشیرۍ) په ویلو سره ورترغاړې شوه .دا چې سنان مخکې چېرته د فرانسوي خاله ګانو سره د لیدو اتفاق نه وو شوی نو هغه د خطر د اخیستلو څخه پرته خپل سامان پورته کړ او د ستیشن څخه بیرون ولاړه .

مخامخ په یو عمارت کې د معلوماتو دفتر وو. هغه ته داخل شو . د معلوماتو په کاونتر کې د تورو وینتو یوه ټیټ قده فرانسوۍ جینۍ ولاړه وه چې یو شمیر خارجي سیاحانو ته یې په پاریس کې د قیام لپاره د هوټل او د سیل د ځایونو په باره کې معلومات ورکول . د سنان د سفر طریقه د نورو عامو سیاحینو څخه ډیره مختلفه وه . ده کله هم منزل نه مشخص کاوه . په یو موټر کې به سپور شو او په لاره کې به چې کوم ښکلی ښار یا کلی په مخه ورغی نو هملته به پاتی شو . که چیرته کوم بل سیاح به خبر کړ چې په فلانکي ځای کې نن سبا چیرته جشن کیږي نو هلته به یې ځان وروروساوه . په روان مزل کې به که چېرته کوم کس موټر ته پورته کړ او د هغه منزل به هر یو وو نو ورسره به روان شو . په دې ډول سفر کې که د

www.dawatmedia24.com

یوې خوا څخه به یې د نوو خلکو او د نوو ښارونو د لیدو فرصت تر لاسه کاوه نو د بلې خوا څخه به یې یو شمیر ستونزې هم ګاللی. لکه ځینې وخت به په داسې یو ځای کې ورباندی شپه راغله چې هلته به د شپې د تیرولو کوم خاص انتظام نه وو او بیا به یې ټوله شپه د سړک په غاړه باندې تیروله . او یا به چا د آبادۍ څخه ډیر لیری په یو ویرانه ځای کی ښکته کړ. د همدې ستونزو له کبله هغه یوه خیمه او یو څه د خوراک د پخولو سامان له ځان سره اخیستی وو . چیرته به چې یې په هوټل کې ځای پیدا نه کړ نو بیا به کیمپ ته ولاړه او خپل ځان ته به یې یو کوچنې کور جوړ کړ . کیمپ د آروپا په هر ښار او کلي کې موجود وي او هر ډول سهولتونه لري . سنان داسې فکر درلوده چې په پاریس کې د کیمپ په ځای په هوټل کی پاتی شی نو ځکه یې د کاونټر تر شاته له جینی څخه پوښتنه وکړه .
په داسې حال کې چې جینی په میز باندې پنسل ټکاوه له سنان څخه یې پوښتنه وکړه چې تاسو ته زیات نه زیات تر څومره کرایې پوری هوټل په کار دی ؟
سنان : همدا د ورځی تر لس فرانک پوری .
د جینی د لاس څخه پنسل په غورځیدو ، غورځیدو کې بچ شو .
لس فرانک ؟ ناممکنه ده . هو البته تر دیرش فرانک پورې شاید . جینې د سنان لور ته داسې ولیدل لکه هغه ته چې وایې چې ای فقیره ته په پاریس کې یې او دلته هوټلی وی څه مسافر خاني نه وي .
سنان : سنان پخپلو اوږدو ویښتانو کې لاس تیر کړ ، سر یې وخوځاوه او جینې ته یې وویل دا خو ډیره زیاته کرایه ده .
جینې د سنان شاته د سیاحانو رش ته په بی صبرۍ سره ولیدل او په بی پرواهۍ یې سنان ته وویل هو دا خوده .
سنان پریکړه وکړه چې کیمپ ته به ولاړ شی هلته د خیمې د لګولو کرایه د ورځی یوازې دوه فرانکه ده .او جینې ته یې وویل ښه بیا په پاریس کې د کیمپ آدرس راکړه ما سره خیمه هم شته .
جینی سمدلاسه د میز له دراز څخه د پاریس د ښار ټوله نقشه راوویسته او بیا یې په یو سور پنسل سره په یوه نقطه باندې نښه وکړه او سنان ته یې ورکړه . د بوبې ډې بولون کیمپ شته چې د ټرام د سړک هغې خواته واقع دی . په نیولي پل باندې ښکته شه ددې سره نږدی دی.
سنان په جیب کې نقشه واچوله ، د جینی څخه یې مننه وکړه او او بیا د ترام ستیشن ته ولاړه .
لږ وخت وروسته یو زوړ ټرام موټر هلته راغی او ودریده . سنان د جیب څخه نقشه راوویسته او کلینډر ته یې وروړاندې کړه. کیمپ .. کلندر د ( ووي) چیغه وکړه او سنان یې د سامان سره یو ځای موټر ته راکش کړ. ټول موټر ډک وو نو سنان سامان د دروازې سره کینوده او خپله هم همهلته ودریده . په پاریس کې د بیروبار وخت وو . خلک د دفترونو ، کاخانو او د خپلو کاروبارونو څخه فارغ شوی وو او بیرته خپلو کورونو ته روان وو. کله چې د نیولي پل راورسیده نو کلنډر هغه ښکته کړ.
سنان تر یو وخت پوری په ترام ستیشن باندې ولاړ وو او کیمپ ته د تلونکي سړک د مشخص کولو هڅه یې کوله اما هلته څو سړکونه وو. هغه له سړک څخه تیر شو په چوک کې

ولاړ یو فرانسوي ترافیک پولیس ته چې په تن یې نیلی رنګه یونیفورم وو ورغی هغه ته یې نقشه وښوده او کیمپ ته د تلونکي سړک په هکله یې ورڅخه وپوښتل . پولیس چې په خوله کې شپلیک کلک نیولی وو او تر اوسه یې واهه. کله چې یی شپلیک یې په جیب کې کیښوده. خپله خولې یې سمه کړه نقشه یې په لاس کې واخیسته او هغه ته یې په ډیر ځیر ، ځیر سره وکتل .

پولیس د سنان اوږه وټپوله او ورته یې وویل – آها – کیمپ

سنان په جواب کې په ډیره خوش دلې سره د پولیس اوږه بیرته وټپوله او ورته یې وویل هو بلکل کیمپ

پولیس سنجیده شو. او هغه ته یې د لاری په باره کی معلومات ورکړل- خبری یې په فرانسوي ژبه وی. دا چې سنان په کالج کې د لومړی ساعت څخه وروسته فرانسوي ژبه د ضرب د خانو په څیر بیا نه وه ګردان کړی نو ځکه پولیس چې به څه ویل سنان به ورباندې نه پوهیده. د لارښوونو په ځای سنان د هغه د لاسونو د تیزو حرکتونو په اشارو باندې د پوه کیدلو هڅه کوله . د یو ډیر وخت او ښکلي ګپ ، شپ څخه وروسته دا حقیقت ورته واضح شو چې کیمپ د نیولي د پل سره ، د سین د سیند په غاړه د غځیدلي سړک په آخر کې واقع دی . خو فاصله بیا هم واضح نه شوه .

سنان د پولیس څخه مننه وکړه او د سین د سیند د پورتنی غاړی سره په جوړ شوې غټ فوت پات باندې روان شو .

دا د بوي ډي بولن علاقه وه چې د ښار د ښکلو ځایونو څخه شمیرل کیږي. د پاریس د ا مشهور ځای د سین د سیند د خاموشه اوبو په غاړه ، غاړه تر میلونو فاصلې پوری خپور دی . که چیرته لاندې د سیند خواته سر ښکته کړو نو په غاړه باندې کوچنې ، کوچني کورونه تر سترګو کیږي چې ښکلې باغیچې یې د اوبو تر سطحې پورې رسیږي.د پاریس شتمن خلک ددې کورونو مالکان دی چې یوازې د رخصتی په وخت کې د ښار له شور څخه لیرې دلته راځي په ځینې ځایونو کې په غاړو سره د شنو واښو یوه برخه هم وه چې مخې ته یې د اوسیدو کښتی ( هاوس بوټ ) لامبو وهله. سنان خپل قدمونه تیز کړل . هغه غوښتل چې ژر تر ژره کیمپ ته ورسیږي تر څو خپله خیمه ودروي او ژر تر ژره د آیفل ټاور خواته روان شی چیرته چې پاسکل د لیدو لپاره اوه بجی وخت ورکړې وو.

د فوټ پات په غاړه کې یې یو سپین غټ آهني پاټک ولیده نو سنان لاندې خواته د ښکته شوو ډبرینو زینو په آخر کې د یو ښکلی عمارت د لیدو لپاره یو لحظه تم شو. څنګه چې یې په پاټک باندې لاس کیښود نو د مرکزي دروازې مخ ته ولاړ یو خونخواره سپی په غړمبیدو شو او د سترګو په رپ کې تر ده پوری راورسیده . سپي د پاټک په اوسپنیزو سیخانو کې خپله مښوکه ننویسته او تر سنان پورې یې د رسیدو ناکامه هڅه وکړه. سنانه له ډاره لړ ولړزیده او مخته روان شو . دا چې ددې کورونو څښتنان په موقتي ډول دلته پاتی کیږي نو هغوي پخپل نشتون کې د چوکیدار کار داسې سپیو ته سپاري.کله چې د کورونو او د اوسیدونکو کښتیو سلسله ختمه شوه نو د سین د سیند په غاړه یې یوه پراخه سر سبزه سیرګاه ولیده چیرته چې د ځیړی او د بید د ونو تر سیورې لاندې څو تنه عمر خوړلي خلک ناست

وو او د ماهيانو په ښکار باندې مصروفه وو. هره خواته مکمل سکون وو. سنان فکر وکړ که چېرته امکان ېې وو نو د پاریس د قيام په وخت کې به يو څه وخت به پيداکوي او په دې سکون لرونکي فضا کې به يې تيروي.
کيڼې خواته د پاریس د شتمنو خلکو د سپينو ځليدونکو کورونو قطارونه وو چې دښکلي ساختماني طرز نمونې وی. ښکلي اوسپنيزې بالاخانې، ښايسته کنګرې، او غټې غټې ښيښه يې کړکې ډيرې ښکلې ښکاره کيدلې.
د پوره دوه ميله پيدل مزل څخه وروسته کله چې سنان د کيمپ دفتر ته داخل شو نو د ستړيا څخه بې حاله وو. کيمپ څه وو خو د سيند په غاړه يو مکمل ښار اباد وو. يوه ستره عمده فروشي چې د ستنې څخه تر موټرسايکلونو پورې هر څه په کې پيداکيدل. رستورانتونه ، قهوه خانې ،آشپزخانې، د جامو د مينځلو اطاقونه پاک حمامونه او په ټول کيمپ کې غځيدلې پراخه سړکونه وو چې په څنګ ، څنګ کې يې د مختلفو سايزونو خيمې لګيدلې وی. کاروان هم تر سترګو کيده چې يو ګرځنده کور ويل هم ورته مناسب دی. هغه د موټر پسی وروسته تړل کيږي او په سياحت ووځی او هر چېرته چې وربانده شپه راشي نو د سړک په غاړه يې ودروي او د کور په څېر آرام په کې تر لاسه کوي.
د کيمپ په منځ کې د اوسپنې يوه اوږده ستنه لګيدلې وه چې په هغې باندې د فرانسې درې رنګه بيرغ رپيده . سنان چې دفتر ته د خپل نوم ، آدرس او د نورو معلوماتو د ورکولو په موخه داخل شو نو هلته نور هم بې شميره سياحان راجمع شوی وو. کله چې د سنان نوبت راغی نو د مدير څخه يې د خيمې د دريدلو د ځای په هکله پوښتنه وکړه مدير پرته له دې چې د ثبت د کتاب څخه سر راپورته کړی سنان ته يې مطلق جواب ورکړ ورته يې وويل موږ ډير افسوس کوو چې د موږ سره هيڅ ځای نشته .
سنان : په ستيشن باندې ماته ستاسو د کيمپ آدرس .......
مدير يې ژر خبره ورپرې کړه ، هو، هو خو هسې خلک راليږي.
سنان په ډار سره ورته وويل، خو زما خيمه ډيره کوچنۍ ده چيرته به په يو کونج کې ځای شی .
مدير په کتاب سر ښکته کړی وو او په ډيره خاموشۍ سره په خانه پرۍ مصروف وو.
سنان : ګوره زه نن اوه بجې د يوی ښځې سره ملاقات لرم . که چيرته د ځای په لټه کې بيرته ښار ته ولاړ شم نو واقعيت دی په ما به ډير ناوخته شی اوس لا شپږ بجې کيدونکې دی .
ها ، د مدير په څېره باندې مسکا خپره شوه ، سنان ته يې وويل ښه نو د ښځی ليدو ته ځی .
خدای خبر چې زموږ په اوسني نسل باندې څه شی شوی دی.ټول د نجونو په فکر کی دی .
سنان : اما دا کومه عادي جينی نه ده . خو په هر صورت – ماته ..
مدير د کتاب څخه سر راپورته کړ ، ما درته وويل هيڅ ځای نشته او محترما ستاسو په څېر ځوانانو ته په پاريس کې د نجونو کمی نشته دا نه بله .
سنان د وروستی ځل لپاره بيا ورته عذر وکړ ... لطفا

مدیر په خوش دلی سره ورته وویل زه یوازې دومره کولای شم چې تاته ددې اجازه درکړم چې د کیمپ د چار دیوالي څخه بیرون خیمه ولګوي زما په اعتراض نشته . سبا سهار ممکن چیرته ځای پیدا شی بیا به په داخل کې خیمه ولګوی.
سنان د دفتر څخه خفه راووته . د کیمپ د چار دیوالي بیرون د خیمې د نصب کولو امکان نه وو. خیمه به ولګوي، ټول سامان به په کې هم کیږدي او ښار ته به لاړ شی تر څو چې راځی نو دده په نشتون کې به یو وړې سیاح ټول سامان ښه په خوند سره ټول کړی وی او غیب شوی به وي.
بیرون ته د راوتلو په وخت کې مدیر ورته ویلي وو ، که څه هم په پاریس کې د زیات شمیر سیاحانو له کبله ټول هوټلونه ډک وي اما که د ښار په پخوانۍ سیمه مومارت کې هڅه وکړی نو په یو شخصي هوټل یا کور کې ځای پیدا کولی شي . په عادي حالت کې شاید د هغه زړه دومره نه وو شوی مګر د هغه سره ددې خبری فکر وو چې چیرته آیفل ټاور ته په رسیدو کې وربانديې ناوخته نه شي خو په هر صورت هغه همت د لاسه ورنه کړ او یو ځل بیا یې خپل ټول سامان پورته کړ او بیرته د نیولي پل خواته روان شو هغه به لا یو څو قدمه نه وو تللی چې یو موټر راغی او دده تر څنګ ودریده . په موټر کې دوه سیاح نجوني او یو خوشحاله هلک ناست وو .یوی جینۍ د موټر ښیښه بورته کړه او سنان ته یې وویل :
که چیرته ښار ته ځې نو موږ هم هملته روان یو . هغه ته وریاده شوه چې دا دری واړه سیاحان هم د ځای په لټه د کیمپ دفتر ته راغلی وو او اوس د هغه ځای څخه مایوسه بیرته روان دی .
سنان ورته وویل ډیره ډیره مننه ، سمدلاسه یې دعوت قبول کړ او په ورستی کرسۍ کښیناست .
د ډرایور په کرسۍ ناست هلک د سنان څخه پوښتنه وکړه ته د ښار په کوم ځای کې غواړی چې ښکته شی ؟
سنان ورته وویل
ماته ویل شوی وو چې د مومات په سیمه کې شاید د اوسیدو لپاره کوم ځای پیدا کړی. د هغه سره په څنګ کې ناستی جیني د سر په خوځولو سره وویل هو بلکل صحیح ده . او بیا یې سنان ته وویل چې ددې څخه مخکی موږ دوه نورو کیمپونو ته هم تللی وو هلته مو هم ځای پیدا نه کړ ټول پاریس د سیاحانو څخه ډک شوې دی. موږ دری واړو خو پریکړه کړی ده چې شپه د پاریس په ځای په یو نږدی ښار وارسیلز کې تیره کړو .
په مخکیني سیټ کې ناستې جینی شاته ولیدل او سنان ته یې وویل که ستا زړه وی نو موږ سره هم تللی شی . د هغې په سترګو کې شرارت نځیده زیاته یې کړه چې د مومارت سیمه لږ څه خطرناکه ده .
لومړی خو سنان وغوښتل چې هر څه پریږدي او له دوی سره وارسیلز ته ولاړ شی خو بیا به د پاسکل ویل شوی الفاظ وریاد شو :
( خلک لومړی زما د ښکلی ځېری په لیدو سره ماسره د ملاقات خواهش کوي خو کله چې ..... )

سنان : مننه خو زه په پاریس کې ډیر اړین کار لرم .
جینۍ ورته وویل سمه ده هغې خپلې اوږې سره ټولی کړې او بیا سیده کښیناسته .
د مومارت د سیمې په پیل کیدو سره هغوی سنان په یو چوک کې ښکته کړ. د پاریس په دې برخه کې تنګې او تیاره کوڅې او پخوانې کورونه وو. ځای په ځای د ګندګې انبارونه پراته وو. ټولی کوڅې د ډبرو د غټو غټو ټوټو څخه جوړې شوې وې. او زیات کورونه په ډیر بد حالت کې وو. سنان تر ډیره وخته پورې په دې کوڅو کې ګرځیده خو په هیڅ ځای کې یې د هوټل کومه لوحه ونه لیده.
د یوی کوچنۍ قهوه خانې مخ ته په فوټ باندې څو کرسۍ کیښودل شوې وې چې په هغوې کې څو عمر خوړلي فرانسویان او خارجي سیاحان د شرابو په څکلو مصروفه وو. د قهوه خانې نوم پګال وو. سنان ورته ننوت . د قهوه خانې مالک په یوه سپینه ټوټه د کاونټر مخ پاکاوه . سنان خپل سامان په یو کونج کې کیښوده. د کاونټر مخامخ په یوې کرسۍ کښیناست او هغه ته یې د کافي د جوړولو څخه وویل. مالک د کافي د جوړولو د ماشین لاستې تاو کړ او د ګرمې کافي پیاله یې د سنان مخ ته کیښوده . سنان پیاله پورته کړه پوکې یې ورکړ د کافي د پاسه جوړ شوې ځګ یې یوی خواته کړ د پیالي څخه یې غړپ وکړ او بیرته یې په کاونټر باندې کیښوده .
سنان په اشارو کې ورته د خپلې مدعا د بیانولو هڅه وکړه ورته یې وویل . محترما – د خوب لپاره هوټل ..
مالک د پاکولو ټوټه په اوږه واچوله خپل لاس یې اوږد کړ او سنان ته یې وویل ( نو انګلش ) یعنی په انګلش باندې نه پوهیږم ته څه وایې .
سنان د شرارت څخه د هغه پیښې وکړې ورته یې وویل ( نو ان ګلش) او بیا یې په قراره د کافي څکل پیل کړل .
اوس هغه په فکر کې شو چې څه باید وشی . هغه فکر وکړ چې بله لاره نشته که چېرته د اوسیدو لپاره ځای پیدا نه کړی نو د سامان سره به یو ځای د پاسکل لیدو ته ورځی او بیا به ټوله شپه د سین د سیند د یو ښکلي پل لاندې تیروي او په بل سهار به بیا د ځای په لټه پیل کوي. هغه په همدې فکرونو کې وو چې یو چا یې په اوږه باندې لاس کیښود .
یو لړزیدونکې غږ راغی – هیلو
سنان چې شاته وروليده نو په تور لباس کې یوه عمر خوړلې ښځه ولاړه وه.
بوډۍ ښځې خپل سپین سر وغوځاوه سنان ته یې وویل محترما -هوټل
هغه لکه چې دلته نږدې چیرته ناسته وه . او دده خبری یې اوریدلی . د بوډۍ په لاس کې یوه اوسپنیزه پنجیره ځنګیدله چې په هغې کې یو ګنجې او بد شکله طوطي وو چې سنان ته یې په لیدو سره تیغ ، تیغ پیل کړل . بوډۍ پنجیره په فرش کیښوده هغه یې خلاصه کړه طوطي ته یې په ګنجي سر یوه څپیړه ورکړه طوطي سمدلاسه خاموشه شوه.بوډۍ چې ددې کار څخه وزګاره شوه نو یو ځل بیا سنان ته مخاطبه شوه .
محترما ، هوټل ؟

سنان په خوشحالی ورته وویل هو ، هو ادی هوټل . بیا یې د طوطي خواته ولیدل او سترګې یې ورته ورپولی. طوطي یو ځل بیا ټیغ ټیغ پیل کړل. بوډۍ په قهرجن نظر د سنان خواته ولیدل او یو ځل بیا یې د ځیری د ورکولو دنده ترسره کړه . بوډۍ ښځی پنجره پورته کړه او د سنان ته یې د سر په اشارې سره وویل چې ددي شاته ، شاته دی راځی او د قهوه خانی څخه بیرون ولاړه .
سنان ژر د کافي پیسی ورکړی خپل سامان یې راپورته کړ او د بوډۍ ښځی پسی روان شو .د بوډۍ په لاس کې چې پنجیره ځنګیده په ډیر قرار قرار سره دده مخ ته روانه وه . د یو دوکان په مخ کې هغی سنان ته ودریدو اشاره وکړه.هغه دوکان ته ننوته ډبل ډوډۍ ، کوچ او داسې نور سامان یې واخیسته بیرته بهر راووته او په همغه سست رفتاری سره د سنان مخ ، مخ ته روانه شوه . سنان ته اوس لږ تشویش پیدا شو چې دا سپین سری ادی دا د کوم هوټل خواته بیایې او که هسی د پاریس د کلیو او کوڅو چکر ورکوي .
سنان چې په تنګ شو نو بوډۍ ښځی ته یې وویل . ادی هوټل شته هم دی او کنه ؟
بوډۍ ښځی یو ځل بیا خپل سپین سر وخوځاوه . هوټل ، هوټل . او په همدی سست مزل سره مخکی مخکی روانه وه . یو دوه ځل خو سنان قصدا طوطي ته خپلی غټی ، غټی سترګی وروښودی او طوطي به د معمول سره سم ټیغ ، ټیغ پیل کړل . بوډۍ په ډیر اطمنان سره خپله پخواني طریقه عملي کړه او طوطي به بیا خاموشه شو.
په یو ځای کې هغوی په ډبرینه زینه ښکته شو او په یوه تنګه کوڅه کی تاو شو . بوډۍ د یو ډیر زوړ کور مخ ته ودریده چې په هیڅ صورت هوټل نه معلومیده . ځای په ځای یې پلاستر راجدا شوې وو او رنګ یې هم خراب شوی وو .
هوټل ، بوډۍ سنان ته ددننه تللو اشاره وکړه ،ددې سره یې وخندل خپله بی غاښونو خوله یې خلاصه کړه او په خندا شوه .
بوډۍ مخکې شوه او کله چې یې د کور دروازه خلاصوله نو د دروازې سره لګیدلې ټالی دوه ځله وټنګیدله .سنان خپل سامان په فرش کیښود او د کور یوه جایزه یې واخیسته. دا دیو پخواني طرز تعمیر وو. د داخلیدو دروازې ته مخامخ پورته منزل ته د ختو لپاره د لرګي زینی وی . په فرش باندې یوه شکیدلی غالی پرته وه چې په هغې باندی د نقش شوو ګلانو رنګ اوس ژیړ شوی وو . ټول کور غیر آباد ښکاره کیده . نا څاپه د ښي خوا د اطاق دروازه خلاصه شوه د متوسط عمر یوه ښکلی ښځه چې د ملا څخه یې اپیرن تاو کړی وو بیرون ته راووتله . د هغې وینټان ګډو وډ وو خو په شونډو یې لا سرخي تازه وه . هغې په فرانسوي ژبه کې بوډۍ ته یو څه وویل او بیا یې د سنان خواته ولیدل.
بوډۍ دی ښځی ته د سر په ځوځولو سره وویل ، هوټل ، او بیا یې د سنان خواته اشاره وکړه .
آها هوټل ، ښځی په خندا سره خپل چټل لاس سنان ته وراوږد کړ. سنان یې لاس لږ ټچ کړ خو بیرته یې ژر پریښود. ډیر ګرم وو لکه چې په آشپز خانه کې یې کار کاوه . سنان ورته وویل آیا ته په انګریزی پوهیږی؟
ښځی په خندا سره ورته وویل .. لږه ، لږه

سنان : نو بیا ماته همدا اوس د اوسیدو لپاره د یو اطاق ضرورت دی .
ښځه د بوډۍ په غوږ کې یو څه وپسیده او بیا یې په یو زړه راښکونکې خندا سره د سنان خواته ولیدل.
ښځې ورته وویل ، شل فرانک کیږي .
سنان : شل فرانک ؟ ډیر زیات دی. خو سنان خو دا هسی ورته وویل ځکه چې هغه د نن شپې د تیرولو لپاره ددې دوه چنده رقم ورکولو ته هم تیار وو .
ښځې په ډیره حیرانتیا ورڅخه پوښتنه وکړه . د یوی هفتی لپاره شل فرانک زیات دی ؟
سنان په خوښی ورته وویل د یوی هفتی لپاره ؟
سنان داسی فکر کاوه چې داد یوی ورځی کرایه ده
سنان ورته وویل ، ډیره خو ده خو په هر صورت زما منظور ده . هغه خپل سامان پورته کړ .کوم اطاق دی ؟
ښځې خپل لاسونه په کمر بند باندې کیښودل او سترګې یې په سنان کی ښخی کړی او په کاروباري انداز یې ورته وویل لومړی لس فرانک پیشکي . هغه سمدلاسه روپۍ ورکړی.
بوډۍ چې د هغی ښځې مور وه د طوطي پنجره یې د هال په یو کونج کې کیښوده او یو غټ برش یې راواخیسته او د زینو په پاکولو یې پیل وکړ .
ښځې لس فرانک په بلوز کې تاو کړل او سنان ته یې د هغې پسی شاته د ورتګ اشاره وکړه او په زینو پورته روانه شوه . په زینو باندې ګرد پروت وو نور هسی هم په ډیر خراب حالت کې وو. سنان په ډیر احتیاط سره د هغې تر شاه قدمونه اخیستل . په دریم منزل کې ښځه د یوی تور رنګه غټی دروازی سره ودریده دروازه یې وټکوله خو له داخل څخه چا جواب ورنه کړ.
ښځې شاته د سنان خواته مخ راواړوه ورته یې وویل
بدبخته دننه دی. قصدا جواب نه راکوي. سنان په دې معما باندې پوه نه شو چې د ننه کوم بدبخته دی او ولی جواب نه ورکوي .
لږ وخت وروسته ښځې ښه په زوره ، زوره دروازه وټکوله . د ډیر وخت وروسته دروازه لږه خلاصه شوه د هغی شاته یوازې یوه سترګه ښکاره کیده . ښځې سمدلاسه دروازه ټیله کړه او ټوله یې خلاصه کړه . ددې مخ ته یو ډاریدلی اوږد او ډنګر زلمی یوازی په یو نیکر کې ولاړ وو. دده اوږده ږیره دده په پراخه سینه باندی د ځنګلي وښو په څېر خپره پرته وه . په تنګ اطاق کې د تصویر د جوړولو ټول لوازم ګډ وډ پراته وو.
د رنګونو ډبي ، تش کینوس، برس ، د خاورو د تیلو بوتلونه او داسې نور ....
پال ، همدا اوس او په دې وخت زما اطاق خالي کړه . نوي کرایه دار راغی .
اما میرمن ژی تر اوسه زما د میرمنې لویس په قهوه خانه کې کار نه دی ختم شوی او لا بیرته راغلی هم نه ده .
ستا میرمن ؟ میرمن ژي په یوی مصنوعي حیرانتیا سره خپله لاس په خوله باندې کیښوده .
بیا یې سنان ته مخ ورواړوه او هغه ته یې وویل . هره میاشت یې بدلوي. ښځه یې نه ده . بلکه بی نکاح یې ساتلی ده .

په نیکر کې ملبوس مصور  پال په ډېر هوښیارتوب سره  جواب ورکړ
زه د ټولنې په پخوانیو رواجونو یقین نه لرم . زه او لویس په ذهني ډول یو بل ته دومره سره نږدې یو چې جسماني قربت مو بې معنی شوی دی .
میرمن ژې په قهرجنه لهجه ورته وویل ، شاید په همدې پخوانیو رواجونو باندې د بې باورۍ له کبله ته ماته د تیرو دریو میاشتو کرایه نه راکوی . که څنګه ؟

پال هملته په ولاړه ، ولاړه ورته عذر وکړ، په همدې هفته کې به لویس معاش واخلی او ستا کرایه به حتمي درکړم .

میرمن ژې له ډېر قهر څخه خپله خوله ورانه کړه او د هغه پیښی بې وکړ .. حتمي به یې درکړم او بیا یې سنان ته وویل دا بد بخته د ښځی پیسو ته ناست دی . او بیا یې یو ناڅاپه چیغه کړه اوس – او په همدی وخت –اطاق خالی کړه کنه زه به پولیسو ته خبر ورکړم .

سنان ددې ناخوشګواره حالت لپاره هیڅ تیار نه وو. راوړاندې شو او میرمن ژې ته یې وویل :

تاسو لطف وکړی د اطاق څخه ددی مصور په ویستلو کې زحمت مه باسی زه به د اوسیدو لپاره چیرته بل ځای پیدا کړم .
میرمن ژې سنان ته وویل
هغه لس فرانک چې تا ماته په پیشکي کې راکړی دی زه یې بیرته نه درکوم .
سنان خپل بکس واخیسته او پرته له دې چې څه ووایې په زینو باندې ښکته شو.
ای مستر
سنان چې وروسته ولیده نو همغه مصور وپسی په نیکر کې شاته ، شاته روان وو. سنان ته یې وویل هسی ته خپلی پیسی مه ضایع کوه همدا زه به ولاړ شم . داد شاییلاک لور هسې هم ما نه پریږدي.
سنان تر یو وخت پوری خاموشه ولاړ وو. بیا یې ورته وویل
اما ته به نن شپه چیرته ځی؟
مصور ورته وویل
خپلی مخکینی ښځی ته . آهم... زما هدف دی چې خپلی جینې ملګری خواته ورځم او  هلته بیده کیږم .
سنان ورته وویل
او  هغه محترمه چې د کار د کولو څخه بیرته راوګرځی د هغی به څه کیږي ؟
مصور ورته وویل
هغه ته له ځان سره وساته .
سنان
ودریږه – اممم – د سنان ساه همهلته ودریده – مګر
مصور

هو ، هو په هغې کې څه بدي ده – لويس ډيره ښکلې ده .
سنان : دا خو صحيح ده مګر ..
مصور: مګر څه ؟
سنان : زه خو متاهل يم . سنان د مسؤليت څخه د ځان د خلاصولو لپاره هسې وويل .
مصور: اوريدلي مو دي دلته د عادي مشرقي خلکو سره هم يو درجن وي .
سنان : سنان په حيرانتيا ورڅخه وپوښتل ، څه شي يو درجن وي ؟
مصور: پال په ډير اطمنان سره جواب ورکړ ، ښځي نور څه .
سنان : سنان وخندل ، نه ملګريه، لږ تر لږه دا د مالپاره ناممکن دی . خو په هر صورت ستا د وړانديز څخه مننه .
مصور: خير په هر صورت – لاس يې ورکړ- زه همدا اوس خپل سامان پورته کوم – لويس ته ورځم او ورته وايم چې له نن څخه وروسته نور رخصت ياستي .

په دې دوران کې ميرمن ژي دروازې ته تکيه وهلې وه او په ډير خوند سره يې ددوي خبرې اوريدلې .

سنان او پال دواړه پورته اطاق ته راغلل او مصور خپل سامان په يوی بوری کی واچاوه او په اوږه يې کړ او په خندا سره يې سنان ته وويل – ښه ملګريه – بيا به ملاقات کيږي .

سنان : سنان ورڅخه پوښتنه وکړه چيرته ؟ هغه ددې مصور د انفراديت پسندی څخه ډير متآثره شوی وو.

مصور: همدلته چيرته د مومارت په قهوه خانه کې – ددې په ويلو سره په زينو باندې ښکته شو .
يوازې په نيکر کې ملبوس ، بوری په اوږه دا باريش مصور د سنان ډير خوښ شو .
ميرمن ژی د زينی لرګی ونيوه ،ورچيغه يې کړه – ای د پال بچيه – هغه زما د درې مياشتو کرايه –
پال چې لاندې هال ته ورسيده نو شاته يې وليدل سترګې يې په کی ښخی کړی او په خندا شو .
بدمعاشه – د ميرمن ژي په شونډو هم مسکا خپره شوه . د شکيدلي اسفنج اسفنج څخه راځوړندو سپرينګونو ددې خبری شاهدي ورکوله چې دی پالنګ خو يا خپل اوږ عمر پوره کړی او يا ورسره څه ظلمونه شوی دی . ددې څخه پرته يوه پخوانې آلماری هم وه چې د هغې يوه پله ورکه وه په آلماریٔ کې د واين او بيير د شرابو خالي بوتلونه پراته وو.د اطاق په داخل کې د اوبو يو نل او د مخ و لاس د وينځلو يو مات چيناېي لوښی هم وو. سنان چې د نل سر تاو کړ نو پرته له شوو، شوو څخه يې بل څه تر لاسه نه کړل .
ميرمن ژي په معذرانه لهجه ورته وويل
دا د پال بچي به د تشناب په ځای همدلته په اطاق کی لمبيده نو ځکه مې د لاندې څخه اوبه بندی کړی اوس يې خلاصوم .

www.af.dawatmedia24.com

د اطاق یوازی یوه کړکی وه او د کوټې خواته پرانیستل کیده . د کوټې بله خوا د مومارت پخوانی علاقه ډیره په زړه پوری ښکاره کیده.د پخوانې طرز کوچني کورونه چې بالکونونه يې د ګلانو په ګلدانونو ښکلی شوی وو. ددی ټولو څخه پرته د سیکری کر د مشهوری کلیسا د مشرقي طرز د ګنبذی شکلا د ډوبیدونکي لمر په نریو وړانګو کې پړقیدله .
سنان چې د کړکې څخه تاو شو نو میرمن ژي لا تر اوسه پوری هلته ولاړه وه .
سنان : ډیر ښه اطاق دی . سنان تر دروازې پوری راغی . هغه غوښتل چې میرمن ژي اوس له دی ځای څخه لاړه شی ، او هغه ځان جوړ کړی او د پاسکل لیدو ته ورشی .
ډیره ډیره مننه
میرمن ژي په غیر ارادي ډول یو نظر سنان ته ولیدل او بیا په خندا سره د اطاق څخه بیرون ووته .کله چې زینو ته ورسیده نو ودریده سنان ته يې وویل – هو- هغه جینی بده نه ده کومه جینی ؟ سنان په حیرانتیا سره وپوښتل
میرمن ژی ورته وویل
همغه ، لویس – پال چې ساتلی
سنان جواب ورکول مناسب ونه ګڼل او دروازه يې بنده کړه .
سنان چې ساعت ته ولیدل نو تقریبا اوه بجې کیدونکي وی او ده ته دا هم نه وه معلومه چې د ښار له دی ځای څخه تر آیفل ټاور پوری څومره فاصله ده او هلته د رسیدو لپاره څومره وخت ته اړتیا ده . خو په هر صورت د مخ و لاس د مینځلو د تردد څخه پرته يې ژر ژر خپل لباس تبدیل کړ او خپل اطاق يې قلف کړ او زینو ته راغی .
هیلو

سنان په روان مزل کې متوقف شو .

دده د څنګ د اطاق دروازه لږه خلاصه وه او د تورو ویښتو او د تورو سترګو یوی ښکلی جینی په کې د دروازې له منځ څخه رالیدل .

سنان په شونډو د یوی تتی مسکا په راوړو سره جواب ورکړ ،هیلو ، او ژر لاندې ښکته شو – خدا خبر څوک وه –
لاندې هال ته چې راغی نو میرمن ژي په یوی پخوانۍ صوفه باندی ناسته وه او سګرټ يې څکل . د هغي مخ ته په یو کوچني سه پایه میز باندی یو بوتل او د سرو شرابو څخه ډک یو ګیلاس پروت وو. دا شاید د سنان د پیشکي برکت وو .
سنان: میرمن ژي آیا تاسو ماته ویلای شی چې آیفل ټاور ته کومه لار تللی ده ؟
میرمن ژي چې په سترګو کی يې سرو کرښو لمبو وهله په شونډو يې د یوی زړه راښکونکی خندا په راوړلو سره سنان ته وویل تاته چې يې ونه وایم نور به يې چاته وایم .
سنان په دی وخت کې د داسی بی مطلبه خبرو د اوریدو په مود کې نه وو. هغه چې کله بیرون ته روان شو نو میرمن ژي وخندل
سنان ته يې وویل

وډار شوی؟ په چوک کې ښې لاس ته میترو ( زیر زمیني اورګاډي ستیشن ) دی . د هغه ځای څخه تر آیفل ټاور پوری موټر پیداکیږي.
سنان : سنان د منني په پار لړ سر ټیټ کړ . ورته یې وویل مننه خو سمدلاسه خیال ورغی – او هو ربښتا زما د ښنګ په اطاق کې ښوک اوسیږي؟
میرمن ژي ورته په رپیدونکې لهجه وویل ، څه همدا وساته
سنان په قهرجن ډول ورڅخه پوښتنه وکړه ، ښوک ؟
میرمن ژي ورته وویل ، همدا فرانکو الجیرین جینی چې ستا په ښنګ کې اوسیږي .
سنان په بېړیدو سره د کور څخه بیرون شو .
مومارت په واقعیت کې ډیره خطرناکه سیمه ده .

سنان په هغه لار چې میرمن ژي ورته ښودلي وه تر چوک پوری راورسیده. د میترو د بورد تر ښنګ په زینو ښکته شو او د یوې اوږدی زیر زمیني لاری دروازی ته راغی چې په اخر کې یې د ستیشن تم ځای وو. سنان چې په ډیره بیره سره ددې زیر زمیني لاری په آخر کې داخلي دروازې ته ورسیده نو هلته ولاړ پلټونکي ورڅخه ټکټ وغوښته .
سنان په پریشانی کې د پلټونکي څخه وپوښتل ، آیا ټکټ په پلیټ فارم کې نه ورکول کیږي ؟
پلټونکي چې د نورو مصافرو د ټکټونو په لیدو کې مصروفه وو ژر یې جواب ورکړ ( نه ) او بیا یې زیاته کړه ددې زمیني لار په شروع کې له کومه ځایه چې ته راغلی هلته د ټکټ ورکولو خودکاره مشینونه نصب دی .
سنان لومړی شاته یو میل فاصلی ته ولیدل او بیا یې پلټونکي ته وویل
د ټکټ پیسی له ما څخه همدلته واخله خو ماته په څه ډول یو ټکټ راکړه زه باید یو ځای ته په وخت ورسیږم .
پلټونکي په ډیره بی پرواهی سره جواب ورکړ دا ټول خلک غواړي چې خپلو ځایونو ته ژر ورسیږي . ټکټ یوازی ددې لاری په شروع کې د نصب شوو ماشینونو څخه تر لاسه کیدلی شی . او بیا یې د نورو مسافرو د ټکټونو په لیدو بیل وکړ.
سنان چې دې پلټونکي او فرانسوي ریلوی سیستم ته یې خبری کولی په منډه یې ځان ورساوه په ماشین کې یې سکه واچوله او ټکټ یې تر لاسه کړ او ساه نیولی بیرته راغی . په دی منډو رامنډو کې ۱۵ منټه ضایع شو. په همدې وخت کې یو موټر تم ځای ته داخل شو نو سنان په هغې کی سمدلاسه کښیناست . کله چې موټر حرکت وکړ نو د ښنګ مسافر څخه د پوښتنی په جواب کې ورته معلومه شوه چې دا موټر د آیفل ټاور بالکل مخالف طرف ته ځی . سنان د بی قراری او بیچارګي په یوه نړی کې چې خپلی شونډي یې چیچلی په راتلونکی ستیشن کې ښکته شو. د بیړي له کبله هغه په اضطراب کې وو- هغه نه پوهیده چې کوم ستیشن ته ولاړ شی او په کوم موټر کې کښیني . د ژبی سره د ناواقفیت له کبله هغه خپل مشکل هم چاته نه

شو بیانولی. خو بالاخره د دندې څخه یو فارغ شوی کلیندر د هغه ستونزه حل کړه. او صحیح سمت ته په تلونکي موټر کې ېې کښیناوه. د کلیندر د لارښوونو مطابق سنان د کنکورد د ستیشن څخه موټر بدل کړ او بیا د آیفل ټاور په ستیشن باندې ښکته شو .
کله چې سنان د ستیشن څخه بیرون راغی نو اته بجی وی.د سین د دریاب په غاړه مشهور ایفل ټاور د یو پیریاني مرغه په څېر خپلې اوسپنیزې پنجې په ځمکه کې ښخې کړې وی او د آسمان وسعتونه ېې ښکلول. د ټاور لاندې د سیاحانو یو رش جوړ وو. فوټو ګرافرانو ، آیس کریم خرڅوونکو، تصویري پوسټ کارډونو ،د تحفو په دوکانونو او په قهوه خانو باندې ښه رش جوړ وو .
سنان ددې په لیدو ډیر حیران شو چې آیفل ټاور چې د لیرې څخه یو عام منار ښکاري د حجم له نظره دومره لوی وو چې د څلورو پایو تر منځ ېې به زرهاوو خلک په آسانۍ سره ځای کولی شو . او په دومره رش کې د یوې جینۍ تلاش ډیر سخت کار وو. سنان به په دومره رش کې هر یو ته د امید او نا امیدۍ په نظر لیدل او مختته به روان وو. خو پاسکل هلته نه وه . سنان په دې خبره مکمل باوري وو چې هغه به په اوه بجی راغلی وه او دا چې دا به ېې دلته نه وو پیدا کړی نو بیرته به مایوسه تللې وي . هغه به داسې فکر کوي چې د نورو خلکو په څېر به د سنان دلچسپي هم موقتي وه . او بیا به ېې د دې سره د راتلونکې حالت د احساس کولو څخه وروسته د ملاقات اراده ترک کړی وي . دې فکر هغه ډیر خفه کړ . اوس د هغه سره د پاریس او ددې ښار د سحر انګیزه ماښامونو کومه دلچسپي نه وه . هغه ټاور ته مخامخ په پل باندې په دی موهوم امید ولاړ وو چې پاسکل باندې دلته په رسیدو کې ناوخته شوې او شاید راورسیږي . مګر دشپې تر ناوخته پوری هم پاسکل رانغله . سنان په پریشانۍ کې فکر وکړ چې هغه به حتمي په اوه بجی راغلي وي بلکه په پاو کم اوه بجې به راغلي وی لکه څنګه چې هغې په خندا کې وعده کړی وه .
کله چې نږدی دولس بجی د ایفل ټاور شاوخوا وسیع باغونه د سیاحینو څخه په خالي کیدو شو او د سین د دریاب په غاړه د یو څو جوړو څخه پرته نور څوک پاتی نه شو نو سنان هم په ستړو قدمونو بیرته ستیشن ته راغی او د هغه ځای څخه په موټر کې کښیناست او په مومارت کې بیرته خپل کور ته راغی .
خپل اطاق ته چې داخل شو نو جامې ېې وویستلی . د خپل سامان څخه ېې د سفر روجاېې راوویسته په پالنګ ېې هواره کړه په هغې کې ننوت او په قراره په کې وغځیده . خوب د هغه څخه په میلونو فاصله لیرې وو . هغه فکر وکړ چې سبا باید په لومړي موټر کې هسپانیا ته ولاړ شي . که څه هم هغه پاریس ته په لومړي ځل راغلی وو مګر هغه پوهیده هر څومره چې په پاریس کې پاتی کیږی نو د پاسکل یادونه به ېې په ذهن سپاره وی او هغه به د پاریس په څېر په ښکلي ښار کې هم خوشحاله نه شي . بیا به یو خالي امید ورته پیدا شو چې ممکن یوه ورځ پاسکل ددې ښار په کوڅو کې چیرته وګوري . هغې به ویل چې هر ماښام د سین د دریاب غاړې سره یوازې ګرځي نو سنان تصمیم ونیوه چې هغه به د څو ورځو لپاره حتمي په پاریس کې پاتی کیږي . او هر ماښام به د سین د دریاب په غاړه کې د پاسکل د پیدا کولو هڅه کوي . هغه په همدې فکرونو کې ډوب وو چې خوب یوړ .

دشپې په وروستي برخه کې د ځنګ له اطاق څخه د موسيقي يو تيز غږ راغي او سنان يې له خوب څخه رابيدار کړ . د ميوزيک سره د کوم نارينه د خندا غږ هم راته . سنان فکر وکړ چې دا جيني ولی تر اوسه بيده شوي نه ده ؟ هغه د روجاپې څخه سر راوويسته .د هغه کوچني اطاق د سپوږمۍ په رڼا کې ډير واضح ښکاره کيده . تيره شپه د بيده کيدو څخه مخکې د هغه څخه هير شوي وو چې کړکۍ بنده کړی .
هغه د سفر روجاپې له ځانه ښه تاوه کړه د پالنګ څخه پورته شو او د کړکۍ سره ودريده . ده ته مخامخ د پاريس ښکلی ښار د سپوږمۍ په رڼا کې ښکاره کيده . د مومارت ښکلی کور او دده څخه لږ ليرې د سيکری کر ګنبد د سپوږمۍ په رڼا کې ځليده . يو څه سحر انګيزه خاموشي خپره وه خو د ځنګ په اطاق کې يې غږيدونکي ميوزيک خلل په کې واقع کړ . څه وخت وروسته دا تيز ميوزيک ختم شو او د يوې لحظې لپاره دا خاموشي تکميل شوه . او بيا په قرار ، قرار سره د ستار خفه او ل درده ډک ساز په فضا کې انګازې وکړی. نن سبا په آروپا کې که د يوی خوا څخه مشرقي رواجونه او طريقي غوره ګڼل کيږي نو د بلی خوا څخه مشرقي ميوزيک خصوصا ستا هم ډير مشهور شوی دی. د موسيقي د شوقينو هلکانو او نجونو سره حتمي د مشرقي ميوزيک ريکارډونه موجود وي . که څه هم د ځنګ په اطاق کې غږيدونکي ميوزيک د کوم باتجربه سندرغاړي نه وو اما د وطن څخه ليرې د پاريس په څېر ښار کې ، او په دې سپوږميزه شپه کې د ستار زړه راښکونکو سازونو په سنان باندې ژور تآثير کړی وو . ټوله شپه چې دده د زړه په ژورو کې کوم خفګان تاويده راتاويده د ستار زړه راښکونکي غږ لا پسې ژور کړ. په زړه کې مې يوه دروازه خلاصه شوه او يوی خنده رويه څېرې په کې وليدل او بيا ددې څخه پرته نوری دروازی هم خلاصی شوی چې په هر يوی کې پاسکل راليدل . د هغې په شنو سترګو کې ژور خفګان وو هغه سنان ته مخاطب وه او ورته يې وويل :
ماته له اول څخه معلومه وه چې ته به نه راځې .له تا څخه مخکی هم له ماسره خلکو د دراواغو وعدې کړی وی . ما تاته ويلي وو کنه چې زه تل د رحم او همدردی د جذباتو د يوی سوالګرې په څېر پاتې کيږم . ماته ددې هيڅ ضرورت نشته زما کچکول ددې څخه ډک شوی دی . ماته د مينې ضرورت وو چې ما تر لاسه نه کړه .نن ورځ هم د سين د درياب په غاړه يوازې ګرځم – يوازی – يوازی

⭐⭐⭐⭐

پاريس د آروپا په ډيرو پخوانيو ښارونو کې شميرل کيږي . په پخوا وخت کې کله چې نومورې سيمې څو دلدلونه او جزيری درلودلی نو د سيلټ د نسل خلک هلته آباد شو . د پاريس په هکله لومړني معلومات د جوليس سيزر په يو کتاب کې ذکر شوی دي . چې دلته د پاريسی په نامه يوه قبيله آباده وه . چې ددی له کبله دا ځای د پاريس په نامه سره ونومول شو . په ۳۰۷ ميلادي کال د هنود د وحشي قبيلي سردار اتيلا په دی ښار باندی حمله وکړه . ددې څخه وروسته د شارليمان دور راغی چې د هارون الرشيد خليفه هم عصر وو او د اندلس د

فتح کولو په شوق ېې عسکر د پیرانیز د غره اخوا ولیږل چې د مسلمانانو په لاس تس نس او بیرته یخ راغلل. ددې ځخه وروسته تاریخ ګډ وډ کیږی . د لوېې او فلیپ په نامه سره لسګونه پاچاهان راځی چې د هغی سلسله نمبر په ذهن کی نه کښیني . په اخر کې بیا د ستر ناپلیون دور راځی او ددې ځخه وروسته په ځراغونو کې رڼا نه پاتی کیږي .

په دوهم سهار سنان تر ناوخته بیده وو . دده په ذهن کې د نن ورځ لپاره هیڅ واضح پلان موجود نه وو . د هغه داسی فکر وو چې ټوله ورځ به ددی تاریخي ښار په کوڅو کې تیره کړی او بیا به ماښام د پاسکل په لټه کې د سین د دریاب غاړی ته ولاړ شي .

د اوبو په نل کې نن اوبه هم وی . میرمن ژي د خپلی وعدی سره سم اوبه راپرېښی وی. د ږیری د جوړولو او د جامو د بدلولو ځخه وروسته کله چې سنان فارغ شو نو کیمره ېې په اوږه وځړوله او د اطاق ځخه بیرون ولاړه . هغه د یوې لحظی لپاره د ځنګ د اطاق سره ودریده . دننه مکمل خاموشي وه او بیا په زینو باندی لاندې ښکته شو . په هال کې د میرمن ژي او د هغې د بوډۍ مور ځخه یوه هم نه وه . البته هغه ګنجی طوطي په مزی سره په پنجره کې ناست وو او ښه په خوند سره ېې سترګې رپولی او لکه د تیر په ځېر ېې د سنان په لیدو سره ټیغ ، ټیغ پیل کړل سنان د غل په ځېر یوه او بله خوا ولیدل او بیا ېې په قراره د پنجره دروازه خلاصه کړه طوطي ته ېې په ګنجي سره یوه ځپیره ورکړه طوطي یو اوږد ټیغ وکړ او خاموشه شو . سنان پخپله په دی کارنامه باندې ډیر خوشحاله شو لاسونه ېې د ډیری خوشحالی ځخه ومښل او د کور ځخه بیرون شو .

تر یو وخت پوری هغه همداسې بی مقصده ګرځیده . په یوی کوځه کې ېې سترګې په هغی قهوه خانه باندې هم ولګیدلی چیرته چې دا د لومړي ځل لپاره د طوطي والا ادی سره مخ شوې وه . سنان د خپل ځان سره ووېل چې نن ماښام به دلته کافي ځکی او بیا مخته روان شو د پاسکل سره د نه ملاقات غم د پاریس ښکلی او ځلیدونکې سهار یو ځه کم رنګه کړی وو .

هغه د یو تجربه کار سیاح په ځېر په روان مزل کې د ښار هر عمارت ، او هر کور په ډیر غور سره کتل . د ښار دا برخه یو ځه وروسته پاتې وه . د اکثره بالکونو حالت خراب وو . ځو کورونه په لویدو کې وو . په کوځو کې ېې ناهمواره تیږی وی ( خدای خبر چې صوبیدار دلنواز د ښینبی سړکونه چیرته لیدلې وو ؟ ) خلک د انګریزاو په نسبت لږ چاق او ټیټ قدي او د تورو ویښتو درلودونکي وو . دومره پاک هم نه وو خو البته د انګریزانو په نسبت د ژوند ځخه بیزاره نه لیدل کیږي . لکه د ضرورت ځخه زیات خوشحاله دی . هغه همداسې په لیدو ، لیدو د سیکری کر تر کلیسا پورې ورسیده . هغه د مرکزي دروازې ځخه دننه داخل شو . کلیسا ډیره تیاره او یخه وه . مخامخ د حضرت عیسی رض او د بي بي مریم د درجنونو مجسمو لاندې لسګونه اوږدې او نازکه شمعی لګیدلی وی . ځه خلک چې اکثریت په کی عمر خوړلی ښځی وی د لرګي په سخت فرش باندی په ګونډو ناستی وی او په عبادت کې مصروفه وی . سنان د ځان سره فکر وکړ چې که چیرته په دی عمارت کې د رڼا انتظام ښه شی نو د تعمیر د طرز باریکیانې په ځرګندې شي . سنان هم د آرام لپاره په یو بینچ کښیناسته او په شمعو کې ېې سترګی ښخی کړی وی. ددې ځخه لږ لیری یوه بوډۍ ښځه چې تور لباس ېې په تن وو په عبادت کې مصروفه وه ښځی سنان ته ولیدل او په خندا شوه . دا طوطي والا

ادئ وه . سنان لږ ډار احساس کړ.د کور ښځه د راتلو په وخت کې هغه ددې ادئ طوطي ته ښپیره ورکړی وه . هغه جوابا وخندل بیا د بینچ ښځه پورته شو او ژر بیرون ولاړ. بیرون تیز لمر دده سترګې وبریښولی.
کلیسا ته بالکل مخامخ ښکلی او پراخه زینې لاندې تر بازار پوری ښکته شوی وی په زینو باندې بی حده رونق وو. فرانیسی بوړهی جو پایپ منه می اړ سی اخبار .عمر خوړلی ښځی او بی شمیره کوچني ماشومان وو د هغوی ښځه لږ غټان په موټرو کې خوځیدل راخوځیدل، او ددوي ښځه په عمر کې لږ غټان د زینو سره په باغیچه کې د کیري کاړا په ښځر په کومه لوبه کې مصروف وو. سنان دلته د پیغلو نجونو او ځوانو هلکانو ډیر کمې احساس کړ او بیا ورته ورياده شوه چې د پاریس خلک اکثریت د اوړي په موسم کی ساحلي سیمو ته ځي او د یو لاربنود کتاب په اساس بیا دلته یوازی بی روزګاره ، بی کوره ،مفلسه مصور ، خارجي سیاحان او کوڅه ډب سپي پاتی کیږي. دلته خو سپي نه ښکاره کیدل خو البته بی شمیره تصویر جوړوونکي موجود وو چې د رسامی تخته بې مخ ته ایښي وه او د شا وخوا شور ښځه ناخبره د سیګری کړ ښکلی ګنبذه یې جوړوله. سنان هم همدلته په زینو باندې کښیناست او د پاریس ددې د ژوند ددې دلچسپه برخې ښځه یې خوند واخیسته .
د هغه د کښیناستو ښځه یو څو لحظی وروسته یو ځوان مصور راغی او د هغه سره ودریده د مصور په غاړه کې ډول ډول تسبیح ګانی ، او د مندر یو غټ ګړنجانی ځنګیده . مصور ګړنجاني د سنان غوږ ته ورنږدې کړ او په زوره ، زوره یې وګړنجاوه .مصور ورته وویل سهار پخیر
سنان هم په مسکا شو .
مصور د سنان سره په همدې زینو باندې کښیناست . په بغل کې یې تصویران نیولي وو یو تصویر یې تری راوویسته او سنان ته یې په زنګنو کیښود. سنان چې تصویر ولیده نو ډیر حیران شو دا دده خپل تصویر ښکاره کیده .
مصور په ډیر ادب سره ورته وویل ، ستا شاید ماته فکر نه وو خو زه له تیرو لسو منټونو ښځه ستا د تصویر په جوړولو مصروف وم .
سنان ورته وویل ، ډیر ښه دی .تصویر رشتیا هم ډیر ښه جوړ شوی دی .
رسام سنان ته وویل ، زما لخوا یې د یوی ډالی په حیث قبول کړه ، رسام پورته شو ، سر یې لږ ټیټ کړ او په غاړه کې ځوړند ګړنجاني یې وګړانجاوه ، ټن ټنا ټن
سنان ددې بی ځایه اخلاص ښځه ډیر متآثره شو .
نه ، نه دا ښځګه کیدلی شی . خو په هر صورت ستا ډیره مننه .
رسام ورته وویل
په دې کې د مننی کومه خبره نشته . ستا مشرقي ښکلا دومره زړه وړونکی ده چې زما د تخلیقي وړتیاوو سمندر یې په جوش کړ او زه یې ستا د تصویر جوړیدو ته اړ کړم .
سنان سم کښیناست . هغه واقعا ښکلی وو .
سنان نه غوښتل چې د رسام زړه مات کړی نو تصویر یې قبول کړ. ددی سره خو همیشه د تخلیقي جذباتو د سرپرستی خیال وو .

زه ډیره مننه کوم . سنان د هغه د احسان لاندې همداسې راته .
مصور یوازې د ګړنجاني په ګړنجولو اکتفا وکړه . ټن – ټنا – ټنټن – او لا هملته ولاړ وو .
تر یو وخت پورې سنان د هغه لور ته لیدل او په خندا وو. خو کله چې هغه ( مصور) غابنونه ښکاره کړل نو سنان جدي شو. آخر دا رسام له دې ځای څخه ولې نه ځی ؟
سنان یو ځل بیا د خندیدو هڅه وکړه .
سنان : ما وویل چې زه له تا ډیره مننه کوم .
مصور لا هملته ولاړ وو، په ولاړه ولاړه یې په غاړه کې ځوړند ګړنجانې وګړنجاوه – ټن – ټنا ټنټن –
سنان لږ په غصه شو چې دا محترم آخر څه غواړي ؟
ده خپل تصویر په زینو باندې کیښود- او د جیب څخه یې د سګریټو یو ډبی راوویست. له ځان سره یې وویل ښه طریقه همدا ده چې دا نظر انداز شي نو خپله به لاړ شی . سنان چې د سګریټ له ډبي څخه سګریټ راوویسته نو مصور ورښکته شو او پخپل سر یې یو سګریټ ورڅخه راپورته کړ . سنان له مجبورۍ څخه د وینو یو غړپ وکړ. کله چې یې خپل سګرټ لګاوه نو مصور هم په خوله کې ننویستی سګرټ ورنږدې کړ . سنان په زړه نا زړه ډول د هغه سګرټ هم ولګاوه . رسام چې سګریټ ولګاوه نو بیرته نیغ ودریده او په غاړه کې یې ځوړند ګړنجانې وګړنجاوه . ټن ټنا ټنټن .
سنان ډیر تنګ شو اخر یې ورڅخه پوښتنه وکړه ، آخر ته څه غواړې؟
رسام : شل فرانک
سنان : شل . د اد څه خبرې ؟
رسام : درې فرانک د کینوس ، یو فرانک د د تصویر د جوړولو لپاره د رنګ مصرف ، او ۱۶ فرانک زما د مزدورۍ
په سنان کې د تخلیقي جذبی د سرپرستی لوړ جذبات سمدلاسه ساړه شو .
رسام :ټن ټنا ټنټن – رسام یو ځل بیا ګړنجانې وګړنجاوه. شل فرانک څه ډیر نه دي. ممکن څو سوه کاله وروسته د یو ستر مصور په حیث وپیژندل شم او همدا تصویر بیا په شل زره فرانک وپلورې.
سنان په حیرانتیا سره ترې وپوښتل څو سوه کاله وروسته یې زه وپلورم ؟
رسام : سمه ده ستا اولادونه به یې وپلوري . اوس ماته شل فرانک راکړه چې لاړ شم او د بل سیاح تصویر جوړ کړم .
په پنځلس (۱۵) فرانک کې دواړو سره سودا جوړه کړه . سنان یې قیمت تآدیه کړ.
خو مخکې له دې چې د یو بل مصور په زړه کې د ده د مشرقي ښایست په لیدو سره تخلیقي جذبات پیدا شی نو سنان سمدلاسه له هغه ځای څخه پورته شو .
د کلیسا سره نږدې د ترام ستیشن هم وو . سنان خپل د پنځلسو فرانکو تصویر په تخرګ کې کلک ونیوه او په یو ترام موټر کې سپور شو . او د ښار په مرکز کې چیرته چې د ناپلیون لخوا د فتح محراب جوړ شوې وو ښکته شو . د محراب څلورو خواوو ته د ناپلیون د مختلفو جنګونو پیښې د سنګ مرمر د ښکلو مجسمو په شکل کیښودل شوې وی. ددې محراب څخه

دولس سړکونه د پاريس په سينه باندې د ژوند د شيريانونو په ډول خپاره شوی وو . چې په
هغی کې يو ډير مشهور سړک د شانزی ليزی وو. کوم ته چې د فرانسې د ښکلی سړک
خطاب ورکړل شوی دی . سنان غوښتل چې په دی کی يو څه تغير و تبديل وکړی . شانزی
ليزی په رښتيا هم د نړی دوهم ښکلی سړک دی . د لاهور مال روډ په دې باندی فوقيت
درلوده .
دا سړک لکه څنګه چې بې د پاريس خلک د ميني څخه شانزی بولی په ۱۶۱۶ ميلادي کال
کې د ميري ډی ميډيکا د ترتيب شوی نقشی په اساس جوړ شو . د سړک دواړو خواووته د
پيده مزل کوونکو لپاره يوه پراخه پيده رو لاره جوړه شوی چې شا وخوا بې تر ډيره ليرې
ځايه پوری شنی ونی لګيدلي دي . د پيدو رو لارې په دواړو خواوو کې د دفيشن غوره
دوکانونه او قهوه خاني دي چېرته چې خلک د شراب د څکلو لپاره کم او په پيده رو باندې د
تيريدونکو خلکو د فشن د ليدو لپاره ډير کښيني . د يو ميل څخه زيات دا اوږد سړک د
کانکورډ د چوک په ښکلو فوارو باندې ختميږي . چيرته چې د فرانسې د انقلاب په وخت کې
يوه لويه کنده ويستل شوې وه او شاوخوا د درې زره کسانو سرونه په کې غوڅ شوی وو.
د شپاړسم لوېي څخه پرته ميري انتونيت ملکه چا چې به ويل ( چې د غريبانو سره ډوډی نه
وي نو کيکونه ولی نه خوري؟ )واتين او کوردي هم شامل وو.
سنان هم د يو عام سياح په څېر د قهوه خاني بيرون کښيناسته او د کافي په څکلو بې پيل وکړ.
او په پياده سړک باندې بې د ګرځنده خلکو جاج واخيسته . يو څه وخت وروسته هغه ددې
کار څخه ستړی شو او فکر بې وکړ چې د دنيا غوره ميوزيم لودر ته ولی نه ځی تر څو چې
د موناليزا او وينس شاهکاره او ښکلی مجسمې وګوري. نو ځکه خدمه ته بې د کافي د بيل د
راوړلو وويل خو د بيل راتګ د پاريس په ښکلا کې زهر ګډ کړل د کافي ۵ فرانک او ۲
فرانک د خدماتو يعنې په يو کافي باندې ټول ۱۴ پاکستانی روپې مصرف راغی.
د فتح محراب د ستيشن څخه هغه په موټر کې کښيناست او د لودر د ميوزيم په ستيشن کې
ښکته شو دا ستيشن ټول د مسکو د زير زميني ستيشن په څېر وو چې د نړی د ښکلو
ستيشنونو څخه شميرل کيږي . د لودر ستيشن پراخه تم ځای په يوی تته رڼا باندې روښانه
وو.په ديوالونو باندې بې ځای په ځای ايټالوي او يوناني مجسمې کيښودل شوې وی.د چت
څخه مختلف ښيښه بې ګرويونه او فانوسونه ځنګيدل . هغه ددې ستيشن په سحر انګيزه ښکلا
کې ډوب تللي وو چې شا لخوا يو مسافر هغه د اوږی څخه کش کړ او د ځان خواته بې د پام
اړوني هڅه وکړه ده چې شا ته وليدل نو پاکستانی صاحب چې د څېرې څخه بالکل نا آشنا وو
په خندا ولاړ وو . سنان ته بې وويل
ستا سنان نوم دی کنه ؟
ده د ثبوت لپاره سر ورته وخوځاوه .
ته يو وخت د لاهور د هنر ملي کالج ته ډير راتللی .
سنان ته سمدلاسه ورياده شوه چې هغه به همدې کالج ته د خپل ملګري خواته د خپل کور د
نقشې د جوړولو په موخه ورته .

په همغه ورځو کې تنویر د لاهور د باغ وحش د جوړولو ټیکه هم ترلاسه کړی وه . او کله چې د سنان د کور نقشه مکمل شوه نو د تنویر د غیر حاضر دماغی له کبله د آشپز خانی په ځای هلته د ایرو د پنجری نقشه جوړه شوی وه او د سنان آشپزخانه د باغ وحش په نقشه کې ولاړه . شاید د همدی لپاره نن ورځ داسی ویل کیږي چې د لاهور په باغ وحش کې ځناورو ته د کور په څېر آسانتیاوې برابری دي . خو په هر صورت سنان ونشو کړلی چې پوه شی چې ددې محترم به د لاهور د هنر د ملي کالج سره څه اړیکه وه ؟
سنان په شرمنده ډول ورته متآسفانه ما ونه پیژندلی .
هغه محترم په ډیره عاجزی ځان معرفي کړ زه کهاري یم . یوه ورځ مو د ارکیتیکچر د استاد تنویر صاحب په اطاق سره ملاقات شوې وو.
سنان : آها ... کهاري صاحب . سنان بې په ډیر جوش و جذبې سره لاس وشړکاوه . اما تر اوسه بې هم نه وو پیژندلی .
ستا په لیدو ډیره خوشحاله شوم وروره . کهاري صاحب د کنترول څخه بیرون کیده . ډیر وخت وروسته بې د یوی بلدی څېری سره ملاقات شوی وو .
سنان فکر وکړ چې دا شاید همغه کس وی کوم چې د تنویر صاحب خواته د باغ وحش د ټیکي لپاره راته . سنان د اجمتاعي کیدو هڅه وکړه . ښه کهاري صاحب نور وواياست ستا د باغ وحش څه حال دی ؟
کهاري صاحب په حیرانتیا سره وپوښتل ، باغ وحش ؟
سنان : هو باغ وحش ، د بیزوګانو او ایرو پنجری او داسې نور ..
بیزوګان ؟
کهاري صاحب سم وخندل. تا زه ونه پیژندلم . زما مسلک خو رسامي ده . د تیرو څو میاشتو څخه د پاکستان د یوی صنعتي اداری په مرسته په پاریس کې اوسیږم . او دلته پاکستاني لاسي صنایعو ته د ودي ورکولو هڅه کوم .
سنان ډیر وشرمیده او بخښنه بې وغوښته .
کهاري صاحب د سنان په څنګ کې د نیول شوي تصویر خواته اشاره وکړه او ورته بې وویل آیا ته هم د رسامي په سلسله کې پاریس ته راغلی بې ؟
سنان : اوه ------ دا تصویر ----- سنان په خندا شو--- په دی ۱۵ فرانک مصرف راغلی دی او بیا بې د خپل سیاحت په باره کې قصه ورته وکړه .
کهاری صاحب ورته وویل ، ښه اوس دی څه پلان دی ؟
سنان : فکر مي دی چې د لودر د میوزیم خواته لاړ شم .
کهاري صاحب خوشحاله شو او ورته بې وویل پریږده محترمه ، پرون غرمه خو میوزیم له سیاحانو څخه ډک وو د رش له کبله به د تصویرانو د فریم او د مجسمو د پښو څخه پرته بل څه ونه ګوری . سهار چې لاړ شی نو بیا به بې وګوری. او اوس ما سره زما اطاق ته لاړ شه او یو پیاله کافي راسره وڅکه .
د کهاري په ست کې دومره اخلاص وو چې سنان ورته انکار نه شو کولی . او فکر بې وکړ چې د لودر سره به وروسته ګورو. او د کهاری سره روان شو .

د کهاري په اطاق باندی د یو ښه میوزیم ګمان کیدلی شو . د پاکستاني لاسي صنایعو نمونې ، د مغلي طرز د رسامی بی شمیره تصویرونه ، د پاریس د تاریخي ځایونو د پنسل سکیچونه ، د رنګونو ډبي ، خالي کینوسونه ، او خالي ډبي ..
کهاري سنان ته پخپل لاس جوړ شوی تصویر او نقش شده خاوریني ښښتي وروښودی کوم چې د پاریس د هنرمنده ډلو لخوا هم ډیری ستایل شوي وی . ددي کار څخه چې فارغ شو نو په کونج کې يي په یوه نغري باندی کافي جوړه کړه او دواړه همدلته په قالینه کښیناستل او خبری يي کولی .
سنان د کافي څخه یو غړپ وکړ او کهاري ته يي وویل ، اخر په پاریس کې داسی کوم کشش دی چې د نړی رسامان دلته راځي. تر اوسه خو ماته دلته کوم خاص خبره نه ترسترګو کیږي.
کهاري : د فن سره ددی خلکو ډیره دلچسپي ، د حکومت حمایت او هنر ته ځانګړې پاملرنه کول او بل ددی ځای ماحول او بیا د پاریس د ښار تاریخي عمارتونه چې په کینوس رسم شي نو لا ښکلی ښکاره کیږي .رسام هم د یو شاعر په څېر وي .هغه که څه هم د خپل هنر له کبله د دوه وخته ډوډی په تر لاسه کولو کې پاتی راځي خو د خلکو څخه تشویق او ستاینه حتمي غواړي .د پاریس خلک په دی برخه کی ډیر پراخه زړونه لري او همدا شیان دی چې رسامان يي دلته جذب کړی دي .
د کافي د ختمولو څخه وروسته کهاري په هغه باندی پاکستانی میوزیک واوریده . په همدی وخت کی یو ناڅاپي دروازه وټکیده او یوه شوخه ځوانه فرانسوی جینۍ اطاق ته داخله شوه. هغي یو نظر سنان ته ولیدل او بیا يي کهاري ته په فرانسوی ژبه کی یو څه وویل کهاري په خندا سره د هغي په ژبه کی جواب ورکړ او جینۍ همغه وخت بیرون ته ولاړه .
سنان په ډیر متانت ورڅخه پوښتنه وکړه ، تا هم ساتلی ده ؟
کهاری : څه شی ؟
سنان : دا جینۍ
لا حوله ولا – کهاري وشرمیده . تاته څنګه بیا داسی فکر درغی ؟
سنان : زما فکر وو چې په پاریس کې د ټولو رسامانو د اوسیدو دا یوه ضروري برخه ده .
کهاري : نه محترمه ، دا بیچاره خو د کور د مالک لور ده . پوښتنی ته راغلی وه چې ستا میلمه به د غرمی ډوډی خوری او کنه ؟
د غرمی د دوډۍ څخه وروسته يي یو ځل بیا کافي وڅکله . او بیا يي تر ماښامه پوری د پاریس او پاکستان په باره کې خبری کولی . نږدی شپږ بجي سنان د کهاري صاحب د میلمه پالنی د منني څخه وروسته د ټرام په موټر کې بیرته مومارت ته راغی . سنان له هغه سره پاریس ته دروانیدو څخه مخکی یو ځل بیا هم د ملاقات وعده وکړه . اوس دده اراده دا وه چې د سین د دریاب په غاړه د پاسکل د لټون څخه مخکی خپله کیمره په اطاق کې کیږدي او د ماښام له یخني له کبله یو څه شی ګرم هم واغوندي .

کله چې د سیکری کر د کلیسا له زینو څخه تیر شو او یوی ناهمواره کوځی ته ورښکته شو نو سترګی یې د پګال د قهوه خانی په بورډ ولګیدلی . د مومارت کږو وږو او ښکته پورته کوڅو سنان ستړی کړ. هغه تنده هم احساس کوله . سنان قهوه خانی ته ننوت او د نارنجو د اوبو یو شربت یې راواخیست او په یو کونج کې په کرسۍ باندی قرار کښیناست . په نیمه تیاره قهوه خانه کې هغه ډیر سکون احساس کړ. هلته دده څخه پرته بل مشتري نه وو .
ښځنتن یې د معمول سره سم په یوه سپینه ټوټه د کاونتر د سطح په پاکولو مصروف وو. په محیط کې د تازه کافي او د واین خوشبو په حیرانوونکي ډول ډیره ښکلی وه . د قهوه خانې ښځنتن په ولاړه ، ولاړه له سنان څخه پوښتنه وکړه
محترمه – هوټل ؟ شاید هغه ته وریاده شوی وه چې دا همغه هلک دی چاچې هغه ورځ د هوټل په باره کې پوښتنه کوله .
سنان په خوشحالی ورته سر وخوځاوه او ورته یې وویل – پیدا شو . ښځنتن هم ورته سر وخوځاوه او ورته یې وویل ( تری بیان ) . او بیا په آلماری کی د نازکه او ښیښه یې ګیلاسونو په وچولو مصروفه شو .
په همدې کی د قهوه خانی دروازه خلاصه شوه او همغه رسام ( پال ) رادننه شو چې میرمن ژي د کراېي د نه ورکولو له کبله د اطاق څخه ویستلی وو . دا چې د هغه شاه د سنان خواته وه نو ځکه یې یو د بل سره ونه لیدل . پال مستقیما کاونتر ته ورغی او د ښځنتن څخه یې د سرو شرابو یو ګیلاس واخیسته ، همیلته په کرسۍ کښیناست او په څکلو یې پیل وکړ. تقریبا نیم ګیلاس شراب به یې لا نه وو څکلي چې هغه د جیب څخه یو رنګ داره پنسل راوویسته .
او د کاونتر په مخ یې یوه کږه وږه کرښه جوړه کړه . سنان د نارنج د جوس څخه وروستی غړپ وکړ او د کرسۍ څخه پورته شو . هغه غوښتل چې د پال سره وګوری او پوښتنه ورڅخه وکړی چې پرون شپه چې کله د اطاق څخه وویستل شو نو شپه یې چیرته تیره کړه او نن سبا چیرته اوسیږي ؟
په همدی وخت کې کله چې د قهوه خانې ښځنتن د شرابو ګیلاسونه پاک او وچ کړل او بیا یې په آلماریٰ کې کیښودل او شاته یې ولیدل چې پال د کاونتر پاکه او ځلیدونکې سطح د رسامۍ د مشق په تخته بدله کړی نو ډیر قهر ورغی او هغه په ډیره غصه پال ته څه وویل . پال په همغه ډول په ډیر سکون سره په کاونتر باندی کرښې ویستلې . ښځنتن خو ډیره هڅه وکړه چې ددی کار څخه یې منع کړی خو کله چې یې کومه مثبته نتیجه ورنه کړه نو پال یې د جیکټ څخه په زوره ، زوره کش کړ ددې څخه وروسته یو نا ځاپه حالات خراب شو او دواړو یو د بل سره وهل پیل کړل . ښځنتن چې د وجوده لږ غټ وو نو دده پله درنده ښکاره کیده . سنان خو تر یو وخت پوری ددوي د وهلو او ډبولو ننداره کوله او بیا د صلح لپاره راوړاندې شو .
ای محترمو ورونو – دا جنګ ....
هغه به لا همدومره ویلي وو چې په هغوی کې یو چا یو قوي سوک سنان ته هم ورکړ. سنان بیرته په زنګیدو همغه میز ته راغی چیرته چې هغه مخکی د نارنجو جوس څکه . د هغه زړه وو چې تش بوتل همداسی وغورځوي مګر بیا څه فکر ورغی او همیلته په داسی حال کې چې ژامه یې مبتله کښیناست. هغه چې د کاونتر خواته ولیدل نو د حیرانتیا اندازه یې نه وه . پال او

د قهوه خانې څښتن ډېر په بې تکلفۍ سره یو بل ته غاړه غړی دي او ښه په زوره ، زوره خاندی . سنان د ځان سره وویل د فرانسویانو کوپړۍ سرچپه ده او د ډېری غصی څخه بې تری مخ واړاوه . اما په دی کار سره بې په ژامه کې ډېر درد راغی او بیا غلی کښیناست .
پاسکل راغی او مخی ته یې ودریده په خندا کې یې ورته یې وویل : لکه چې قوی سوک لګیدلي یاستی؟
سنان په غصه او بی تفاوتی سره جواب ورکړ هو ډېر سخت لیګیدلی یم .
په پاریس کې نن ورځ رښتیا هم ډیره ستړی او د هنګامی ډکه تیره شوه. تر اوسه پوری یوازی د رسامانو سره مخ شوی یم . سهار راڅخه یو محترم ۱۵ فرانک وخوړل ، غرمه راباندې یو رسام کافي وڅکله او ډوډۍ یې راباندی وخوړه. او اوس یو بل رسام ددی ښکلی خبری حالت راته خراب کړ. هسی د بل چا په جګړه کې مداخله ښه کار نه وي . پال ده ته په مخامخ کرسۍ باندې کښیناست په خندا شو او سنان ته یې وویل د قهوه خانی څښتن زما ملګری دی موږ اکثره په یوی خبری سره په بحث یو خو دا ځل غلطي زما وه چې د هغه پاک کاونتر می چټل کړ.
یو څه وخت وروسته چې د سنان د خولی درد ښه شو نو موډ یې هم برابر شو . سنان د پال څخه پوښتنه وکړه تیره ورځ چې ته میرمن ژي د اطاق څخه وویستلی نو د هغی څخه وروسته به دی دشپی په تیرولو کې یو څه ستونزه لیدلي وی ؟
پال چې په اوږده ږیره کې یې ګوتی وهلی ځواب ورکړ
هو یو څه ستونزه خو وه ، بیا د ملګری جینۍ خواته لاړم خو هلته هم د مخکی څخه ځای ډک شوی وو. نن سبا هغی سره یو اندونیزیایې رسام اوسیږي خو په هر صورت هغه شپه می په سړک باندی تیره کړه. او په دوهم سهار می یو بل چیرته دشپی د تیرولو بندو بست وکړ.
سنان : زه ډیره بخښنه غواړم چې زما له کبله ته دومره پریشانه شوی .
پال ورته وویل
هیڅ خبره نشته –زه باید له تا څخه مننه وکړم – تا زه له دریو میاشتو کرایې څخه وژغورلم –
سنان ورڅخه پوښتنه وکړه- هغه ستا لومړی ښځه چې په قهوه خانه کی وه هغه څه شوه ؟
پال : اووه – لویس . هغه هم له ماسره ده .
پال سنان ته وویل چې هغه د جرمني د همبروګ د ښار اوسیدونکې دی. مور او پلار یې د نړیوال جنګ قرباني شو او هغه به د قصابانو په دوکانونو کې د خنځیرانو قصابي کوله – دا د ستیشنونو ،او حمامونو د پاکولو په څېر کارونو کی ځوان شو. په همدی وخت کې هغه ته د رسامۍ شوق پیدا شو . او هغه پاریس ته راغی . هغه دلته د څو کلونو څخه اوسیده خو عاید یې د نشت برابر وو.سنان ورڅخه پوښتنه وکړه نو بیا ستاسو ګوزاره څنګه کیده .
پال سر وخوځاوه ... نه کیده . ځینی وخت که به کوم تصویر خرڅ شو نو یو څو ورځی به ښه تیری شوی. که چیرته می د یوی هنر پرستی ښځی سره تعارف وشی نو بیا تر یو وخت پوری هر ماښام لږ تر لږه د ماښام ډوډۍ پیدا کیږي خو زه باید هلته یوازې د رسامۍ په هکله خبری وکړم او که ښځه هنر پرستي پریږدي او شخصیت پرستی ته راشي نو بیا یو څلور

پیسی هم پیدا کیږي او که هیڅ هم پیدا نه شو نو د سیکری کر د کلیسا په زینو کې کښینم او د کوم سیاح تصویر جوړوم او یو څلور، پنځه فرانک په زور ورڅخه اخلم .
څلور ، پنځه فرانک ؟ سنان ته د خپلو ۱۵ فرانکو خیال ورغی .
پال : هر څومره چې پیدا شی ماته غنیمت وی . حتي ځینی خو په یو فرانک هم غلطوو .
سنان : ما خو ۱۵ فرانک ورکړی وو .
ها ها ها پال ډیر وخندل سنان ته یې وویل لکه چې ته هم ګیر شوی وی ؟
د پاریس د مفلسو رسامانو داد خوښی طریقه ده . لس دولس کینوس واخلي او په هغی باندی د سیکری کر بیک ګراونډ جوړ کړی بیا یو څو کرښی وباسي او سیاح ته یې په ګوتو کې کیږدي .
پال : ستا ښایست زما په زړه کې ...
سنان : ها ، ها – سنان په پښیماني سره ورته وویل پاتی برخه یې ماته معلومه ده .
سنان ته وریاده شوه چې تصویر یې د کهاري په اطاق کې پاتی شوی دی .
پال د پورته کیدو په وخت کې سنان ته دعوت ورکړ ورته یې وویل ، که چیرته ته بل چیرته نه ځی نو ما سره ستوډیو ته ولاړ شه ماسره اوږدی فرانسوي ډبل ډوډی او پنیر هم شته دی . اوس پوره اوه بجی وی . سنان فکر وکړ چې یو نیم ساعت ددې دلچسپه سړي سره تیر کړی او بیا د سین د دریاب خواته ولاړ شی نو ځکه د پال سره ستوډیو ته په تګ کې موافق شو .
د پال ستوډیو یا هغه اطاق چې چیرته به هغه د تصویرونو د جوړیدو سره ، سره بیده کیده هم د قهوه خانی څخه لږ لیری په یو ډیر خراب عمارت کې وو . د حکومت لخوا دا عمارت خطرناک اعلان شوی وو او ددې د نسکورولو حکم یې ورکړی وو. په همدې وخت کې ځینی مفلسه او آواره ګردو رسامانو هم هلته د اوسیدو لپاره ډیری اچولي وی . پال سنان ته ویلي وو چې د ښاروالۍ خلک هره ورځ راځي او د عمارت د غورځولو اخطار ورکوي اما بیا اوسیدونکي یې منت او زاری ورته وکړی او د څو ورځو مهلت ورڅخه اخلي .خو په هر صورت دلته د کرایې مصیبت نه وو.په ستوډیو کې د رنګ د بوتلونو او ډبیو څخه پرته بل څه نه وو کوم چې تر پرون ورځ پوری د سنان د اطاق ښایست وو . په اطاق کې چیرکټ هم نه وو .
سنان : ستا بستره چیرته ده ؟
پال : بستره ؟ هغه د معمول سره سم خپله ړیره وګروله . او ورته یې وویل . زه پخپل جیکټ کې بیده کیږم . ډیر ګرم دی . هغه د خپل سپک جیکټ کونجونه په ګوتو سره ومښل .
پال څو پخواني اخبارونه په فرش وغوړول او سنان ته یې وویل متأسفانه چې زه د کښیناستو لپاره کرسۍ یا بل څه نه لرم .
سنان : هیڅ خبره نشته او بیا په چار زانو کښیناست. او دا طریقه ټوله د مشرقي ده . پال د خپل خیرن جیکټ د جیب څخه د اخبار په کاغذ کې تاوه شوی یوه اوږده ډبل ډوډۍ او د بل څخه یې د پینیر یوه کوچنۍ ټوټه راوویسته . ډبل ډوډۍ یې په منځ نیمه کړه او نیمایي سنان ته ورکړه او پنیر یې په فرش کیښود. پال چې د بی تکلفه دسترخوان په هوارولو پیل وکړ نو ناڅاپه د اطاق دروازه خلاصه شوه او یوه ښکلی جینۍ اطاق ته راننوته .او داسې یې وویل

www.dawatmedia24.com

ګران پال ، ما نن معاش واخیسته او په رانئوتلو سره یې د ډیری مینی څخه پال د اوږدو وېښتو کش کړ او د هغه ږیره یې یوی خواته کړه او په شونډو یې ښکل کړ.پال یې تعرف وکړ
دا زما ښځه ده – آهم – زما هدف دادی چې ددی نوم لویس دی .او بیا یې هغی ته وویل دا زما ملګری دی . بیا لږ خاموشه شو . سنان ته یې وویل . وروره ستا څه نوم دی ؟ او ته څه کار کوي؟ سنان خپل ټول تعرف ورته وکړ. لویس چې کله ددوی سره په فرش کښیناستله نو ورته یې وویل ته زما لومړی پاکستانی یی . هغه دا جمله داسې ادا کړه لکه د کوم نادره مرغانو د نسل سره چې تعلق لري . او د لومړی ځل لپاره نیول شوي وي.
لویس په فرش باندې د کیښودل شوي طعام انتظاماتو ته د حقارت په نظر ولیدل او په فغان سره یې وویل پنیر او ډبل ډوډی؟
زه د تیرو لسو ورځو څخه پنیر او ډبل ډوډۍ خورم . نن ما معاش اخیستی دی او موږ به یوی قهوه خانې ته ځو تر څو ښه ډوډۍ وخورو لکه سور کړی چرګ او ورسره سره شراب ..
سره شراب ؟ د پال وښکي د خوشحالی څخه خلاص شو . سنان ته هم راسره ولاړ شه .
سنان د فرش څخه د پورته کیدو په وخت کې ورته وویل ، ډیره ډیره مننه پال ، خو زه نن تولـه ورځ په پاریس کې ګرځیدلي یم او اوس غواړم چې خپل اطاق ته لاړ شم او آرام وکړم .
پال د هغه لاس ونیو او په ډیر اخلاص یې ورته وویل ، بیا لیدو ته به راځی ؟
سنان : هو، حتمي ولی نه چې وخت پیدا کیده .
سنان چې د اطاق څخه راوته نو پال ډبل ډوډۍ او پنیر د فرش څخه راپورته کړل او د هغه په جیب کې یې ورواچول او سنان ته یې وویل کله چې اطاق ته لاړ شی دا به بیا وخوری . ډیر خوند لري . نه پوهیږم چې د لویس ولی نه خوښیږي .
که څه هم د سنان ډبل ډوډۍ او پنیر دواړه نه خوښیدل خو د هغه د زړه د خوشحالولو لپاره دواړه شیان قبول کړل.
پال د سنان سره لاندی تر دروازی پوری راغی سنان چې په روانیدو شو نو پال د هغه په اوږه لاس کیښود او ورته یې وویل د میرمن ژي څخه لږ ځان ساته .
سنان هملته ودریده ، څه مطلب ؟
پال یې په سترګو کې سترګې ورښخی کړی او په خندا سره یې ورته وویل هغه آغلی ستا په څیر هلکانو څخه آملیت جوړوي او هغه بیا خوری .
سنان : پال دا تاته څنګه معلومه شوه ؟ په دې وخت کې د پاسه خوا څخه د لویس غږ راغی لکه ددوي خبری چې یې اوریدلی .
پال : ګرانی لویس ما خو یوازې اوریدلي دی او په خوله باندی یې لاس کیښود. او بیا یې خوله سنان ته ورنږدی کړه او په قراره یې ورته وویل ، ماته چې نه معلومیږي نو نور به چاته معلومیږي . هسی خوشی خو یې د دری میاشتو کرایه راته نه وه پریښی .
سنان : د اخطار څخه مننه ، سنان پال ته لاس وراوږد کړ او بیا بیرون ته ولاړه .

د مومارت په کوڅو کې ښه رش وو . اکثره خلک پخپلو بالکینو کې ناست وو او د کوڅې په بله خوا کې د خپلو همسایه گانو سره په خبرو مصروف وو. سنان ولیدل لکه څنگه چې د لاهور په داخلي ښار کې پرده نشیني ښځې به ټوله ورځ په کړکیو کې د ریړۍ والا ته منتظر وو او کله به چې د ریوړیو والا راغی نو ژر به یې په یوه ټوکرۍ کې یو څو پیسی کېښودی او دا ټوکرۍ به یې د رسۍ په مرسته لاندی ورښکته کړه . په کور به یې د سبزۍ ، میوې او د نورو شیانو خریداري هم په همدی ډول کوله. په همدې ډول یو نظام په پاریس کې هم رایج وو. دلته د ریوړیو په ځای ډبل ډوډۍ او واین خرڅېدل .
د قهوه خانو په برنډو کې کېښودل شوو کرسیو د فوټ پاټ څخه لر ټوپ کړی وو او تر سړک پوری رسیدلی وی. په دی کې ناست خلک په ټوکو ټکالو کې مصروفه وو. د قهوه خانو په برنډو کې د ښکلا په خاطر د بانس سره په تړل شوو رسیو کې برقي گروپونه ځنگېدل . کله چې به هوا ولگېدله نو گروپونو به ټالی وخوړه او تصویر به یې د رسامانو ، زدکړیالانو او د ځوانو ښځو په مخونو جوړ شو .
په همدې وخت کې ناڅاپه سنان ته فکر ورغی چې د کوم مقصد لپاره چې په دې ښار کې د یوی ورځی څخه زیات پاتی شوی هغه خو پوره هم نه شو . اوس خو به لا هغه د پاسکل په لټه کې د سین د دریاب غاړی ته ځي . هغه د ټولی ورځی د گرځیدو څخه ډیر ستړی شوی وو او د سین دریاب هم ددی ځای څخه ډیر لیری وو . هغه په دی وخت په دی خیالي امید باندی دومره لیری ځای ته د تللو په مود کې نه وو نو ځکه یې د هغه ځای اراده ملتوي کړه او د خپل کور خواته روان شو .
د کور دروازه خلاصه وه . کله چې سنان هال ته داخل شو نو د ښي طرف د اطاق څخه نرۍ رڼا راتلله . د داخل څخه د میرمن ژي غږ راغی ، څوک یې ؟ شاید هغی د دروازې د خلاصیدو غږ اوریدلی وي.
سنان ودریده ، او جواب یې ورکړ میرمن ژي زه یم ستاسی پاکستاني کرایه دار ..
دروازه خلاصه شوه او میرمن ژي د خوب په نازکه نایلوني لباس کې یو څه پټه او لوڅه بیرون ته راووتله . د هغې د سرو شونډو څخه داسې ښکاره کیده چې د سنان د پیشکي تآدیه شوې رقم استعمال لا تر اوسه پوری روان وو. هغه د یو لاس څنگل د دروازې د درشي سره تکیه کړه او ودریده د هغې په شونډو یوه ډیره عجیبه مسکا وه .
سنان ورته وویل شپه مو پخیر ، او بیا د زینو خواته روان شو .
میرمن ژي په ولاړه ، ولاړه هملته ورته وویل ولی دومره عجله لری ؟ زما اطاق ته راشه لږ خبری به وکړو زه په تنهایې کې په ناسته ، ناسته ډیره تنگه شوی یم .
د نیمي خلاصی شوی دروازې څخه د شرابو تیره او غلیظ بوټل ښکاره کیده .
سنان : مننه کوم ، خو زه اوس ډیر ستړی شوی یم او غواړم چې آرام وکړم .
میرمن ژي د شرارت څخه په یوه ډکه لهجه ورته وویل زما په اطاق کې خو هم بی آرامی نشته .

په تته رڼا کې د هغوي د مخ کرښې کمزورې ښکاره کېدلې او هغوي ډېر ښکلي ښکاره کېدل .
سنان : ما تر اوسه پورې د ماښام ډوډۍ هم نه ده خوړلې . او بیا سنان د جیکټ په جیب کې د ډبل ډوډۍ خواته اشاره وکړه
او بیا --- دا به – د پنیر سره وخورم .
میرمن ژي : ډبل ډوډۍ او پنیر هم څه د خوړولو شی دی ، ته اطاق ته دننه راشه زه به تاته آملیټ جوړ کړم . هغه هم بلکل وړیا .
سنان وډار شو . آ --- آملیت – ده ته د پال اخطار وریاد شو . ستا په څېر هلکانو خو آملیټ جووړوي – نه بلکل نه – زما هدف دی ډېره ډېره مننه – ماته دا ډبل ډوډۍ او پنیر پال راکړی دي .
میرمن ژي په غصه کې ورته وویل ، هغه بدمعاش تا چیرته ولیده ؟ او بیا کوم پخواني یاد په مسکا مجبوره کړه . بیا یې د درد او غم څخه په ډکه لهجه کې وویل :
پال ښه هلک وو . هغه ستا په څېر د نه – نه کولو ګردان نه کاوه – هغه به منل – او بیا هغې سترګې بندی کړی او یوه زمزمه یې پیل کړه . سنان دا فرصت یو غنیمت وګڼه او ژر په زینو پورته شو.کله چې د خپل اطاق دروازې ته ورسیده نو شاته یې ولیدل میرمن ژي لا همغسې د دروازې ته تکیه کړی وه سترګی یې ټیټي کړی وی او په خندا وه . مخکی له دی څخه چې سنان اطاق ته داخل شی نو په غیر ارادي ډول یې د څنګ په اطاق سترګی ولګیدلی هلته مکمل خاموشي وه .
سنان خپل اطاق ته راغی او لباس یې تبدیل کړ او په بستره کښیناست. د پال ورکړل شوی ډوډۍ خو خوندوره وه خو البته په پنیر کې یې یو ژیړ چینجی راووته. د بیده کیدو څخه مخکی یې د نل څخه ښه ډېری اوبه وڅکلی او بیا په بستره وغځیده.
په پاریس کې دده لومړی ورځ ډېره ستړی تیره شوه. د بی شمیره دلچسپو خلکو سره یې ولیدل . او د وخت د مشهور ښار څو څېرې یې ولیدلی.
هغه په زړه ، زړه کې وخندل او له ځان سره یې وویل ، دا میرمن ژي هم ښه ده --- بیچاره .
په دې وخت کې د سنان د اطاق دروازه په قراره وټکیده . سنان په ملاسته ، ملاسته په زوره ورغږ کړ ، څوک یاستی ؟
چا جواب ورنه کړ .
لږ وخت وروسته بیا دروازه وټکیده .
سنان چې ډېر په خوند سره د سفر په روجاپې کې پروته وو په بړیدو سره راپورته شو . هغه ته شک وو چې ، چیرته میرمن ژي د شرابو د دوه ، څلور ګیلاسونو د څلکو څخه وروسته د هغه د آملیت د جوړولو د دعوت د تکرار لپاره بیا نه وی راغلی .
سنان له ځان سره وویل ، څه مصیبت دی بیا یې یوه اوږده ساه واخیسته او دروازه یې خلاصه کړه .
د دهلیز د څنګ د اطاق جینۍ ولاړه وه . د هغې تور خلاص ویښتان د هغې پر اوږو خپاره پراته وو.

جينۍ ورته وويل ، ما ستا په اطاق کې رڼا وليده نو راغلم . د مزاحمت بخښنه غواړم .
سنان چې اسويلي يې کول ، پوښتنه يې ورڅخه وکړه ، څه کار مو وو ؟
جينۍ: تا سره شراب شته ؟
سنان خوله ورانه کړه، شراب ؟
جينۍ : هو د انګورو سره شراب . ماښام چې راتلم نو په بېړه کې راڅخه هير شول . سبا به يې بيرته درکړم .
سنان هملته په ولاړه ، ولاړه په افسردګۍ سره ورته وويل ، زه شراب نه څکم .
د جينۍ په مخ د خفګان آثار وو ، سنان ته يې وويل کافي خو به وي؟ ماته اوس د يو مشروب ډير ضرورت دی .
سنان د دروازې څخه ليرې شو او د چپرکټ خواته ولاړ، د چپرکټ د لاندې څخه يې د خپل سفر بکس بيګ کړ او بيرون يې راوويسته د بيګ په بيروني جيب کې د خوراک او د پخولو سامان وو د هغه څخه يې د کافي ډبې راوويسته او جينۍ ته يې ورکړ.
جينۍ: ډيره ، ډيره مننه ، هغه ډيره منندويه ښکاره کيده زه يوازې يوه پياله ترې جوړوم او بيرته يې درته راوړم .
سنان اخلاقا وخندل او جينۍ ته يې وويل ، اوس ددې ضرورت نشته ، سهار به يې راکړې.
دروازه يې بنده کړه ، بيرته خپلې بسترې ته راغی او وغځيده .
هغه به لا خپله شړۍ له ځان څخه صحيح هم نه وه تاوه کړې چې يو ځل بيا دروازه وټکيده .
سنان راپورته شو او کښيناست او ورغږ يې کړ دروازه خلاصه ده ، فکر يې وکړ چې دا ځل به حتمي ميرمن ژي وی خو چې دروازه يې خلاصه شوه نو همغه جينۍ وه .د هغې په لاس کې د کافي دوه پيالې نيولې وې.
جينۍ د سنان تر چپرکټ راغله يوه پياله يې سنان ته ورکړه ورته يې وويل دا يوه ستا لپاره او بيا يې په ولاړه ، ولاړه ورته وويل ته که ته نه په تکليف کيږې آيا زه دلته کښيناستلی شم . او کافي څښلی شم ؟ زه پخپل اطاق کې تنګه وم . او دا واخله ستا د کافي ډبې .
داسې بريښيده لکه په هغې کور کې چې اکثريت ښځې پخپلو اطاقونو کې په ناسته تنګيدلې مخکې ميرمن ژي او اوس دا محترمه .
سنان ورته وويل ، هو ، هو ولې نه . هغه د شړۍ څخه راووته او په بستره کښيناست ، جينۍ ته يې وويل په اطاق کې خو هسې هم کرسۍ نشته نو همدلته په چپرکټ باندې کښينه .
جينۍ په چپرکټ کښيناسته ، نو د سنان څخه يې مننه وکړه ، سنان په لا شعوره ډول بالکل يو کونج ته شو د هغه سترګې د خوب څخه بنديدلې .
جينۍ د هغه خواته په ډير معصوميت سره وليدل او ورته يې وويل زما نوم جيني دی .
هغه ژر ورته وويل زما نوم سنان دی . او بيا يې سر ښکته کړ او د کافي په څلکو لګيا شو .
هغه ډير نا آرامه وو او د اجتماعي خبرو په موډ کې هيڅ نه وو او هغه اوس بيده کيدل غوښتل .
د يو څه خاموشۍ څخه وروسته چې هغه خوبولې هم وو د جيني څخه پوښتنه وکړه آيا ستا خاوند لا تر اوسه له کار څخه نه دی راغلی ؟

هغه نه غوښتل چې د جینی په موجودیت کې بیده شی .
جینی وخندل ورته یې وویل زه مجرده یم .
سنان ورته وویل ، تیره شپه ستا په اطاق کې د موسیقي ډیر ښه ساز غږیده او لکه چې د کوم نارینه غږ هم راته .
جینی: هو تیره شپه ، جینی جمله نیمایې پریښوده او د کړکی څخه یې بیرون ولیدل
د سنان کافي ختمه شوی وه خو پیاله یې لا په لاس کې کلکه نیولی وه او په بستره باندی د پښو په سر ناست وو . هغه اوس څنګه د بی مهذبه خلکو په څیر جینی ته د اطاق څخه د وتلو لپاره ویلي وو.هغه قصدا یو اوږد آسویلي وکړ.
هغی جینی د کړکی څخه سترګې واړولی او له سنان څخه یې پوښتنه وکړه آیا هغه سازونه ښکلی وو کنه ؟
سنان بیا بیداره شو ورته یې وویل ، هو
جینی: تا وویل چې تیره شپه ستا په اطاق کې ډیر ښکلي سازونه غږیدل
سنان : هو ، بلکل ، ستا ډیر ښه وو .
جینی : زما اطاق ته راشه دواړه به ګډښینو موسیقي به واورو ، جینی په ډیر اخلاص سره ورته دعوت ورکړ.
سنان یو ځل بیا رابیدا شو ، هو
زما په اطاق کی
سنان بیا د بستری څخه پورته شو ، او پیاله یې په لاسونو کې جینی ته ورکړه ، او ورته یې وویل – ښه – زما هدف دی چیرته بل وخت ، زه ډیر ستړی شوی یم ، اوس غواړم بیده شم ، هیله لرم چې بده ونه ګڼی .
جینی د بستری څخه پورته شوه ، او دروازی ته د تللو په وخت کې یې سنان ته وویل ، زه هیڅ خبره بده نه ګڼم ، او که چیرته بده یې وګڼم هم نو له کوم ځایه به یې خورم ؟
سنان ته د پیل څخه د ددې جینی په هکله یو وهمي بی قراري وه اما هغه اوس ددې جملې څخه په هر څه پوه شوی وو د فرانسوي په ژبه هغه یوه چڅچل ( عیاشه ) جینی ده .
سنان مخکی دداسې جینی سره نه وو مخ شوی . هغه ډیر حیران وو ځکه چې د شکل و صورت څخه یوه عامه جینی ښکاره کیدله . سنان په زړه کې د هغی لپاره مهرباني احساس کړه . سره ددې چې هغه یوه بد کاره ښځه وه خو سره ددې هم د هغې په خبرو کې ډیر اخلاص او په څېره کې یې ډیر زیات معصومیت وو . ددې محترمی په نسبت شاید هغه خلک چې د شرافت حجاب یې په تن کړی وی ډیر بدکاره وي .
سنان په ډیر ټیټ غږ په خندا سره ورته وویل ، زه فکر کوم چې ماته لا دومره خوب هم نه راځي چې د ستار یو دوه زړه راښکونکي سازونه دی نشم اوریدلی.
جینی هملته ودریدله ، او د حیا او شرم څخه یې ورته وویل چې زه ستاسو مزاحمت نه غواړم .
سنان د خوب د لباس له پاسه جیکټ واچاوه او جینی ته یې وویل نه داسی کومه خبره نشته ، د کافي د څکلو له کبله زما خوب ټول ختم شو . زه غواړم چې د ستار سازونه واورم .

د جيني اطاق د سنان څخه ډیر ښه وو . غټي مخملي پردې په نازکه فته ېې پردو باندی غوړيدلې وی. په یو کونج کې غټ پالنګ د ډیرو بالښتونو او د نرۍ روجاېې سره ډیر آرام ښکاره کیده . د پالنګ څلورو خواوو ته سپینی پردې زنګیدلی . په یو کونج کې په سینګار میز باندی د دنیا د سینګار سامان شیندلې پروت وو، په فرش باندې یوه پخوانۍ قالینه پرته وه او په هغی باندی د یوی آرامی او نرمی صوفی سیټ پروت وو . د اطاق په مختلفو خوشبویانو کې د خوراک خوشبو هم وه چې ددې څخه داسی ښکاره کیده چې هغی خپل پخلی هم همدلته کاوه. د کړکۍ سره نږدی په کوچني میز باندی د شرابو یو تش بوتل او دوه ګیلاسونه پراته وو، ددې تر شاه یوه ډیره ښکلی نانځکه وه چې د هغې په شونډو سرخي وه .
کله چې جیني اطاق ته داخله شوه نو د بستری قات ځایونه ېې جوړ کړل د کړکی پرده يي مخ ته کش کړه په غټه صوفه باندی پرته کوچنۍ ګدۍ ېې وټپوله او بیرته ېې په هماغه ځای کیښودله او سنان ته ېې وویل:
زما اطاق ډیر آرام نه دی ، تاسو مهرباني وکړی کښینی
سنان په صوفه باندی کښیناست
خدای خبر چې هغه ولی دومره احساساتي ښکاره کیده ، داسی ښکاره کیده لکه کله چې مخکی ددی اطاق ته کوم میلمه نه وی راغلی .
سنان د اطاق جایزه واخیسته او په ډیری خوښۍ سره ېې ورته وویل ، ډیر ښه اطاق دی .
جیني په ډیری بی قرارۍ سره یوه خوا ، بله خوا ته کتل . لکه هغه چې د اطاق د سینګار څخه مطمینه نه وي .
سنان بیا ورته وویل ، آرامه هم دی .
جیني هملته په ولاړه ، ولاړه ورته وویل ، زما عاید ماته ددې څخه د ډیر ښه اطاق د اوسیدو اجازه نه راکوي . بس ګوزاره کوي او بیا ېې وخندل .
جیني یو دم په خوله باندی د خپل لاس ورغوی داسی کیښود لکه کومه پیښه چې شوی وي ، سنان ته ېې وویل زه ډیر افسوس کوم چې ما تاته د څښاک کوم مشروب وړاندې نه کړ او بیا ېې په لړه پیشمانۍ سره ورته وویل ، که چیرته ته واېې نو ستا د اطاق څخه د کافي هغه ډبې راوړم او تاته تری کافي جوړه کړم ؟
سنان د اثبات لپاره خندا سره ورته سر وخوځاوه ، عجیبه جینۍ ده .
جینۍ د بی قرارۍ په حالت کې په منډه د سنان اطاق ته ولاړه د کافي ډبی ېې راوړ ، بیا ېې د سینګار میز لاندې څخه یو نغری راوویسته هغه ېې بل کړ او د کافي لپاره ېې اوبه کیښودی .
جینۍ د معذرت څخه په ډکه لهجه کې ورت وویل د جدا آشپزخاني اطاق ډیر قیمته دی ، زه خپل خواړه همدلته په نغري تیاروم .
کله چې کافي تیاره شوه نو یوه پیاله ېې سنان ته ورکړه او خپله د هغه په څنګ کې په صوفه باندې کښیناسته .
هغی اوس په ډیره بی قرارۍ سره یوه او بله خوا ته لیدل.
سنان چې د کافي څخه غړپ وکړ نو پوښتنه ېې ورڅخه وکړه هغه ښکلی سازونه څه شو ؟

جینی: اوه – هغه خو زما هیر شو ، هغه ژر پاڅیده د پالنګ د لاندی څخه یې یو ټیپ ریکارډ په کش کیدو راوویسته ماسره چې د ستار کوم ریکارډ دی هغه د یو فرانسوي سندرغاړي دی .

په فضا کې د تیری شپې ښکلو سازونو یو ځل بیا انګازی وکړی.

جینی سنان ته وویل چې هغه د فرانسی د ساحلي ښار مارسلز اوسیدونکی ده مور یې فرانسوی او پلار یې یو الجزایري ملاح وو چې ددی د پیدا کیدو څخه وروسته یې سمدلاسه دوی پرینښودل او وتښتیده . ددې مور د بندرګاه سره نږدی په یوه شراب خانه کې کار پیل کړ. دا به ټوله ورځ د شراب خاني په یو کونج کې ناسته وه او خپلی مور ته به یې لیدل چې د مشتریانو د زغملو تر څنګ به یې په دی باندې هم نظر ساته او کله چې به هم ورته فرصت پیدا شو نو ژر به یې دې ته چاکلیت یا د شیدو یو ګیلاس ورکړ . جیني په همدی شراب خانه کې پیغله شوه او دا چې زده کړی یې نه درلودلی نو په بل ځای کی ورته دنده پیدا نه شوه او هغی هم په همدی ځای کی کار پیل کړ . په همدی دوران کې د هغی مور مړه شوه او هغه د خپل کم مال، متاع سره د یو نوی مستقبل په تلاش کی د پاریس خواته راغله . په پاریس کې د یو نوی مستقبل په ځای ماته د یو خوشګواره ماحول وړاندیزونه کیدل چې د هغی وخت به د دوو څخه تر ځلور ساعتونو زیات نه وو . د جیني په لهجه کې تریخوالی وو. په لومړیو کې خو ما د یوی شریفانه زندګۍ د تیرولو پوره هڅه وکړه او زه په دی کې پوره ناکامه شوم . او بیا بالاخره ....

سنان ورته وویل

او بیا ، د سنان په لهجه کی ډیره مهرباني وه .

جیني ورته وویل

نو بیا څه- زه وږي نه شوم پاتی کیدلی . زه په دی مسله کې ډیره کمزوری شوم . اوس خو دا پیشه زما معمول ګرځیدلی دی . د جیني په سترګو کې لړه نمي وه .

سنان په خاموشی سره ناست وو ، کافي یې څښکله او د هغی خبری یې اوریدلی .ده له ځان سره فکر وکړ یوازی پاسکل معذوره نه ده په دی دنیا کې ډیر خلک معذوره دی . که یو څوک جسماني معذوري هم ونه لری نو کله مجبوري او کله ولږه هغوی معذوره کوي .

بیا جیني د خپل کوچنیوالي خبری پیل کړی چې څنګه به د هغی مور هغه د رخصت په ورځ د مارسلز څخه بیرون د تفریح لپاره بیوله . د جنوبي فرانس ښکلی موسم او روښانه ورځی اوس یوازی یو خوب دی .

جیني په قرار ، قرار خبری کولی او هغه په خاموشۍ اوریدلی او بیا د جینی غږ کمزوری کیده . بیا بالکل خپ شو . خدای خبر چې څه وخت به هغه بیده شوی وو .

www.afghanmedia24.com

کله چې د سنان سترګی خلاصی شوی نو په همغه صوفه باندې پروت وو په کومه چې تیره شپه ناست وو او کافي یې څکله . دده څخه یوه غټه او ښکلی کمپل په ډیر احتیاط سره چاپیره شوې وه . او دده تر سر لاندې یوه نرمه تکیه پرته وه .
ناشته ؟

هغه سترګې خلاصی کړی او سر یې راپورته کړ . جیني عین د هغه په سر پتنوس په لاس ولاړه وه او ورته یې وویل

ناشته ؟ یو دانه فرانسوي کیک ، کوچ ، مربا او ګرمه کافي . خو زه متاسفه یم چې یو ځل بیا می ستا د ډبي څخه کافي جوړه کړه .

سنان خو لومړی پوه نه شو چې دا چیرته دی او دا جینی څوک ده . خو بیا یې ناڅاپه په ذهن کې د تیری شپی ټوله قصه وګرځیده ژر یې کمپل لیرې کړه او په صوفه باندې کښیناسته .
سنان په داسی حال کې چې په ویښتانو یې لاس تیراوه او بخښنه یې غوښتله جینې ته وویل:

ماته په کار نه وو چې دلته بیده شوی وم . د ستړیا له کبله می سترګی درندی شوی وی او شاید همداسی خوب وړی وم . مګر زه تاسو ته اطمنان درکوم چې قصدا ما قصدا داسی کړی نه دي . هغه ډیر زیات د ندامت احساس کاوه . خدای خبر چې دا جینی به څه فکر کوي.

جینی په داسې حال کی چې پتنوس یې په میز کیښوده سنان ته وویل که قصدا دی هم داسی کړی وي نو کومه خبره نشته ځکه چې غلطي زما وه چې تر ناوخته می خبری کولی . هغې په ډبل ډوډۍ کوچ او مربا واچوله او سنان ته یې وړاندې کړه.

سنان لږ په بی رخۍ سره ورته وویل زه به دی راپورته کړی وم.

لومړی ناشته ، د جینۍ په لهجه کې ډیر نرموالي وو هغې یو خړ رنګه ښکلی پشمیني لباس اغوستې وو او هغه ټوله د مکتب د یوی نو عمره شاګردې په څېر ښکاره کیده .

کله چې سنان د ناشتي څخه فارغ شو نو د جینۍ څخه یې مننه وکړه او یو ځل بیا یې هلته د بیده کیدو له کبله بخښنه وغوښته او د اطاق څخه بیرون شو . مخکی له دی څخه چې د خپل اطاق دروازه خلاصه کړی نو ده همداسې وروسته ولیدل جیني تر اوسه د دروازې بازو ته تکیه کړی ولاړه وه او په خندا وه . سنان هم بی له خندا څخه پاتې نه شو.

سنان : څه خبره ده ؟

جیني : هیڅ نه ، هغی همداسی خندل

سنان : څه خو شته

جیني : آیا نن به هم پاریس کې د پرون په څېر یوازی ګرځې ؟

سنان : او ولی ؟



www.afghandawatmedia24.com

جيني : همداسې پوښتنه مې وکړه .

سنان : بيا هم

جيني : که چيرته تاته د کوم لارښودونکي ضرورت وي نو زه حاضره يم .

سنان : او دومره ښکلې لارښود په پاريس کې پيدا کيدلی شي . سنان د جينی په هدف پوه شو .

جيني د خوشحالی څخه وغوړيده او سنان ته يې وويل هغه هم بلا معاوضه ، او زياته يې کړه دا لباس صحيح دی او که بل واچوم ؟

سنان په فکر کی شو . يوازی د دوستی او د رفاقت تر حده پوری هغه د نجونو سره د ارتباط د درلودو قايل وو اما ددې څخه زيات د هغه د وس خبره نه وه . د سياحت هم يو څو اصول وي . او په دې کې لږ تر لږه د سنان لپاره يو دا وو چې د صنف نازک د طبقی سره د بندش له کبله دده پښی بايد په يو ځای کې ونه دريږي . په يو ځای کې د تم کيدو څخه خو د سياحت هدف ختميږي . د سفر هدف مسلسل حرکت دی او کله چې قدمونه تم کيدو ته مايل شی نو نه .....

هغه د جيني خواته وليدل. د هغې په څېره کې ډير زيات معصوميت وو . په دی وخت کې هغې ته په ليدو سره چا د هغې پيشه نه شوه پيژندلی. يوه داسی پيشه چې د نوم په اخيستلو يې ژبه بنديږي .

سنان جينی ته وويل

جيني زه نن سهار د لودر د ميوزيم د ليدو لپاره ځم . ښکاره ده چې ستا د هغو پخوانيو تصويرونو او د ماتو شوو مجسمو ليدل نه خوښيږي .

جينی په قراره ورته وويل ، هو ښکاره ده . د هغې په لهجه کې خفګان وو . خو د سنان په زړه په کی پټ شوی غل حقيقت راښکاره کړ. که چيرته ته د پاسکل سره ليدل خوښوی نو بيا جينې څه قصور کړی دی ؟ همدا کنه چې ته د يوی داسې جينی سره بيرون ته تګ نه خوښوی چې د ټولنې په سترګو کې ښکته ده . سنان خپله اراده بدله کړه جينې ته يې وويل ، ګوره جينې زه نن ورځ دلته راځم او بيا به دواړه بيرون چکر ته ولاړ شو .

جيني : هو ، ضرور . د جيني مايوسه څېره يو دم وغوړيده . زه به نن د کار څخه رخصت هم واخلم .

که څه هم د پاريس د مختصر قيام په دوران کې دا د بی شميره دلچسپه خلکو سره مخ شوی وو خو چې سنان به ولی په دې ښار کی خفګان او بی قراري احساس کوله . داسې بريښيده لکه هغه چې په دی خرابه کور کی د کلونو څخه اوسيږي او جيني او ميرمن ژي له له ډير پخوا څخه پيژني . هغه تصميم ونيوه چې نن ورځ به لږ تر لږه د پاريس د ښار د مشهورو

عمارتونو او ځايونو په ليدلو تيروي تر څو چې بيرته وطن ته لاړ شی نو د ظهور د حالت سره مخ نه شی .

دده يو نږدی ملګری ظهور کله چې د آمريکا څخه وطن ته راته نو په پاريس کې يې يوه ورځ قيام کړی وو. او کله چې وطن ته راغی نو ملګرو ورته دعوت وکړ . فخر چې په دوی ټولو کې يې ډير تحصيل کړی وو او ډير ګرځيدلی هم وو ورڅخه پوښتنه وکړه :

ظهوره په پاريس کې دی څه ،څه وليدل ؟ نو دا چې ظهور دشپې ناوخته پاريس ته رسيدلی وو او سهار وختي د کراچۍ په فلايټ کې ناست وو نو لږ په ډار يې وويل :

يار ، ډير څه مې وليدل . ډير ښه ښار دی . هره خواته فرانسويان ښکاره کيږي . په فرانسوي ژبه خبری هم کوي . فخر ژر ورغږ کړ د قرطبه جومات دی وليده ؟ ظهور ژر جواب ورکړ، هو ما خو د سهار لمونځ هم هملته وکړ . په همدی ډول يو بل ملګری چې د شيکاګو څخه راغلی وو د هغه ځای د ښکلو غرمو ذکر به يې کاوه او دا چې د خپلو معشوقو سره به يې د سمندر په غاړه لمبل . بس خلک به د ښه سم رعب لاندې راتلل . په داسی حال کې چې د شيکاګو سره هيڅ سمندر نشته بلکه يو ستر جهيل دی . خو په هر صورت سنان د داسی کومی شرمندګی د خطر اخيستلو ته تيار نه وو . هغه نن دا تصميم ونيوه چې نن ورځ به په پاريس کې د تاريخي ځايونو د ليدو څخه وروسته سبا هسپانيا ته ځی .

هغه جامی بدلی کړی او لاندی هال ته راغی . او کله چې د بيرون تګ لپاره آماده شو نو د ميرمن ژي سره مخامخ شو. سنان چې خپل قسمت يې ملامته کړ سمدلاسه ودريده .

ميرمن ژي په شونډو باندی د معنی لرونکي خندا په راوستلو سره سنان ته وويل : دشپې تر ډير ناوخته پوری د جيني په اطاق کی د ميوزيک سازونه غږيدل .

کومه جيني ؟ د سنان په څيره کوم تآثير نه وو.

ميرمن ژي چې په تياره کی کوم غشی ويشتلی وو په نشانه ونه لګيده . نو ځکه خبره يې بدله کړه . او د ځوانی د وخت د يوی هيری شوی ادا د تازه کولو په هڅه کی يې شونډی سره وروستی او سنان ته يې وويل :

ته په دی کور کی د ټولو اوسيدونکو کرايه دارو څخه ډير مختلف شخصيت لری .

سنان د نيکټايې بند جوړ کړ پوښتنه يې ورڅخه وکړه پاکستانی يم شايد ځکه ؟

ميرمن ژي : نه ، نه هغې په کړس ، کړس سره وخندل .

آيا زما په ښايست کې څه کمی شته ؟ هغې په طنزيه ډول پخپله پوزه باندی لاس تير کړ. ډيره ښکلی ده . ميرمن ژي خپله نازکه پوزه راټوله کړه .

سنان : بيا ؟ د سنان په څيره بی زاري وه .

میرمن ژي : ته له دوه ورځو څخه دلته يې . سهار چې راويښ شوی نو ښار ته ولاړی او بيا چې راغلی نو سر ماښام بيده شوی او نن هم دومره وختي تيار شوی او بيرون ته ځی .

سنان : په دی کې د حيرانتيا څه خبره ده ؟

میرمن ژي : ځوانه ته په پاريس کې اوسيږی . میرمن ژي دواړه سترگی سره ميچ کړی او د چڅچل ( شوخی ) هڅه يې وکړه . تاته په کار ده چې يوازی ماښام بيرون ته ولاړ شی . ټوله شپه چيرته په شوخو ځايونو کې تيره کړی لکه مالن روږ ، ليډو ، کريزي هارس يا د فاليز شبينه کلب . او بيا سهار وختي يوه ښايسته ، کوچنۍ شانته چاقه شانته ښځه دی په څنگ کې نيولی وی او اطاق ته راشی .

د کوچنۍ شانته ، چاقه شانته اصطلاح غالبا د فرانسوي ژبې څخه مستعار اخيستل شوې ده .

سنان د ځان د خلاصولو لپاره ورته ووېل ، زه د داسې عاشقانه کارونو لپاره موزون نه يم . او بيا مخکی له دی چې میرمن ژي کومه بله نادره مشوره ورکړی د کور څخه بيرون ولاړه .

نن د پاريس آسمان د گڼو وريځو څخه ډک وو او د باران نښی ښکاره کيدلی . ساړه هم يو څه زيات شوی وو. په کوڅه کې د معمول په خلاف کم خلک وو. د قهوه خانو څخه بيرون په پياده رو باندی کرسيانې هم خالي پرتی وی . او د يخنۍ او د متوقع باران له کبله ورباندی پردې اچول شوی وی . سنان پخپله اوږه باندی پروت سپين باراني کوټ واغوسته ، کالر يې پورته کړ او پياده د لودر د ميوزيم خواته روان شو . کله چې د يو ساعت د مزل څخه وروسته هغه د ليرز د پراخه او ښکلي باغ تر څنگ واقع د لودر د ستر عمارت مرکزي دروازې ته ورسيده نو هلته ولاړ چوکيدار ورته ووېل چې نن هفته وار رخصت دی او ميوزيم بند دی . سبا ته بيا تشريف راوړی . سنان خفه شو . او له ځان سره يې فکر وکړ چې انگريزان د فرانسويانو په هکله صحيح وايې ددې چنگښانو ل(که څنگه چې انگريزان ورته وايې ) هره خبره سرچپه ده .ددوې ډبل ډوډۍ بی معنی اوږدی وی. يو گز دوه گزه اوږداوالي خو معمولي خبره ده . د ستړی مشي په وخت کې يو بل په غومبورو باندې په ډيری بی شرمی سره ښکلوي . کله چې د جنگ په وخت کې د فرانسي پاچا چرچل په غومبورو باندی ښه کلک ، کلک ښکل کړی وو نو تر څو ورځو پوری د انگريزانو مخونه تک سره وو . د جنسي اختلاط په يادولو کې خو يوه ذره هم نه شرميږي . د خوراک په معامله کې هم ډير خوش خوراکه دی د چنگښو سره ، سره اسونه هم خوری. او بيا نن هم ثابته شوه چې خپل ميوزيم يې د يوی مناسبی ورځ ( اتوار) په ځای د سه شنبي په ورځ بند کړی دی .

سنان د يوناني ستنو په يوی اوږدې برنډی کی ودريده او فکر يې وکړ چې اوس بايد څه وکړی ؟

د باران څاڅکی هم پيل شوی وو. د ليرز باغ د باران په څاڅکو لمديده . د گلانو تختی او د څيړۍ ونی نوری هم پاکی او غوړيدلی وی.

هغه تصمیم ونیوه چې د سین د دریاب د کوم ښکلی پل لاندې به کښیني او د باران ننداره به وکړی او د باران په تم کیدو سره به بیا یو بل پلان ونیسی . هغه د لودر د عمارت څخه راووته او مخامخ د کنکورد پراخه چوک ته راغی چیرته چې د لوڅو ښځو په مجسمو باندی د اوبو د راڅوړندو شوو کاسو څخه په درجنونو فوراې راخوټیدلی . د چوک بلی خواته د سین د دریاب تر ټولو ښکلی پل سکندر سویم وو چې په څنګ کې یې دریاب ته زیني ښکته شوی وی. سنان په زینو باندی لاندی ښکته شو .

کله چې د پل لاندې برخی ته ورسیده نو پوه شو چې هلته د ناستی او د باران څخه د خوند اخیستنی لاجوابه فکر دده څخه مخکی هم د هغو ډیرو خلکو په ذهنونو کی راغلی وو چې اوس هلته راجمع شوی وو. د ماهیانو د ښکار پسی راغلی سرگردانه فرانسوي عمر خوړلي خلک ، امریکایې سیاحین او بیا د پاریس علامه یعنی د یو بل په غیږ کې پراته د دنیا څخه بی خبره ځوانی جوړی وی .

د کوم سکون لپاره چې سنان دلته راغلی وو هغه دلته موجود نه وو. هغه دی بی ترتیبه رش ته یو نظر واچاوه او بیا په زینو باندې پاس سړک ته راغی .

د دریاب په غاړه د ناپلیون قبر ( آنوالید ) ښکاره کیده چیرته چې د یو ستر هال په دیوالونو باندې ټول هغه بیرغونه ځړیدل کوم چې ناپلیون د خپلو سترو جنگي کامیابیو په وخت کې د مفتوحه هیوادونو څخه اخیستي وو. ویل کیږي چې ناپلیون د داسې بیرغونو د جمع کیدو ډیر شوقین وو. همدی شوق په قرار ، قرار تر مسکو ورساوه . بیرته چې راته نو یو دوه روسي بیرغونه یې هم راوړل اما په دی هال کې د راځړول شوو بیرغونو څخه یې دوه چنده د روسانو له کبله د لاسه ورکړل . سنان فکر وکړ چې که نور که څه نه وي نو د ناپلیون قبر به وگوری او لږ تر لږه هلته خو به د باران څخه خلاص شي .

انوالید ته د تللو لپاره سنان د سکندر سویم پر پل باندی قرار قرار روان وو . د هغه ښي خواته د پاریس د ښکلو عمارتونو څخه اخوا د سیکری کر د کلیسا ختیځه گنبذه ښکاره کیده . هغه د پاریس په آسمان باندی د خپرو شوو گڼو وریځو په میده څاڅکو باندی لمدیده . هغه پاریس او د پاریس خلکو ته دعاگانې کولو او روان وو چې د کنکورد د چوک څخه یو نیلي سپورتي موټر په ډیر سرعت سره راووته نږدې وو چې د چوک د منځنیو فوارو سره ولگیږي خو بچ شو او د سکندر سویم خوا یې ونیوله . سنان ژر د پیده رو څخه لیری شو او د پل د کټارو سره ودریده. نیلي موټر مستقیما دده خواته راغی او د سترگو په رپ کې په یو بریک سره دده تر څنگ ودریده . ډریور د کړکی ښیښه ښکته کړه ، د سنان خواته یې ولیدل په نیمه ژبه او په ماته گوډه فرانسوي ژبه یې ورته وویل :

پارلی – دو فرانسی موسو ؟

هغه غالبا سنان د مشرقي څېرې له کبله د هغو یو شمیر الجزایري وگړو څخه یو وگانه چې په فرانسه کې اوسیدل نو ځکه یې دده سره په فرانسوي ژبه د خبرو کولو هڅه کوله .

سنان په انګریزي ژبه جواب ورکړ وبخښی زه په انګریزي ژبه نه پوهیږم .

واه هلکه ، د ډرایور لهجه چې آمریکاېي وه سنان ته یې وویل

واه هلکه ، د خدای شکر دی چې ته په انګری پوهیږي زه د تیر یو ساعت راهیسي د داسې یو شخص په لټه کې وم چې په انګریزي پوهیږی .

سنان د کتاري څخه لیری شو او د موټر خواته راغی .

درایور ورته وویل زه په اصل کې د لودر د میوزیم لار پسې ګرځم . هغه وښکي خلاص کړل او د مونالیزا د مشهورې خندا په نقل کولو سره یې وپوښتل هغه د مونالیزا والا.

د باران څاڅکي اوس لږ تیز وریدل .سنان نه غوښتل چې هلته په تم کیدو سره خپل ځان د باران په څاڅکو لوند کړی نو مخ ته روان شو.

آمریکاېي هم موټر چالان کړ او د سنان پسی شاته ، شاته د پیدو رو سره روان شو .

آمریکاېي د موټر څخه سر راوویسته د سنان څخه یې پوښتنه وکړه ، آې وروره ته هندوستاني یې ؟

سنان ژر ودریده ، آمریکاېي هم سمدلاسه موټر ودراوه .

سنان آمریکاېي ته وویل ، زه پاکستانی یم پوه شوی . پاکستانی ، دا یې وویل او بیا روان شو .

آمریکاېي هم دده پسې شاته ، شاته روان شو، او سنان ته یې وویل

اې ، پاکستانیه وروره ، آمریکاېي په خندا شو . سنان ته یې وویل که چیرته ته فرصت لری نو ماسره په موټر کې کښینه او د ناپلیون تر مقبری پوری ماته لاره وښایه .

د سنان سره خو فرصت ، فرصت وو که څه هم د ناپلیون د مقبرې ګنبذه بالکل مخامخ ښکاره کیده اما د باران څخه د بچ کیدو لپاره هغه د امریکاېي دعوت قبول کړ.

ددې امریکاېي نوم پیري وو او هغه په جرمني کی د امریکاېي فوځ سره د دوه کلنی دندې د ترسره کولو څخه وروسته او خپل هیواد ته د تللو مخکی د ټولی آروپا د لیدلو په چکر وتلی وو . هغه هم د اکثره امریکاېي سیاحینو په څیر غوښتل چې په اوه ورځو کې اوه آروپاېي هیوادونه وګوري.

امریکاېي سنان ته وویل ، زه تل د افریقا د پیژندلو په باره کې ډیره دلچسپي لرم ،بیرشیر ، فیلان او داسی نور ...

د سنان موډ خراب شو ، د هغه ګندمي رنګ دومره هم ګندمي نه وو چې په هغه باندې د یو چا د حبشي ګمان وشی .

سنان خوله ورانه کړه ، ورته یې وویل کله مې افریقا ته د تللو اتفاق نه دی شوی .

www.ar.dawatmedia24.com

آمریکاېي په حیرانتیا سره خوله خلاصه کړه ( هوووو) نو دا پاکستان هلته چیرته نه دی ؟

سنان غوښتل چې وضاحت ورکړی نو ورته يې وویل زموږ مغربي سرحدونه د ایران او افغانستان سره دي .

امریکاېي : آها – د ایف ګانس ټان نوم مې اوریدلی دی . بلکه زه خو د هغه ځای د غریزو بوټو بې حده شوقین یم .

سنان : کوم ډول غریز بوټي ؟

امریکاېي د سترګو په ځرخیدو جواب ورکړ چرس و بنګ . ددی خبری سره يې موټر د پیده رو سره ودراوه سنان ته يې وویل یو کش به ولګوو بیا به د ناپلیون سره هم ملاقات وکړو . امریکاېي د موټر د یوی خانې څخه یو سور سری اوږد پایپ راوویسته او بیا يې د کوټ د جیب څخه یوه چرمي کڅوړه راوویسته . په کڅوړه کې د تمباکو په څېر یو تور رنګه شی وو چې هغه يې په ګوتو ښه میده کړ او بیا يې په پیپ کې واچاوه . او بیا يې په اور لګیت سره ولګاوه . یو نامعلوم او بد بوي په موټر کې خپور شو . سنان ته د هرات د بهزاد هوټل وریاد شو چې د هغی په اطاقونو کې یو ډول بوی وو. په هوټل کې سیاحینو ته د یو بورد په ذریعه خبرداری ورکړل شوی وو چې ( دلته د چرسو څکل منع دی ) .

امریکاېي یو اوږد کش وکړ او ورسره يې په سترګو کې کوچنۍ ، کوچنۍ سری کرښی پیدا شوی .

د سنان ورڅخه بد راغلل ، له ځانه سره يې غلي وویل بد بخته چرسي دی .

امریکاېي یو بل کش وکړ او پایپ يې په دواړو لاسونو کې دومره په احتیاط سره ونیوه لکه یوه نادره کوتره چې د الوتلو احتمال ولري . او د سنان خواته يې وړاندی کړ او ورته يې وویل ډریک کوی ؟

د آروپاېي چرسیانو په ژبه کې د ډریک معنی داسې ده لکه په پنجابي کې چې ویل کیږي ( یو کش وکړه )

سنان د موټر څخه د وتلو په نیت د دروازې په لاستي لاس کینود او ورته يې وویل ډریک نه البته د مهربانۍ له مخی ما همدلته ښکته کړه .

امریکاېي یو دم په عذر و زاریو پیل وکړ ، نه یار له ما څخه مه ځه ، ما مه پریږده . زه به یوازې پاتی شم او د ناپلیون مزار به ونشم لیدلی . های ناپلیونه . او د سنان لاس يې ونیوه .

سنان ته ډیره غصه ورغله . له ځان سره يې وویل – اوهو – دا څه عجیبه مصیبت دی . زما خو ددې بد بوېي څخه ساه بندیږي .

آمریکاېي ورته وویل ، زه د موټر ښیښي ښکته کوم ، دروازې هم خلاصوم . بانټ هم خلاصوم . هرشی خلاصوم . امریکاېي په ډیری سستۍ سره د موټر د کړکی یوه ښیښه په

قرار قرار ښکته کړه . او بیرون خواته یې د پوکي وهل پیل کړل . لکه چې په موټر کې جمع شوی لوګی بیرون ته وباسی . امریکاېي په ډار، ډار سره وویل ، زه ډیر افسوس کوم ، ډیر زیات – اوف – اوف اما ما فکر کاوه چې ټول آسیایان حتمي چرس څکي . ناپلیون هم څکل ، او جوزفین هم – هغه په دمه ، دمه په قرار سره خبری کولی لکه په خبرو کی چې مشکل لري .

سنان خپل ځان ته په غصه وو چې هسی یې دا مصیبت پخپله غاړه واخیست له دې ښه وو چې په باران کې ولاړ وو او لوند شوی وو.

امریکاېي تاویده او په تاویدو کې وویل

هر څه رنګین دي – داسی داسی رنګونه دي چې عامو خلکو ته هیڅکله هم نه ښکاره کیږی . زه په هغو وختونو کې سیل کوم چې د پاریس تاریخي عمارتونه جوړیدل . د فرانسی پاچا زما په وړاندې ولاړ دی . دا چاق سړی چارلس دی . هغه هنري دی. دلته لوېي خوبولی دی . او په هغه کونج کې ټیټ قدې ولاړ کس ناپلیون دی . های ناپلیونه .

اوس که چیرته سنان غوښتي وی نو په ډیره آسانۍ سره د موټر څخه ښکته کیدلی شو او ددې چرسي څخه یې ځان خلاصولی شو مګر یو خو تر اوسه پوری بیرون باران وریده او بل دا چې دده په آمریکاېي باندې زړه هم سوځیده نو هملته د موټر په سیټ کښیناست د جیب څخه یې سګرټ راوویسته او غوښتل یې چې هغه ولګوي .

امریکاېي ورته وویل ، زما ملګریه زه یې درته لګوم . زه خو ستا خادم یم . امریکاېي په لړزیدلو لاسونو د ډبي څخه سګرټ راوویسته او د بلیدو هڅه یې وکړه سنان تر یو ډیر وخت بوری سګرټ په ګوتو کې نیولی وو مګر د هغه اورلګیت بل نه شو . سنان خپله سګرټ بل کړ .

امریکاېي چیغه کړه - هوو دا دی بل شو – دا هغه په لاس کې بل شوی اورلګیت وو . سنان ته یې وویل سګرټ ولګوه زما ملګریه – سنان د خندا څخه پرته پاتی نه شو او ورته یې وویل ، مننه اما ما سګرټ ولګاوه .

امریکاېي ورته وویل یو ځل یې بیا بل کړه . لکه دوهم او دریم ځل یې بل کړه . هغه منظم ګردان پیل کړه .تر دې چې سوځیدلی اورلګیت یې تر ګوتو ورسیده او ایره شو .

سنان له امریکاېی څخه پوښتنه وکړه ستا ګوتی خو ونه سوځیدلی چې همداسی بل اورلګیت دی ګوتو کی نیولی وو .

امریکاېی ورته وویل – ګوتی – کومی ګوتی – زه هیڅ ګوتی نه لرم .

سنان ژر ورته وویل لږ تر لږه خو دا اورلګیت بیرون ته وغورځوه .

آمریکاېی ورته وویل

اورلګیت چې بیرون ته وغورځوم نو ته به سګرټ څنګه لګوی.زما ملګریه بل بې کړه هغه سوځیدلې اورلګیت سنان ته وروړاندې کړ. سنان د خپل ځان د خلاصولو په موخه خپل سوځیدلې اورلګیت وروړاندې کړ.

آمریکاېي په ټیټیدو ،ټیټیدو ورته وویل مننه ، مننه او بیا یو ځل چې ښکته شو نو همغسی وغورځیده او همغسې خوب یوړ. تقریبا نیم ساعت وروسته په هوش راغی .هغه سترګی خلاصی کړی چې لا تر اوسه سری وی او د سنان خواته یې ولیدل او په خندا شو .

آمریکاېي ورته وویل ، د ډیر ښه کیفیت وو نو ځکه یې ډیر نشه کړی وم . راپورته شو او سیده کښیناست . ماته ښځه منټه وخت راکړه زه به بالکل جوړ شم . د هغه په لهجه کې معذرت وو .

سنان چې سګرټ یې بل کړی وو ورته یې وویل پنځوس منټه می درکړل نو پنځه منټه نور هم .

آمریکاېي مشوره ورکړه چې ایرې یې مه لیری کوه .

سنان : هغه ولی ؟

امریکاېي ورته وویل ، بیا ورسره نشه کمیږي .

سنان : په دې سګرټ کې عام تنباکو دی چرس نه دی .

آمریکاېي د سر په خوځولو سره ورته وویل ، هو صحیح واېي د چرسو د سګرټو د ایرو په لیری کولو سره واقعا نشه کمیږي .

په لږ وخت کې آمریکاېی نورمال شو او یا لږ تر لږه یې ددی خبری دعوه خو کولی شوه چې هغه نورمال دی . هغه د سنان څخه د خپل روش له کبله ډیر معذرت وغوښته او بیا یې موټر چالان کړ. سنان سره دا ویره وه چې هغه به د چرسو د نشې له کبله موټر په سم ډول ونشی چلولی اما د هغه دا ډار صحیح ثابت نه شو . نشه یې آمریکاېي موټر په ډیر ښه شکل سره روان کړی وو او هغه بالکل نورمال وو . سنان د انوالید ګنبذو ته اشاره وکړه او آمریکاېی ته یې وویل په ښې لاس باندی د ناپلیون مقبری ته سړک تللی دی. امریکاېي سمدلاسه موټر ودراوه او بیا یې د جیب څخه ډایري راوویسته چې د هغې په یوه صفحه باندی داسی عنوان او فهرست لیکل شوی وو.

شریر پاریس

آیفل ټاور ۲ –د ناپلیون مقبره ۳-د نیویارک د آزادئ د محکمی اصلي موډل ۴-د امریکن ایکسپریس څخه د ډاک اصولی ۵- د سین دریاب ۶- د نوټرډیم کلیسا ۷-د مالن روژ شبینه کلب ۸- مونالیزا ۹- د شانزی لیزی په یوه قهوه خانه کې د کافي څکل او د فرانسویانو سیل کول ۱۰- او که چیرته وشو نو د کومی فرانسوی شوخی جینئ سره شوخي کول

په نورو صفحو باندې هم دا ډول فهرستونه وو چې د خوني برلن ، د روميانو روم او د شکسپير لندن تر عنوانونو لاندې ليکل شوی وو  او په کومو نمبرونو چې نښی وی شايد هغه بې ليدلی وو .

امريکاېي د ناپليون په مقبره هم کرښه کش کړه او موټر بې چالان کړ.

امريکاېي يو يخ اسويلی وکړ له ځان سره بې وويل د سين درياب او بيا بې په نمبر هم کرښه کش کړه . اوس يو لومړی او نهم پاتی شو او نور د پاريس سفر مکمل شو او خير د هنري په کتاب کې به د مونااليزا د تصوير په ليدو به ګوزاره وکړو.

کله چې د همدی سړک اخر ته ورسيدو نو امريکاېی ددې تاريخ ژر ، ژر بيان کړ . د انجينير آيفل کمال – په ۹۸۴ فوټه اوچتوالي او په ۷۸ لکه طلاېي فرانک په مصرف جوړ شوی او داسې نور ....

د آيفل ټاور په ليدو سره سنان د پاسکل يادونو په مخه کړ.هغه شپه دلته څومره ګڼه ګوڼه وه . مګر نن د ټاور لاندينی برخه تشه ده . باران ، د باد له کبله الوتونکي پاڼی، په فرش باندې د لمدو شوو اخبارونو ټوټې ، او د تصويري پوست کاردونو د خرڅلاو مغازې چې اوس بندی وی . سنان چې پورته وليدل نو توری لړې مکمل ټاور نيولی وو . او د لومړی منزل څخه بې دوهم منزل پټ کړی وو .

امريکاېي د موټر د دروازې د خلاصولو په وخت کې وويل ، زه به د برقي لفټ په واسطه د ټاور وروستي منزل ته ځم او د ټول پاريس ښار نظاره به کوم .

سنان د کړکی څخه ورغبر کړ ، خو د وريځو او باران له کبله به هيڅ هم درته ښکاره نه شی .

امريکاېي ورته وويل

ها ها پاکستانيه دا ستا خيال دی . ددې په يو کش سره به توری لړې او وريځی غاېبي شی .

سنان د خپل ځان سره په قراره وويل ، غرق شو دا بدبخته به اوس بيا لږ تر لږه نيم ساعت د آيفل ټاور د څوکې سره بی سده پروت وي.

اما د سنان دا فکر غلط ثابت شو آمريکاېي په پنځه منتو کی بيرته راغی او د معمول سره سم بې د جيب څخه ډايري راوويسته او په آيفل ټاور باندې بی کرښه کش کړه .

سنان د ساده ګانو په څېر د سر په ځوځولو ورڅخه پوښتنه وکړه آيا هغه توری لړې او وريځی غاېبې شوی وی ؟

امريکاېي په خندا سره ورته وويل ، نه ما ټوکی کولی . په حقيقت کې ما نن دا چرس له يو ( هيپي ) څخه واخيستل او ماته دا معلومات نه وو چې دا به دومره د ښه معيار او تيز وو نو

ځکه همداسی خوبولی او نشه شوم کنه معمولا کله چې زه د چرسو یو کش ولګوم نو دندې ته هم ځم او حتی زما مشر هم په ما نه پوهیږي .

سنان ورته وویل ، د ټاور د وروستي منزل څخه خو څه شی ښکاره کیده هم نه نو بیا په دومره باران کې په برقي لفت کې د لس فرانکو د ضایع کولو څه ضرورت وو ؟

آمریکاېي ورته وویل : ما نه غوښتل چې کله خپل هیواد ته ولاړ شم او په دې خبره شرمنده شم چې پاریس ته لاړم او د آیفل ټاور د وروستي منزل څخه مې د پاریس د ښار ننداره ونه کړه . پوه شوی ؟

سنان همداسې ورته سر وخوځاوه . ددې امریکایانو منطق دده د پوهې څخه پورته وو .

سنان ورڅخه پوښتنه وکړه زه د نپولین د مقبرې څخه د ایفل ټاور پوری له تاسره وم نور نو ماته اجازت دی ؟

آمریکاېي ورته وویل ، نه بلکل نه ، اوس خو لا نهم نمبر برخه پاتې ده . یعنی د شانزی لیزي په کومه قهوه خانه کې کښیناستل ، کافي څکل او بیا یې د لوچکانو په څېر سنان ته سترګه ووهله ، او په قهقه یې ورته وویل د کومی فرانسوۍ جینۍ سره .. هو لا لا

امریکاېی موټر چالان کړ او لږ وخت کې شانزی لیزي ته ورسیده . نن ورځ د شانزی حسن هم کم رنګه وو . پیده رو خالي وه . اما د قهوه خانو بیرون د ولاړو خیمو لاندې بی شمیره خلک د باران د تم کیدو په انتظار ناست وو .

لکه څنګه چې سنان د شانزی لیزی د قیمتۍ ترخه تجربه درلوده نو انکار یې وکړ او آمریکاېی ته یې وویل :

دا چې ته پخپله هدایت نامه ( پاریس ) باندې عمل کوی نو حتمی ته خپله دلته چای وڅکه خو زه یې نه څکم . آمریکاېی ورته په اصرار سره وویل، اوف یار چې چرس نه څکی نو کافي خو وڅکه . خو په همدې ، همدې کې خدمه د کافي پیاله د هغوی د فرمایش څخه پرته راوړه ځکه هغی ته معلومه وه چې دلته ناست اکثره سیاحین د فرانسوي ژبی د کافي څخه پرته بل مشروب نه پیژنی او د کافي څخه پرته بل مشروب نه راغواړي . آمریکاېي په پنځه منټو کې کافي ختمه کړه یو څو خلکو ته یې ولیدل او د خپل فهرست د وروستۍ زمری د پوره کولو پورته شو .

آمریکاېی پخپل جیب کې لاس ښکته کړ او سنان ته یې وویل آیا زه تا شوټ کړم ؟

سنان په ډار سره ورته وویل ، په کومه خوشحالۍ کې ؟

آمریکاېی د سګرټ د لایتر په اندازه یوه کوچنۍ کیمره له جیب څخه راوویسته او سنان ته یې وویل زما هدف دادی چې ستا یو تصویر واخلم . کله چې یې د سنان تصویر واخیسته نو بیا یې خپله ډایري راواخیسته او د پاریس په صفحه باندې یې ولیکل (پاکستاني په پاریس کې

تصویر واخیست ) او بیا یې ډایري بیرته په جیب کې کیښوده او یو ځل بیا یې د چرسو د ځکلو له کبله د سنان ښخه بخښنه وغوښته او معذرت یې وکړ او د خپل وخت د بدنامه سیمي پګال خواته روان شو چیرته چي آمریکایی ډالر په ډیری اسانۍ سره په مستیو کی بدلیدلی شو .

د سنان په پیاله کې اوس لږه کافي پاتې وه . او باران هم اوس د مخکې په ښېر تیز نه وو . په کرسیو او میزونو باندې د نصب شوو خیمو له یو کونج ښخه د اوبو ښاښکي ښښیدل . هلته ناست خلک پورته شو او داخل ته ولاړل . سنان په دي باراني موسم کې د ښار د تاریخي عمارتونو او ځایونو د لیدو په موډ کې نه وو نو ځکه هملته ناست وو . ده پیاله پورته کړه ، وروستي غړپ یې هم وکړ خو کافي یخه شوې وه .
هغه ته وریاده شوه چې ده نن د جیني سره د ملاقات وعده کړی ده . هغه فکر وکړ چې باران تم شي نو لاړ به شي . په دې وخت کې یو ښکلی لړزیدونکي غږ راغی . دده سره د ښنګ میز په کرسي ناستې یوی ښکلی جیني د خپل هلک ملګري په سینه لاسونه ایښي دي او په ډیره مینه یې ویل ،اووف – نن ښنګه یخني ده .
په دی سره سنان ته همغه شپه وریه یاده شوه چې په ستیمر باندې د انګلستان ښخه فرانسې ته راتله ، هغه ته وریاد شو چې پاسکل خو هم همداسې ویلي وو . سنان د پاریس په یوه قهوه خانه کې ناست وو او خفه غرمې یې په سینه کې اوس یوازې د مشرقي د جذباتو ښپې راپورته کولی . د هغه په ذهن کې د جیني سره کړی وعده مبهمه کیدله او د پاسکل پری شوي ویښتان او شنې سترګې یې احساس کولی.
د هغه مخامخ د قهوه خانو او دوکانونو د ښیښو ښخه د منشر شوی نور وړانګې په لامده سړک منعکس کیدلی . په پیده رو باندې د ښېړی خزان وهلي سلیښت شوې پاڼې د یو عصري مصور د شاهکار په ډول ښکاره کیدلی . د باران له کبله ونی نوری هم غوړیدلې وی . سنان د خپل باراني کوټ په جیبونو کې لاسونه ننویستي وو ، د پیده رو په لمده سطحه یې سترګې ښخی کړی وی او د پاسکل په باره کې یې فکر کاوه . هغه له ځان سره فکر وکړ کاش چې په هغه شپه مې د پاسکل ښخه د هغې د کور آدرس اخیستی وو لږ تر لږه خو به مې پیدا کړی وه او په هغه شپه د ناوخته راتلو له کبله به می ورښخه بخښنه غوښتي وه. خدای خبر هغه به زما په باره کې اوس ښه فکر کوي ؟. شاید دا وخت به هغه هم په دې ښار کی د خپل اطاق د کړکۍ ښخه د باران ننداره کوي او ممکن هغه به هم زما په اړه فکر کوي .
د سنان نظر د لامده پیده رو ښخه لیری په یوه نقطه باندی مرکوز شو . مختلفی ښېری ددی نقطي په نشانه کی راتللی او بیا د یو متحرک سیوري په ښېر لوی کیدلی .فرانسوي عمر خوړلو ښځو غتی ګرمی خولې اچولی وی. په پیغلو فشني نجونو باندې د هغوی هلکانو ملګرو رنګا رنګ چتری نیولی وی او خپله په باران کې لامده روان وو . د اوږدو ویښتو

درلودونکی هیپي د موسم د ستونزو څخه ناخبره پخپلو خیالونو کې تاویده . خارجي سیاحینو به د باران څخه د پناه په موخه قهوه خانې ته سر ورښکاره کړ خو چې ځای به یې پیدا نه کړ مختته به روان شو . عمر خوړلو ښځو په لاسونو کې د خوراکي شیانو بنډلونه نیولي وو .همداسې ځېری او خلک تیریدل خو سنان د نورو څخه بې پروا په همدی یوه نقطه کې سترګې ښخی کړی وی . یو سیاح ، یوه عمر خوړلی ښځه ، څو کوچنیان ، یو بل سیاح ، یوه جینۍ ، یو بله او بیا د پرۍ شوو لنډو ویښتانو والا جینۍ ، او بیا د سنان په سترګو کې د ایران د ټول آسمان نیلي والې منجمد شو د هغه درزیدونکي زړه یوه فریادي چیغه وکړه ..( پاسکل ) .. هغه په بېړیدو د کرسۍ څخه راپورته شو لکه د خوب څخه چې رابیدار شوې وي . او بیا يې په قهوه خانه کې د خلکو سره په ټکر ، ټکر او د کرسیو او میزونو څخه په ټوپ وهلو سره يې په ډېره تیزۍ سره په پیده رو باندې منډه کړه او په ډېر تیز غږ يې چیغه کړه .. پاسکل

د سړک ټول خلک همده ته متوجه شول خو هغه پرته له دي څخه چې دوی ته توجه وکړی په ډېره تیزۍ سره يې منډه کړه . هو هغه پاسکل وه چې خاله ورسره وه . هغې د باران څخه د حفاظت لپاره په پاسکل باندې یوه سره چترۍ نیولی وه . هغې د خپلی خاله په اوږه باندې لاس ایښی وو او په تیندکونو روانه وه . هغې نن ورځ هم سور کوټ اچولی وو . سنان په یوی چیغی سره وویل .. پاسکل

د پاسکل لړزیدونکي قدمونه په پیاده رو سړک باندې جامد شو . لیکن هغې شاته ونه لیدل بلکه هملته د تیرې د یو بت په څېر ساکنه ودریده . کله چې سنان ورنږدې شو نو د هغه ساه بنده ، بنده کیده . پاسکل د هغه په لیدو سره مخ تری واړوه خو د هغې ددې حرکت څخه د نفرت په ځای د هغې بې وسي او ناچاري ښکاره کیده .

سنان ورته وویل :

زه ډېر افسوس کوم چې په هغې ورځ پخپل وخت ونه رسیدم – او ---

پاسکل د سنان معذرت په مکمل ډول نظر انداز کړ او د خپلی خاله سره يې د سنان معرفت وکړ ورته يې وویل خاله دا سنان دی . خاله يې ښه په ځېر د سر څخه تر پښو پوری هغه ته ولیدل . خاله يې د یوې اوږدې ساه د اخیستلو څخه وروسته ورته وویل : ښااا دا همغه کس دی چې د لندن څخه له تاسره یوځای راغلی وو او بیا غایب ..

پاسکل د خاله خبری په بې صبرۍ سره پری کړی او ژر يې ورته د سر په خوځولو سره وویل ، هو ، هو خاله . او بیا يې د شانز په سړک باندی په روانو موټرونو کې سترګې ښخی کړی .

سنان نور څه ونشو ویلای یوازې د هغې معصومی او ښکلی څېرې ته يې ته کتل چې د یو مړاوي شوی او ښکلي ګل په څېر وه .

د یو څو لحظو د خاموشۍ څخه وروسته خاله بیا په خبرو پیل وکړ او هغوی ته يې وویل : که چیرته تاسو دواړه دلته لمدیدل غواړی نو په ډېر شوق سره ودریږی خو زه د ویښتانو د جوړولو لپاره ویښته جوړونکي ته ځم . بیا يې پاسکل ته وویل :

خوړی پاسکل ، د یوولس بجو څخه مخکی بیا کور ته راشه . زه به ستا په بستره کې د ګرمو اوبو بوتل کیږدم . خاله یې یو ځل بیا سنان ته ښه په ځیر سره ولیدل او داسی بریښیده لکه چې ورته وایي چې خبردار که بیا دی زما د وریرې د خفه کیدو هڅه وکړه . بیا یې سرته چترۍ سنان ته ورکړه او خپله په داسې حال کې چې د باران څاڅکو لمدوله د فتح د محراب خواته پیاده روانه شوه . باران اوس بیا تیز شوی وو . سنان ژر خپل سپین بارانی کوټ وویسته او پاسکل ته چې لا تر اوسه پوری په جامد شوي فکر د شانزې په سړک روانه وه وروکاوه. سنان په قراره د هغې په اوږه خپل لاس کیښوده .
پاسکل په خاموشۍ سره ولاړه وه . بیا هغې سترګې پورته کړی او د سنان خواته یې ولیدل . د باران اوبه د هغې د ویښتانو څخه څاڅکې ، څاڅکی د هغې په ښو راتلل او بیا به د هغې په ګرد مخ خپریدل . اما د هغې په نیلي سترګو کې نموالی د باران له کبله نه وو.
سنان هغې ته تر قهوه خانط پوری اوږه ورکړه او تر قهوه خانې پوری یې راوسته . او هلته یې یو ځل بیا په هغه شپه د ناوخته راتګ له کبله بخښنه وغوښته . پاسکال بارانی کوټ وویسته او د کرسۍ په بازو یې کیښوده . بیا یې په میز باندې خپلی څنګلی کیښودی او پیده رو خواته یې نظر واچاوه .
پاسکل په لامده سړک سترګی ښخی کړی وی هغې چې په وقفه وقفه خبری کولی سنان ته یې وویل :
ما تاته ویلي وو کنه کله چې خلک زما څېرې ته وګوري نو په موقتي ډول زما له څېرې څخه متاثره شي او ماسره د ملاقات اظهار کوي خو وروسته کله چې هغوی ته د خپل حماقت احساس وشي نو هغوي خپله اراده بدله کړی. ته لومړی کس نه یې چې ماسره دې داسې روش وکړ. زه د سین د دریاب په غاړه په یوازې ګرځیدو عادت شوی یم . هغه شپه هم زه هلته یوازې وګرځیدم .
سنان د پاسکل په یخ لاس خپل لاس کیښود او ورته یې وویل ، ما خپله اراده نه ده تغیر کړی .
پاسکل ورته وویل، بیا نو تیره شپه د سین د دریاب غاړې ته ولی رانغلی . تاته خو معلومه ده چې زه هره شپه هملته ځم. اوس د هغې نظر د پیده رو څخه لیری شوی وو او د چمکداره میز په مخ په پروت مینیو کارد کې یې سترګې ښخی نیولی وی . سنان سره دا ډار وو چې اوس به د هغې ګرمی اوښکی قطره ، قطره په مینیو کارد باندې پریوځی.
سنان ورته وویل
پرون ---- ماښام --- په دې سره سنان په سوچ کې شو .په هر صورت ما نن اراده کړی وه چې زه به حتمي د سین د دریاب غاړی ستا د لټون لپاره ځمه . خووو
پاسکل ورته وویل : زه له تا څخه کوم شکایت نه لرم . تا کوم داسې حیرانوونکې کار نه وو کړی. حیرانووکې او غیر معمولي به هغه وخت وو کله چې زما نور جسم هم زما د څېرې په شان ښکلی او مناسب وو او بیا ته زما لیدو ته نه وی راغلی .
سنان په ډیره نرمۍ سره ورته وویل :

پاسکل ،ستا په داخل کې د خود اذیتی عادت خپل کور جوړ کړی دی . تاسره تل د خپلی جسماني کمزورتیا احساس وي . ماته دا هم معلومه ده چې په دې کې د هغو بی شمیره خلکو ملامتیا ده چې خپلی ناپوهي له کبله ستا د دل آزارۍ سبب شوی دی . او زه په دې هم باوري یم چې ستا په ژوند کې به ددې څخه مخکی هم داسې ډیری لمحې راغلي وي چې تا به د نورو ربښتیني جذبې ددې خود اذیتي د احساس لاندې ظاهراُ همدردي ګڼلی وي او مخ به دې ورڅخه اړولی وي .
پاسکل چې ناسته وه متواتر يې په میز باندې پروت په مینیو کارډ کې سترګې ښخی کړی وی .
سنان : او اوس هم ته د یوی داسې لمحی څخه تیریږی .
پاسکل د یوې لحظې لپاره د سنان خواته ولیدل او بیا يې سترګی په مینیو کارډ کی ښخی کړی
زما دا خیال هم دی چې زما څېره ددې مینیو کارد څخه ښکلی ده چې ته ورته د تیرو لسو منتو څخه داسې د مینی په نظر ګوری .
د پاسکل شونډی ورپیدلی او بیا پری یوه خفیفه مسکا خپره شوه . کله چې هغې سترګی د مینیو کارډ څخه راپورته کړی نو د نمجنو ، نمجنو سترګو نیلی والی يې لا پسی ژور شوې وو .
پاسکل : کله چې ته په هغې ورځ رانغلی نو زه ډیره خفه شوم او کله چې د ستیشن څخه کور ته ولاړم نو خاله ته می ستا ذکر وکړ نو هغی وویل ددې سره لیدو ته مه ځه . پاسکل !د رحم او همدردۍ جذباتو ته د کوم بل اړخه د لیدو هڅه به تا د مخکی څخه زیاته خفه کړی .
زما په اصرار هغې زه د آیفل ټاور پوری راوستم . ما هلته په ولاړه په یو کونج کې ستا انتظار کاوه او تاته معلومه ده چې زه د چا د تکیې څخه پرته تر ډیر وخت پوری چیرته ودریدلې نه شم . په خفګان سره د ټاور مخامخ پل سره په زینو ښکته شوم او د سین د دریاب غاړی ته ولاړم . او هلته په یو بینچ باندې په دی امید کښیناستم چې شاید ته به زما په لټه ، لټه تر دې ځایه راورسیږی . په همغه ورځ ماته په ډیر شدت سره د خپلی معذورۍ احساس وشو.
سنان : پاسکل ! دا سطحي او عامیانه احساسات هیر کړه . تاته خو به اوس معلومه شوی وی کنه چې زه په هغه ورځ یوازې ستا په خاطر تر ایفل ټاور پوری راغلی وم . دا جدا خبره ده چې د اوسیدو د ځای له کبله په ما باندی ناوخته شوې وو مګر زه د پاسکل ... د یوی داسی چینۍ ملاقات ته راغلی وم چې زما ډیره خوښه شوې وه . او ....
پاسکل : خوښه شوی وه ؟
سنان : هو اوس می هم خوښیږي خو که چیرته د اوښکو د بهیدو په ځای وخاندی او خپل ځان د اذیت پسندۍ له جال څخه خلاص کړی او ددې ښکلی ښار د قیام په وخت کی زما ملګرتوب وکړی. وعده ؟ د هغې د سترګو نیلي والی د مینځلو له کبله نور هم تازه شوی وو.
سنان هم د هغې په څېر سر وخوځاوه او هغی ته يې وویل – هو بالکل وعده – بیا د کرسۍ څخه پورته شو ، پاسکل د خپل سور کوټ د کالر سره مشغوله وه. سنان ورته وویل آیا همدلته دی د کښیناستلو اراده ده . سنان بیا د ځان ښودنی مظاهره وکړه ورټیټ شو ورته يې وویل لومړی تاسو ...

پاسکل په ژوند کې د لومړی ځل لپاره په د پاریس په یوه نمجنه شپه کې د سین د دریاب په غاړه یوازې نه وه . سنان هغې ته تکیه ورکړی وه او هغې هم په پوره همت سره د ګوډ ،ګوډ تګ پرته د تللو هڅه کوله . د هغې سر د سنان د اوږې سره لګیدلې وو او هغه ډیره خوشحاله ښکاره کیده . د یو څه مزل څخه وروسته به هغه د دمې لپاره ودریدله، سر به یې پورته کړ، سنان ته به یې ولیدل په خندا به شوه او بیا به یې مزل پیل کړ. سنان د هغې د سور کوټ کالر پورته کړ او خپل لاس یې د هغی په اورمیږ کیښوده. پاسکل ورپیده . سنان ته یې وویل ستا لاس ډیر یخ دی سنان د پاسکل لرزه احساس کړه او ژر یی لاس بیرته بیرون راوویسته. خو پاسکل ژر ورته وویل نه ، نه بیا یی د هغه لاس ونیوه او بیرته یی د خپل ورمیږ تر شاه کیښوده او سنان ته یی وویل ، همداسې یې پریږده زما خوښیږي. او بیا په مسکا شوه .
سنان : ولی څه خبره ده ؟
پاسکل : بس هسی
سنان : هسی څه ؟
پاسکل : په خندا هم بندیز دی ؟
سنان : اوس په یوازې ډول په هر کار بندیز دی . د سین د دریاب له غاړی څخه تر مسکا پوری
پاسکل : زه داسې احساسوم لکه زما خاله چې غلط ویلی وو . اوس وخت چې د کومو جذباتو ګرمایش تر ما پوری رارسیږي په هغې کې یوازی رحم او همدردي شته دی .
سنان په قراره سره ورته وویل ، هو ، او بیا یې وخندل .
دده ښي او کیڼي خواته د ښار دواړه برخی د سین په دریاب باندې د جوړ شوي قیمتي او پراخه پل واسطه یو د بل سره وصل شوې وی. دا ښکلي پلونه د فرانسوي فن ښکلي نمونې وی. ددې اوسپنیز محرابونه او په هغې باندې د ونو ، پاڼو او د نورو لسګونو مجسمو نقشونه ډیر ښکلي ښکاره کیدل . په پلونو باندې د رڼا لپاره د پخواني وخت پاېی نصب شوی دی چې نری رڼا یې اوس د سین د دریاب په تورو اوبو باندې منعکس کیده. فرانسوي سندرغاړو که د یوی خوا څخه پخپلو سندرو کې د اپریل د میاشتی د ښکلا تعریفونه او بیا یې د خران د موسم د خفه ماښامونو پلونه تړلي وو نو د بلی خوا څخه یې د سین د دریاب او د هغی په سر د جوړو شوو پلونو په مدح کې یې هم د ( پاریس د پلونو لاندې ) په څیر مشهوری سندرې تخلیق کړی دی . دداسې لا زواله سندرو په اوریدو سره ټول احساس په روح کې جذب کیږي .
کله چې به هغوې دواړه د کوم پل لاندې تیریدل نو د پل د پاسه خلکو چې به پاسکل ته ولیدل چې معذوره ده نو حیران به شو او کله چې به هغوې ته دا احساس وشو چې هغه د کومی حادثې ښکار شوی نه ده بلکه هغه همداسې معذوره ده نو د هغوې څېره به د ټولو هغه جذباتو یوه آیینه شوه چې پاسکال یې اظهار کړی وو عمر خوړلي به وپسیدل او ځوانان به .......
لیکن پاسکل به د هغوي د رحم کوونکو نظرونو څخه بی پروا د سنان په اوږه سر ایښي وو او نن ورځ یې یوازی د سین د دریاب د تورو‌و اوبو خواته داسې لیدل لکه چې وایی چې ای ! ازلي د سین دریابه ماته نن ښه وګوره نن زه ستا په غاړه یوازې نه یم .

د سنان یخ لاس اوس د پاسکل د غاړې د ګرمایش له کبله د هغه د جسم یوه برخه شوې وه . هغه نن دې ښکلی جینۍ ته په تکیه ورکولو سره د یو ډېر عجیبه خوند احساس کاوه . لکه د مهربانۍ او مینې ددې ښکلی امتزاج پرته چې تر اوسه د هغه ژوند نا تکمیله وو. لکه هغه چې دومره اوږدې فاصلی نن شپه د سین د دریاب په غاړه دی معذوره جینۍ ته د یو تکیه ورکولو لپاره طی کړې وي .

د هرو څو منټونو وروسته به د سیاحانو ډکه کښتۍ د هغه کیڼ لاس ته د سین د دریاب په اوبو کې تیریدله . ددې چټونه به د امستردام په نهرونو کې د ګرځیدونکو کښتیو په څېر د ښیښو وو او د بیرون څخه به د کښتۍ په داخلي برخه کې ناست مسافر واضحه ښکاره کیدل. یوه بله کښتۍ تیره شوه او که په روانو اوبو کې د یو ګرځنده رستورانت نوم ورکړو نو ډیره به مناسبه وی. د کښتۍ څلورو خواوو ته رنګا رنګ فانوسونه ځړیدل. خلک د ښیښه ېې چت لاندې د باران څخه د حفاظت په موخه ناست وو او سین د دریاب په غاړو باندې د جوړو شوو عمارتونو د لیدلو په ځای په خوراک و څښاک کې مصروف وو . ویټرانو د خوراک پتنوسونه په لاسونو کې اخیستي وو او یوه او بله خوا ېې منډې وهلی . ځینې ځوانو جوړو پرته له دې چې د باران پروا وکړی په فرش باندې په رقص کولو مصروف وو .

پاسکل : زما زړه غواړي چې په داسې یوه کښتۍ کې کښینم او د سین د دریاب سیل وکړم --- او – هغه خاموش شوه --- لیکن زه خو رقص هم نشم کولی .

سنان د هغې اوږه وټپوله او ورته ېې وویل دا څه فرق نه کوی . رقص خو د خوشحالۍ نښه ده . او دا جذبات بې آوازه او پرته د شور او مستۍ څخه هم حس کیدلې شي .

پاسکل : زما د هر اعتراض جواب له تاسره شته دی .

سنان : نو غوره ده چې ته دا ډول اعتراضونه ونه کړی.

پاسکل : نو بیا خو هم زه رقص نشم کولی .

سنان : زه خپله رقص نشم کولی کنه ستا دا خیال می هم باطل ثابتولو .

پاسکل : زه به ېې درته وښایم .

سنان : قبوله ده .

پاسکل: نو بیا --- پاسکل د هغه د ګرفت څخه خپل ځان خلاص کړ او یو قدم وروسته لاړه خپل دواړه لاسونه ېې د هغه خواته وراوږده کړل – او ورته ېې وویل ---- اوس – دلته --- د سین د دریاب په غاړه

سنان د هغې په معصومیت وخندل

پاسکل : هیڅ مشکله نه ده . پاسکل خپل سر د هغه په اوږو کیښوده ورته ېې وویل . زما حالت خو تل داسې نه وو – پنځه کاله مخکې خو ما هم رقص کولی شو .

سنان پورته د سړک خواته ولیدل نو هلته څو راه ګیرانو په ډیره دلچسپی سره دوی ته لیدل.

سنان په آرامۍ سره د پاسکل دواړه لاسونه پخپلو لاسونو کې ونیول او ښکته ېې کړل. او ورته ېې وویل

پاکسل! بیا کوم بل وخت ، او بله دا چې دلته اوس موسیقي هم نشته .

پاسکل :د خوشحالۍ ددې جذباتو د اظهار لپاره هم میوزیک ضروري نه دی . ماته د **وانر** یوه ډیره ښه زمزمه یاده ده زه د هغې زمزمه کولای شم .
سنان په خندا سره ورته وویل ، د زمزمې په ځای بیشکه دلته د سندره پیل کړه اما د رقص سبق به سبا ته وي .
پاسکل : هغې د کوچنیانو په څېر د لاسونو روغوي سره زور کړل او سنان ته یې وویل نه همدا نن – نن ماښام
سنان وروړاندې شو او کله چې یې هغې ته د تکیه ورکولو هڅه وکړه نو پاسکل ورته وویل نه زه د یو لیرې ځای پورې پخپله د تللو هڅه کوم . او د هغه مخ ، مخ ته روانه شوه .
سنان : پاسکل !
پاسکل پرته له دې چې شاته وګوري ورته وویل . بلی
سنان : ستا کوم هلک ملګرې نشته ؟
پاسکل : تر پرون ورځ پورې خو نه وو .
سنان : ستا د احترام مننه – لیکن
پاسکل ودریده – لیکن څه ؟ آیا زه بیا تاته د خپلی معذورۍ شکایت پیل کړم؟
سنان: زما هدف دادې چې په نوټنهګهم او پاریس کې به په لسهاوو داسې هلکان وي چې تاسره د دوستۍ خواهش ولري هغه شاید ستا د بی رخۍ له کبله خپله مدعا نشی بیانولی.
پاسکل : هو د لسهاوو په ځای په سلهاوو هلکان دی .مګر ستا دا فکر غلط دی . چې هغوي ټول زما د دوستۍ خواهشمند دی . پاسکل په ډیر سنجیده ډول خبری کولی . ته شاید د غربي رسم و رواج سره ښه بلد نه یې . دلته چې کله کوم هلک د کومې جینۍ سره ملاقات غواړي نو هغه غواړی چې دده سره رقص ته ولاړه شي د سینیما په وروستیو کرسیو کې ورسره کښیني او یو بل ښکل کړی. او که چیرته امکان وي نو څو ورځې وروسته هغه په یوه بله مهربانۍ هم نازوي . په دې شیانو کې د یو څو لپاره زه په جسماني ډول معذوره یم . او یو څه زما د اخلاقي اصولو سره اړخ نه لګوي . اما ته ددې ټولو پوښتنه له ما څخه ولې کوی ؟
سنان : هسی کومه خبره نشته
پاسکل : بیا هم
سنان : هسی ماته خیال راغی زه خو یو سیاح یم او سبا کله چې -----
پاسکل : د راتلونکی سبا په هکله تر اوسه ما لا کوم فکر نه دی کړی .
د پاسکل د لهجې څخه داسی بریښیده لکه هغه چې په دې موضوع باندې خبری کول نه خوښوي .
د دریاب په غاړه ، غاړه هغوي همداسې روان وو چې د نوټرډیم د مشهورې کلیسا تر لمن پورې ورسیدل چې نن شپه په خاصو او تیزو روښانه ګروبونو روښانه شوې وه . ددې اته سوه کلنې پخوانۍ کلیسا څخه د فرانسې د انقلاب په وخت کې د مذهبي مشرانو مجسمې لیرې شوی او هلته د **وډیر** او د روسیو په څېر د انقلابیونو مجسمې چې مسلک فهمه ګڼل شوې وي نصب شوی . د ناپلیون تاج پوشي هم په همدې کلیسا کې شوې وه .

سنان چې پاسکل ته ولیدل نو هغه د کلیسا په لوړو منارونو ، ښکلو برجونو ، خوفناکه مجسمو او د غټ ساعت په لیدو کې ډوبه تللې وه . هغه په کوم ژور فکر کې ډوبه وه .
سنان پاسکل ته د لندن( کاکني) مزدورانو یوه محاوره استعمال کړه او ورته یې وویل ! ستا د ښکلو خیالونو لپاره یوه جستي سکه . معنې دا چې څه فکر کوی چې موږ ته هم معلومه شي .
پاسکل ورته وویل
زما خیالات دومره لا ښایسته نه دی چې د هغی لپاره یوه جستي سکه ضایع شی .
سنان په خندا سره ورته وویل ، په انګلستان کې ددې څخه بله کم قیمته سکه نشته کنه د هغې نوم مې درته اخیسته خو سنان بیا په ډیره سنجیدګۍ ورڅخه پوښتنه وکړه ، پاسکل څه فکر کوی ؟
پاسکل : تا خو به د وکټر هیوګیو نوم اوریدلې وی؟
سنان : په خوښی سره ورته وویل نوموړی لکه چې د لیکلو شوقین وو.
پاسکل : د فرانس تر ټولو ستر ادیب هیوګیو یو ناول لیکلې وو ( بینچ بیک آف نوټرډیم ) .
سنان : ما هم دده د ناول د لوستلو هڅه کړې وه اما په دې ناول کې هغه د پاریس د کوڅو دومره تفصیلي ذکر کړې وو چې د ډیر تفصیل څخه مې په نیماېي کې پریښوده .
پاسکل : ماسره دا ناول شته ، زه به یې درته سبا راوړم . مطالعه یې کړه .
سنان : وار تر مخه مننه . لیکن زه اوس ستا د خیالاتو لپاره یو ځل بیا په نذرانه کې د جستو سکه پیش کړم؟
پاسکل ورته وویل :
د بینچ بیک آف نوټرډیم په ناول کې مرکزي کردار د یو بدرنګه کړوپ سړي وو چې ددې مخامخ کلیسا د زنګ په وهلو باندې مامور وو.
سنان ورپسې زیاته کړه هو چې بیا یې د یوی شپونکۍ خانه بدوشې جینې سره مینه پیدا شوه .
زه د همدې په باره کې فکر کوم چې د ده خو د یوی ښکلی خانه بدوشې جینۍ سره میته پیدا شوه لیکن دې ملا کړوپي او معذوره شخص ته هیڅکله هم د خپلې کریهه النظری فکر نه شو . د پاسکل سترګې د کلیسا په ډبرینو دیوالونو کې نښتې وی. بیا یې زیاته کړه
هغه په دې لوړو دیوالونو او منارونو باندې پورته کیده او په کوم کونج کې چې به یې شین شوې ځنګلي ګل ولیده نو هغه به یې راوشکاوه او خپلی محبوبې ته به یې راوړه .
سنان د موضوع د بدلولو هڅه وکړه پاسکل ته یې وویل ، هغه یوازې د ناول کردار وو.
فرضي کرداد
پاسکل : اخر خو په بدرنګه خلکو کې خو هم د محبت یوه داسې جذبه موجوده وي .
سنانه، د بدرنګه خلکو زړه خو دا خبره نه مني کنه چې هغوی دی د بدرنګۍ له کبله د محبت څخه محروم کړلی شی .
سنان : ماته خو مخامخ اوس ډیر ښکلي خلک دی او زه د نوټردیم په ملاکړوپ او بدرنګه شخص په باره کې د خبرو کولو په موډ کې نه یم . سنان د پاسکل لاس ونیو او ورته یې وویل راځه چې مخته ولاړ شو .

پاسکل د سنان لاس لیری کړ او ورته یې وویل نه زه اوس نوره نشم تللی . زه نن په تګ ، تګ کې تر ډیره لیرې ځایه راغلې یم او د ډیر مزل له کبله زما په ګونډه کې درد پیدا کیږي چې بیا تر څو هفتو پورې دوام کوي .
سنان : که ستا خوښه وي نو په یو ټکسي موټر کې تا تر کور پورې ورسوم ؟
پاسکل ژر ورته وویل نه زه اوس کور ته تلل نه غواړم .
سنان : زه خو سبا ورځ هم له تاسره وینم نو غوره داده چې نن ورځ ته آرام وکړی .
پاسکل په جدي ډول ورته وویل نه ، نه که چیرته ته اوس خپله تګ غواړی نو هغه جدا خبره ده خو زه خپله دا غواړم چې اوس تاسره پاتې شم .
سنان د لاس په ښځولو سره ورته وویل ما سره خو فرصت فرصت دی ، بالکل فرصت
پاسکل په ډیری خوشحالۍ ورته وویل ښه بیا نو چیرته سره کښینو ؟
د دریاب په غاړه د سړک د اوچت دیوال سره بی شمیره بینچونه پراته وو. چې په ځینو باندې بی کوره بوډاګان خوبولي پراته وو او په ځینو باندې ځوانې جوړې نیمه غځیدلې وی.
دا چې باران تم شوی وو نو سنان خپل باراني کوټ وویسته او په یو بینچ باند ې یی خپور کړ او دواړه هلته کښیناستل. پاسکل ورته وویل :
مشکل دادی چې زما معذورتوب هم داسې دی چې که چیرته د امساګانو په مرسته ځم نو بیا هم په تکلیف کیږم او زما په اوږو کې درد پیدا کیږي په دې خبری سره د هغې سترګې یو ځل بیا نمجنې شوی.
سنان : بیا همغه شکایتونه ؟
پاسکل د معذرت څخه په ډکه لهجه کې شونډې سره وروستی سنان ته یې وویل زه خو شکایتونه نه کوم دا خو د ما لپاره اوس هره ورځ عادي خبری دی. ما یوازې تاته د خپل ژوند په باره کې خبری وکړی.
هغوې دلته دشپې تر ناوخته پورې په بینچ ناست وو او د سین په مکدرو روانو اوبو کې روښانه کښتیو او بلې غاړې ته د پاریس په پراخه ښار کې سترګی ښخی کړی وی او خبری یې کولی.
داسې خبری چې ظاهرا ډیری عادی او بې اهمیته ښکاره کیدلی خو که چیرته په همدې خبرو کې د مینی د جذباتو اور وي نو دا د یوی ژورې او حقیقي خوشحالی سبب ګرځی.
پوره دولس بجی شوی چې په همدې وخت کې ناڅاپه ټن ټن شو د نوټرډیم د کلیسا د ساعت دروند غږ دې سکون لړونکي او ښکلی ماحول راپریوته .
پاسکل د هغه د اوږې څخه سر پورته کړ او سنان ته یې وویل موږ اوس باید له دې ځای څخه ولاړ شو خاله تر دولس بجو پوری د راتللو راته ویلي وو.
هغوی دواړه د بینچ څخه پورته شو سنان خپل برساتي کوټ راواخیسته او بیا د سین په غاړه سړک ته په روغلو زینو تیر شو او ځان یې د نوټرډیم مخامخ څلور لارې ته ورساوه .
سنان ورته وویل ، زه به تا پر ټکسي کې تر کور پوری ورسوم .
پاسکل : زما د خاله اپارتمان له دې ځایه څخه ډیر لیری دی زه یوازې ځم .
سنان : ما درته ویلي وو کنه د نن څخه وروسته په یوازې ډول د هر کار په کولو پابندي ده

پاسکل په خندا ورته وویل زما هم دا بندیز قبول دی .
د چوک په کونج کی یو څو ټکسیانې ولاړی وی. سنان د یوی تکسي وروستی دروازه خلاصه کړه لومړی بې د پاسکل سره به کښیناستلو کې مرسته وکړه او بیا خپله کښیناسته .
ډریور چې به مخکی سیټ کې خوبولی ناست وو سیده کښیناست پوښتنه ېې ورڅخه وکړه چیرته ځی؟ پاسکل د خپل اپارتمان آدرس ورکړ. تکسي د پاریس په ویرانو کوڅو کې په حرکت پیل وکړ. داسی ښکاره کیده چې د پاریس رنګینې شپې یوازې یوه افسانه ده او ددې ځای خلک هم د نورو سترو ښارونو د خلکو په څېر شریفانه ژوند کوی . پاسکل سنان ته وویل :
په پګال کې ټول ژوند همداسی کیږي چې هلته شپه هم د ورځی په څیر سپینه وی .. د پګال په کوچنۍ ساحه کې چی څومره شپني کلبونه او شراب خانې دی دومره د آروبا په بل کوم ښار کې نشته . آیا ستا کله د ورتللو اتفاق شوی ؟
سنان : هو یو ځل د مالن روژ کلب ته می د هغې د تاریخي پس منظر د لیدو لپاره می سر ورښکاره کړی .
پاسکل : تاته معلومه ده چې په دې کلب کی د فرانسی مشهوره نڅا ( کان ، کان ) د لومړی ځل لپاره وړاندې شوی وه . او د لاترک په څېر مشهور رسام به ددې اشتهار جوړولو. سنان د کان کان د نڅا نوم په لومړي ځل اوریدلې وو نو ځکه خاموشه شو. او لاترک ؟ دا به هم څوک وی
د مومارت په نوم یوه بله منطقه هم شته چیرته چې د رسامانو ، آواره ګردانو او د نڅاګرو څخه پرته هلته بل څوک نه اوسیږي . ډیر بدنام ځای دی.
سنان په بیېنمانتیا سره یو ټوخې وکړ( آهم) اوس زه خپل ځان په کومه کټګورۍ کې وشمارم ؟
پاسکل : ولی؟
سنان : له ما څخه هیر شوې وو چې تاته ووایم چې زه هم د مومارت په منطقه کې اوسیږم .
پاسکل د شرارت څخه ورته وویل ښه نو تابه د تورو ویښتانو کومه بلا پیدا کړی وي د همدې له کبله هغه وخت ماسره د ملاقات لپاره رانغلی ؟
د تورو ویښتو والا ؟ سنان لږ وډار شو بیا ېې ورته وویل ضرور نه ده چې د بلا ویښتان دې تور وي ژیړ هم کیدلې شي .
پاسکل په خندا سره ورته وویل ته خو په ذاتیاتو باندې راغلی.
د تکسي درایور لکه چې په یو څه انګلیسي باندې پوهیده نو ځکه یې لږ وخندل .
تکسي د کنکورد د چوک څخه ووته او د شانزی لیزې په پراخه سړک روانه شوه چې د پاریس او د نړۍ د ښکلي سړک لقب ېې تر لاسه کړی او د ناهمواره تیرو څخه جوړ شوې دی .
پاسکل: کله چې ما ستا د صوبیدا دلنواز دا خبره خاله ته وکړه چې د پاریس سړکونه د ښېښني په څېر دي نو هغه ډیره حیرانه شوه .
سنان: د دوهمې خبری ذکر دی ورته ونه کړ؟
پاسکل : کومه خبره ؟

سنان : همغه د نیلي سترګو والا
پاسکل: نه ، پاسکل د خپلی خندا د ودرولو ناکامه هڅه وکړه او بیرون ته یې ولیده .
مخامخ د فتح محراب ښکاره کیده دا برخه هم دشپې په تیاره کې د پاریس د اکثره تاریخي یادګارونو په څیر د رڼاګانو څخه منوره وه. تکسي د محراب په دایروي چوک کې د ایونیو فاک خواته روانه شوه.
لږ وخت وروسته د نیولي پل راغی.
پاسکل ډریور ته وویل دلته کیڼ خواته موټر تاو کړه.
سنان په حیرانتیا سره ورته وویل کمال دی دا خو د بوی ډی بولون سیمه ده .
پاسکل ورڅخه پوښتنه وکړه تاته څنګه معلومه شوه؟
سنان: کیمپ ته خو همدا لاره تللی ده زه په همغه ورځ ددې ځای څخه مومارت ته تللې وم .
پاسکل: ددې مطلب خو دا چې ته عین زما د خاله د اپارتمان لاندې تیر شوې یی که چیرته زه په کړکۍ کې ناسته وم نو حتمي می پاس غوښتلی.
سنان: او که چیرته ماته دا معلومه وی چې ته دلته نږدې اوسیږې نو عین می ستا د اپارتمان لاندې خیمه نصب کوله.
لږ وخت وروسته ټکسي د پاسکل د لارښوونې مطابق کیڼ لاس ته د یوی ښکلی دری منزله کور له پاټک څخه تیره شوه او داخل ته ننوته.
سنان د ټکسي څخه راښکته شو او پاسکل ته یې تکیه ورکړه هغه هم له ټکسي څخه راښکته شوه.
پاسکل په دوهم منزل کې یو کور ته اشاره وکړه سنان ته یې وویل زما په اطاق کې رڼا ده معنی دا چې زما خاله تر اوسه پوری زما انتظار کوي .
سنان: د سبا ورځی په هکله دې څه خیال دی؟
پاسکل: هو زه اوس د سبا په هکله فکر کولې شم . پاسکل د هغه لاس ونیو ، ته له ماسره پاسه ولی نه ځی؟ یو پیاله کافي به وڅکی او بیا به ولاړ شی.او زما د خاله سره به هم وګوری.
سنان: نه په ما کی دومره توان نشته چې ستا د خاله سره وګورم ستا خاله به وایې چې دا همغه دی کنه چې تاسره له لندنه راغلی وو او بیا ورک شو .
سنان غوږونو ته په ګوتو وروړلو سره وویل نه ، نه
پاسکل ډیر زیات وخندل . ورته یې وویل ،ته خو رشتیا ډیر بی زړه یې . هسی زما خاله ډیره ښه ښځه ده. په اصل کی کله چې هغه ما خفه وګوری نو خپله هم ډیره خفه کیږي نو ځکه یې نن غرمه له تاسره ډیری سختی خبری وکړی.
سنان چې ساعت ته ولیدل نو یوه بجه کیدونکي وه . پاسکل ته یې وویل بله ورځ به بیا چیرته پاتی شم کنه اوس به ستا خاله بیا په دې خبره ماته په غصه وی چې زما ګرانه وریره دی د یوولس بجو پر ځای تر یوی بجی پوری ولی خفه کړی.
موسیو: د تکسي درایور د جواب ورکولو پوری په ډیر تحمل سره پخپله کرسۍ ناست وو او سګرټ یې څکه بیا یې سنان ته وویل که چیرته زما کار شوی وي نو ماته خپله کرایه راکړی

سنان ډریور ته ولیده ورته یې وویل یو منت او ژر یې پاسکل ته وویل په دې توره شپه کې به د مومارت لپاره ماته بله تکسي پیدا شي؟ ته ماته د سبا لپاره ووایه که چیرته ته سبا له ماسره ملاقات کوی نو ؟

پاسکل: زه خو تاسره اوس هم لیدل غواړم . سبا خو ډیر لیری دی .

د ټیکسي دریور په همدې کې څو ځل هارن وواهه

سنان په ډیر عذر او منت سره ورته وویل پاسکل لطفا

پاسکل : نو ته سبا زما اپارتمان ته ولی نه راځې؟ د غرمې د ډوډۍ د خوړلو څخه وروسته به بیرون ته ولاړ شو که څنګه؟

سنان ورته وویل ښه صحیح شوه نو بیا سبا سهار... د تیکسي دروازه یې خلاصه کړه او په تیکسي کې کښیناست . ډرایور پاتی سګرټ د موټر د کړکۍ څخه بیرون وغورځاوه کیلي یې تاوه کړه او تیکسي یې چالان کړه . تیکسي چې په حرکت راغله نو پاسکل چې لا د کړکۍ سره ولاړه وه د موټر د کړکۍ ښیښه یې وټکوله. سنان چې ښیښه ښکته کړه خو هغې خپل لاس وړاندې کړ سنان ته یې وویل شپه دې بخیر . سنان هم لاس وروغځاوه او هغې ته یې وویل پاسکل شپه دې پخیر. کله چې ټیکسي د کور د پاټک څخه ووته نو سنان شاته ولیدل چې پاسکل د دروازې په زینو باندې د یوی ښکلی مجسمې په څیر ساکنه ولاړه وه او تته رڼا کې د هغې سور کوټ ځلا کوله .

بیرته د تللو په وخت کې سنان په ټیکسي کې خاموشه ناست وو سګرټ یې څکل او د پاسکل په باره کې یې فکر کاوه . هغه ته دا احساس شوې وو چې پاریس داسی یو ښار دی چیرته چې د حقیقي جذبو نقش تر ډیره وخته پوری نه پاتی کیږي همدا علت وو چې په تیرو دوو ورځو کې هغه ددې ځایه څخه بیزاره شوې وو –کوم ښار چې هغه سبا سهار د هسپانیا لپاره پریښوده اوس د همدې ښار څخه د بیرته تګ تصور دده د وس خبره نه وه . اوس سنان ، پاسکل او پاریس لازم او ملزوم شوي وو.

د هغه د کور دروازه له داخل څخه بنده وه په آرام سره یې ور وټکاوه کوم جواب یې تر لاسه نه کړ خو یو ځل بیا یې چې هڅه وکړه نو په دننه هال کې رڼا شوه او دروازه خلاصه شوه. د طوطي والا بوډۍ په غصه ولاړه وه. سنان د ناوخته راتګ او ددې د مزاحم کیدو بخښنه تری وغوښته او بیا ژر په زینو پورته شو د خپل اطاق د دروازې مخ ته ودریده هغه د باراني کوټ په جیبونو کې د اطاق کیلي لټوله چې په همدې وخت کې یې د څنګ دروازه خلاصه شوه

هیلو سنان

سنان ورته وویل هیلو جیني ، او بیا یې ژر د اطاق دروازه خلاصه کړه او داخل ته روان شو خو جیني ورپسی په ډیره چټکتیا راغله او د هغه مخه یې ونیوله . هغې د غټو غټو سپینو او نیلو کربنو لرونکي یو ښکلی لباس اغوستې وو چې په هغې باندې بې شمیره ښنی وی.

جیني په غمګین غږ ورته وویل

سنان ! ته نن ماپسی ولی رانغلی؟ تا له ماسره وعده کړې وه

سنان چې په شونډو باندې یې د مصنوعي خندا د جوړولو هڅه وکړه ورته وویل اووه څو ملګری راپیدا شو هغوې سره مصروف شوم .

جیني : راپیدا شو او که جوړ شو ؟

سنان لږ په غصه ورته وویل ناڅاپه راپیدا شو او پخوانی بلدتیا مو وه .

جیني : تا خو ماته ویلي وو چې په پاریس کې څوک نه پیژنم . د جیني په لهجه کې شکایت وو

ناڅاپه سنان پخپله کړنه باندې پشیمانتیا احساس کړه ځکه ده خپله جیني سره وعده کړی وه چې نن غرمه به یې بیرون چکر ته بوځي. نو جیني ته یې وویل :

جیني زه ډیر افسوس کوم چې ما ونشو کولی جې تا نن چکر ته بوځم .

جیني : آځر ولی ؟

سنان : که علت ونه پوښتی نو ښه به وي

جیني په آرام سره ورته وویل ښه ته بیا زما اطاق ته راشه لږ ما سره کښینه.

سنان خپل لاسي ساعت ته ولیدل او جیني ته یې وویل

جیني ، دا وخت نه اوس ډیر ناوخته دی . دشپې دوه بجی دي تاته د آرام ضرورت دی .

جیني ورته وویل ، زه د دشپې په شوګیرو عادت یم .

سنان خپله دروازه غلې بنده کړه او د جیني سره د هغې اطاق ته ولاړه او د هغې سره په صوفه کښیناسته.

سنان ورته وویل زه یوازې پنځه منټه تاسره کښیناستلي شم ماته ډیر خوب راځي اسویلي یې وکړ او پوښتنه یې تری وکړه ښه ووایه څه ویل غواړی؟

جیني ورته وویل

نن سهار ستا د تللو څخه وروسته ما د بولیوار سان ژرمین څخه یو نوې لباس واخیسته ، همدا لباس – جیني د خپل لباس یو کونج ونیوه او پورته یې کړ او په هوا کې یې پریښود. او بیا تر

ماښام پوری ستا په انتظار کې په همدې صوفه ناسته وم . او ستا د خوښې سازونه مې اوریدل.

سنان د جیب څخه سگرټ راوویسته او سگرټ یې ولگاوه .

جیني ورڅخه پوښتنه وکړه سبا سهار خو به وزگار یې کنه ؟

سنان یو دم په تیزه لهجه ورته وویل ، نه . خو ژر یې د خپلې لهجې تندوالي احساس کړ. او ورته یې وویل – سبا خو نه ، بیا کوم بل وخت ، اوس خو لا یو څو ورځې پاریس کې یم . او بیا څه ضرورت دی چې بیرون ته ته ولاړ شو او سره وگرځو زه خو هسې هم تا سره په دې اطاق کې وینم .

جیني د خفگان څخه په ډکه لهجه کې ورته وویل ته لومړی نارینه یې چې ما دی اطاق ته پرته د کوم مطلب څخه راوغوښتی . ددې ځای هر شی مصنوعي دی او تر څو پوری چې زه په دې اطاق کې اوسیږم نو د غوښې او پوستکی د یوی ښځی په ځای خپل ځان د ربړ یوه نانځکه احساسوم . د خلکو د زړونو د خوشحالولو ارزانه او بیکاره نانځکه .

سنان په چوپتیا سره سگرټ څکه .

جیني ورته وویل ، زه ځم کافي جوړوم او متاسفانه چې ما نن هم د خپل ځان لپاره د کافي ډبی وانخیسته او ستا کافي همداسې استعمالوم .

سنان : د کافي زیاته برخه خو همدا زه څکم .

په دی وخت کې سنان ته ډیر خوب ورته .

جیني د صوفې څخه پورته شوه سنان ته یې وویل لومړی به زه دا خپل لباس بدل کړم .

هغه د نازکو پردو تر شاه ودریده او جامې یې بدلې کړی. د خوب د لباس د اغوستلو څخه وروسته یې نغری ولگاوه او د کافي لپاره یې اوبه ورباندې کیښودی. جیني د کافي د جوړولو په وخت کې ورته وویل، دا څو ورځی کیږي چې ما د نیوزیلینډ په سفارت کې په هغه هیواد کې د مستقل اوسیدو لپاره درخواست ورکړی دی. زه دلته نور اوسیدل نه غواړم زه د پاریس څخه ستړی شوې یم .

سنان ورته وویل

زما په فکر کانادا به غوره وي هلته لا د مخکې څخه ډیر فرانسویان اوسیږي .

جیني : د همدې له کبله خو هلته نشم اوسیدلې . د جیني په سترگو کې اوښکی ډند شوی.
چیرته چې فرانسویان وي نو ماته به تل ډار وي چې په دی کې چیرته څوک زما بلدي راونه وځي. زه غواړم چې خپل ژوند له سره په آبرومندانه ډول پیل کړم تر څو ماسره چې څوک د

ليدو وعده وکړی نو زما د شخصي ژوند د ښه والي او بدوالي څخه يوازې د بدوالي په نظر کې نيولو سره خپله اراده بدله نه کړی.

د جيني او پاسکل په خبرو کې حيرانوونکي مشابهت وو. هغه هم ددې ډول احساساتو ښکار وه . اما د جيني انديښنه تر يوه حده پوری صحيح وه. هغې ته دا معلومه وه چې سنان ددې له کبله د هغې پسی نن غرمه راغلی چې د هغې د کار او پيشې څخه يې نفرت کاوه په داسې حال کې چې په غلطۍ هم وه .

سنان د صوفي څخه د پورته کيدو په وخت کې ورته وويل ، ما د چا د بدوالي او ښه والي له کبله خپله اراده نه وه بدله کړی.

جيني په ډک غږ ورته وويل ، بيا نو ته ولی راغلی ځکه کنه که چيرته ته له ماسره يو ځای ګرځيدلي وی نو خلکو به په تا ملنډې وهلی وی او تاته به يې ګوته نيولې وی چې د مشرقي د يو ښکلی ځوان په ټول پاريس کې يوازې دا بده جينی خوښه شوه .

سنان د جيني خواته ورغی هغې ته يې وويل ، زه د پاسکل سره مخ شوم .

سنان ته دا مناسبه ښکاره نه شوه چې جيني په تياره کې وساتي .

جيني: کوم پاسکل ؟

د جيني  غږ دومره اوچت وو چې سنان يې حيران کړ.

سنان ورته وويل ، ستا په څېر يوه عادي  جينی ده .

جيني : که زما په څېر وه نو تا ولی زه پريښودم او د هغې ليدو ته ولاړی؟

سنان ورته وويل ، زه د هغې ليدو ته نه وم ورغلی بلکه اتفاقا سره مخ شو .

د جيني غږ چې اوس يو څه آرام شوې وو له سنان يې وپوښتل هغه څوک ده ؟

سنان د هغې په اوږه لاس کيښود او په نرمۍ سره يې ورته وويل ، ما درته وويل کنه يوه عادي جينی ده.او بيا يې د ستيمر څخه تر شانزی ليزی پورې د اتفاقا ملاقات ټوله قصه ورته تفصيلي بيان کړه. کافي جوړه شوې وه نو هغه بيرته صوفي ته راغی او کښيناست.

د جيني په غږ کې چې د حقارت په ځای اوس يو څه همدردي وه له سنان يې وپوښتل ، هغه بيچاره معذوره ده؟

سنان لږ په سخته لهجه ورته وويل هو معذوره ده . اما د مالپاره نه ده. جيني هغه ډيره ښه جينی ده. ډيره ښه

جيني په خندا سره ورته وويل ( لا آمور) . د جيني په خندا کې طنز وو.

سنان ورته وويل ، دا څه معنی ؟



www.afghanmedia24.com

جيني ورته وويل ، لا آمور معنی مینه

سنان ورته وويل ، نه داسې خو نه ده ، سنان سنجيده شو ، بيا يې ورته وويل خو کيدلې هم شي، خو زه ددې جذبې سره بلد نه يم چې اوس څه ووايم .

جيني هيڅ جواب ورنه کړ او په خاموشی سره يې کافي څکله ، لږ وخت وروسته يې سر پورته کړ او سنان ته يی وويل ، ميوزيک به اوری ؟

سنان : نه دا وخت نه

جيني : ستا خو ستا خو ستار ډير خوښ دی

سنان : هو خوښ می دی خو تاسره خو همدا يو ساز دی چې په هر ځل اوريدو يې نور ډير ستړی شوم .

جيني : په يو څه ډول به ته د پاسکل څخه هم ستړی شی .

سنان د خندا څخه پرته پاتی نه شو . همدا اوس څو لحظې مخکی همدې جيني د پاسکل نوم په څومره حقارت سره اخيستې وو . او بيا د همدردئ منزل راغی . او اوس هغه په زړه کې د حسد د پټی شوې جذبې څخه پرته نشی پاتی کيدلی . سنان ورته وويل:

جيني ! ددې خبری نوبت به نه راځی . تاته خو معلومه ده چې يو زه سياح يم . په پاريس کې به د يو څو ورځو د باتې کيدو څخه وروسته  ددې څخه بيرته ولاړ شم .

جيني شونډې سره ټولی کړی سنان ته يې وويل هو نو ولاړ به شی . خو ته چې د پاسکل نوم په څه ډول اخلی نو ستا د لهجې څخه زه پوه شوم چې ته د هغې سره ډيره مينه لري . او به هيڅکله له پاريس څخه ولاړ نه شی .

سنان ورته وويل، ته په غلط يې . خو سنان دا جمله په ډيره مشکل سره ادا کړه ځکه دده د زړه غل ددې خبری شاهدي ورکوله چې جيني صحيح وايي.

جيني په يوه مخصوصه ادا سره ورته وويل ، رشتيا

سنان ورته وويل ، د ستيمر د ملاقات څخه وروسته نن موږ لومړی ځل يو د بل سره وليدل او ښکاره ده چې په دومره لنډو ملاقاتونو کې داسې جذبات نه رابرسيره کيږي . ددې لپاره خو يو وخت ته اړتيا ده .

جيني د کافي پياله په ميز کينوده او سنان ته يې وويل،

سنانه ، تا خو اوس خپله اعتراف وکړ چې ته په دې معاملاتو کې تجربه نه لری . اما زه ... په همدی سره جيني بی حده خندا پيل کړه لکه خپل ځان ته چې  خپله اذيت ورکوي .

سنان خاموشه وو .

لږ وخت وروسته کله چې جیني د خپلې خندا د قابو کولو په هڅه کې کامیابه شوه نو بیا یې خبرې پیل کړې

ته باید دا ومنی چې زما په څېر ښځې په دې معاملو باندې ښه پوهیږي . او که پوه نه شي نو باید د ولړی څخه مړی شی . د محبت په څېر د جذباتو لپاره د وخت کوم قید نه وي . سنان مواشیرى

سنان پیاله پر میز کیښوده ، د صوفی څخه رابورته شو. جیني ته یې وویل د کافی څخه مننه، زه سبا سهار چیرته ځم .

جیني په ترخه لهجه ورته وویل ، واو نو چیرته ځې ، د پاسکل سره وینې ؟

سنان لږ په غصه ورته وویل ، هو ورسره وینم ته څه اعتراض لرې ؟

جیني ورته وویل ، ګرانه زما په پیشه کې خو د اعتراض د لفظ هیڅ ګنجایش نشته .

سنان: او داد ګران په څېر عبث الفاظ زما نه خوښیږي .

جیني : وبخښه ګرانه. هغې د سترګو په څرخولو سره ورته وویل عادت شوې یم . د هر چا نوم مې په ذهن کې نه پاتې کیږي. بس په همدې ګران باندې کار چلوو.

سنان په ډیره غصه ورته وویل ، شپه دې په پخیر او په ډیره غصه یې د اطاق دروازه خلاصه کړه او بیرون ته ولاړه. هغه چې د خپل اطاق دروازه خلاصوله او ننږدې وو چې داخل ته ننوځی نو جیني ورغږ کړ

سنانه

سنان : څه شی دی؟

جیني :آیا پاسکل ښکلی ده ؟

سنان بې اختیاره وخندل او د جواب ورکولو څخه پرته اطاق ته ولاړه او بیده شو .

په سبا سهار چې د سنان سترګې خلاصې شوی نو د نیمه خلاصې کړکې څخه د لمر وړانګې دده تر سر پورې رارسیدلې وی. کله چې یې ساعت ته ولیدل نو یوولس بجې وی. هغه ژر ژر ژیره جوړه کړه. مخ ته یې یو څو لپې اوبه واچولې او د لباس په بدلیدو یې شروع وکړه . هغه د نیکتایې د تړلو هڅه نه کوله . نو د بندې کوټې څخه د پیرل شوي شرټ سره یې نیلي کوټ واچاوه . مخکې له دی څخه چې د اطاق څخه ووځی نو ټول ضروري شیان یې په شمار سره پخپلو جیبونو کې واچول. که چیرته ددې شیانو څخه به یو هم دده په جیب کې نه وو نو ده به

www.afghanmedia24.com

ټوله ورځ یو نیمګړې احساس کاوه . او دا شیان نو څه وو ؟ دا د سګرټو ډبې، لیټر، رومال، د لمر عینکې، قلم ، کیمره، او پاسپورټ . په پاکستان کې چې به کله هم هغه د خپل نږدې ملګري سعادت کورته ورته نو د راتلو په وخت کې به هغه تل دا ورته ویل ، یار سنانه ، خپل ټول شیان دې په شمار ددې ځای څخه یوسه کنه بیا به په نیمه شپه مسلسل ټالۍ وهی او واېې به چې های نن می رومال دلته پاتی شوی وو.
هغه چې بیرون ووته او خپل اطاق یې قلف کاوه نو د معمول سره سم د جیني د اطاق دروازه خلاصه شوه.
جیني سنان لږ وچیره او ورته یې وویل ، په نیلي کوټ کې ډیر ښکلی ښکاری .
سنان د اطاق کیلي پخپل جیب کې واچوله او کله چې لاندې ښکته کیده نو جیني ورته وویل یوولس نیمي بجی ستا سهار وی؟ هغه د سنان د چیرلو پسې وه .
سنان په بیزارۍ سره ورته وویل ، ستا ددې سره څه کار دی؟
جینې : بیچاره به انتظار کوی
کله چې هغه په زینو ښکته کیده نو جینې هم ورسره یو ځای روانه شوه او ورته یې وویل ، کافی خو وڅکه
سنان : نه
جیني : ستا د خپل ډبي ده
سنان : نه زما عجله ده
جیني : لطفا ګرانه
جیني د ګرانه د کلیمي د ویلو په وخت کې د ( ګرانه ) په کلیمه زور راوړ او خوله یې ورانه کړه .
سنان جواب ورنه کړ
جیني په ډیره مینه د هغه اوږه ونیوه او ورته یې وویل ګرانه سنانه :
سنان د ډیری غصی څخه اور واخیسته د هغې لاس یې د خپلی اوږې څخه لیری کړ او ورته یې وویل کار ته ولی نه یې تللی ؟
جیني : زما کار خو دشپې د نهو بجو څخه وروسته پیل کیږي .
سنان خوله ورانه کړه او په غصه یې ورته وویل ، ښه لږ تر لږه خو تیارې ورته ونیسه ته خو د سرخي او د نور سینګار لپاره هم ډیر وخت ته اړتیا لری .
جیني هم په غصه شوه، سنان ته یې وویل ، آیا د طعنی د راکولو څه ضرورت شته ؟ ځمه هسی که کافی دي څکلې وی نو موډ به دې لږ ښه شوی وو. او په ډیره غصه اطاق ته ولاړه.
کله چې سنان لاندې هال ته راغی نو هلته د میرمن ژي او د هغې د مور د لیري ،لیری پوری نښه نه ښکاره کیده . خو البته د طوطي پنجره په یو کونج کې پرته وه . طوطي هم لکه چې اوس دده د موجودیت سره بلد شوې وو نو ځکه خاموش وو. هیڅ ټیغ ټیغ یې ونه کړل .
د سنان په زړه کې د طوطي د ګنجي سره په لیدو سره دده په سر باندې د څپیړې د وهلو خواهش پیدا شو. خو بیا په دې احمقانه فکر ورته ځان بد ښکاره شو او د کور څخه بیرون ولاړه .

کوڅې ته چې راغی نو هغه د سیکرې کر د کلیسا خواته روان شو. هغه د کومې ټکسي په لټه کې وو. په لاره کې د پګال قهوه خانه هم راتله چې په لیدو یې هغه مصور ( پال ) وریادیده . هغه د ځان سره فکر وکړ چې د پاریس څخه د تللو مخکې به هغه حتمي یو ځل د هغه لیدو ته ورځي.
هغه تر ډیره وخته پورې په چوک کې ولاړ وو. خو ټکسي موټرې به د مسافرو څخه ډکې راتللې. خو بالاخره هغه تر نیولي پل پورې د ترام په موټر کې کښیناسته . کمه مصرفه او دوهم منزل . تیره شپه چې څومره پیسې د پاسکل د کور څخه تر مومارت پورې د ټکسي به کرایه باندې مصرف شوې وو نو په هغو پیسو باندې تر راتلونکو دریو میاشتو پورې په ترام موټر کې سفر کیدلی شو. دا چې دا رسمي او دفتري وخت هم نه وو نو د ترام په موټر باندې رش هم کم وو او اکثریت کرسۍ خالي وې. د سنان په خوا کې یوه بوډۍ ښځه ناسته وه چې په لاسونو کې یې یو غټ سګرټ نیولی وو او په غیږه کې یې یو چاق سپی ښه په مزې سره ناست وو.د یو څه وخت وروسته سپي د سنان سره د دوستانه اړیکو د جوړولو هڅه پیل کړه.سپي په قراره خپله نمجنه مښوکه د سنان په غیږ کې کېښوده او خر ، خر یې پیل کړل . د سپي ددې حرکت له کبله بوډۍ ښځه په خندا شوه. او د سنان خواته یې ولیدل . سنان هم اخلاقا په شونډو باندې یوه پیکه خندا راوسته .
تر اوسه خو هر څه په خیریت سره تیر شو خو شاید چې د سنان پشمي کوټ د سپي خوښ شوې وو. نو ځکه سپی د خپلی مالکی د غیږ څخه مکمل د سنان غیږې ته راغی او د سنان په غیږه کې کښیناست. او دده د خوله په لمس کولو یې پیل وکړ.
شخصا د سنان سپي ډیر خوښیدل. که چیرته هغه دده څخه لږ تر لږه د یو فرلانګ په فاصله وي نو – د بل اړخه دا شریر سپی یو څه ډیر فري کیده . ده د سپي د لمدې مښوکې څخه د خپل مخ د ساتلو په موخه په لاس باندې د سپی د لیرې کولو هڅه وکړه .
بوډۍ ژر ورغبرګ کړ مه داسې مه کوه . بیا یې د سګرټ څخه یو اوږد کش وکړ. او سنان ته یې وویل ، ډیر ژر په غصه کیږي او خوړل کوي .
د ( خوړل کوي ) په خبرې سره د سنان پښې او لاسونه یخ شو. د سفر په وخت کې هغه دوه ځل د خطرناکو ځناورو سره مخ شوی او هغه ډیره زړورتیا هم ښودلې وه. خو البته د سپو قصه څه جدا وه .
سپي چې به په قراره یو پخ هم وکړ نو د سنان پښې او لاسونه به په ریږدیدو شو . لکه څنګه چې عام خلک د کاونټ ډریکولا او د فرینکنستاین په څیر د خوفناکه قصو په لوستلو به تر شپو ، شپو نه شو بیده کیدلی په همددې ډول د سنان خوبونه د پطرس بخاري د کتاب ( سپي) په لوستلو ورک شوي وو .
بوډۍ ښځې سنان ته وویل، ته ډیر خوش نصیب یې . ډوکي ډوکي هیڅکله هم د کوم اجنبي سره دومره ژر نه فري کیږي .
ډوکي ډوکي لکه چې د سپی نوم وو.
سنان په لړزیدلي غږ ورته وویل، هو بې شکه زه پخپله خوش قسمتۍ باندې ناز کولی شم . د سپی څخه د خلاصیدو په موخه هغه یو سټاپ مخکې ښکته شو . د هغه په مخ باندې لګیدلي

ګرانبیه کریم ټول خراب شوي وو. اور اب اس کی کوٹ می سی طبیلی کی لپټی اته رهی تهی
کله چې سنان د پاسکل د کور مخ ته ورسیده نو هلته د اوسپنیز پاټک په څنګ کې یوه کوچنۍ دروازه وه چې په لږې دیکي سره هم خلاصه شوه او سنان باغیچې ته داخل شو. په روښانه لمر کې سپین کور ډیر ښکلی ښکاره کیده.
سنان د لیرې څخه یو غږ واوریده ، سنانه
سنان چې پورته ولیدل نو پاسکل په کړکۍ کې ناسته وه او ده ته یې لاس خوځولو. دا چې د کړکۍ ښیښه بنده وه نو د هغې غږ ډیر تت راته . ده هم په جواب کې ورته لاس وخوځاوه او د مرکزي دروازې څخه تیر شو د لرګیو په زینو پورته شو او د پاسکل د اپارتمان مخی ته ورسیده. هغه چې څنګه د دروازې ټالۍ زور کوله نو دروازه پخپله خلاصه شوه او د سترګو په رپ کې د پاسکل لاسونه د هغه د غاړې څخه تاو شو . سنان د داسې دلکشه استقبال لپاره تیار نه وو . نو لږ وډار شو هغه د پاسکل دواړه لاسونه ونیول او د خپلی غاړې څخه یې لیرې کړل . د جیب څخه یې رومال راوویسته او پخپل تندي باندې یې د خولو څاڅکي وچ کړل .
سنان : ښه ګوره ............ اممم . زما مطلب دې چې ستا ترور به څه وایې .
پاسکل : پاسکل په غصه ورته وویل . خاله په کور کې نشته . او بیا یو قدم د سنان خواته وړاندې شوه چې سنان د لاس ورغوی د هغې به تندي کیشوده او همله یې ودروله . دا تا د بل فایټینګ چل له کوم ځای څخه زده کړی ؟
پاسکل د هغه لاس ونیوه او کور ته یې دننه بوته .
پاسکل : زه د سهار له اتو بجو څخه په کړکۍ کې ستا انتظار کوم . ته چې معطله شوی نو زما په زړه کې د محرومې د احساس بوج کښیناسته . نو څکه ستا په لیدو دومره خوشحاله شوم .
سنان د هغې د خاله په باره کې تسلي کوله نو له هغې څخه یې پوښتنه وکړه خاله دې چیرته ده ؟
پاسکل : هغه د سهار راهیسي دفتر ته تللې ده . پنځه بجی به راځی. د هغې دوه کوچنیان د سیل لپاره د مکتب سره جنوبي فرانس ته تللی دي . دوه هفتی وروسته به راځی . او د ترور خاوند می مړ شوې دی . هغه هیڅکله نه راځی . نور څه ؟
سنان د اطمنان ساه واخیسته
سنان په ولاړه ولاړه ورځخه وپوښتل نو بیرون ته ځو ؟ اصلا سنان په دې کور د پاسکل سره د یوازې پاتې کیدو څخه ډاریده .
پاسکل : نن بیرون ته نشو تللی . پاسکل د سنان لاس ونیوه او په صوفه یې کښیناوه .
سنان ژر بیرته پورته شو ، پاسکل ته یې وویل نن خو بیرون ډیر ښکلی موسم دی . روښانه لمر دی او شنې ونې دي .
پاسکل: خاله پنځه بجې راځی. نو زه د هغې په نشتون کې بیرون ته څنګه تللې شم . هغه به خفه شي . زه تل هغه خبروم او بیا بیرون ته ځم .

سنان : په یو کاغذ باندې یو پیغام ولیکه او هغه ورته په میز پریږده .
پاسکل د کوچنیانو په څېر سر وخوځاوه او سنان ته یې وویل نه نن بیرون نشو تللی .
سنان : لیکن نن روښانه لمر .....
پاسکل : زه به د خپل اطاق غته کړکۍ خلاصه کړم لمر به مکمل اطاق ته راشي . او تاته به د هغه ځاې ښخه ونې او نور شیان هم ښکاره کیږي .
پاسکل د هغه څنګ ته راغله او ورسره کښیناسته او سنان ته یې وویل ، سنانه ، زه هم په دې ښکلي موسم کې بیرون ته تلل غواړم خو نن زما په ګونډه کې سخت درد دی . مجبوري ده .
سنان ورښخه وپوښتل ، آیا د تیرې شپې د مزل له کبله په کې دا درد راپیدا شوې دی ؟ د هغه په لهجه کې تشویش وو .
پاسکل : هو ، هغه وخت هم په کې لږ، لږ درد پیدا کیده خو ما مناسبه ونه ګڼله چې تاته ووایم .
سنان : پاسکل ماته به دې ویلي وو
پاسکل : سنان زه پرون ورځ دومره خوشحاله وم که چیرته تاسره په تلو تلو کې هملته د سین د دریاب په غاړه غورځیدلې او مړه شوې وم نو ماته به کوم افسوس نه وو .
سنان : آیا د درد له کبله ډیره به تکلیف کیږی؟
پاسکل: تکلیف خو وی .نن سهار خاله داکتر ته بوتللی وم . هغه ماته د ښو ورځو لپاره د مکمل ارام مشوره راکړه.پاسکل په قرار سره خبل سر د سنان په اوږه کیښوده. او سنان ته یې وویل داسې آرام .
سنان ورته وویل هو ضرور او بیا یې په ډیره سنجیدګې ورته وویل ، پاسکل زه ډیر افسوس کوم چې ته زما له کبله ډیره په تکلیف یې .
پاسکل: نه ، نه داسې مه وایه .ستا له کبله خو په ما کې د دومره سخت درد د زغملو همت پیدا شو کنه په عام ډول زه په دې حالت کې پخپله بستره باندې آرام پرته یم .
سنان: آیا ددې علاج نشی کیدلی؟
پاسکل: نه ، د پیینې ښخه وروسته زه تر ښو میاشتو پورې په یو روغتون کې وم او بیا پوره یو کال په کور کې د داکټراتو تر نظارت لاندې وم . بیا پلار جان می زه د ستریت یو متخصص داکتر ته هم وښودلم مګر هغه هم جواب راکړ د درد د شدت د کمولو لپاره زه هره ورځ درې ګولۍ خورم او په اونۍ کې دوه ځله ستن هم لګوم .
سنان : زه ډیر افسوس کوم ..... د همدومره ویلو ښخه پرته سنان ونه توانیده چې نور څه ووایې .
پاسکل : بیا همغه افسوس او همدردی – دا خبرې پریږده . راځه زه تاته خپل اطاق درښایم .
سنان د صوفې څخه د پورته کیدو په حالت کې وو چې پاسکل د هغه په کوټ کې تور اوږد ویښته ولیده هغه یې راوویسته د مخ څخه یې د پاسکل اوږه ونیوه او بیرته یې شاه خواته دیکه کړ او په غصه یې ورښخه وپوښتل دا څه شی دی ؟
سنان ورته وویل نه پوهیږم چې داد کوم ځای څخه راغلی دی. هغه خپله هم حیران وو.

د پاسکل ځیره د غصې څخه تکه سره وه او هغه ته يې وويل ، ددې مطلب دادې چې د هغې د وينتو رنګ (بهورا) دی .
سنان په ډیره پریشانی ورڅخه پوښتنه وکړه د چا وينته ؟
پاسکل : د همغې بلا ، چاته چې تا لړ وخت مخکی غاړه ورکړی وه . دا ويښته د کومی ځينی دی .
سنان وويل ، کمال دی ماته خو هيڅ معلومات نشته چې دا د کومه راغلی دی .
سنان هم نه پوهيده چې دا بدبخته وينته د کوم ځای څخه راغلی دی . هغه واقعا د یوی جينۍ وينته معلوميده .
پاسکل د ګوتو په نخولو سره ورته وويل ، هو کمال دی ما هم د ځان سره وويل ، چې دا زما د استقبال له کبله ته دومره ولی وډار شوی .
سنان ورته وويل ، پاسکل يقين وکړه ، پاسکل د هغې د پوه کیدو ډیره هڅه وکړه خو د هغې غصه په کميدو نه وه .
پاسکل ورته وويل ، زه څنګه يقين وکړم ستا په کوټ باندې د غاړې سره نږدې د ښکلی او بدی جينۍ وينته ددې خبری ګواهي ورکوي چې ته همدا اوس ، اوس .... د پاسکل غږ د جذباتو د شدت له کبله کښيناست. او بيا ، او بيا هغې بلا ته زما لخوا دا هم وواپه چې هغه ډير خراب عطر استعمالوي ستا د کوټ څخه ډير بد بوي راته .
سنان حيران شو ، له ځانه سره يې په قراره وويل ، بوی؟ او تور وينته ؟ بيا هغه ته ورياد شو چې د ترام په موټر کې چې کوم سپی دده په غيږ کې تاويده راتاويده نو د هغه ( بهورا) رنګ وو. سنان بې حده وخندل .
پاسکل ژر ورته وويل په دې کی داسی د غابنونو د ويستلو څخه خبره ده .
سنان ورته وويل
خبره داسې ده --- سنان بيا په خندا شو – سنان د خپلی خندا د بنديدو ناکامه هڅه کوله . په حقيقت کې دا وينته او دا عجيبه بوی د يو سپي دی چې د ترام په موټر کې زما غيږی ته راغی .
پاسکل په بې اعتماده ډول د هغه خواته وليدل او ورته يې وويل د سپی ؟
سنان ورته وويل هو ، هو د يو سپي د يو بهورا رنګه چاق سپي.
د پاسکل اوس هم يقين نه کيده سنان ته يې وويل نه ، نه ته اوس بهاني کوی .
سنان ورته وويل ، پاسکل زه ربنتيا وايم ،که چيرته هغې بدبخته بوډی زه په دې خبره دار کړې نه وم چې دا سپی خوړل کوي نو ما به همغه وخت د ترام د موټر څخه لاندې غورځولې وو .
سنان بيا هغې ته مکمل تفصيل بيان کړ.
پاسکل ورته وويل ، ښه قصه خو دی جوړه کړی ده خو څه خير زه په تا باور کوم او بيا په خندا شوه .
سنان يو ځل بيا د صوفی څخه د پورته کيدو په وخت کې ورته وويل موږ شايد ستا د اطاق خواته روان وو.



www.afghanmedia24.com

پاسکل راوړاندې شوه د هغه مټ یې ونیوله . د اپارتمان په منځ کې د دریو کوچنیو ، کوچنیو زینو څخه تیر شو او بیا یو ښکلی اطاق ته ورسیدل چې د هغې کړکی د سړک خواته خلاصه وه .
پاسکل د سنان څخه یو څو قدمه وړاندې شوه . کړکی یې خلاصه کړه او سنان ته یې وویل ښه راغلاست ... ته لومړی میلمه یې چې زما اطاق ته راغلی . سنان تر ملا پورې ټیټ شو او پاسکل ته یې وویل ستا د درناوي څخه مننه . د اطاق ښکلي سینګار ددې د اوسیدونکې د ښه ذوق ښودنه کوله . سره ددې چې اطاق کوچنی وو خو د یوې ځوانې نجونې د ضرورت ټول سامانونه په کې موجود وو. د سپینو فرانسوي کړکیو یوې خواته سینګار میز وو چې په هغې باندې د قیمتي عطرو د یو دوه بوتلونو او د سپینو زرو د ږمنځی څخه پرته بل څه نه وو. د کړکی بلې خواته یو سپین رنګه پالنګ وو چې په هغې باندې یوه پاکه بستره غوړیدلې وه د پالنګ او د سینګار میز تر منځ یوه ښکلی آو آرامه کرسۍ پرته وه چې مخ یې د کړکۍ خواته وو.د اطاق په یو کونج کې د کتابونو څخه یو ډک شیلف وو چې د هغې له پاسه ټیپ ریکارډ او کیسټونه ډیر په منظم ډول کینودل شوي وو.
د پالنګ سره په نږدې دیوال باندې د مختلفو مجلو څخه پرې شوي تصویران لګیدلي وو. په دې ټولو تصویرانو کې یو شې مشترک وو او هغه حرکت وو. په واورو کې نښتې کومه جینۍ، د لامبوزنی د مسابقې تصویران، د موټرو د ځغاستې مختلف تصویران ، د مختلفو زاویو څخه د اولمپیک د لوبو تصویران ، د نڅا مختلف تصویران او په خاص ډول د روس د مشهورې خیرې د بیلي رینا اولانووا د نڅا (بیلي نڅا) بې شمیره تصویران . دې ټولو تصویرونو د پاسکل محرومي ښکاره کوله. هغه چې خپله په ژوند کې د کومو کارونو د کولو څخه محرومه وه د هغې تصویران یې په دیوال کې لګولي وو تر څو د هغې کمې بوره کړی. د تصویرانو په منځ کې د دنیا یوه ستره نقشه ځړیدله او عین د نقشې پورته د سپینو زرو دوه غوږوالی ځړیدلې .
سنان ورڅخه پوښتنه وکړه دا غوږوالی دي؟
پاسکل د خوشحالی څخه د سر په خوځولو ورته جواب ورکړ هو ، هو
سنان ورته وویل، هو غوږوالی دي ، دا اصلا پاکستانی دي. د بلوچستان د صحراوو د خانه بدوشو نجونو غوږوالی
پاسکل په معصومیت ورڅخه وپوښتل ، ربښتیا ؟
سنان : هو ، بالکل ربښتیا
پاسکل : په غوږونو یې کړم ؟
سنان د اثبات لپاره ورته سر وخوځاوه .
پاسکل خپل بوټان وویستل پالنګ ته ورجیګه شوه او په دیوال راځړیدلې غوږوالی یې راواخیستی. سنان لاس وراوږد کړ او هغه ددې په مرسته بیرته لاندې راښکته شوه.
پاسکل سنان ته وویل ، تاته خو به معلومه وي چې دا څنګه اچول کیږي همدا ته یې راته واچوه . سنان په خندا سره ورته وویل کله خو مې داسې نه دی کړی خو خیر په هر صورت

هڅه به وکړم.بیا یې غوږوالی د پاسکل په غوږونو کې واچوالی د غوږوالیو سره کلیب هم لګیدلې وو.
په آروپا کې ډیرې نجونې د مشرقي د ښکلي لباس او ګانو تر رعب لاندې راځی او د هغې د خپلولو هڅه کوي خو نتیجه یې ډیره مضحکه خیزه وي. که چیرته اوږده ساړهې واچوي نو د یو باوقاره تګ په ځای به داسې په کې روانه وي لکه د ګوندو پورې چې یې یو کوچنی سکرټ اچولی وي. که چیرې د په تندی باندې یې د تیکي ( تلک ) د اچولو لپاره زړه وشي نو د ښکلا د اضافه کولو په ځای به په سرک باندې د ترافیکو د سپینو کرښو په څیر شي. خو پاسکل په دې غوږوالیو کې هیڅ اجنبې نه ښکاره کیده. د هغې د ګرد مخ او پری شوو ویښتانو سره دا غوږوالی ډیرې ښکلی ښکاره کیدلی. داسې ښکاره کیده لکه هغه چې ددې غوږوالیو د اچولو سره عادي وي او هغه ددې غوږوالیو په اچولو اچولو کې د کوچنیوالي د مرحلې څخه د ځواني په مرحله کې داخله شوی وي.
پاسکل خپله څیره سنان ته ورنږدې کړه او ورڅخه یې وپوښتل څنګه ښکاری؟
سنان ورته وویل ، ته هم په دې کې لکه د یوی بلوڅۍ خانه بدوشې جینې په څیر ښکاره کیږی.
پاسکل ورته وویل، سنانه ، ما اوریدلي دی چې ستاسو په وطن کې خانه بدوش خلک د سپرلي د موسم سره سم سفر کوي آیا دا رشتیا ده؟ د پاسکل څیره د خوشحالۍ څخه غوړیدلې وه .
سنان هغې ته د خانه بدوشو کوچنیانو د خلکو په باره کې معلومات ورکړل چې هغوی خپل اوږد سفر د ګرمۍ په موسم کې د روس د سرحد سره نږدی د بدخشان د ولایت څخه پیل کوي او بیا د هندوکش د لوړو درو څخه تیریږي کابل او بیا د خیبر د درې د لارې څخه پاکستان ته داخلیږي د ژمي موسم د جهلم او د ډیره اسماعیل خان د سیمې په شاوخوا کې تیروي او بیا د پسرلي په موسم کې بیرته په همدې لارو ستنیږي.
پاسکل : ته خو هم د هغې خانه بدوشو په څیر د سپرلي په راتلو سره سفر کوي؟
سنان : هو اما فرق دادې چې زه خو یوازې د خو میاشتو لپاره د وطن څخه راغلي یم او د خانه بدوشو کوچیانو سفر د تیرو څو زرو کالو څخه روان دی.
پاسکل : ستا بیرته تګ به په کومو لارو وي ؟ سنان ددې پوښتنې په کولو سره خفه ښکاره کیده .
سنان یو قدم وړاندې شو په دیوال باندې د دنیا نقشه لګیدلې وه په هغې یې ګوته کینوده پاسکل ته یې وویل ، دا فرانس دی او دا پاریس دی . زه به ددې ځای څخه د هسپانیا لپاره روانیږم.
پاسکل : څه وخت ؟
سنان : درته وایم ، سنان د بیرته ستنیدو د سفر په ښکلي تخیل کې ورک وو. په هسپانیا کې د قرطبه ، شلیه ،او د غرناطه د لیدو څخه وروسته به زه د سویټزرلینډ څخه آستریا ته ځم . او اورینت ستر مشهور ایکسپریس به ما ددرې ورځو د اوږده سفر څخه وروسته استنبول ته ورسوي. د استبول څخه به په موټر کې سپور شم او روم ته به ولاړ شم . او بیا به د هغه ځای څخه په بس کې نهران ، کابل او بیا لاهور ته ولاړ شم .

پاسکل د لاهور نوم په سقطه ،سقطه واخیسته ( لاهو-----ر ) او سنان ته يې وویل ستا د ښار نوم هم ډیر ښکلې دی.
سنان: هو ، هو بلکل خو د نوم څخه پرته زما لاهور د ځمکي په مخ د ټولو څخه ډیر ښکلی ښار دی. د سنان په سترګو کې خپل وطن ته د بیرته ستنیدو تنده د ورایه څخه بریښیده .
پاسکل ورته وویل
لیکن سیاحان خو د خپل وطن یاد نه ځوروي. ځکه چې هغوی خو د نورو افقونو په تلاش کې وي.
سنان: ته شاید صحیح وایې. سنان په پالنګ کښیناست.د هغه سترګې تر اوسه پوری په نقشه کې ښخې وی. خو ما خپله تر اوسه پورې په دی باره کې کوم تصمیم نه دی نیولی. اوس خو ماته داسې احساس کیږي لکه ما چې د یو سیاح لومړنې شرط هم نه دی پوره کړی. ما همیشه د وطن یاد ځوروي. او کور ته د بیرته تللو ناقراري د هغو خلکو په زړونو کې وي چې د هغوي نظر محدود وي. زموږ یو ستر شاعر سیاح د یو داسې ممولی مارغه سره تشبیه کړې دی چې تل د کونجو په څیر د نوو افقونو په تلاش کې پرواز کوي او ددوي دا پرواز دا سفر دوې د ذات ، صفات او د رنګ د چګړو څخه بیا نیازه کوي زه خپله ددې دریو کیفیتونو په چدا کولو کې ناکام شوې یم .
پاسکل ورته وویل
زه هم شاید د کونجو د مارغه په څیر یوه ورځ پرواز وکړم او ستا خواته لاهور ته درشم. د پاسکل څیره سره سره ځلیده او د هغې د لهجې څخه داسی ښکاره کیده لکه هغه چې د خپل زړه د خواهش اظهار کوي.
سنان وخندل او پاسکل ته يې وویل
شاید تر هغه وخت پورې ستا هغه شهزاده هم راشی کوم ته چې ته انتظار کوی چې بیا تا په یوه طلایې پنجره کې قید کړی.
پاسکل ورته وویل
زما انتظار خو څومره وخت وشو چې ختم شوې دی.
پاسکل خپلې نیلې سترګې په سنان کې ښخې کړی لکه د کوم جواب انتظار چې کوي.
بیا په قراره د پالنګ څخه پورته شوه او د کتابونو د آلماریٔ خواته ولاړه. هغې د الماریٔ څخه یو کتاب راوویسته او سور پنسل يې په دوهمه صفحه یو څه ولیکل او بیا يې سنان ته ورکړ.
داد وکتر هوګیو ناول ( بینچ بیک آف نوتریډیم ) وو . د کتاب په دوهمه صفحه پاسکل په ښکلې طرز کې داسې لیکلې وو :
د شهزاده په نوم:
د بدرنګه خلکو لپاره هم محبت د یوی جذبې او خواهش نوم وي. خو د هغوې زړه دا خبره نه مني چې هغوي دې یوازې ددې له کبله د محبت څخه محروم کړلی شی.
په ډیر مینه د پاریس د پاسکل لخوا
پاسکل چې سر يې ښکته نیولې وو سنان ته وویل ، کله چې خپل وطن ته ولاړ شی نو یو ځل بیا ددې د لوستلو هڅه وکړه په دې ډول به تاته د یوې معذورې جینې جذبات هم یاد وي .

سنان د هغې د زنې لاندې ګوته کېښوده او د هغې مخ یې د ځان خواته تاو کړ، او ورته یې وویل ، ستا او ستا د جذباتو د یاد ساتلو لپاره به ماته د کوم کتاب ضرورت نه پیښیږي د پاسکل په نیلي سترګو کې اوښکې ښکاره کېدلې. پاسکل د خپلې زنې څخه د هغې د ګوتې په لیرې کولو سره وویل :
اوه زه هم ډېره کمعقله یم ته خو زما میلمه یې او له ما څخه هیر شوې وو چې تاته څه شي راوړم ته کړکۍ ته په مخامخ کرسۍ باندې کښینه زه تاته کافي، سینډویچ او نور څه راوړم.
سنان ورته وویل ، بد خیال نه دی . کتاب یې په میز کیښوده او پاڅیده او پاسکل ته یې وویل زه هم له تاسره مرسته کوم .
پاسکل ورته وویل، زموږ آشپز خانه ډېره کوچنۍ ده هلته د دوه کسانو د دریدو ځای نشته ته همدلته کښینه.
سنان د یوې پخوانۍ جملې د ویلو څخه پرته پاتې نه شو ، په زړه کې ځای په کار دی.
پاسکل د شرارت څخه ورته وویل د چا په زړه کې؟ ستا یا زما ؟ او بیا د اطاق څخه بیرون ووتله .
سنان کړکۍ ته مخامخ په آرامه کرسۍ کښیناست او سګرټ یې ولګاوه دده مخامخ د فرانسوي طرز ښیښه یې کړکۍ وې چې سپین رنګ ورکول شوې وو چې د فرش څخه تر چت پورې رسیدلې وې. له دې کرسۍ څخه ده ته د کړکۍ لاندې د خیرې خو شنې ونې او د پراخه پیاده رو یوه برخه ښکاره کیده . څو خزان وهلې پاڼې په پیاده رو باندې پرتې وې . تر اوسه پورې بیرون تیز لمر وو.
کله چې سنان سګرټ ختم کړ نو د خپل ځای څخه راپورته شو او د کتابونو د الماری خواته راغی ، ورسره ودریده ، وربښکته شو او د کتابونو لیدل یې بیل کړل. ډېر کتابونه په کې د انګریزي او فرانسوي ادب اړوند وو. آندري ژی، سارتر ، زولا ، موپسا، هیوګیو، هارډي، ډکنز او د ملتن په شمول ټول دلته موجود وو او د بایرن د شاعرۍ کتاب هم دلته موجود وو .
هغه بایرن چې معذوره وو. د کتابونو د آلماری د پورتنې برخې د لیدو څخه وروسته هغه په قالینه باندې کښیناسته. او د لاندیني برخې د کتابونو لیدل یې پیل کړل. په همدې وخت کې د هغه نظر په آلماری او د فرش په منځنۍ برخه پریوته . هلته دوه نوې امساګانې پرتې وې. په همدې وخت کې پاسکل اطاق ته راغله د هغې په لاس کې ډېر ښکلی پتنوس وو چې په هغې کې د کافي لوښې او د خوراک شیان په ډېر ښه ډول کیښودل شوی وو.
پاسکل په میز باندې د پتنوس د کیښودلو په وخت کې سنان ته وویل ماد د کافي سره د پنیر او د رومیانو سینډویچ هم جوړ کړ. بیا یې د سنان خواته ولیدل چې په کرسۍ کې نه وو د کتابونو د آلماری سره ناست وو. پاسکل ورڅخه بوښتنه وکړه، څه کوې؟ سنان د قالینې څخه د پورته کیدو په وخت کې ورته وویل ، ستا د ښکلي ذوق شاباسی درکوم او بیا راغی بیرته په کرسۍ کښیناست.
پاسکل د شرارت څخه ورته وویل ، ماته د شاباسي د ویلو لپاره تاته یوازې د آیني د لیدو اړتیا ده .
بیا راغله هغه هم په پالنګ کښیناسته.

سنان ځان داسې کړ لکه د هغې دا خبره چې یې نه وی اوریدلي. هغې ته یې وویل- تاسره ډیر ښه ښه کتابونه دي.
پاسکل : په دې کې ډیر دخاله دي.
پاسکل د کافي پیاله جوړه کړه او سنان ته یې ورکړه او بیایې د سندویچ پلیټ سنان ته ورړاندې کړ سنان یو سنډویچ واخیسته او پخپل پلیټ کې یې کیښوده او د کافي په ځکلو یې پیل وکړ.
پاسکل ورځخه وپوښتل ، سنانه ته خو به په ناسته ، ناسته په دې اطاق کې نه یې تنګ شوی؟
سنان : سنان د سر په خوځولو سره جواب ورکړ نه نه یم تنګ شوی خو تاته دا فکر څنګه پیدا شو ؟
پاسکل : بس هسې زه د هلکانو سره د ناستې ولاړې ډیره تجربه نه لرم او ماته د هغو خبرو چل هم نه راځی کوم چې د اجتماعي کیدو لپاره ضروري دی.
سنان په ټوکه کې ورته وویل ،دا چې زه په دې معاملاتو کې ړوند یم نو ځکه څه نشم ویلای. خو هو البته کافي ډیره خوندوره ده او سینډویچ هم ډیر خوند لري خصوصا کله چې دا زه د ناشتې په ډول خورم .
پاسکل : د ناشتې په ډول ؟ ددې مطلب خو دا چې تا تر دولس بجو پوری ناشته هم نه وه کړی.پاسکل پیاله په میز باندې کیښوده او د پالنګ څخه پورته شوه سنان ته یې وویل زه آشپز خانې ته ځم ، په یخچال کې د خوراک څه شی ګورم او هغه راوړم.
سنان پاسکل د لاس څخه ونیوه او بیرته یې په پالنګ کښینوله.او ورته یې وویل نه ددې ضرورت نشته ځکه چې زه په عام ډول ناشته نه کوم ځکه چې په سفر کې دا ډیر وخت ضایع کوي غرمه یو څه سپک خوراک کوم خو دشپې بیا ښه ډوډۍ خورم.
کله چې کافي ختمه شوه نو پاسکل پتنوس او لوښی بیرته آشپزخانې ته یوړل.
سنان د کرسۍ څخه پورته شو پاسکل ته یې وویل ته په دې کرسۍ کښینه زه په پالنګ کښینم . پاسکل د لاس په ورغوي سنان شاته کړ. هغه ته یې وویل ته ناست اوسه . سنان زه په دې کرسۍ کې په کښیناستو ، کښیناستو ستړی شوې یم . ته ددې کړکۍ څخه د څیرۍ څو ونې او د پیاده رو یوه برخه ګوری کنه . زه دا د کلونو څخه ګورم . او ماته اوس ددې ونو د پاڼو او د پیاده رو د ښښتو تعداد هم معلوم دی. کله چې زه د ګونډې د درد له کبله د تګ راتګ څخه قاصره شم نو تر ډیره پوری په دې کرسۍ ناسته یم او بیرون نه ګورم . سهار چې خاله ناشته راوړی نو بیا دفتر لاړه شی او زه بیا د خپلو پښپو څخه کمپل تاو کړم او ټوله ورځ خو یا کتاب مطالعه کوم او یا هم ددې کړکۍ څخه بیرون په خلا کې تاویږم . بار، بار د موسیقي په اوریدو هم نوره ستړې شوې یم کله چې ماښام خاله مې کور ته راشي نو د خوراک څخه وروسته یو دانه د ګرمو اوبو د بوتل سره ما یوځای په بستره کې څملوي او کمبل راباندې اچوي او بیا دوهمه ورځ هم همداسې کیږي.
سنان د موضوع د بدلولو هڅه وکړه ورته یې وویل په ستیمر کې تا ماته ویلي وو چې تر کرسمس پوری به ته دلته یې او بیا به بیرته انګلستان ته ځی .

پاسکل : هو د تیرو کلونو پورې خو همداسې کېدل اما تیره ورځ مې د پلار جان خط راغلي وو چې ممکن د برق د یو ستیشن د جوړولو په موخه هغه شپږ میاشتې نیاسا لیند ته ولاړ شي نو په دې صورت کې به بیا د کرسمس ځخه وروسته هم د خپلې خاله سره اوسېږم.
سنان : د پاریس کرسمس خو به هم ډیر ښکلی وی؟
پاسکل په نه زړه جواب ورکړ هو . زه د کرسمس یوه لویه ونه دې کړکی ته مخامخ ږدم . عین همدلته چیرته چې ته ناست یې. د ونې د شنو او ډکو شاخونو شاوخوا کوچني کوچني رنګارنګ پړقیدونکي لایټونه او طلایې تارونه راځړیږي. د کرسمس په شپه زه د اطاق رڼا بندوم نو د کرسمس د ونې د رنګینو رڼاګانو څخه اطاق یو سحر انګیزه شکل اختیاروي. بیا کله کله برف باري هم پیل کیږي او ددې کړکی څخه ښکاره کیدونکې د شاه بلوط د ونو څانګې د سپینو او شفافو واورو تر بوج لاندې راځی. او پوره دولس بجې کله چې د ټول پاریس ښار د واورو په سپین څادر کې پټ شی نو کوچني ماشومان چې په لاسونو کې یې روښانه شمعې نیولی وي او غتی وریښنمني جامې یې په تن وي او ګرمی غتی خولۍ یې په تن وي راوځي. د هغوي ګردې سرې څیرې د غټو ، غټو شمعو په اور کې ځلیږي. او بیا زه په ناسته ، ناسته د همدې ځای څخه په ناسته ، ناسته له کړکۍ څخه په رنګینو کاغذونو کې تاو د کرسمس خواږه کیکونه د تحفې په ډول لاندې ورغورځوم. او بیا په همدې لحظه کې د پاریس د ښار د ټولو کلسیاوو ساعتونه په زوره ، زوره په ګړنګیدو شي په دې ټولو کې د نوتریډیم د کلیسا د ساعت غږ له نورو څخه لوړ وي . او بیا زه همدلته د کرسمس د ونې سره بیده کیږم.
سنان : په کرسمس کې خو به ډیری پارټیانې هم کیږي ؟
پاسکل د بسترې څخه تکیه راواخیسته په غیږ کې یې کیښوده او خپلې څنګلې یې وربانې کیښودی او سنان ته یې وویل هو کیږي خو زه نه ورځم.
سنان : مګر ولی؟
پاسکل : همغه د پیریو پخوانې ژړا ، ځینې وخت خلک ما دعوت کوي مګر کوم هلک نه غواړي چې له ماسره ولاړ شی .
سنان : د پاریس هلکان خو ډیر بی ذوقه دي . سنان یو بل سګرټ ولګاوه. که چیرته زه د هغو په ځای وی نو په ټول پاریس کې به زما انتخاب هم ته وی.
پاسکل د بسترۍ څخه راپورته شوه د کرسۍ شاته ودریده . خپل دواړه لاسونه یې د سنان په اوږو باندې کیښودل او سنان ته یې وویل زما یوه خبره منی/
سنان ورته وویل هو ووایه ( بی دهیانې سی پوچها )
پاسکل : ته تر کرسمس پورې په پاریس کې ولی نه پاتی کیږی؟
سنان چې تاو شو او پاسه یې وکتل نو د پاسکل نیلي سترګی یې په هغه ښکته نیولی وی پاسکل زیاته کړه
ګوره اوس هسی هم د سپتمبر اخر دی. یوازی ددریو میاشتو خبره ده . ته په اطاق کې خپل اطاق پریږده او دلته زموږ اپارتمان ته راشه. دلته یو اطاق تش دی. خاله به هیڅ اعتراض ونه کړی. د پاریس په څنګ کې د فانټین بلو په نوم یو ډیر ښکلی ځنګل دی. موږ به د

کرسمس څخه یوه ورځ مخکی هلته د چکر لپاره ولاړ شو او چې بیرته راځو نو له ځان سره به د سلهاوو کرسمس په ونو کې تر ټولو غټه د کرسمس ونه له ځان سره راوړو. او بیا به موږ دواړه په رنګارنګ ګروپونو او طلايي تارونو هغه دومره ښکلې کړو چې په ټول پاریس کې به دومره ښکلې د کرسمس ونه د بل چا نه وي. په دې کې به موږ د یو بل لپاره په رنګینو کاغدونو کې نغښتې ډالۍ راځوړندې کړو او په نیمه شپه کې به یې خلاصی کړو. او بیا به زه یو محفل جوړ کړم چې په هغې کې به یوازې یو میلمه دعوت کوم .
ته او زه یعنې موږ به د کوچنیانو لخوا د کرسمس سندرې واورو تر ناوخته پورې به په آرامه سازونو او د کرسمس د ونې په تته رڼا کې به رقص وکړو او کله چې سهار شي نو دواړه به د سین د دریاب غاړې ته ولاړ شو د برفبارۍ څخه وروسته د سین د درباب غاړې ډیرې ښکلې ښکاره کیږي . سنان په خاموشۍ سره سګرټ څکل او پاسکل د راتلونکي کرسمس په خیالونو کې ډوبه وه او د هغې په باره کې یې خبرې کولې.او ددې څخه وروسته بیشکه بیا ته خپل هیواد ته ولاړ شه سنانه ، صحیح ده کنه ؟
د سنان نظر د کړکۍ د کرسۍ د شاه څخه لیرې شو او د هغې مخ ته ودریده .
سنان: پاسکل زه هم ستا په څیر اوس د سبا په هکله فکر کول نه غواړم. سنان خپل لاس په قراره د هغې په مخ کیښوده او ورته یې وویل زه نه غواړم چې له تا سره داسې کومه وعده وکړم چې سبا یې نشم پوره کولی او ستا زړه آزار کړم .
پاسکل: که چیرته زما د زړه د آزار دومره فکر درسره وی نو زما خبره ولی نه منې؟
سنان: د پاکستانیو غوږوالیو په اچولو سره داسې خبرې تا سره خوند نه کوي، سنان اصلا د موضوع د بدلولو هڅه وکړه.
پاسکل خپلو غوږوالیو ته لاس ورو او سنان ته یې وویل دا ولې ؟
سنان: د یوې پاکستانۍ ګاڼې په اچولو سره د یوې پاکستانۍ جینۍ په څیر خبرې کول په کار دی. زموږ نجونې په دې ډول آزادۍ سره هلکان نه مجبوره کوي تر څو د هغوې سره پاتې شی .
پاسکل : ستاسو د ځای نجونې به ډیرې سرد مزاجه وي.
سنان : خو حقیقت برعکس دی.
پاسکل: نو بیا به ددوې په جذباتو کې دومره شدت نه پیداکیږي کنه هغوي هم بالکل زما په څیر اظهار کولې شی
سنان: د جذباتو د اظهار لپاره نورې لارې هم شته .
پاسکل سنان ته ورنږدې شوه او خپله خوله یې سنان ته وروړاندې کړه او په ډیر معصومیت یې ورڅخه وپوښتل نورې لارې؟ مثلا ؟؟ د هغې په سترګو کې شرارت نڅیده .
سنان د سر په شاته کیدو ، شاته کیدو د کرسۍ د شاه سره ولګیده او هغه ډیر وویریده او پاسکل ته یې وویل :مثلا دا چې ته د یوې ښه جینۍ په څیر ددې ځایه څخه لیرې شی پالنګ ته ولاړه شی او هلته کښینې.
پاسکل ورته وویل ، که چیرته نه کښینم نو بیا ؟ پاسکل همداسې په هغه باندې ورټیټه شوې وه د هغې غوږوالۍ د سنان د سترګو په وړاندې ځنګیدلی .

سنان د ډار څخه پځپلو دواړو لاسونو د کرسۍ بازوګان کلک ونیول ، او ورته يې وویل ته که چیرته ته هلته نه کښینی نو زه به بیا ولاړ شم .
پاسکل : ته نه شی تللی ، زما شونډی ستا په لاره کی دی.
سنان : ما مخکې هم ویلي وو چې ته د یوې پاکستانۍ جینی په څیر -----
پاسکل : زه پاکستانۍ جینی نه یم .
سنان : نو بیا یوه ښه جینې یاستی .
پاسکل : زه ښه جینۍ هم نه یم . پاسکل نوره هم ورته ورنږدې شوه د هغې غوږوالی فنا شوی او اوس د هغې شونډې خوځیدلی، د فرار ټولی لاری بندی وی. سیاح مکمل ګیر شو. هغه خپلی سترګی بندی کړی. د هغه وجود په قرار قرار په لړزیدو شو د هغه په تندي د خولو قطرې راپیدا شوی.
د سین د دریاب د ښکلو پلونو لاندې زموږ لومړی ملاقات وشو او بیا زما په زړه کې د محبت لمبې بلې شوی. سنان چې سترګې خلاصی کړی نو پاسکل د هغه په وړاندې نه وه او په اطاق کې د یو مشهور فرانسوي سندرغاړي سندری( د پاریس د پلونو لاندې) انګازې کولی .

کله چې سندره ختمه شوه نو سنان د کرسۍ څخه پورته شو. پاسکل د کتابونو د آلماری سره ولاړه وه . هغې د سنان خواته لیدل او مخ يې سور شوې وو.
پاسکل لاندې ولیدل او سنان ته يې وویل ستا دا سندره خوښه شوه ؟
سنان ځواب ورکړ هو . ډیره ښکلي سندره وه . ما په لومړی ځل واوریده .
پاسکل : تا داسې سندرې مخکی هم کله اوریدلي دي؟
سنان : نه کنه ، پاسکل –مخکی مې وویل چې دا لومړی ځل دی چې داسې سندرې اورم .
هغه ته معلومه وه چې پاسکل یوازې د سندرې په هکله پوښتنه نه کوي .
پاسکل : رښتیا وایې ؟
سنان د سر په خوځولو سره ورته وویل ،هو
پاسکل د کتابونو د آلماری په سر باندې په کیښودل شوي ټیپ کې د مشهور سندغاړي ډیو بروبیک سندره چالان کړه او خپله راغله په پالنګ باندې کښیناسته .
د کړکۍ څخه بیرون ځلیدونکې تیز لمر اوس تتیدو وو سنان چې شاته ولیدل نو پنځه بجې کیدونکې وی.
د یو ښکلی غرمی پای .
پاسکل : د یوی ښکلی غرمې وروسته خو یو ښکلی ماښام هم شروع کیږي .
سنان: نه پاسکل – زه نور باید ولاړ شم . اوس به ستا خاله هم راځی.
پاسکل : ښه چې دا سندره خلصه شی بیا ولاړ شه .
د سنان هم زړه نه کیده چې ولاړ شی هغه په کرسۍ بیا کښیناست .

د پیانو آرامه میوزیک غږیده او په همدې ، همدې کې بیرون ژیړ لمر په تتیدو ، تتیدو په یوه تیاره بدل شو .
دروازه په قرار وټکیده ، پاسکل ورپورته شوه او دروازه یې خلاصه کړه.
په دروازه کې د پاسکل خاله ولاړه وه ، خاله وویل څنګه یاستې بچیانو ، سنان ددې غږ په اوریدو سره ژر ودریده ، سنان د احترام له کبله لږ ورشکته شو ورته یې وویل مننه ، مهرباني
خاله : ښه وایه غرمه دې څنګه وه ؟
سنان : مننه
د هغې خاله لږه مخکې راغله د سنان په اوږه یې لاس کیښود او په خندا یې ورته وویل دا څه د مننې ،مننې ګردان کوی . زه دومره سخت مزاجه نه یم لکه څنګه چې د شکل څخه ښکاره کیږم .
خاله اوس پاسکل ته مخامخ شوه ورته یې وویل اوس خو به دې هلک تنګه کړی نه وي؟
پاسکل د شوخي څخه ورته وویل ، خاله ډیره یې تنګه کړم ، زما څوک خبره نه مني .
خاله یې سمدلاسه بې طرفه شوه ورته یې وویل ، خیر دا ستاسو شخصي معامله ده .
سنان د دروازې خواته وړاندې شو او ورته یې ویول ښه زه اوس ځم
خاله یو دم جدي شوه – نه بلکل نه
سنان د مسکینانو په ډول شکل جوړ کړ – هو زه باید ولاړ شم .
خاله د رعب څخه ورته وویل ته اوس نشی تللی . ډوډی وخوره بیا به ولاړ شی . سنان ژر خبره ومنله او بیرته په کرسی کښیناست.
خاله ورته وویل ، زه خو وږی نه یم خو تاسو دواړه په همدې اطاق کې کښینی زه تاسو ته ډوډۍ راوړم. پاسکل وروړاندې شوه او خپله خاله یې په دواړه مخه ښکل کړه او ورته یې وویل نه خاله تا په دفتر کې کار کړی دی ته به ستړی یې . ته آرام وکړه . زه به یې خپله راوړم. خاله د اطاق څخه د وتلو په وخت کې ورته وویل سمه ده څنګه چې ستا خوښه وي .
او بیا یو دم یې شاته ولیدل د پاسکل د غوږوالیو خواته یې اشاره وکړه او ورته یې وویل ، ډیری ښه درسره ښکاري . د خاله په وتلو سره سم پاسکل د اطاق دروازه بنده کړه او سنان ته یې وویل ، ستا همدا علاج دی. زور- کنه که ما درته هر څومره ویلي وو ته نه پاتې کیدلی .
اصلا دا چې زه وګورم نو ماته خپله خاله رایادیږي –اوف ، اوف په خبرو کې ډیره خوفناکه خو دومره رفیق القلبه ده که چیرته زه یوه ورځ د هغظ کور ته ولاړ نشم نو په ژړا ژړا بد حال جوړوي .هغه تر اوسه پوری ما یو کوچني ماشوم ګڼي . اکثره چې ما وګوری نو راته وایې چې ، اوو سنانه تا نن خپل ویښتان صحیح نه دی جوړ کړی بیا بړمنځ راواخلی زما د زنی لاندې لاس کیږدي او په ډیر ښه شکل سره زما د ویښتانو په جوړولو پیل وکړی.
پاسکل : ښه صاحب ، په هر صورت د ماښام په ډوډۍ کې څه خوری ؟
سنان : کم از کم د فرانسوي مرغوبی غذا ( سوځیدلي) چنګښې د خوړولو موډ مې نه دی .
پاسکل : او د غټو تازه چینجیو به باره کې دی څه خیال دی ؟

سنان د کرسۍ څخه پورته شو او د دروازې خواته روان شو او پاسکل ته یې وویل ستا په لیدو ډیر خوشحاله شوم .
پاسکل د اخطار په ډول ورته وویل ځی خو مګر بیرون خاله ناسته ده .
سنان ورته وویل ، زه د غټو چینجیو د خوړلو په ځآی ستا د خاله سره مخامخ کیدل ډیر غوره ګڼم .
پاسکل په خندا ورته وویل بابا ته خو صحیح کښینه یو ځل ، او بیا غلې شوه بیا یې ژر ورته وویل د کښیناستو څخه مخکی ما سره خو یو مرسته وکړه تر څو دا میز هلته د کړکۍ سره کیږدم.
کله چې یې میز کړکۍ ته مخامخ کیښود نو پاسکل په هغه میز باندې نو پاسکل په هغه باندې یو سپین میز پوش خپور کړ او بیا یې د سینګار میز څخه دوه اوږدې شمعی راوویستی او د میز په دواړو سرونو یې کیښودی بیا یې سنان ته وویل دا ځل چې دی سګرټ ولګاوه نو پخپل لایتر باندې دا شمعی هم ولګوه .
سنان د جیب څخه لایتر راوویسته او په وار ، وار یې دواړه شمعې ولګولی. پاسکل د لاسونو په پړقولو اعلان وکړ چې اوس یوازې د ګلانو د ګلدان کمښت دی .
سنان ژر په خبرو کې وروغورځیده . او د خوراک هم
پاسکل هغه ته نږدې ورغله په ورمیږ یې ورته لاس کیښود او ورته یې وویل صحیح ده . د هغې نیت د یوی پاکستانی جینې نه وو.
سنان ورتاو شو او په تیزۍ سره یې ورته وویل اوس لاړه شه .
پاسکل په مصنوعي غصې سره ورته وویل ، ځمه او بیا د اطاق څخه بیرون ولاړه .
د کړکۍ څخه په ښکاره کیدونکي شاه بلوط د ونې په سیوري کی د پخواني طرز د یوی پایې څخه رڼا پورته شوه او د پاریس د ماښام په تیاره کې خپره شوه. د سنان او پاسکل په منځ کې په میز باندې د شمعو دوه ژیړی لمبې په ډیری نرمې سره حایله کیدلی. باد به د شاه بلوط د ونو څخه خوشبویې راوړله ، شمعې به رپیدلی او رڼا به یې د پاسکل په شنو سترګو کې ځلیده .
نیلي سترګې بی حده خفه وی .
پاسکل : ته نوره زما خبره نه منی ؟
سنان : کومه خبره پاسکل ؟
باسکل : ترکرسمس پورې په پاریس کې پاتی شه .
سنان د پاسکل خواته ولیدل د شمعو رڼا د هغې په غوږوالیو غورځیده او په هغې کې ستوري ځلیده .
سنان : د پاکستانیو غوږوالیو په اچولو سره بیا هم .....
پاسکل په په خفګان سره ورته وویل هو ، هو ماته معلومه ده د پاکستانیو غوږوالیو سره دا خبرې زیب نه کوي. که چیرته تا ماته د دې غوږوالیو خبره بیا وکړه نو دا به زه د کړکۍ څخه بیرون وغورځوم .
سنان : او پاسکل ته هم داسې خبری مه کوه چې د هغې جواب تاته معلوم وي.

پاسکل خاموشه ناسته وه او په روښانه شوو شمعو ته یې په ځیر ، ځیر ورکتل
د غرناطه په منځ کې یو لوړ غر دی او پر هغې باندې د الحمرا یو سور قصر دی. هره شپه
هلته څراغونه روښانه کیږي. زه به د همدې څراغونو په رڼا کې کښینم د الحمرا د فوارو او
چینو آرام غږونه به اورم او تاته به خطونه لیکم . او ددې څراغونو د رڼا څخه به دلته په
پاریس کې دې کړکۍ ته مخامخ ستا ښکلې څیره او ښنې سترګې ځلیږي.
پاسکل : آخر هغه کوم داسې جادو او موسم دی چې د محبت د داسې جذبې پرېښودلو ته خلک
اړ کوي ؟
سنان د پاسکل د څیرې څخه سترګې واړولې او د څیرې په سیوري کې روښانه رڼا ته په
لیدو شو ، هغه ددې خبرې جواب نشو ورکولی .
پاسکل : ته نن ماته د هیڅ خبرې جواب نشی راکولی زه نور له تا څخه هیڅ کومه پوښتنه نه
کوم . پاسکل سترګی راپورته کړی د سنان خواته چې یې ولیدل هغه د کړکۍ څخه بیرون ته
لیدل . هغه تر لږ وخت پورې خاموشه وه او بیا یې په قرار سره وویل که چیرته زه معذوره
نه وی نو تاسره به هسپانیې ته تللېوم . بیا مې لیدلي وو چې څنګه ته له تګ څخه ما منع کوی.
سنان په دمه دمه ورته وویل پاسکل ته خپل خان ته معذوره مه وایه زه په دې خفه کیږم ته
امساکانې ولی نه استعمالوی. ممکن ته دې په مرسته لږ ښه مزل وکړی او په تکلیف کیږې به
هم نه .
د پاسکل نظر په غیر اختیاري ډول د سنان د څیرې څخه د کتابونو په آلماریٔ باندې مرکوز
شو او سنان ته یې وویل تا لکه چې زما امساکانې لیدلي؟
سنان : هو
پاسکل : واقعیت دې چې زه د امساکانو په مرسته ښه مزل کولې شم خو دا زه قصدا نه کوم
کله چې دا زه دخپلو تخرګونو لاندې کیږدم نو ماته په ډیر شدت سره د خپل معذوروالي
احساس کیږي . ما تر اوسه پورې په ذهني ډول خپل ځان ددې تریخ حقیقت د منلو لپاره تیار
کړی نه دی. دې ته که ته فراریت وایې یا هر څه خو زه د امساکانو څخه نفرت لرم ددې څخه
پرته خو یوه جینۍ خو هم یم تاته معلومه ده که چیرته په یوی جینۍ باندې هر څومره ستونزې
راشي خو بیا هم د خپلی کوتاه نظرې لپاره عینکې نه لګوي . داد ښځینه انا مسله ده . په
لاسونو کې د امساکانو اخیستلو سره هم زما انا ته صدمه رسیږي . زما جنس ختمیږي او زه د
یوې معذوره جینې په ځای یوازې معذوره پاتې کیږم .
د کړکۍ څخه د یوې تیزې هوا څپه راغله او دواړه شمعې مړی شوی. اطاق مکمل تیاره شو .
پاسکل وویل ، هوا تیزه شوه بیا پورته شوه او کړکۍ یې بنده کړه سنان د جیب څخه لایتر
راوویسته او دواړه شمعې یې بیرته روښانه کړی.
سنان بیرته په جیب کې لایتر واچاوه او ددې پر ځای چې پخپله کرسی باندې بیرته کښینې د
پاسکل خواته ورغی تر څنګ یې ودریده او پاسکل ته یې وویل :
زه باوري یم چې یوه ورځ به ته روغه شی .

پاسکل ورته وویل ماته معلومه ده داسې به هیڅ وخت ونشی . د پاسکل په شونډو باندې یوه خزان آمیزه خندا وه . خو البته زما د درودونو فاصلې به زیاتیږي او د هغې انحصار به ---- خیر دا پریږده .
سنان : پاسکل زه باید ولاړ شم ته ستړې شوی یې .
پاسکل : هو واقعیت دی زه اوس ستړیا احساسوم .
سنان لاس وراوږد کړ ، شپه دې پخیر
پاسکل د کرسی څخه راپورته شوه سنان ته یې وویل زه تاسره د اپارتمان تر دروازې پوری ځم
سنان ورته وویل نه ته اوس زما په مخ کی په بستره وغځیږه او آرام وکړه سنان د دواړو اوږو څخه ونیوله او په پالنګ یې کښینوله
پاسکل : ما لا تر اوسه د شب خوابې لباس هم نه دې په تن کړی . زه باید هغه لباس واچوم.
سنان : هیڅ ضرورت ورته نشته، هسی ستړی کیږی هله ځه بیده شه ، سنان د بستری د څادر یوه خوا ونیوله او پاسکل هم د یو کوچنې ماشوم په څیر د هغه د حکم تعمیل وکړ په بستره وغځیده او ځان یې په څادر کې ونغاړه سنان په هغې کمپل واچوله او کمپل یې په لا وتپوله – بس – اوس د یو ښه ماشوم په څیر بیده شه .
د پاسکل موډ د مخکې څخه لږ ښه شوې وو نو سنان ته یې وویل کوچنیانو ته خو د خوب سندره هم ویل کیږي .
سنان : نه سنان د خوب د سندرې څخه پرته بیده کیږي .
پاسکل : زه ښه ماشومه نه یم . او پرته د خوب د سندرې څخه نه بیده کیږم
سنان د سترګو په بندولو سره اخطار ورکړ.
سنان ورته وویل د خوب کومه سندره اوری .
پاسکل : همغه د شهزاده او د شهزادګی والا . چې د شهزادګې په ټول بدن کې ستنی ښخی شوی او بیا یوه ورځ یو شهزاده د هغې د ستنو د ویستلو لپاره رانشی .
سنان د هغې د معصومیت په لیدو وخندل ، او ورته یې وویل پاسکل ته بې حده ښه جینۍ یی .
پاسکل : او هغه د خوب سندره
سنان ځان کوڼ واچاوه ورته یی وویل آیا د تللو څخه مخکې شمعې ګل کړم ؟
پاسکل په سنجیده ډول ورته وویل نه دا همداسې روښانه پریږده ، او د تللو په وخت کې خپل کتاب حتمي له ځان سره واخله . په میز باندې پروت دی .
سنان د میز څخه د بینچ بیک آف نوتیرډیم کتاب پورته کړ او د باراني کوټ په غټ جیب کې یې واچاوه،
سنان : ښه اوس اجازه ده ؟
پاسکل : اوف ماته خو بیخي یاد نه وو، پاسکل خپل څادر لیری کړ راپورته شوه او په بستره کې کښیناسته.
سنان : او اوس دې بیا څه شی په یاد نه وو ؟

پاسکل : تا خو دا ونه ویل چې سبا به څو بجې او چیرته سره وینو ؟
سنان : سبا؟
پاسکل : هو، هو سبا
سنان : ډاکتر تاته د مکمل آرام مشوره درکړې ده . نو ځکه سبا نه البته بل سبا به زه خپله راشم .
پاسکل د غصې څخه یوې نرمې تکیې ته سوک ورکړ خوله یې ورانه کړه او سنان ته یې وویل نه سبا
سنان : د داکتر د مشورې مطابق
پاسکل : لطفا سنانه ، پاسکل د کوچنیانو په څیر پر ګونډو باندې د پالنګ تر سر پورې راغله.
او د سنان د باراني کوټ کالر یې ونیوه که ته چیرته سبا رانغلی او زما درد سخت شو نو مسؤل به ته خپله یې .
سنان په حیرانیتا سره ورته وویل، زه ؟
پاسکل : هو ته ، ته چې راشی نو زه هر څه هیر کړم . او که چیرته ته سبا ته رانشی نو زما به درد دومره زیات شی ، دومره به زیات شی چې بس پوښتنه یې مه کوه .
سنان : دا خو تهدیدول دی .
پاسکل : بایکل دي . پاسکل سنان د باراني کوټ د کالر څخه ونیوه او په زور سره یې کش کړ او ورته یې وویل ، په جنګ او مینه کې هر څه جایز دي .
سنان : دا جنګ دی او که مینه ؟
پاسکل : ووایم ؟
سنان : هو بالکل ، زه پوهیدل غواړم
پاسکل : پاسکل د سنان باراني کوټ پریښود او لاسونه یې د هغه غاړه کې ورواچول ، او خپله څیره یې هغه ته ورنږدې کړه.
سنان ډیر ژر د هغې متې ونیوی او خپل ځان یې تری خلاص کړ او ورته یې وویل او ورته یې وویل ښه زه به نو سبا راشم .
پاسکل : ډارنه ، پاسکل وخندل او بیا یې څادر په ځان خپور کړ او وغځیده .
سنان د خجالت د لیری کولو لپاره ورته وویل ، بس ډارن صحیح ، او واوره د بیده کیدو په وخت کې دا غوړوالی وباسه .
پاسکل سمدلاسه دواړه غوړوالی وویستلی د سنان خواته یې ورګوزاری کړی او سنان دا د سینګار میز په دراز کې کیښودلی .
پاسکل : نور څه ؟
سنان : هیڅ نه ، زه اوس ځم
پاسکل : څو بجی راځی؟
سنان : سهار داسې اته بجی . بیا به بیرون ته د چکر لپاره ولاړ شو ، صحیح ده کنه ؟
پاسکل : صحیح خو ده اما ته ډیر سست یې د نهو بجو په ځای به دولس بجی راشی نو که چیرته زه خپله درپسی درشم څنګه به وي

سنان : ته به هسې په تکليف شی ؟
پاسکل : ته ماته خپل آدرس وليکه زه به تکسي کې درځم
سنان د کاغذ په يوه ټوټه ورته خپل آدرس وليکه او د اطاق څخه په روانيدو شو پاسکل ژر راپورته شوه او بيا يې غېږ پسې وکړ او بله خبره
سنان راتاو شو او په تنده لهجه يې ورته څه وويل ، اوس څه دی ؟
پاسکل : تا ټول هغه کارونه وکړل لکه کوم چې خاله کوي مثلا په يو ځای د ماښام د ډوډۍ خوړل ، په بسرته باندې ما بيده کول ، په ما د کمبل اچول ، د خوب د سندرې وويل ، او داسې نور ... ليکن د ټولو څخه مهمه خبره دې هيره شوې ده
سنان : او هغه څه شی ده ؟
پاسکل د جواب ورکولو په ځای خپلی سترګی بندې کړی شونډی يې سره يو ځای کړی او لږ حرکت يې ورکړ.
سنان د سر په خوځولو ورته وويل زموږ په هيواد کې داسې رواج نشته .
پاسکل ژر سترګی خلاصی کړی پاسکل د شرارت څخه په ډکه لهجه کې ورته وويل موږ اوس ستاسو په هيواد کې نه يو او بيا يې سترګی بندی کړی.
سنان پخپلو اوږدو ويښتانو کې ګوتې تيری کړی او د بيا د پاسکل خواته ورغی او ودريده پاسکل د يوی عابدې او فقيری په څير په بستره کې په ډير خوند سره چې سترګې يې هم پټې کړې وی د يو خاص آروپايې شپه پخير انتظار ناسته وه سنان په قراره خپل لاس د هغې په شونډو کيښود او ورته يې وويل شب بخير پاسکل
پاسکل په دواړو لاسونو د هغه لاس ونيوه د هغې سترګی تر اوسه پوری بندی وی او بيا يې خپلی ګرمی شونډی د هغه د لاس په ورغوي کيښودی.
سنان په ډيری نرمۍ سره خپل لاس د پاسکل د ګرفت څخه خلاص کړ او بيا په خاموشۍ سره د اطاق څخه بيرون ولاړه .

سنان چې د پاسکل د کور څخه بيرون ولاړه نو د سين د درياب د لوړو غاړو سره روان شو تر دی چې د نيولي پل ته ورسيده د ځلور لارې څخه اخوا د ترام د موټرو تم ځاې وو سنان چې ساعت ته وليدل نو نهه بجې وی . هغه تصميم ونيوه چې د ترام د موټر په ځای به تر مومارت پوری پياده ولاړ شي نو هغه د ايونيو فاک پراخه پياده لاره ونيوه .
په ايونيو فاک کې د بې شميره رڼاګانو ، د ترافيکو مسلسل شور، او پياده رو باندې د خلکو په خبرو کې داسې يوه څپه وه چې د اروپا د هر ښار په رګونو کې مندی وهي. اما دلته په پاريس کې دا ټول غږونه د يو ځانګړی حيثيت درلودونکي وو.د ځراغونو پاپی د پخوانې طرز وی او د هغې په رڼاګانو کې يو نرموالي وو. د ترافيکو او د خلکو شور تر دې حده نه وو چې په اعصابو اغيزه وکړی. د آروپا تر ټولو ښکلې او نازکه فرانسوي ژبه ډيره ښکلی او ښه لګيدله. سنان فکر کاوه چې که چيرته دده په سترګو باندې پټې ولګول شي او دې ښار ته راوستل شي نو ددې د شور د انفراديت له کبله به پوه شي چې دا د پاريس په ښار کې دی.

مخامخ د فتح د محراب ستر عمارت په رڼاګانو کې ډير زړه راښکونکې ښکاره کيده. د محراب چاپيره تاويدونکي موټرونه او د هغې رڼاګانې داسې ښکاره کيدلی لکه چې د سنګ مرمرو د يوی ستری شمعي شاوخوا چې په زرهاوو پتنګان د ليونو په څير طواف کوي. هو دا پاريس وو. د دنيا تر ټولو ښکلې ښار. پاريس يو احساس وو يو سحر انګيزه احساس چې قرار قرار ستاسو په روح کې خپريږي . او بيا تا پخپل خان عاشق کوي . او بيا سترګی ددې ښار هر منظر ته د ميني او احساس له رڼا سره ګوري که هر څومره بدرنګه هم وي د احساساتو په لمبه کې سوځيږي او هر لور ته ښايسته او خواږه رنګونه خپروي .
کله چې سنان مومارت ته ورسيده نو د خپل کور د دروازې دستک يې په قرار سره خلاص کړ ، دروازه خلاصه شوه ، هغه د آرام ساه واخيسته هغه نن ورخ دومره ښايستونه د ځان سره راوړي وو چې نه يې غوښتل چې د ميرمن ژي يا د هغې د بوډۍ مور په ليدو سره يې د لاسه ورکړي. کله چې د زينو څخه تير شو او خپل اطاق ته ورسيده نو بی اختياره يې سترګې د جيني د اطاق په دروازه ولګيدلی. د هغې په اطاق کې رڼا وه او د اطاق څخه يې د عادي او تيزو امريکايي سندرو اوازونه راتلل هغه د جيب د څخه کيلي راوويسته او تاوه يې کړه نو په همدې لحظه کې لکه د نورو وختونو په څير يې د ځنګ دروازه په تيزۍ سره خلاصه شوه د جيني د نايلون په باريکه لباس کې ولاړه وه . د هغې په لاس کې د شرابو ګيلاس وو ، جيني په هوا کې ګيلاس پورته کړ او سنان ته يې وويل ستا د صحت جام – د هغې ژبه درنده وه .
سنان مناسبه ونه ګڼله چې جواب ورکړی. دروازه يې خلاصه کړه او داخل ته روان شو. په همدې وخت کې جيني د شا لخوا څخه د هغه په اوږه لاس کيښوده – هی – صاحبه يوه ښځه درته مخاطب ده . يوه ډيره شريفه ښځه – دا د آدب تقاضا ده چې ته جواب ورکړی. سنان ورڅخه په بی الفتی پوښتنه وکړه جيني ته څه غواړې ؟
جيني خبلې لړزيدونکې ګوتی د سنان په سينه کيښودې او ورته يې وويل زه تا غواړم.
سنان ورته وويل جيني ته اوس په هوش نه يې غوره داده چې خپل اطاق ته ولاړه شه او آرام وکړه.
جيني ورته وويل زه بالکل په هوش يم او زه ستا د پاسکل په څير معذوره نه يم چې ارام ته اړتيا ولرم
ددې خبری په اوريدو سره د سنان څيره سره شوه او د هغه په غتو ، غتو سترګو کې ددې بازاري ښځې لباره نفرت په خوتيدو شو . سنان ډير په غصه وو . جيني ته يې وويل ته هيڅ حق نه لری چې د پاسکل په باره کې داسې خبری وکړی او بيا جيني ته خو خپله هم معذوره يې کنه .
جيني ورته وويل ، زه او معذوره ؟ جيني د سنان خواته داسې وليدل لکه د هغې دماغو چې اوس کار شروع کړی وي هغه دوه قدمه شاته ولاړه او د خپلې پينی څخه يې لباس پورته کړ او په غصې سره يې سنان ته وويل :
کوچنيه ماشومه ښه په ځير سره ورته وګوره زه معذوره نه يم زما دواړه پينی روغی دی .
سنان په نفرت ورڅخه مخ واړاوه .
جيني ورته وويل اوس يې ولی نه ګوری زما دواړه پشی ډيری ښکلی دي .

هغه که غوښتی وی نو خبری یې قطع کولای شوی او خپل اطاق ته تللی شو خو دا چې هغې دا ټول حرکتونه د هغه ځورولو لپاره کول او بله دا چې هغه پخپل هوش کې هم نه وه نو د هغه وربانديې زړه وسوځيده . سنان پرته له دې چې هغې ته وروګوري په ترخه لهجه يې ورته وويل دا صحيح ده چې پاسکل په جسماني ډول معذوره ده خوستا په څير دماغي مفلوجه نه ده . اوس خپل اطاق ته لاړه شه او آرام وکړه . د

پاسکل خپل لباس برابر کړ او دده خواته نږديې راغله او ورته يې وويل ، ستا د صحت جام ، او بيا يې ګيلاس په يوه ساه خالي کړ اوبيا يې په زوره د اطاق په دروازه باندې وويشته،ګيلاس مات شو او ټوټې يې په زينو کې خپرې شوی ، او په چيغه يې وويل زه معذوره يم .

په همدې وخت کې د جيني د اطاق دروازه خلاصه شوه او د درميانه عمر يو ګنجې سړی جې يوازې پتلون او بنين يې اغوستي وو په لوڅو پښتو د اطاق څخه بيرون راووته، د راوتلو سره يې جيني ته وويل څه وشو ګرانې؟ هغه به لا همدومره ويلي وو چې په پښه کې يې د مات شوې ګيلاس يوه ټوټه ولاړه او يوه پښه يې وينې شوه. هملته په فرش باندې کښيناسته او يوه خرابه ښکنځل يې وکړه

هغه په غصه وويل ، دلته چا د اد ښيښې ټوټې اچولي دي او بيا يې يوه بله ښکنځل هم وکړه .

جيني هم د هغه په لهجه په غصې سره جواب ورکړ

تاته چا ويلي وو چې داسې په لوڅو پښو باندې په منډده زما د اطاق څخه راووخه .

ګنجي سړی هملته په ناسته، ناسته په نفرت سره د جيني خواته وليدل او له ځان سره غلې وبړيده .

ګنجي سړی د سنان خواته اشاده وکړه او جيني ته يې وويل او دا څوک دی ؟ د هغه لهجې څخه هم داسې معلوميده چې هغه هم په نشه کې دی

جيني يو ځل بيا په قهر ورته وويل ستا ددې څخه هدف څه دی ؟

ګنجي سړی يو يو لفظ ورته په کلکه کلکه وويل ، ګرانی پنځوس فرانک ، زما خو د خپلو پنځوس فرانکو سره مطلب دی .

جيني په بې قرارئ سره ورته وويل په ۵۰ فرانکو سره تا زما په شخصي ژوند کې د مداخلې حق نه دې اخيستی . ته اطاق ته لاړ شه زه درځم .

ګنجی سړی په ډير مشکل سره پورته شو . او ګوډ ګوډ د اطاق خواته ولاړه .

جيني په ډيری شرمندګې سره د سنان خواته وليدل او هغه ته يې وويل دا زما ملګری دی ، د ژوندي پاتې کيدو لپاره خو به څه نا څه کوو کنه .

د سنان په شونډو يوه ظنز آميره مسکا خپره شوه. او جيني ته يې وويل هو د ژوندي پاتی کيدو لپاره خو يو څه نا څه په کار دی .

جيني چې اوس يو څه په هوس وه او په سترګو کې يې اوښکی تللې راتللی سنان ته يې وويل ، ماته خو ډير څه کول په کار دی ، سنانه ته لږ زما اطاق ته راشه .

سنان ورته وويل ، زه د باسکل د کور څخه بياده راغلی يم او ډير ستړی يم سبا ته به درشم د سنان په لهجه کې اوس نرمی راغلی وه او جيني ته ددې تبديلې احساس وو.

www.afghanmedia24.com

جيني سنان ته وويل ما نن ماښام له تاسره ډيره بې  آدبي کړې ده لطفا ما وبخښه ، هغه ور وړاندې شوه او په دواړو لاسونو يې د سنان اوږې ونيولې لطفا سنانه راشه ، د سنان د سترګو څخه د جيني دنياوی ځيره غيبه شوه اوس هغه ته د يوی عامی، ساده او ښه جيني په شکل ښکاره کيده يوه ښه او شريفه جيني چې د جذباتو د شدت له کبله يې کومه ستره غلطی کړی وي او اوس د زړه څخه وربانده بښيمانه وی .
سنان دستمال راوويسته د هغې اوښکی يې پاکی کړی او جيني ته يې وويل نه هيڅ خبره نشته زه به سبا حتمی ستا اطاق ته راځم .
جينی ورته منت وکړ نه همدا نن شبه همدا اوس زه تاته اړتيا لرم .
سنان ورته ووېل ، تاته ما وويل کنه چې زه دير زيات ستړی شوی يم ، او بيا ستا ملګری هم دی .
د جيني په شوندو يوه ترخه مسکا راغله ، سنان ته يې وويل ښه زما ملګری ، ته سره ددې چې به هر څه بوه يې او بيا هم هغه ځناور زما ملګری  ګڼې .
هغې خبل لاسونه د سنان د اوږو څخه ليری کړل او د خپل شپني لباس پټۍ يې خلاصه کړه .
يو دوه قدمه  مخکې شوه او د خپل اطاق دروازه يې خلاصه کړه د دروازې د خلاصيدو سره سم په اطاق کې د لګيدلي ګروب رڼا په تياره زينو باندې پريوته. مخامخ په صوفه باندې همغه ګنجی سړی پروت وو او خريده .جيني د دروازې څخه ورچيغه کړه  هې ، پنځوس فرانک والا، ګنجي سړی په بړيدو سره راويښ شو ، کښيناسته او  يوه او بله خوا يې  وليدل . ده ته شايد د اطاق څخه بيرون په تياره کې ولاړه جيني نه ښکاره کيده . هغه لا صحيح نه وو بيدار شوی غږ يې کړ څوک ياستی ؟
جيني  ورته وويل ، ستا خوره، پنځوس فرانک
ګنجي سړي  خپلې دواړه سترګې ومښلې او بيا يې  د دروازې خواته وليدل هلته جيني ولاړه وه د دروازې په لاستي يې  لاس ايښې وو او ده ته يې ليدل . ګنجي سړي  خپل بنيان راواخيسته ګيډه يې وګروله او د يوې اوږدې ساه په اخيستلو سره يې له جيني پوښتنه وکړه څه شی دی ؟
جيني په جواب کې  ټوله دروازه خلاصه کړه .
ګنجی سړی راپورته شو ، په صوفه کښيناسته او ورته يې وويل څه مطلب ؟
جيني په غصه ورته وويل ، دا مطلب چې  اوس ورک شه
ګنجی سړی سمدلاسه په هوش کې راغی او جيني  ته يې وويل ، اما زما پنځوس فرانک، تر اوسه خو ----
جيني د خوب  د لباس په جيب  کې لاس ښکته کړ او د لس فرانکو څلور نوټونه يې راوويستل او د ګنجي سړي خواته يې ورووېشتل او ورته يې وويل ، ما لس فرانک د شرابو درڅخه واخيستل اوس نو نور ورک شه . قصه خلاصه
ګنجي سړي سنان ته چې د جيني شاته  ولاړ وو په قهرجن نظر وروليدل او بيا يې خبل نوټونه راټول کړل د نوټونو د جمع کولو څخه وروسته يې د پتلون په وروستي جيب کې واچول او بيا د بې باورۍ په حالت کې چې ګنجی سر يې خوځاوه د اطاق څخه بيرون ولاړه

ځنګه چې ېې په زینو باندې قدم کیښود نو بیا ېې یوه بده ښکنځل وکړه او  هملته کښیناست د عدم فکر  او یا د نشې له کبله ېې هلته د ماتې شوې ښیښي ټوټو ته پام نه شو .
جیني سنان د لاس څخه ونیوه او هغه ته ېې وویل راځه  سنانه .
سنان ددې ویرې  څخه چې چیرته جیني بیا کوم شور جوړ نه کړی نو په پټه خوله د هغې سره اطاق ته ولاړه . کله چې جیني دروازه بندوله نو په زینو کې ناست ګنجي سړي په غصه کې  ورته وویل ګراني زما بوټان او کوټ خو بیرته راکړه .
جیني د صوفې د لاندې څخه یو جوړه بوټان او په پالنګ باندې ېې پروت کوټ راپورته کړ او دواړه ېې بیرون ته وروغورځول ددې  کار څخه چې  فارغه شوه نو دروازه ېې بنده کړه هغې ژر ، ژر د اطاق ټول شیان پخپلو ځایونو کیښودل . او د کوچني میز په سر ېې د شرابو بوتل ته اشاره وکړه او سنان ته ېې وویل ، څکې ؟
سنان د سر په خوځولو سره جواب ورکړ چې نه ؟
هغې بوتل او ګیلاس د څنګ په الماری کې  کیښودل او بیا په صوفه کښیناسته . سنان لا تر اوسه پوری د دروازې سره ولاړ وو.
جیني یوه خوا شوه . سنان ته ېې وویل راځه سنانه کښینه . هغه اوس مکمل په هوش  کې وه سنان راغی او په همغه ځای کښیناست په کوم ځای کې چې څو لحظې مخکې هغه ګنجی سړی پروت وو ، سنان ورته وویل ، تا هسې زما لپاره نن خپل کار خراب کړ.
جیني ښه د زړه له اخلاصه وخندل او سنان ته ېې وویل ، نه هیڅ خبره نشته ، کاروباري خلک خو هم کله کله د خپل کار څخه ستړی کیږي او رخصت کوي .
هغه دومره با  وقاره او آرامه ښکاره کیده چې  دا ګمان ورباندې نه شو کیدلې چې دادې همغه جیني وي چې څو شیبې مخکې د شرابو په نشه کې ډوبه وه .
سنان ورڅخه وپوښتل ، څه موده وړاندې چې تا په نیوزیلینډ کې په مستقل ډول د اوسیدو لپاره کوم درخواست ورکړی وو د هغې څه وشو ؟
جیني ورته وویل . بس نو څه کیږي ، خو نن د سفارت څخه خط راغلې وو چې زما په درخواست کې  د دندې په خانه کې یوازې کاروباري ښځه لیکل شوې ده چې دا بسنه نه کوي . هغوي غواړي چې زما د پیشې په باره کې مکمل معلومات تر لاسه کړی تر څو ماته هلته د دندې بندو بست وکړی . اوس ته راته ووایه چې زه هغو ته څه تفصیل ولیکم .
سنان په بې پامۍ جواب ورکړ هو دا خو ده هغه ته ډیر خوب ورته .
جیني ته یو ناڅاپه خیال ورغی سنان ته ېې وویل آیا کافي به څکې؟
سنان: ته آرام ولې نه کوی ماته هم خوب راځي .
جیني :  ستا د خپل ډبې  کافي ده .اوس لږه پاتې شوي ده ، جیني ژر پاڅیده ، یوه کونج ته ولاړه نغرې ېې ولګاوه او د کافی په جوړولو لګیا شوه.
جیني لږ شاته راتاوه شوه له سنان څخه ېې وپوښتل آیا نن د پاسکل ملاقات ورغلې وی؟
سنان د سر په خوخولو سره جواب ورکړ ، هو
جیني : ټوله ورځ د هغه سره وی؟
سنان بیا د سر په ځوخولو سره جواب ورکړ هو

جيني ورڅخه وپوښتل هغه څنګه ده ؟
سنان په قراره سره ورته وويل ، بس ښه ده . د پرون ماښام د زياتو ګرځيدو له کبله د هغې درد زيات شوې وو .
جيني د مهربانۍ څخه په ډکه لهجه ورته وويل ، ويش بيچاره
د کافي د جوړولو څخه وروسته هغه راغله او بيرته په صوفه کښيناسته او پياله يې په ميز کيښوده .
سنان يوه پياله راپورته کړه او په قراره يې د کافي څکل پيل کړل. له ځانه سره يې فکر وکړ ، عجيبه جيني ده تر اوسه پورې يې د پاسکل نوم څومره په حقارت اخيسته او اوس يې په لهجه کې د همدردۍ او د رحم له جذباتو څخه پرته بل څه نه وو.
هغه يو دم سر راپورته کړ د جيني څخه يې پوښتنه وکړه . جيني آيا په باريس کې واقعا کرسمس ډير ښکلى وي. ؟
کرسمس؟ جيني په حيرانتيا ورڅخه وپوښتل ولې؟ تاته څنګه دا فکر پيدا شو ؟
سنان ورته وويل ، بس هسې
جيني د کافي پياله په کوچني ميز کيښوده او په خفګان سره يې سنان ته وويل د کرسمس هيڅ خاطره زما لپاره په زړه پورې نه ده.ماته ياد شی زه چې کوچنې وم نو د مارسيلز په شراب خانه کې به د کرسمس په ماښام ډير رش وو. زما مور به ټوله شپه هلته کار کاوه. په دې وخت کې به زه په يو کونج کې ناسته وم او د کرسمس خوړ کيک به مى خوړه. دا کيک به يوه ورځ مخکې زما مور د ما لپاره جوړاوه. د شرابو په نشه کې به ډوب خلک زما خواته راتلل او ماته به يې وويل ، اوهو څومره ښکلې نانځکه ده. بيا به يې وويل که چيرته دا ښکل کړو نو راتلونکې ټول کال به مو ښه تير شی . بيا به راتيټ شو زه به يې په مخ ښکل کړم او ماته به يې د کميس په جيب کې يو دوه څلور سکې واچولې. او ماته به يې وويل ، نانځکې په دې به خانته يوه نانځکه واخلی. په قرار، قرار چې ځوانيدم نو د سکو په شمير کې هم زياتوالي راغی. خو خير په هر صورت دا خو د کوچنيوالي کرسمس او پاريس وو.
په اوس وخت کې زه د کرسمس يوه ونه اخلم او هغه کور ته راوړم بيا دا ونه په ښکلو تارونو او په پړقيدونکو ګروپونو ښکلې کوم او بيا ټوله شپه يوازې ناسته يم او همدې ته ګورم. تاته به شايد معلومه وي چې د کرسمس په وخت کې د کورنۍ ټول خلک يو بل ته ډالۍ اخلي . او بيا هغه په رنګينو کاغذونو کې پيچي او بيا يې د کرسمس د ونې سره راځوړندوي او کله چې نيمه شپه د کليساوو ساعتونه وکړنګيږي نو دا ډالۍ راخلاصوي او يو بل ته يې ورکوي کله چې په رنګينو کاغذونو کې پيچل شوې ډالۍ خلاصوي نو د هغوې څيرې د ډيرى خوشحالۍ څخه غوړيدلې وي. هغوي نه پوهيږي چې دوي ته پلار، مور يا ملګري په کرسمس کې څه ډالۍ ورکړې ده؟ زه هم د بازار څخه يوه ښه ډالۍ راوړم او د خپل ځان لپاره هغه په دې ونه کې راځړوم او بيا نيمې شپې ته انتظار کوم . او بيا چې کله ساعت وکړنګيږي نو د کرسمس د ونې پورې ځړيدلې پارسل خلاصوم او هغې ته په دې فکر ګورم لکه چې په دی ډبې کې ما بنده ډالۍ هيڅ نه وي ليدلي . او دا ډالۍ چيرته يو بل چا يا يو

www.af.dawatmedia24.com

دوست ماته راکړی وي . د پاریس دا برخه دومره غریبه ده چې دلته د کرسمس سندره ویوونکی کوچنیان هم نه راځي.
سنان ورڅخه وپوښتل چې په کرسمس کې خو به دلته ډیرپروګرامونه او پارتیانې هم جوړیږي دا پوښتنه سنان نن غرمه له پاسکل څخه هم کړې وه.
جیني په بې دلې سره جواب ورکړ چې کیږي به خو ما څوک نه دعوت کوي
سنان چې پیاله خالي کړه نو په میز یې کیښوده او د جیب څخه یې سګرټ راوویسته او هغه یې ولګاوه جیني لاس ور اوږد کړ سګرټ یې د هغه د ګوتو څخه واخیسته او پخپله خوله کې یې کیښوده ، سنان ته یې وویل ته بل سګرټ ولګوه ، یو اوږد کش یې وکړ او د سنان څخه یې وپوښتل آیا ته به تر کرسمس پورې همدلته پاتې کیږی؟
سنان ورته وویل ، نه داسې خو نه ده.
جیني ورته وویل ، نو تاته بیا د پاریس د کرسمس په باره کې د معلوماتو څه ضرورت وو ؟
سنان دوهم سګرټ ولګاوه او یو کش یې ورڅخه وکړ او بیا یې جیني ته وویل ، د پاسکل خواهش دی چې زه د تر کرسمس پورې همدلته به باریس کې پاتې شم .
جینی ژر سیده کښیناسته او خپل سګرټ یې په سګرټ دانۍ کې ژر ومښه او سنان ته یې وویل ښه نو بیا تا څه پریکړه وکړه؟ سنان ورته وویل زه یو سیاح یم زه نه غواړم چې په یو ځای کې د پاتې کیدو له کبله زما پښې په همغه ځای کې ښخې شي او زه دې د تل لپاره ساکت پاتې شم .
جیني ورته وویل ، سنانه په یو ځای کې د پاتې کیدو او ساکت له کبله ښاڅکې غوړیږي او بیا بیا یې هغې ګلان راکیږي .
سنان په حیرانتیا سره د جیني خواته ولیدل او د هغې د دومره ښکلی فکر له کبله حیران شو.
جیني خپلو خبرو ته ادامه ورکړه. که داسې نه وی سنانه نو هر څه مړاوي کیږي د جیني په سترګو کې همغه خواهش تاویده د کوم اظهار چې نن غرمه پاسکل هم کړې وو.
سنان د سګرت څخه وروستی کش وکړ او بیا یې په سګرت دانی کې واچاوه. او پورته شو.
جیني خاموشه ناسته وه او سنان ته یې لیدل ـ د سګرټ دانۍ څخه د مړو شوو سګرټو لوګي پورته کیدل ..
سنان په بیره جیني ته وویل شپه دې پخیر . او د اطاق څخه بیرون ولاړه. د هغه په ذهن کې تو له شپه د پاسکل معصومه څیره تاویده او بیا د توری شپې په چوپتیا کې د لیری څخه یو غږ انګازې وکړی . هو د جیني غږ ، په یو ځای کې د اوسیدو څخه ، د ساکت کیدو څخه ، ښاڅکې شنې کیږي، بیا په کې ګلان زرغونیږي ګلان زرغونیږي ، ګلان .

په سبا سهار سنان د خپل اطاق په یو کونج کې په دیوال باندې د ځړیدلې ښیښي سره د ږیری په جوړولو مصروف وو. هغه د خپلې ملا څخه یو جانپاک تاو کړې وو سنان د هغو خلکو څخه وو چې د ږیری د جوړولو په وخت کې به یې د بورس او صابن سره ښه لوبې کولی . او ددې کار نتیجه به دا شوه چې هره خوابه ځګونه ښکاره کیدل . د ږیری د جوړوړولو

سامان او دده خپل جسم خو به ددې ځخه ښه متاثره شو خو پرته پرته ددې ځخه به د غسل خانې په ديوالونو باندې يوه نوی او شاهکاره مصوري هم جوړه شوه. ددې حالت ځخه د خلاصون لپاره به هغه د ږيری د جوړولو په وخت کې يوازې په يو جانپاک کې وو. د يخو اوبو له کبله به ځک نه ټينګيده.

يو ځل چې بی د ريزر ماشين استعمال کړ او ددوهم ځل لپاره بې صابن په مخ باندې واهه نو دروازه وټکيده . هغه سر ښکته کړ د جانپاک په يوې څنډه بې مخ د صابن ځخه پاک کړ او بيا بې دروازه خلاصه کړه. بيرون ميرمن ژي په داسې حال کې چې په خزان رسيده شونډو بې د شرارت ځخه ډکه مسکا خپره وه ولاړه وه او سنان ته بې نيغ نيغ ورليدل. هغې خو لومړی د سنان د ملا ځخه تاو شوې کوچني جانپاک ته وليدل ، بيا بې يوه اوږده ساه واخيسته او ناڅاپی بی سنان ته وويل ،

اوو، لالا ته تر اوسه پوری نه بی تيار شوی . هغه د جانپاک غوټه کلکه ونيوه او په ناخوښه موډ بې له سنان ځخه پوښتنه وکړه څه خبره ده ميرمن ژي؟

ميرمن ژي ورته وويل ، تا خو ويلي وو چې زه د کوم رومانتيکي فعاليت لپاره جوړ نه يم .

سنان ته سمدلاسه خيال راغی چې هر څنګه جې وی خو ميرمن ژي د تيرې شپی له هنګامې ځخه خبره شوې ده .

سنان ورته وويل ، څنګه رومانتيک فعاليت ؟ هغه خو موږ دواړو يوازې کافي ګڼله .

ميرمن ژي ورته وويل زه د جيني خبره نه کوم. هغه خو ټول رومانتس ، رومانتس دی. د کار او فعاليت مرحله خو په نوټونو طې کيږي .

سنان ته غصه ورغله ، ميرمن ژي لکه چې د خوند لپاره تر ماښامه هم انتظار ونه کړ.

سنان ورته وويل ، خفه نه شې زه اوس ځان جوړوم او بيرون چيرته روان يم .

ميرمن ژي د کړکی خواته اشاره وکړه او سنان ته بې وويل، زه نه خفه کيږم خو البته هغه هغه ګرده او خوږه ښځه چې د تيرو لسو منټونو ځخه لاندې په کوڅه کې ستا انتظار کوي حتمي به خفه شي.

سنان سر وخوځاوه او ژر بې د کړکی ځخه لاندې وليدل . د پياده لارې په غاړه د فرانسوي ( ستران) په کوچني ماډل موټر کې پاسکل سترينګ نيولې ناسته وه.

سنان د لاس په خوځولو سره ورته وويل ، سهار دې پخير

پاسکل په ډير آرام سره سر راپورته کړ او د سنان خواته بې وليدل.

بيا پاسکل په لوړ غږ ورته وويل ، کاهل الوجود هلکه ته تر اوسه پورې نه بې تيار شوې؟پاسکل قصدا دا خبره دومره په زوره وکړه چې په پياده لاره باندې تيريدونکو خلکو هم

واوریده او هغوې پورته د سنان خواته ولیدل. دوه عمر خوړلې ښځې خو همدلته ودریدلې او په داسې انداز يې سنان ته ورولیدل لکه چې ورته وايي چې ولې لاندې نه راښکته کیږې او ولې دا کوچنې نازکه وجود ویلی کوې.

پاسکل لږ. په قراره ورته وویل ، پاسکل پاسه اطاق ته راشه .

پاسکل د څه ویلو پرته په نفي کولو ورته سر وخوځاوه او د ګوتې په اشاره يې د لاندې راتلو ورته وویل په پیاده رو باندې ولاړو عمر خوړلو ښځو په قهرجن نظر د سنان خواته ولیدل او داسې بریښیده لکه هغوې چې ددې کار څخه ناخوښه وي چې یو داسې هلک چې د هغې په غاړه لا بنیان هم نشته او دا ساده جینې اطاق ته غواړي. عمر خوړلې ښځې روانې شوی.

سنان ژر ورته وویل دادې اوس درځم . بیا يې کړکی بنده کړه او همدلته په ولاړه، ولاړه يې په مخ باندې پاتی صابن په جانپاک سره پاک کړ او جامې يې بدلی کړی.

میرمن ژي لا تر اوسه د دروازې سره ولاړه وه .

هغه سر ښکته کړ او هغې ته يې وويل ، مننه کوم میرمن ژي .

میرمن ژي هیڅ ونه ویل .هغه لا ولاړه وه

هغه بیا سر ښکته کړ او هغې ته يې وويل ، مننه میرمن ژي ، زه اوس جامې بدلوم .

میرمن ژي یوه اوږده ساه واخیسته ، خپله ګوته يې د سنان په پلنه سینه ور زور کړه او په خندا سره يې ورته وويل ، شرارتي هلکه او بیا د اطاق څخه بیرون ولاړه.

سنان چې جامې بدلې کړی او لاندې کوڅې ته راښکته شو نو پاسکل په ډیری غصې سره په موټر کې ناسته وه.

سنان د بي چته موټر په لاستي باندې د لاس په کیښودلو سره ورته وويل ، سهار دې پخیر

پاسکل برګ ورولیدل او سنان ته يې وويل ، لس بجي دي . او زه پوره دقیقو څخه دلته ولاړه یم او مسلسل هارنونه وهم .

سنان ورته وويل ، نو پاسه اطاق ته به راغلې وی.

پاسکل ورته وويل ، په دومره زینو باندې د پورته کیدو همت مي نه درلوده او ستا د کور ملکې هم راته وويل چې تاته به غږ. کړی.

سنان ورته وويل ، هو میرمن ژي

پاسکل خوله ورانه کړه ستا د نوم په اوریدو ډیره تازه شوه .

سنان جواب ورکړ هو د هغې به طبیعت کې ډیره شوخي ده .

پاسکل ورته وویل ، په دې عمر کې هم ؟

بیا یې سنان ته وویل ، په هر صورت ته دا موټر اوس چالان کړه، پاسکل سترینګ پریښوده او د څنګ کرسۍ ته واوښته .

سنان وډار شو ، زه ؟

پاسکل ورته وویل هو ته ، له ما څخه بریک صحیح نه نیول کیږي .

سنان ورته وویل له موږ څخه دا کوچني کارونه نه کیږي ، سنان د نخرو څخه سینه ورته پراخه کړه . موږ موټر ته ډرایور نیسو .

پاسکل ورته وویل ، رشتیا ؟ پاسکل یې خبره ژر باور کړه .

سنان ورته وویل ، هو نو ، خو بیا یې ژر په جدي ډول ورته وویل ، پاسکل ته موټر خپله چالان کړه، په اصل کې تر نن ورځ پورې زموږ په ټول خاندان کې چا د موټر د اخیستلو توان نه دی پیدا کړی همدا علت دی چې د ډرایوینګ په معامله کې ډېر کمزورې یم. پاسکل د اطمنان ساه واخیسته او په خندا یې ورته وویل ځه ته به هم څه یاد ساتی نن به زه ستا د ډرایورۍ په حیث دنده ترسره کړم.

سنان ورڅخه لږ جدا شو او ورته یې وویل ښه زه به په وروستي سیټ کې کښینم . پاسکل په جواب کې ډېر برګ برګ ورولیدل او هغه په خندا سره بیرته د هغې په څنګ کې کښیناسته .

پاسکل موټر چالان کړ ، د مومارت د تنګو کوڅو څخه ووتله او د پاریس د اپر هاؤس څخه تیره شوه او د کنکورد چوک ته ورسیده. پاسکل کیڼې خواته اشاره وکړه او سنان ته یې وویل ددې چوک مخکینې نوم د انقلاب چوک وو او هغه مخامخ چې ښکلی فواره ښکاري دلته د ګلوټین په واسطه د شپاړسم لوېي سر پرې شوې وو. او بیا یې موټر کیڼې خواته د شانزی په سړک وربرابر کړ. هغې په ډېر مهارت سره موټر چلاوه. مګر بار ، بار به د هغې نظر د سړک څخه لیرې شو او په سنان باندې به مرکوز شو. هغه ددې بې ځایه التفات څخه ډار احساس کړ . نو پاسکل ته یې وویل:

مخکې ګوره داسې نه چې کومه پیښه وشی .

پاسکل له شرارت څخه ورته وویل ، پیښه خو شوې ده .

خو د سنان د منع کیدو سره سره بیا به هم هغې د سنان خواته لیدل.

سنان ورته وویل ، ته ماته ولی راګوری ؟

پاسکل د شوخې څخه ورته وویل ، د یونانیانو دیوتا أپالو رایادیږي .

سنان ژر ورته وویل ، تر کومه پورې چې زه پوهیږم نو آپالود غنم رنګه ، او د میانه قد درلودونکي عام سړی نه وو.



www.af.dawatmedia24.com

د پاسکل په سترګو کې شرارت نڅيده ، سنان ته يې وويل بس نو د وخت وخت خبره ده .

سنان ددې موضوع څخه د خلاصون لپاره ورته وويل ، آيا دا موټر ستا دی .

پاسکل جواب ورکړ نه

سنان ورته وويل ، د خاله دی؟

پاسکل جواب ورکړ، زما په پښی کې تر اوسه پورې درد وو نو ځکه مې له هغې څخه وغوښته . زه نن ډيره نشم ګرځيدلي يوازې کښيناستلي شم. ما درته ويلي وو کنه زه يوازې تر هغه وخته پورې ښکلې ښکارم تر کوم وخت پورې چې چيرته د يوې قهوه خانې په کونج کې ناسته يم .

سنان د روان موټر په لاستي لاس کيښود او پاسکل ته يې د اخطار په شکل وويل که چيرته دا ځل دې داسې خبره وکړه نو زه به د موټر څخه ښکته شم .

پاسکل په بيړې سره خپل ښۍ لاس پورته کړ لکه چا چې ټوپک ورته نيولې وي او سنان ته يې وويل نور به يې نه کوم .

سنان ورته وويل ، وعده ؟

پاسکل د خپل عادت سره سم د کوچنيانو په څير د سر په خوځولو ورته اقرار وکړ هو بالکل وعده .

سنان د موټر لاستی پريښوده ، د جيب څخه يې يو سګرټ راوويسته او هغه يې ولګاوه .

پاسکل نن يو ښکلی سپين لباس په تن کړې وو. او هغې خپلو پرې شوو طلايې ويښتانو د پاسه يو نيلي رنګه وريښمني رومال تړلې وو پخپلو اوږدو باڼو ګانو يې نيلي ميکپ هم کړی وو چې له کبله يې د سترګو نيلي والې نور هم راښکاره شوې وو.

نن بيا موسم ډير ښکلې وو او ټول ښار په روښانه لمر کې واضحه ښکاره کيده .

سنان د پاسکل څخه پوښتنه وکړه، پاسکل نن چيرته د تللو اراده لری ؟

پاسکل ورته وويل، د پاريس څخه بيرون د فانټين بليو يو رومانوي ځنګل دی . چيرته چې يو وخت د فرانسې بادشاه ښکار کاوه څه دې خيال دی؟

سنان ورته وويل ، هلته چې ولاړ شو څه به وکړو؟

پاسکل : پاکستانی نجونې چې ځنګلونو ته ولاړې شی نو هلته څه کوي؟

سنان: پاکستانی نجونې خو اول ځنګلونو ته هيڅ نه ځی او بيا د هلکانو سره خو هيڅ نه ځی . او بيا يې په خندا سره ورته وويل خو نن په تا باندې دا بنديز نشته ځکه چې نن تا غوړوالی نه دی اچولی.

پاسکل : هو شاید ته صحیح واېي هلته چې ولاړ شو څه به وکړو او که لاړ شو نو ماته به بیا زیات ګرځېدل راتر غاړې وی.

د هغې کوچنې موټر د شانز د ترافیکو په رش کې ورو روان وو. د هغې مخکې او وروسته د موټرو او ټیکسیانو یو سمندر وو. د سړک سره نږدې په پیاده لاره ډېر رش وو . ټولې قهوه خانې ښه ډکې وی. د پاریس ډېر خلک ددې روښانه ورځې د ښکلا څخه د برخمن کیدو لپاره د خپلو کورونو څخه راوتلي وو.

سنان ته خیال ورغی ، پاریس ته د راتللو په لومړی ورځ چې کله د بوي ډی بولون د سیمي څخه تیریده نو هلته يې د ښکلا او سکون ډېر احساس کړې وو او بیا يې تصمیم ونیوه چې ددې سیمې لیدو ته به یوه ورځ راځي. د ښار څخه بیرون به د سین د دریاب اوبه هم پاکې او رڼې وی . او ددې څخه پرته د پاسکل اپارتمان خو هم په همدې سیمه کې دی. نو سنان د وړاندیز په شکل پاسکل ته وویل که چیرته نن د بوي ډي بولون په سیمه کې د سین د دریاب شنو او پرسکونه کنارو ته چکر ووهو نو څنګه به وي؟

لیکن د ماهیانو د نیولو لپاره به د تار او کونډې انتظام له کومه ځایه کوو؟ سنان سر وګراوه .

پاسکل د خوشحالۍ څخه د موټر سترینګ په لاس وواهه او سنان ته يې وویل ، د نوټرډیم د کلیسا په څنګ کې د ګلانو یو بازار دی هلته د ماهیانو د نیولو سامان هم پیدا کیږي .

بیا يې د همغه ځای څخه د کنکورد د چوک خواته موټر تاو کړ. د پاسکل دا کړنه نورو موټر چلوونکو ډیره بده وګڼله. ځکه چې د شانز په سړک باندې په مخالف جهت کې د موټر ګرځول د قانون خلاف کړنه ده. هغوې د خپلې غصې اظهار د هارنونو په وهلو ، وهلو پیل کړ ، پاسکل یوازې د پزې په راټولیدو او پخپلې خندا سره ټول هارنونه خاموشه کړل. هسې یوه ښکلې جینې نو دومره حق هم نه لري چې په قانون کې لږ تغیر و تبدیل راولي . ثابته شوه چې فرانسوي نارینه د قانون څخه زیات ښایست ته احترام کوي.

سنان ورته وویل، آیا ته د خپلې ښکلې خندا څخه ناجایزه ګټه اخلې؟ بیا لږ شاته تاو شو او په ټولو هغو موټر چلوونکو يې نظر واچاوه چې د هارن د وهلو پرته يې د خپلو موټرونو چلول هم هیر کړي وو.

پاسکل ورته وویل دا خو هیڅ هم نه دی بیا يې وختدل ، ما په لسهاوو ځایونو کې غلط موټر ودرولې دی. د ترافیکي ګروپونو مې هیڅکله پروا نه ده کړی مګر تر ننه پورې بیا هم جریمه شوې نه یمه . فرانسوي پولیسو ته همدا رشوت ورکول کیږي .

سنان ورته وویل ، ډیره بده خبره ده . او د خپلې ناخوښې اظهار يې د سر په خوځولو سره وکړ.

کله چې د کنکورد چوک ته ورسیدل نو پاسکل راسته خواته موټر تاو کړ او د یو پل څخه چې تیر شو نو د ښار جزیرې ته ورسیدل . د سین دریاب دلته یو د بل څخه جدا کیږي او بیا یو

څو ګزه ليرې بيرته يو د بل سره يو ځای کيږي . ددې دواړو برخو تر منځ دا کوچنۍ جزيره د ښار جزيره بلل کيږي . د نوټر ډيم کليسا او د ګلانو بازار هم همدلته دی. د ګلانو په بازار کې دواړو خواوو ته د لرګيو په غرفو کې د تازه ګلانو انبارونه لګيدلي وو دا ګلان د پاريس په ښا و خوا سيمو کې رازرغونيږي او بيا سهار وختی په آس ګاډيو او موټرو کې دلته راوړل کيږي . د ګلانو د بازار تر څنګ يو بازار يوآزې د مرغانو د خريدو فروش لپاره ځانګړې شوې دی . د غرفو بيرون دوکانداران ولاړ وو چې د ګلانو قيمتونه او نومونه يې په چيغو بيانول .

يو ټيټ قدي دوکاندار په لاسونو کې د ژيړو ګلانو يوه ګلدسته نيولې وه د سنان خواته يې وليدل ، په خندا شو او بيا يې په فرانسوي ژبه کې يو څه وويل ، سنان ښه نيولې شو . ژيړ ګلابونه ډير ښکلی ښکاره کيدل هغه فکر وکړ چې د پاسکل لپاره به يوه ګلدسته واخلم هغه وړاندې شو او د دوکاندار څخه يې قيمت معلوم کړ . قيمت يې شل فرانک وو. نو هغه خپله اراده بدله کړه او يوازې په يو ګل يې اکتفا وکړه چې دوه فرانک قيمت يې درلوده .

په دې وخت کې پاسکل د ماهيانو د نيولو د سامان پسې ګرځيده چې بالاخره يې د بازار په يو سر کې په يوې چټلې غرفه کې د يو خوبولي فرانسوي بوډا څخه ترلاسه کړل.

سنان د بوډا سړي په آرام کې په مخل کيدو سره وپوښتل د سين په درياب کې د ماهيانو د ښکار لپاره لږ تر لږه موږ ته د څومره سامان ضرورت دی؟

بوډا سړی اوږده ساه واخيسته په سر يې د خپل فرانسوي طرز خولۍ ښه برابره کړه بيا يې وټوخل ، سنان ته يې وويل لږ تر لږه سامان کنه ؟

سنان د اثبات لپاره ورته سر وخوځاوه ، هو

بوډا په پاسکل باندې يو نظر واچاوه او بيا يې خپله غټه ږيره وګروله او ورته يې وويل ، دوه امريکايې کونډې او تارونه پنځوس فرانک . د اوبو څخه د ماهيانو د راويستلو جال لس فرانک ، په کونډو کې د جعلي چينجيو او خزندو فی درجن شل فرانک، د ښکار شوو ماهيانو د ساتلو لپاره د ټيپ لس فرانک، چې ټول نوي فرانکه کيږي ټول نوي فرانک موسو .

سنان په ناخوښه لهجه د بوډا سړي د نقل په ويستلو سره ورته وويل تول نوي فرانک موسيو . خو مشره موږ ماهيان نيسو مګر مچان نه نيسو . نوي فرانک خو ډير زيات دی او بيا د غرفې څخه بيرون ته په وتو شو .

بوډا سړي د سنان په اوږه لاس کيښود سنان ته يې وويل ، آيا ستا مقصد واقعا د ماهيانو نيول دي او که د ميډ موزيل سره د يوې خوشګواره غرمې تيرول دي .

سنان د فرانسويانو په څير اوږې راټولې کړی او په ځواب کې يې ورته وويل بس داسې دواړه نيم په نيمه وګڼه .

بوډا سړي  په یو کونج کې پروت د لرګي  د یو صندوق په خلاصولو سره سنان ته یو زیرې ورکړ او  هغه ته یې وویل ، ښه بیا نو ماسره دغه استعمال شوې کونډې دي  چې یو دانه یې پنځه فرانک قیمت لري او جعلي چینجي وروسره وړیا دي .

سنان د فرانسوی ژبی د یوې شتمنې  د یو لفظ ( تری بیا)  څخه استفاده وکړه.

د کونډو د اخیستلو څخه وروسته هغوې دواړه د ګلانو د بازار څخه تیر شو او سړک ته راغلل چیرته چې د پاسکل موټر ولاړ وو. سنان کونډې په وروسته سیټ کې  کیښودی او خپله په مخکې سیټ کې کښیناست. خو پاسکل لا ولاړه وه.

سنان ورته وویل ، څه خبره ده په موټر کې ولی نه کښینی ؟

پاسکل جواب ورکړ تا خو د ماهیانو د نیولو لپاره نقلي چینجي واخیستل خو د خپل ځان لپاره دې څه وانخیستل که چیرته زه په غلطه نه یم نو دچکر لپاره د خوراک هم اړتیا ده .

سنان د موټر څخه راښکته شو د پاسکل په مخکې یې سر ټیټ کړ او  هغې ته یې وویل پاسکل بی بی تاسو صحیح وایاست. بیا یې پاسکل د مټ څخه ونیوله او د سړک بلې خوا یوې  قهوه خانې ته ولاړل .

د قهوه خانې  د تورو بریتونو دراز قده مالک د کاونټر شاته د نن ورځې د لومړي مشتري په انتظار کې اړږمي کول. کله چې  یې دوی ولیدل نو بریتونه یې د پوزې د سوریو څخه پورته ولاړل او په خندا شو . پاسکل د سنان په مشوره سلاد، تازه میوه ، پنیر او وچه غوښه واخیسته . په دې دوران کې  د قهوه خانې د مالک سترګې په سنان کې ښخې وی او  هغه ته یې په ډیر ځیر سره کتل او د یو څه یادولو  هڅه یې کوله . د یو څه وخت وروسته هغه په فرانسوي ژبه کې سنان ته یو څه وویل ، پاسکل ددوې  د ترجمانی دنده ترسره کوله سنان ته یې وویل چې دا کس وایې  چې ته د کوم هیواد څخه راغلې یې ؟

د سنان د خولی څخه به لا د پاکستان الفاظ هم صحیح نه وو ادا شوي چې هغه په ډیر جوش سره وویل ، الحمدالله او د کاونټر د شاه څخه یې د سنان اوږی په ولاړه، ولاړه ونیولی . لهجه یې خالص عربي وه .

د ملا څخه چاپیر سپین پیش بند یې لیری کړ د کاونټر له شاه څخه بیرون راغی او سنان ته یې کلکه غاړه ورکړه او پر دوړاو مخونو یې ښکل کړ سنان ته اوس معلومه شوه چې فرانسویانو دا عادت له کوم ځای څخه مستعار اخیستی دی.

هغه وویل ، الحمدالله الجزایری ، محمد بکر

د الجزایر اوسیدونکې محمد بکر د سنان او پاسکل داسې  میلمستیا وکړه چې دوی حیران شو او فکر یې وکړ لکه دوې چې په پاریس کې د قهوه خانې په ځای په صحرا کې دده خیمې ته د

میلمنو په ډول راغلي وي. کافي بې وربانديږ وڅکله. سینډویچ بې وربانديږ وخوړل او د تللو په وخت کې بې یو کریمي کیک د ډالی په ډول د خوراک په ټوکرۍ کې ورته کېښود.

د قهوه خانې څخه د وتلو په وخت کې سمدلاسه پاسکل په ډېره حیرانتیا سره سنان ته وویل ، دې الجزایري خو ستا دومره استقبال وکړ لکه تاسو چې خپلو کې خپلوان یاستی

سنان ورته وویل ، موږ دواړه په یوې رسۍ تړل شوي یو چې د هغې نوم اسلام دی . او هو موږ په دې اړیکې سره رشته داران یو پاسکل ډېره متاثره ښکاره کېده .

یو ځل بیا موټر د کنکورد په چوک کې ښې خواته تاو شو . د شانزی څخه د تیرېدو وروسته د فتح تر محراب پورې راغلل. د هغې په ستره ګرده ګولاېې کې په لسهاوو موټرې د میږیانو په څیر په قرار قرار سره روانې وی . د دولس ښکلو سړکونو څخه به ټول ترافیک دې ګرده ګولاېې ته راوتل او بیا به همدا ترافیک بیرته په همدې سړکونو کې جذب کېدل .

د فتح د محراب بلې خواته په وتلي سړک او د ایونیوفاک په سر باندې د بوي ډي بولون سیمه ده . پاسکل خپل کوچنې موټر په ګرده ګولاېې کې واچاوه چې د دیوقامته ټرکونو او د اوږدو آمریکاېي موټرونو تر منځ واقعا د یو میږي په څیر ښکاره کېده . د یو وخت وروسته سنان ته دا احساس وشو چې پاسکل په ایونیو فاک کې د تاویدو په ځای په متواتر ډول باندې ګرده څرخیږي .

سنان په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه ، دا څه کیږي ؟

پاسکل ځان کوڼ اچولې وو او موټر بې ګرد څرخاوه ، د هغې څیره د روښانه تیز لمر له کبله سره شوې وه.

سنان ورڅخه پوښتنه وکړه آخر ته په ایونیو فاک کې موټر ولې نه ګرځوی؟ آخر داسی ولی د فتح د محراب ګرد چاپیره داسې بې مقصده موټر ګرد څرخوی؟

پاسکل پرته له دې چې دده خواته وګوری جواب ورکړ زه نن ډېره خوشحاله یم .

سنان ورته وویل ، سمه ده ما ومنله خو موږ د تیرو لسو دقیقو څخه یوآزې په یوې دایره کې تاویږو.

پاسکل ورته وویل ، که چیرته زه رقص نشم کولی نو څه وشو. لږ تر لږه خو په موټر کې څرخیدلې شم . یو ، او بیا بې په زوره وویل ، یو دوه ، دری تاو شه . یوه ، دوه دری . د هغې نیلي سترګې ځلیدلی .

پاسکل ژر د یو ، دوه ، دری الفاظ ادا کول او بیا بې د تاو شه په ویلو ویلو سره په ټول محراب کې یو څرخ واهه. سنان ددې حالت څخه ډیر پریشانه شو . او هغه بې په ډیر مشکل سره پوهه کړه چې د ډېرو موټرونو موټر چلوونکې تاته بد بد درګوري خو بالاخره پاسکل په ایونیو فاک کې موټر تاو کړ او د نیولي د پل سره په څنګ کې ښې خواته د بوي ډي بولون

علاقې ته ولاړل . د پاسکل اپارتمان شاته پاتې شو هغوې د پیاده لارې تر څنګ موټر ودراوه. او پر همغه لاره روان شو په کومه لاره چې څو ورځې مخکې سنا ن د کیمپ په تلاش کې سرګردانه ګرځیده .

د سنان په یو لاس کې د خوراک ټوکرۍ ځنګیده او اوږو باندې یې د ماهیانو د نیولو کونډې ایښې وې. پاسکل د تکیې څخه پرته د هغه سره روانه وه.

پاسکل ورته وویل څومره د حیرانتیا خبره ده چې زه دلته نږدې اوسیږم خو بیا هم کله دلته نه یم راغلی.

سنان د خوراک ټوکرۍ چې اوس لږ وزن داره ښکاره کیده بل لاس ته په انتقالولو سره ورته وویل ، او زه چې دومره لیرې اوسیږم نو بیا هم نن دلته راغلم .

پاسکل ځای په ځای ودریده سنان ته یې وویل یوازې زما لپاره کنه سنانه ؟ یوازې زما لپاره دومره لیرې راغلی ؟

سنان ورته وویل ، هو یوازې ستا لپاره بیا یې د پاسکل مټ ونیوه او دواړه روان شو . لږ لیرې چې ولاړل نو د اوسیدو د کورونو او د اوسیدونکو کښتیو سلسله ختمه شوه .

اوس د پیاده لارې سره سره یوه اوسپنیزه کټاره تلله چې د هغې سره یوه شنه غونډۍ لاندې تر دریاب پورې غځیدلې وه. د اوسپنیزې کټارې تر منځ په یو څو ګزه فاصله کې یو سپین رنګه پاټک ښکاره کیده. سنان د پاټک کونډه خلاصه کړه او په ډبرینه زینه ښکته شو او لاندې تر دریاب پورې ولاړه . پیاده لاره او د سړک د غاړې کورونه اوس د سترګو څخه پټ شوې وو یوازې ونې او د ونو ګڼ ښاخونه ښکاره کیدل چې مخامخ ورته د سین دریات بهیده . د ښار د منځ څخه د تیریدونکې دریاب په نسبت د دریاب دا برخه ډیره ښکلې او آرامه وه. دلته د دریاب د غاړې سره د پراخه پیاده لارې په ځای واښه او ځنګلي ګلان وو. د ښار په منځ کې بهیدونکې دریاب د ښاریانو په خیر سینګار شوې وو . سیمنټي پیاده لاره، د ناستې لپاره د لرګي بینچونه ، شا وخوا تاریخي عمارتونه او بې شمیره ښکلي پلونه وو. اما دلته همغه دریاب د یوې کلیوالې پیغلې په څیر وو چې حسن یې یوازې په طبعي چاپیریال کې غوړیږي .

د دریاب سره په غاړه ، غاړه تر لیرې ځایه پورې د څیرې او د ولې ونې ولاړې وې. ځنګلي ګلان د دریاب تر سطحې پورې رارسیدلې وو. کله چې به هوا وچلیده نو دا ښکلي ګلان او شنې پاڼې به یې په اوبو کې ښکته شوې غوټه به یې ووهله او بیا به رابیرون شو. لکه کومه هیلۍ چې خپله تنده ماتوي . د لمر په وړانګو کې نور ګرمایش په زیاتیدو وو.

پاسکل د ګڼو ونو لاندې یو سیورې لرونکې او آرامه ځای پیدا کړ هلته یې خپل سپین باراني کوټ خپور کړ او پاسکل ته یې وویل راشه دلته کښینه .

پاسکل ورته وویل ، مننه موسیو . بیا یې د نازک اندامه بیلي رینا په ځیر پځپلو دواړو لاسونو باندې د خپل سپین لباس څنډې ونیولې او لږ یې پورته کړې او بیا په سپین باراني کوټ باندې د یوې ښکلې سپیني هیلۍ په څیر ښکیناسته .

هغې ورته وویل سنانه

سنان ژر ورته وویل ، هو اورم ، څه خبره ده ؟

پاسکل ورته وویل ، هغه بیچاره ماهیان به د خپلو چینجیو انتظار کوي. د سپینې هیلۍ ځیره د یو ګل په څیر غوړیدلې وه.

سنان ورته وویل ، هو ، ته همدلته کښینه . بیا ښکته شو او کونډې یې راواخیستې . مګر د هغه نظر اوس هم په پاسکل باندې وو . د سپین باراني کوټ او د سپین لباس تر شاه اوس یوازې یوه سپینه ګرده ځیره ښکاره کیده.

پاسکل ورته وویل ، څه شي ته ګورې سنانه ؟ د پاسکل سترګې بې حده شفافه وې .

سنان ورته وویل ، بس هسې د یوناني د یوبالا په باره کې زما معلومات ستا په څیر پراخه نه دي کنه ما به هم ته د یوې ښکلې دیوي سره تشبیه کړې وې.

پاسکل خپل نظر ښکته واچاوه ، په قراره یې وویل ، هغه ماهیان بیچاره ګان

سنان په خندا سره ورته وویل ، دادې ځمه ،هغه کونډې او د جعلي چینجیو ډبې واخیسته په تللو کې وو چې یو څه وریاد شو . د ګلانو په بازار کې اخیستل شوې ژیړ ګلاب یې تر اوسه په جیب کې کاغذ پیچ پروت وو. هغه په جیب کې لاس کې ښکته کړ او هیلۍ باندې وربښکته شو ورته یې وویل ، پاسکل

پاسکل ژر وډار شوه سنان ته یې وویل ، خلک مو ویني .

سنان ورته وویل ، نه تا غلط فکر وکړ بیا په خندا شو او د جیب څخه یې د ګلاب ګل راوویسته او هغه یې د پاسکل په سپین لباس کې ولګاوه او ورته یې وویل ، دا ګل مې ستا لپاره د ګلانو په بازار کې واخیسته .

پاسکل ورته وویل ، مننه کوم ، بیا یې سر ښکته کړ د ګلاب بوې یې حس کړ. او سنان ته یې وویل که چیرته خلک مو ووینې نو څه فرق کوي ؟

سنان ورته وویل نه فرق نه کوي بیا یې کونډې په اوږه کینبودې او د دریاب خواته روان شو .

د دریاب اوبه د مینځل شوې سپین څادر په څیر د هر ډول ګندګیو څخه پاکې وې. او په هغې باندې د یو آرامه جهیل ګمان کیده. په بله غاړه باندې ځنګل ډیر ګڼ وو او یا لږ تر لږه ګڼ ښکاره کیده. کله نا کله به چې کوم کشتي ران د دریاب سطحه ځیرې کړه او د نیولي د پل

خواته به ولاړه نو بیا به په موجونو کې یو شدت او طوفان رامنځته شو . نرۍ څپې به تر غاړو پورې ورسیدې او په بیړه بیړه به بې پاڼې او ګلان ښکل کړل. سنان همغلته په وښو کښیناست. او د دواړو کونډو سره بې یوه یوه جعلي چینګښه وتړله او بیا بې په اوبو کې ښکته کړی. د کونډو لښتې بې د دریاب د غاړې په لمده ځته کې ننویستی. او بیا بیرته د پاسکل خواته راغی. هغې په سپین باراني کوټ کې ځان پیچلي وو او د ( پاریس ویکلي انفارمیشن) د مجلې پاڼې بې اړولې را اړولی . د لمر د وړانګو د شدت له کبله د هغې څیره د انګار په څیر سره شوې وه.

سنان خپل نیلي کوټ وویسته او د پاسکل په څنګ کې بې هوار کړ او همغلته وربانديې کښیناست. هغه د مجلې په لوستلو کې لا مصروفه وه.

سنان ورځخه پوښتنه وکړه ته وګوره چې په دې مجله کې بې څه لیکلې دي ، سبا به د لودر میوزیم خلاصیږي او کنه ؟ کله د کوم ملګری د ملاقات له کبله راځخه د هغه ځای لیدل پاتی شی او یا کله هلته رخصت وي . خو سبا بې زه حتمي لیدل غواړم.

پاسکل ورته وویل ، سبا ډیر لیرې دی . دا وخت زه یوازې د نن په باره کې فکر کولای شم . هغې مجله پخپل مخ خپره کړه او مخ بې په کې پټ کړ او زمزمه بې پیل کړه. سنان د مجلې په هغه ځای باندې ګوته کینوده چیرته چې د پاسکل نرۍ اوږده پزه راوتلې وه هغې ته بې وویل ( هی پاسکل بی بی) ، که چیرته ما د ماهیانو شوق درلودلې نو یو درجن به مې د بازار څخه اخیستي وو او پخپل اطاق کې به مې راځړولي وو هسې دومره زحمت ته څه اړتیا وه ؟

پاسکل ورته وویل ، عین زما د پاسه د ونو پاڼې ډیرې ګڼې نه دي د لمر تیزې وړانګې مې په مخ باندې پریوتلې نو ځکه مې مجله په مخ باندې خپره کړه هغې د مجلې یو کونج پورته کړ او د سنان خواته بې ولیدل سترګې بې بندې کړی سنان ته بې وویل ته خپلې خبرې کوه زه بې اورم.

سنان یو نظر د کونډو خواته وروليدل چې تر اوسه په اوبو کې ساکنه وی نو همغلته پخپل نیلي کوټ باندې چې په نرمو وښو کې بې هوار کړې وو وغځیده.

پاسکل صحیح ویلي وو. عین د سنان له پاسه به په پاڼو کې د لمر دایرې وځلیدې ، سترګې به بې وبریښولې او بیا به ورکې شوی هوا چې به د متحرکو پاڼو له منځ څخه تیره شوه نو د یو مبهم شور سره بې د یوې خوشګواره یخنۍ احساس کیده . نن ورځ ډیره ګرمه وه. د دریاب په رڼه سطح کې به د لمر تیزې وړانګې جذب کیدلی. د اوبو په یوه برخه باندې غبار ښکاره کیده.

د سنان سترګې پټې شوی هغه ته ډیر زیات خوب ورته. د دریاب بلې غاړې ته د ګڼو ونو په منځ کې کوم ځنګلي مرغه په چغیدو شو. هغه ته د ګرمی د موسم هغه تپ جنې غرمې وریادې شوی کله چې به هغه د کلی څخه وتله او د راهټ په لور به روان شو نو په لاره کې

به د کیکر  د ونې د خار داره څانګو د سیورې لاندې دمې ته کښیناست نو په څانګه کې جل وهلی فاخته مرغه د کوکو کوکو چیغې شروع کړی. د فاخته د مرغی غږ د سنان لپاره د یوې ګرمی او تپجنې غرمی نښه وه.

پاسکل د مجلې یو کونج پورته کړ سنان ته یې وویل بیده شوی؟ د هغې سترګې دخوب څخه سرې وی .

سنان چې سترګې خلاصی کړی نو د پاسکل خواته یې ولیدل او په خندا شو. هغه خپل ځان ډیر سست او سپک احساس کاوه . داسې لکه وخت چې دریدلې وي. هر شی پخپل ځای باندې ساقط شوې وي . په دریاب کې دوه ساکنې کونډې دی ، د پاسکل سپین لباس دی او ژیړ ګلاب دی او بس .

پاسکل د کونډو خواته اشاره وکړه او د سنان څخه یې وپوښتل آیا ته په پاکستان کې هم د ماهیانو ښکار ته تللی ؟

سنان ددې پوښتنې د جوابولو لپاره د کوچنیوالې تر حده پورې ولاړه دده سترګو ته نیغ یو ګرم ، لیرې او په خاورو کې پټ یو کلې ودریده.

په اوس وخت کې خو کله نه یم تللی خو البته په کوچنیوالې  کی به چې کله هم زموږ د مکتب د ګرمی رخصتې شوه نو د نیا سره به کلي ته تللم تر څو په یو آرامه ماحول کې د مکتب د رخصتیو دنده په آسانۍ سره تکمیل کړم . دا چې په هغه وخت کې برق  او داسې نور څه نه وو نو زموږ په کور کې به دوه کټونه یو بل ته تکیه او په مخروطي ډول به ودرول شو او د هغې په لاندې ځمکه به یې لیمڅې هوار کړ په دې ډول په خلاصه فضا کې به یې یوه خیمه جوړه کړه چې هم به یې د تیز لمر څخه ساتلو او هم به په کې ګرمه هوا چلیده. څو ورځې به مې هلته ښه په بیمغه زړه  له سهاره تر ماښام پورې د حساب د پوښتنو په جوابولو او د مضمون د تمریناتو په حل کې تیر کړل خو ددې څخه وروسته به زما نظر په غیر اختیاري ډول د مسجد څخه لیرې د ندافانو د کورونو تر څنګ په ختین تالاب باندې پریوته . هغه وخت به  د ماهیانو د نیولو کنډه په یوې آنې وه. د تالاب له غاړې به مو بانسونه راوړل او تار به راته نیا راکړې وو بس دا دې د ماهیانو د نیولو د نوې فرانکو سامان به تیار شو. په دام کې د ماهیانو د ګیرولو لپاره به نقلې چینجې او چنګښې نه پیدا کیدلې نو له همدې کبله به زه د اصلې چینجیو په لټه د فاجوجات د مالټو د باغ په څنګ کې د اوبو ویالې ته تللم. پخپلو کوچنیو ، کوچنیو نازکه لاسونو به مې نمجنه او ختینه خاوره راسپړله او بیا به نازکه ، نازکه چینجې د یو او بل ځای څخه دې کندې ته راتلل. او کله به چې ما د خاورو څخه د هغوې  د راویستلو هڅه کوله نو په دوې کې به زیات مات شو. دا قیمتې چینجې به مې  په په خلته  کې د نمجنې خاورې سره یو ځای واچول او بیرته به تالاب ته راغلم . د تالاب غاړې  ډیر اوچته وي او د جون او جولاې  د میاشتې د خوټیدونکې  لمر له کبله به ورباندې کښیناستل ډیر سخت وو. په هرصورت ما به د خپلې ککوړې څخه خپل ټول سامان راوویسته او په ځمکه به مې کیښوده. بیا به مې په ډیره مینه یو چینجې راوویسته هغه به مې دوه ټوټې کړ نیم چینجې به مو په لاړو

لوند کړ او په کونډه کې به مو راکش کړ او بیا به مو د تالاب ختینو او تورو اوبو ته واچوله. ددې وروسته به زما سترګې نه پټیدی په توده غرمه کې به مو بانس ته سترګې رډې نیولې وی. بیا به په انتظار ناست وم او په کونډه کې به مې د ماهي نیولو ته انتظار کاوه. ددې څخه مخکې به ما د تالاب سره یوه کنده وویسته هغه به مې د اوبو څخه ډکه کړه تر څو ښکار شوی ماهیان په کې وساتم خو ددې نوبت به ډیر کم راته کله نا کله خو به کوم کشپ زما قیمتي کونډه د بانس او تار سره یو ځای وخوړه او اوبو ته به یې ښکته کړه. پاسکل تا کله کوم کشپ لیدلې دی ؟

خو د پاسکل لخوا کوم جواب رانغی ، هغه بیده شوې وه .

سنان په قراره پورته شو او د دریاب غاړې ته ولاړه. کونډې یې د دریاب د اوبو څخه راوویستلی او ښه یې ولیدلی. نقلي چینګښې چې څنګه وی نو همغسې وی. د ماهي په نوم کوم شی یې په څنګ کې هم نه وو تیر شوی.

لږ لیرې د دریاب په غاړه دوه ډیر چاق فرانسوي سړي او د هغوي همدومره چاقې ښځې په تفریح مشغول وو. د هغوي سره په څنګ کې یوی کوچنې جینۍ په اوبو کې پښې ښکته کړی وی او خوشحاله ناسته وه. په وښو باندې یو سپین څادر خپور وو چې په هغې باندې د خوراک توکرې او د سپینو فرانسوي شرابو څو بوتلونه پراته وو. ښځې خوبولې پرتې وی او د لمر د وړانګو د ګرموالي څخه یې خوند اخیسته. او نارینه وو په خاموشۍ د اخبار د لوستلو سره سره د بوتلونو سره خولې لګولې وی او شراب یې هم څکل.دوې ته مخامخ په یوې ترل شوې کښتې باندې چې شاید ددوې خپله وه د ماهیانو د نیولو څو کونډې په اوبو کې پرتې وی. یو سړي د شرابو یو تش بوتل په دریاب کې ګوزار کړ چې ژر په اوبو کې ډوب شو په اوبو کې لږ موجونه راپیدا شو او بیا لږه خاموشي خپره شوه.

سنان یو ځل بیا ټولې چنګښې د کونډو سره ښه مضبوطې وتړلی او په نه زړه یې دریاب ته ورګوزارې کړی او بیا بیرته ورڅخه روان شو. پاسکل لا قراره بیده وه. د دریاب څخه د هوا یوه څپه راغله د ونو په پاڼو کې لږ شور جوړ شو او بیا همغه ډول خاموشي خپره شوه. سنان خپل نیلي کوټ ټول کړ او د سر لاندې یې کیښود او هملته په وښو څملاسته او بیا خدای خبر چې څه وخت خوب پخپله یخه او آرامه غیږه کې په ټپ ټپ سره بیده کړې وو. کله چې د هغه سترګی خلاصی شو نو د ونو د پاڼو تر منځ د ځلیدونکي لمر په تیزه رڼا کې لږه نرمي راغلې وه. کله چې په څنګ واوښت او څنګ ته یې ولیدل نو هلته یې ټول شوی سپین باراني کوټ پروت وو. هغه راپورته شو او کښیناست. پاسکل د دریاب په غاړه ناسته وه. او خپلې پښې یې په دریاب کې ښکته کړی وی. هغې په د اوبو څخه کونډې راوویستې لټ په لټ به یې ولیدلی او بیا به یې په اوبو کې واچولې. غرمه نوره ختمه شوې وه. او د ونو د سیورې لاندې اوس یو څه یخني احساس کیده . سنان د خوراک ټوکرۍ او باراني کوټ واخیسته او د دریاب خواته ولاړه چیرته چې تر اوسه لمر وو. پاسکل د هغه د قدمونو غږ واوریده سر یې لږ شان خم کړ او شاته یې ولیدل . په خندا شوه او بیرته یې مخ واړاوه. هغه د دریاب د غاړې

سره برساتي کوټ هوار کړ د خوراک ټوکرۍ یې ورباندې کېښوده او خپله راغی د سنان سره کښیناست.

د دریاب سطحه د مخکې په څېر د سکون څخه ډکه وه. مګر هغه لړه او غبار چې غرمه د اوبو په سطحه وه اوس نه وه .

د لمر په وړانګو کې نو د ژېړوالي عنصر په ښکاره کېدو وو . پاسکل چې به خپلې پښې ښکته کړې او د دریاب د غاړې ختې به یې د پښو په نوکانو وګرولې نو ټولې پښې به یې په ختو شوی بیا به یې خپلې پښې د دریاب په اوبو کې ښکته کړې د دریاب د نرمو څپو سره به د هغې د پښو ختې په قرار ، قرار پاکې شوی د پاکېدو څخه وروسته به د هغې پښې د یو سپین لامبو وهونکي ماهي په څېر ښکاره کېدلې.

پاسکل سر راپورته کړ او د سنان خواته یې ولیدل ، هغه ته یې وویل :هغه چالاکه بوډا چې د ماهیانو د نیولو لپاره یې موږ ته جعلي چنګښې راکړې دي استعمال شده دي . هغې د اوسپنې یوه چنګښه سنان ته وښوده او د سر په خوځولو سره یې ورته وویل ، ددې رنګ تللی دی . نو کله چې یې ماهیان وګوري نو سمدلاسه پوهیږي چې دا اصلي نه دی .

سنان په خندا سره ورته وویل اصلي چنګښې خو د فرانس خلک هسې هم د ماښام په ډوډۍ کې په یوه کپ سره تیروي.

پاسکل شکل وران کړ په ګېډه یې د لاس په تیرولو سره ورته وویل زه اوس دومره وږې شوې یم که چیرته بل څه پیدا نه شي نو شاید دا د اوسپنې چنګښه وخورم.

سنان د خپل ځای څخه راپورته شو د ټوکرۍ څخه یې خوراک راوویسته او په باراني کوټ باندې یې د کیښودلو په وخت کې ورته وویل خیر ددې ضرورت به نه پیښیږي .

پاسکل لا تر اوسه پورې په اوبو کې پښې ښکته کړې وې. سنان ورته وویل ، که هغه چنګښه اصلي نه وه نو ستا پښې خو اصلي دي کنه کوم ماهي دی ونه خوري .

رښتیا ؟ پاسکل ژر خپلې دواړه پښې د اوبو څخه راوویستلې ، پاسکل سنان ته وویل ، سنانه ، لطفا زما لږ مرسته وکړه. سنان ورووړاندې شو د هغې مټ یې ونیو او هغه پاڅیده. د هغې په سپین لباس باندې ځای په ځای ختې وې.

سنان ورته وویل ، دلته په کښیناستلو سره تا دومره ښکلی او ښه لباس څومره خراب کړ. سنان په ځمکه کښیناسته او د رومال په واسطه یې د هغې د لباس څخه د ختو په پاکولو باندې پیل وکړ.

پاسکل د سنان لاس ونیوه او هغه ته یې وویل ، مه کوه سنانه ، دا لباس همداسې ناولې او په ختو ککړ پریږده.

سنان ودریده ، پوښتنه یې ورځینې وکړه ، ولی ؟



www.afghanmedia24.com

پاسکل ورته وویل ، ستا راکړل شوې د ژیړ ګلاب کل به تل د ختو په دې ککړو شوو جامو لګیدلې وی. ددې لباس نښې به ماته هغه دا ښکلې غرمه را په زړه کوي کله چې زه ستا په باراني کوټ باندې پرته وم او د ونو د پاڼو تر منځ مې د لمر وړانګې لیدلی.ددې سره نښتي واښه ، خاوره او بیا دا ختې به ماته په بوي ډې بولون کې د سین د دریاب په غاړه له تاسره د تیرې شوې نن ورځې یاد را په زړه کوي . دې ټولو اوس د یادونو خوشبوۍ واخیسته .

سنان په ختو ککړ رومال په جیب کې واچاوه. او پاسکل ته یې وویل ، تا خو خپله ماته ویلي وو چې زه د سبا په هکله فکر نه کوم.

پاسکل ورته وویل ، سنانه دا خو د سبا خبره نه ده . دا خو د راتلونکو پیړیو ذکر دی .

سنان ورته وویل ، په هر صورت بیا په برساتي کوټ باندې کښیناست. او پاسکل ته یی وویل ، ته حتمي دا په ختو ککړ لباس له ځان سره وساته زما ورباندې څه اعتراض نشته بلکه داد محمد بکر الجزایري لخوا راکړل شوې کیک هم تر راتلونکو پیړیو پورې له ځان سره وساته .

پاسکل ته ژر خپله ولړه وریاده شوه سنان ته یې وویل دا خو به همدا اوس وخوړل شي بیا راغله او د سنان سره کښیناسته .

د خوراک څخه وروسته سنان سګرټ ولګاوه . نور ماښام نږدې وو. د ونو سیورې تر دریاب پورې اوږده شوې وو. د دریاب په بله غاړه باندې  ناست خلک هم تللي وو. په کښتۍ کې راغلې فرانسوي  فامیل هم اوس هلته نه وو. د بوي ډې بولون او د سین د دریاب په غاړو باندې اوس یو نازکه سرمه یې څادر په غوړیدو وو. هوا هم اوس یو څه تیزه شوې وه. د ښه لګیدو په ځای اوس په قرار قرار له بدن څخه تیریده .

پاسکل خپلې دواړه متې پخپله غیږه کې راټولی کړې وی سر یې په خپلو ګونډو ایښې وو خپلې سترګې یې د دریاب په سطحه باندې ښخې کړې وی او په فکرونو کې ډوبه وه . په دې وخت کې د هوا یوه څپه راغله او هغه ورپیده. سنان په وښو کې  پروت باراني کوټ راپورته کړ هغه یې واغوسته او خپله مته یې د هغې په اوږو کیښوده. پاسکل ځان راټول کړ او هغې ته ورجوخته شوه. د هغې د شیدو په څیر د سپینو لاسونو څخه د لمدو سنګ مرمرو خوشبوۍ پورته کیده. د یوې لحظې د چوپتیا څخه وروسته چې سنان د پاسکل خواته ولیدل نو هغې په مسلسل ډول همغسې دریاب ته ورلیدل. هغه د دریاب د غاړې څخه یو ډک موټې خاوره راپورته کړه او عین یې همغه ځای یې وویشته چیرته چې پاسکل لیدل. یوه کوچنۍ دایره جوړه شوه بیا پراخه شوه او ددې تر قدمونو پورې راورسیده ، پاسکل وخندل .

سنان ورڅخه په ډیره مینه پوښتنه وکړه په څه فکرونو کې یاستی؟

پاسکل ورته وویل ، آیا زه به په دې کرسمس کې هم د خپلې سینګار شوې ونې سره یوازې ناسته یم؟

هغې دا جمله داسې وویله لکه هغه چې ددې پوښتنې قطعي جواب اوریدل غواړي.

سنان ورته وویل ، نه ، سنان د هغې اوږه په قرار سره زور کړه ، نه ته به دا ځل بالکل یوازې نه یې .

پاسکل ورته وویل ، ددې مطلب دا چې ،... هغه ژر سمه سده کښیناسته ،

سنان ورته وویل ، پاسکل ددې مطلب هغه نه دې لکه څنګه چې ته فکر کوې. لکه څنګه چې ته په جسماني ډول معذوره یې همداسې هر یو انسان د یو نه یو علت له کبله معذوره وي.

د پاسکل رنګ والوته او پوښتنه یې ورڅخه وکړه کوم ډول مجبوریانې؟

سنان ورته وویل ، د یوې مشرقي ټولنې مجبوریانې. بیا یې په قراره ورته وویل هغه څه چې شاید ته یوه غربي جینۍ یې په پوره کیدو کې ناکامه شې . پاسکل ، په پاکستان کې زما مور او پلار ، خویندې او ورونه زما انتظار کوي ما د هغوې سره وعده کړې وه چې په څو میاشتو کې به بیرته زه راځم . زه د هغوې د مینې او اخلاص په ښکلو ځنځیرونو کې کلک تړل شوې یم . په آروپا کې خو به د داسې مشرقي مینې او اخلاص د اندازه کولو پیمانه هم نه وي . زه باید په هر شکل بیرته ولاړ شم . زما خویندې د یو داسې ورور انتظار کوي چې د ټولې دنیا څخه ورته ګران دی زما ورور د یو داسې ملګرې انتظار کوي چې د چا سره هغه خپل غم او خوښې شریکولې شي. اما پلار ځکه ما د خپل ځان سره لیدل غواړي تر څو د هغې کمزورو متو لپاره یو طاقت شي . او زما مور د یو داسې زوی د راتلو لاره څارې چې د چا په څیره باندې هغه د خوښې څیره لیدل غواړي . چې په هر ډول وي ماته بیرته تګ راتر غاړې دی.

پاسکل ورته وویل ، او که چیرته دا ټول جذبات په یوې هستې کې موجود وي نو بیا ؟ زه هم له تاسره ډیره مینه لرم. زه هم غواړم چې له تا سره خپل درد و غم شریک کړم زه هم غواړم چې ته زما د کمزورو متو زور شې ، ماته هم دژوند د اوږد او اذیت ناکه سفر لپاره د یو ملګرې اړتیا ده . ته به اوس وایې چې یوه پاکستانۍ جینۍ د خپلو جذباتو اظهار په دې ډول نه کوي . ته ووایه سنانه زه نور څه وکړم . ته خپله پوهیږې زما احساسات د تا لپاره یوازې د خوښې او دوستۍ پورې محدود نه دي. په دې کې شدت راغلې دیر. او تا هم ماته د خپلو احساساتو اظهار نه دې کړی. سنانه که چیرته ته یو ځل هم ماته داسې ووایې چې زه ستا نه خوښیږم نو زه همدا اوس په همدې وخت له همدې ځایه ځم خو که چیرته ستا په زړه کې د ما لپاره لږ ځای هم وي نو لطفا ماته ووایه زه ډاریدلې یم .

سنان ورته وویل ، پاسکل تاته معلومه ده چې پاریس ته د راتلو په وخت کې په موټر کې ما خپله تاسره د لیدو د خواهش اظهار کړې وو . سنان ډیر جدي وو. او په دمه دمه یې خبرې کولې.یو خواهش چې د خوښیدو څخه پیل شو بیا زما احساسات هم ستا د احساساتو په څیر د خوښیدو او د دوستۍ له سرحدونو څخه تیر شول او د یو طوفاني حالت سره مخ شو. ما تاته د خپلو احساساتو اظهار قصدا نه کاوه . ماته معلومه وه چې په هر ډول زه له دې ځای څخه ځم

.ما تاته  د خپلواحساساتو اظهار قصدا نه کاوه ، ماته معلومه وه چې زه به یوه ورځ حتمي له دې ځایه ځخه ځم او ما دا نه غوښتل چې زما د تگ ځخه وروسته ته یوخل بیا بیرته ژورو تیارو ته ولاړه شی.

د پاسکل نیلي سترگو چې د احساساتو د جذبو ځخه بې شغلې کولې سنان ته بې وویل ، سنانه یو بل ډول خو هم کیدلې شی.

سنان په شونډو کلک لاس کینوده  هغه ته معلومه وه چې پاسکل اوس ځه وابې

پاسکل ورته وویل ، سنانه کله چې زه تاته په پاریس کې د اوسیدو یا پاتې کیدو وایم نو ددې مطلب دادې چې ته به ما سره اوسیږې. او که چیرته له ما سره وی ، چیرته هم ، په کوم ښار کې هم ، لاهور کې  هم ؟

سنان ورته لږ په تندۍ او سختې وویل ،نه پاسکل

پاسکل : مگر ولی؟ زه تاسره تللو ته تیاره یم .

سنان ورته وویل ، نن شپه په پاریس کې د سین د دریاب په غاړه دا ښکلي پلانونه جوړول ډیر آسانه دي خو هلته د گوالمنډي او د کوچني مفتي باقر په ځیر سیمو کې ژوند کول ډیر سخت دي . زه د یوې متوسطی کورنۍ سړې یم او یوه آروپاېي میرمن چې کوم  ډول شیانو ته اړتیا لري هغه زه هیځکله هم پوره کولې نه شم .

پاسکل ورته وویل ، سنانه زه له تا ځخه هیڅ شې نه غواړم ، سره د معذوروالي هم زه د خپل کور ټول کار کولاې شم ، پرون مې هم تاته کافي  او سنډویچ تیار کړې وو کنه ، زه دنده هم کولاې شم .

سنان ورته وویل ، پاسکل ماته د خپلې ټولنې د هر ځه معلومات شته . زموږ په خلکو کې واده کول یوازې د یو فرد نه وي په دې کې د کورنۍ د ټولو خلکو خواهشات شامل وي . که چیرته د یوې خوا د یو کامیاب واده لپاره د ښځې او خاوند اتفاق مهم گڼل کیږي نو د بل اړخه ددې ځخه زیات د خپلوانو د خوشحالۍ د خیال ساتل هم اړین کیږي ږ ته به د یوې اجنبي ټولنۍ د فرد په حیث په دې کې پاتې  راشی او زه هیځکله تا خفه نشم لیدلې .

پاسکل : ته د خپلې کورنۍ ځخه جدا ولی نه شی اوسیدلی؟

سنان : دا زما د وس خبره نه ده هغه زما د وجود لازمي برخه ده . او زه هم د هغوې برته خوشحاله نشم پاتې کیدلی.

پاسکل : سنانه زه به ستاسو ژبه یاده کړم زه به ستاسو په ځیر ژوند کوم ، ستاسو د نجونو په ځیر به لباس کوم . همدا تا خو ویلي وو راته چې کله زه غوږوالۍ واچوم نو ټوله د یوې باکستانۍ جینۍ په ځیر ښکاره کیږم .

سنان بار ، بار د سر په خوځولو سره ورته وویل ، نه پاسکل نه

پاسکل : بیا نو ستا په احساساتو کې دومره شدت پیدا نه شو چې تا د هر څه پرېښودلو او ما سره اوسیدلو ته مجبوره کړی.

سنان : نه پاسکل دا خبره نه ده . زه له تاسره ډېره مینه لرم. او دا احساس په ما کې د لومړي ځل لپاره پیدا شوې دی. د همدې احساس له کبله زه تا خفه نشم لیدلې. ماته معلومه ده ته هلته خوشحاله نه شې اوسیدلې.

پاسکل : او که زه چیرته تا سره په خفګان کې اوسیدل خوښ کړم نو بیا ؟

سنان : نو ما به ته بې حده خفه کړی.

پاسکل : اما تا د خبرو په پیل کې ولې وویل چې دا ځل به زه په کرسمس کې تنها نه یمه ؟

سنان : هغه زما مطلب دا وو چې تا سره به ددې ورځو ښکلي یادونه وي ، یو ښکلي احساس چې د ډیرو کمو خلکو په نصیب وي. آیا دلته نن د یوې روښانه ورځې تیریدو څخه وروسته خپل ځان مختلف نه احساسوی؟ زه اوس د څو ورځو مخکیني سنان په څیر نه یم . ته زما د فکر او وجود حتمي برخه ګرځیدلې یې او تل به یاستې.

پاسکل : یوآزې د احساس او یادونو سره د روح تنهایي نشي ختمیدلې.

سنان: ختیمدلې شی پاسکل . د کرسمس په ماښام به زه له دې څخه په زرهاوو میله لیرې پخپل اطاق کې ناست یم او خپل لومړنی محبت ( تا ) او د محبت لومړې ښار پاریس به یادوم .د کرسمس په ماښام چې د کومو شیانو په هکله تا ماته معلومات راکړل هغه به زما په ذهن کې تاویږي ته پخپل اطاق کې د کرسمس د ونې څانګې او پانې لمس کړه نو به ته وګوری چې په هغې کې به ګرمایش وي . زما د احساس ګرمایش به دا اوږده فاصله طی کړی او تر تابه درورسیږي.

پاسکل ته به تنها نه یې ..

د پاسکل د سترګو څخه د اوښکو یوه لیکه وبهیده ، سنان ته یې وویل خیر که د کرسمس پورې نه شي پاتې کیدلی نو یو څو هفتې خو نور پاتې کیدلې شی .

سنان ورته وویل ، نه پاسکل په پاریس کې زما د نور قیام له کبله دا جذبات او احساسات نور هم شدت پیدا کوي . او بیا زموږ د دواړو لپاره د داسې یوې لمحې سره مخامخ کیدل ډیر سختیږي چې د هغې څخه په هیڅ صورت هم فرار نه شو کولې.

پاسکل : سنانه که چیرته زه معذوره نه وی نو آیا بیا به دې خپله اراده بدله کړې وه ؟

سنان پاسکل ځان ته نږدې کړه او ورته یې وویل ، ته او معذوره؟ ماتاته مخکې هم ویلي وو چې ته معذوره نه یې معذوره خو زه یم چې ستا د خپلولو د خواهش سره سره بیا هم زه تا نشم خپلولې. د هغه غږ ژړغونې شو.

پاسکل  د سنان د سپین باراني کوټ څنډې پخپلو لاسونو کې داسې کلکې ونیولی لکه هغه چې ورڅخه جدا کیدل نه غواړي.

سنان ورته وویل ، زه چې هر  څه یم او څه ډول یم لیکن ما تر نن ورځې پورې چاته دوکه نه ده ورکړی . دا چې ته ماته ډیره نږدې او په ما ډیره ګرانه یې نو زه نه غواړم چې له تاسره د درواغو کومه وعده وکړم . پاسکل زه تر کرسمس پورې دلته نشم پاتې کیدلې او زه تا د خپل ځان سره هم نشم بیولی. په څو ورځوکې  به زه له پاریس څخه ولاړ شم او څومره ژر چې ته ددې حقیقت سره مخ کیدلی شی نو هغومره دا زموږ د دواړو په حق کې غوره ده .

پاسکل ورته وویل ، ما چې څه ویل غوښتل هغه ما وویل ، تا چې کوم ډول مجبوریاني بیان کړی زه ورباندې پوه نه شوم خو په هر صورت ته چې څه وایې نو صحیح به وایې  ، اوس موږ باید ولاړ شو نوره تیاره شوه . پاسکل د پورته کیدو هڅه وکړه . سنان ژر د هغې اوږې کلکې ونیولی او  هغې ته یې وویل ، اوس نه صبر ، ته لومړی وعده وکړه چې زما د تللو څخه وروسته به ته نه خفه کیږې.

پاسکل ورته وویل و زه د راتلونکې سبا په هکله څنګه وعده کولې  شم ؟

سنان ورته وویل ، اوس  خو زه د یو څو ورځو لپاره لا همدلته یم . موږ به هره ورځ سره ګورو ، او هره نوې ورځ به د موږ لپاره د نن ورځې په څیر ښکلی وي. دې ته خو ته فکر وکړه چې د راتلونکې سبا څخه وروسته به په زرهاوو نور سبا راځي او یا ستا د خبرې په اساس راتلونکې پیړۍ. آیا ته به په دې دومره کلونو کې کله هم ددې  له کبله د خوشحالۍ احساس ونه کړی چې موږ دواړو لږ تر لږه په دې ښار کې او د سین د دریاب په غاړه دومره ښکلې لمحې تیری کړي دی.او بیا دا احساس به هیڅکله له تا څخه جدا نه شي . د تل لپاره- د نن څخه لس وروسته – له دې ځای څخه په زرهاوو میله لیرې یو داسې شخص به هم وي چې تا به په دې لمحه کې هم یادوي. ددې ورځو خوشحالي به دده په زړه کې داسی  یو اور پیدا کړی چې ګرمي به یې د ژوند په تیاره او یخو لارو کې هغه ته سکون او اطمنان ورکوي . لیکن یوآزې ستا له کبله پاسکل .

پاسکل : سنانه ته د یوې لحظې لپاره هم دا فکر مه کوه چې زه به ددومره ډیرو ښکلو یادونو لپاره شکر ګزاره نه یمه . زه خو ډیره خوش قسمته یم . تا ماته دومره خوشحالۍ راکړی چې زه یې تصور هم نشم کولی . خو بس  زه خو هم انسانه یم . په ما کې  خو هم د نورو انسانانو په څیر خواهشات سر راپورته کوي . کله چې زه یوه خوښي تر لاسه کوم نو ددې خوشحالۍ بل سر ته ځم او بیا د یوې بلی خوشحالۍ د پیدا کیدو  هڅه کوم او بیا په همدې ډول زما زړه غواړي چې د خوشحالیو دا سلسله کله هم ختمه نه شي.

سنان ورته وویل ، پاسکل دا سلسله به کله هم نه ختمیږي د خوشحالۍ او اطمنان دا لمحې پخپل ځان کې راونغاړه ستا په وجود کې  چې  کومه رڼا بلیږي هغه به دا شیبې تل روښانه ساتي .

پاسکل : سنانه ته صحیح وایې . زه د مخکې څخه اوس یو څه ښه احساس کوم . اوس له تا څخه د جداېي تصور د ما لپاره ډیر اذیت ناکه نه دی. لږ تر لږه اوس دا وخت ..

سنان ورته وویل، نن څومره ښکلې ورځ وه . سبا به هم یوه داسې ورځ راځی . زه وعده کوم بس ته اوس خپلی اوښکې پاکې کړه . سنان د خپل جیب څخه رومال راوویسته او د پاسکل په سترګو یې کیښوده . پاسکل د هغه د لاس څخه څخه رومال راواخیسته او خپله یې خپلې اوښکې وچې کړی. په رومال باندې لږه خاوره وه چې د پاسکل په مخ هم لږه ونښته .

سنان د جیب څخه سګرټ راوویسته، هغه یې ولګاوه، او پورته شو . پاسکل چې سر راپورته کړ او د هغه خواته یې ولیدل په خندا شوه او لاسونه یې وراوږده کړل. سنان راوړاندې شو هغه ته یې تکیه ورکړه،او هغه د روانیدو په ځای هغه ته ورغاړې شوه . په پرې شوو ژیړو وینښتانو کې یې خوشبوېي وه. د ژیړ ګلاب خوشبو ، سنان په قراره د هغې په ورمیږ لاس کیښود پاسکل ورته وویل ستا لاس ډیر یخ دې.

سنان د پاسکل د وجود لړزیدل حس کړل. او ډیر ژر یې لاس لیرې کړ.

پاسکل ورته وویل نه ، نه او بیا یې ژر د هغه لاس ونیوه او پخپل ورمیږ یې کیښوده، همداسې یې کیږده، په ما ښه لګیږي. همدا اوس خو د پرون ورځی خبره ده چې تا همداسې زما په ورمیږ لاس ایښې وو داسې می احساس کوله لکه پیږۍ چې تیرې شوې وي.هغې د سنان د کوټ یوه ، یوه بټن خلاصه کړه او په ډیری مزې سره یې په هغې کې خپل مخ پټ کړ.

که چیرته سبا سهار زما په کوټ کې یو هم ژیړ ویښته نښتې وو نو بیا ته هنګامه جوړه نه کړی ځکه چې همدا به ستا وي . د سنان شونډې د هغې په نرمو او ګڼو وینښتانو کې وی. د ژیړ ګلاب په نرمو پاڼو کې .

هغې د سنان په سینه نور هم سر کلک کړ او ورته یې وویل یو نه ډیر زیات وینښتان به وي .

د بوي ډې بولون خرڅنه تیاره اوس په مکمله تیاره بدله شوې وه . د دریاب بلې غاړې ته د اوسیدونکو کورونو او په اوبو کې د اوسیدو ساکنې کښتۍ روښانه شوې وی. ددې روښانه عکس څخه پرته نور ټول دریاب د یو تور څادر په څیر وو. هوا ډیره یخه وه .

سنان د هغې په وینښتانو کې د خپلې خولی په قراره مښلو سره وویل ، زه فکر کوم موږ اوس باید ولاړ شو هره خوا تیاره ده.

پاسکل ورته وویل ، زه خو همداسې ستا په کوټ کې مخ پټ ساتم دلته بې حده آرام دی. ماته معلومه ده که چیرته ما بیرون ولیدل نو په ربښتیا هرې خواته به تیاره وي .

سنان ورته وویل ، ته نشې کولی چې ټول عمر همداسې تیر کړی چې زما په کوټ کې دی خپل مخ پټ کړی وی؟ ته خو به ضرور بیرون ته هم ګوری .

پاسکل : هو کله ، نا کله مګر اوس نه . د پاسکل موډ اوس تر یو حده پورې ښه شوې وو، هره خوا خاموشي وه . څه رڼاګانې ، د دریاب د موجونو لړ ارتعاش ، او ددوې دواړو غږونه په هغه خاموشه چاپیریال کې له لیرې څخه د اوبو پر مخ یوې روانې موسیقي په څیر وې . په آرامه سازونو کې او بیا په همدې لحظه کې د وي انا مشهور د والز ساز په ټول محیط باندې خپور شو. کله چې به د موجونو شدت ډیر شو نو د یوې لحظې لپاره به ساز لږ ډب شو او بیا به راپورته شو. د وي آنا (ځنګل ) ساز ته پاسکل غوږ نیولې وو . هو ، یو ، دوه ، درى . او تاو شه . سنان هم دې سرود ته غوږ نیولې وو.

یو ،دوه سنان ؟ پاسکل ژر خپل مخ د کوټ څخه راوویسته او هغه ېې وښوراوه تاته یاد دي چې هغه ورځ ما تاته د سین د دریاب په غاړه د رقص د ښودلو وړاندیز کړې وو.

سنان ویدار شو ، ورته ېې وویل ، هو .

پاسکل د شوخې څخه ورته وویل ،او بیا ته ډیر ډارن وختلې هسې دې اعتراض وکړ چې د موسیقۍ څخه پرته رقص نه شي کیدلی . ستا یاد دی؟

سنان خاموشه وو ځکه هغه ته معلومه وه چې ددې څخه وروسته هغه د څه ویلو والا وه.

پاسکل سنان ته وویل ، دلته خو موسیقي هم ده کنه ، ته ېې ښه صحیح واوره ډیر ښکلې ساز او سندره ده . داسې ښکاري لکه چې د د دریاب په بله غاړه کې چیرته په کومه هستوګنیزه کښتۍ کې کوم پروګرام روان دی. پاسکل سندرې ته غوږ ونیوه.

سنان ورته وویل ، لیکن دلته خو دومره تیاره ده چې حتی لاس په لاس نه ښکاري. پاسکل لږه شاته شوه او سنان ته ېې وویل ، دا یو لاس ستا په ملا او بل په پر اوږه باندې ږدم . او بله دا چې رقص پر لیدو نه بلکه په احساس کیدو سره کیږي .

سنان ورته وویل ، پاسکل بیا چیرته کوم بل وخت اوس ډیره توره شپه شوه.

پاسکل ورته وویل ، ګوره د اعتراض هیڅ ګنجایش نه شته . ته په دې ډول زما لاس ونیسه .

پاسکل کلک هوډ کړې وو تر څو هغه ته نڅا ورزده کړی. سنان د مجبورۍ څخه ورته تسلیم شو. او د هغې د لارښوونې مطابق ېې د هغې یو لاس ونیوه. او دوهم ېې د هغې له شاه څخه تاو کړ.

سنان لږ سر ښکته کړ او پاسکل ته ېې وویل ، اوس څه حکم دی آقا ؟

پاسکل : اوس ؟ اوس د ساز د هغې برخې انتظار وکړه چیرته چې ساز لږ بندیږي او بیا شروع کیږي هغه په ډیر غور سره موسیقي واوریده او بیا ېې په یوې جټکې سره په قراره په پښو تاو کړ او رقص ېې پیل کړ . یو ، دوه ، درې او تاو شه. یو ، دوه ، درې . بالکل آسانه دي . په همدې سره سنان د شونډو لاندې همغه سندره زمزمه کوله ، هووو ، اوو ، هو ، هو . په اول کې خو سنان هر قدم غلط پورته کاوه او هغه هر ځل د پاسکل په پښه باندې زور کاوه

لیکن هغې به د یو ښه استاد په څېر هیڅ شکایت نه کاوه د ډانس په وخت کې د هغې قدمونه دومره صحیح وو چې هیڅ دا ګمان نه ورباندې کېده چې دا معذوره ده .

پاسکل په داسې حال کې چې هغه بې ګرد تاووه لارښوونه ورته وکړه، قدمونو ته زیاته توجه مه کوه . دا موسیقي په غور سره واوره. قدمونه به دې خپله پورته کیږي . لږ وخت وروسته سنان ته دا احساس شوه چې داد والنر رقص دومره ستونزمن نه دی. بس تر دریو پوړو بې شمیره او تاویږه. اوس هغه پاسکل په غیږ کې واخیسته او په ډیره خود اعتمادۍ سره بې قدمونه پورته کول. هغه مستو سازونو ته غوږ نیولې وو.

پاسکل سر شاته وغورځاوه او سنان ته بې وویل ، ته خو ډیره ښه نڅا کوی.

سنان د یوې لحظې لپاره نڅا بس کړه. پاسکل ته بې وویل مننه آغلی. خپل ځان طي د پاسکل د غیږې څخه آزاد کړ ښکته شو او یو شاهي سلام بې ورته وکړ. پاسکل ښه په جدي ډول جوابا ورته ښکته شوه او بیا په ډیره نرمۍ سره د هغې د لاسونو منځ ته ورغله.

پاسکل ورڅخه وپوښتل ، ستاسو په ځای کې خو به هم خلک رقص کوي ؟

سنان ورته وویل ، هو کوی بې

پاسکل په شوخۍ سره ورته وویل ښه نو بیا ماته پاکستانی نڅا زده کړه .

سنان ورته وویل ، ما داسې نه دی ویلي چې زه بې هم کولاې شم .

پاسکل ورته وویل ، بزدله اصلا ته بې نه غواړې چې ماته بې رازده کړې. پاسکل هغه وچیره او بیا بې دومره تاو کړ چې نږدې وو وغورځي.

د دریاب په آرامه سطح یوه ښکلې او روښانه کښتۍ په قراره تیره شوه. دا یوه لویه د اوسیدو کښتۍ وه.

پاسکل ورته وویل ، زه هم رقص کولاې شم .

لږ وخت وروسته د ګنو ونو د سیوري څخه سپوږمۍ راووتله او د دریاب په سطحه باندې یوه نوې قالینه خپره شوه د څیرې او د ولې د ونو پاڼې وځلیدلې. موسیقي خو ډیر وخت مخکې ختمه شوې وه خو د پاسکل زمزمې بې ځاې نیولې وو. پاسکل د هغه لاس پریښود او ورجوخته شوه او ورته بې وویل ، زه اوس ستړې شوې یم د سیند د دریاب په غاړه د والنر لومړې سبق پاې ته رسیدلې وو.

سنان د هغې د زنې لاندې لاس کیښود، او د هغې څیره بې د خپل ځان خواته واړوله. ورته بې وویل ، پاسکل ؟

پاسکل په ډیره مینه د هغه په غاړه لاس کیښود ورته بې وویل ، څه شې دی سنانه ؟

سنان ورته وویل ، ته په دې پوه شه چې زما تر ټولو غټ خواهش دادې چې زه تاسره تر کرسمس پورې پاتی شم زه د زړه څخه دا غواړم چې ته د ماسره ولاړه شې. – مګر

لطفا سنانه ، پاسکل د هغه په شونډو لاس کیښود، لطفا اوس څه مه وایه زه ستا د خواهش مطابق خفه کیدل نه غواړم .

سنان د هغې لاس کلک ونیوه او د خپلو ګرمو شونډو سره یې ولګاوه د هغې لاس ډیر یخ وو. سنان ورته وویل ، ستا په یاد دي ډاکټر تاته د آرام مشوره درکړې ده او دا ډول په نیمه شپه کې د دریاب په غاړه رقص کولو ته خو آرام نشو ویلی . تا به یخ ووهي .

پاسکل په خاموشۍ سره خپله لوړه او ښکلې پزه د سنان په سینه باندې مښله او په قرار ، قرار یې خندل .

سنان ژر ورته وویل ، پاسکل ستا خاله .

پاسکل وویل ، څه خاله – پاسکل حیرانه شوه او د سنان څخه په جدا کیدو یې وویل ، غلطي وشوه. ما خو هغې ته ویلي وو چې د ماښام څخه مخکې زه راځمه هغه به واقعا ډیره خفه وي .

سنان د هغې په اوږو لاس کیښود ، ورته یې وویل ښه ځه چې بیا ولاړ شو او هغوي په قراره، قراره د هغو زینو خواته روان شو چې پاسته د سړک خواته تللی . پاسکل ناڅاپه ودریده هغه ته یې وویل هو، هو امساګانې او کونډې خو پاتې شوې؟

سنان په خندا سره ورته وویل ، هغه هملته په دریاب کې بریږدو چیرته د کوم چینجې به په کار شي پاسکل هم وخندل او بیا روان شو.کله چې د زینو څخه تیر شو او سړک ته راغلل نو پاسکل د قراره تګ سره سره بیا هم د ستړیا څخه بد حاله وه . په موټر کې چې کښیناسته لږ آرام یې وکړ ، اوږده ساه یې واخیسته او بیا یې سنان ته وویل ،

سنانه ! د ټولو ښکلو شیانو انجام ولې ښکلې نه وي . بیا یې موټر چالان کړ، خو سنان د هغې په دې خبرې باندې پوه نه شو .

سنان ورته وویل ، ته داسې وکړه ددې ځای څخه مستقیما خپل آپارتمان ته ولاړه شه ، خاله به ستا انتظار کوي . زه به د نیولي تر پل پورې پیاده ولاړ شم او بیا به د هغه ځاي څخه د ترام په موټر کې کښینم .

پاسکل د سر په خوځولو ورته جواب ورکړ چې نه زه به تر کوره پورې تا رسوم . تا خو نن رقص زده کړې دی ځکه خو تاته نن د پاریس په څیر ښار کې د یوازې ګرځیدو اجازه نشم درکولی.

کله چې د نیولي پل ته ورسیده او ښي لاس تاو شو نو د ایونیو فاک ټول څراغونه روښانه وو. او د ترافیکو ډیره زیاته ګڼه ګونه وه.

د ټولې ورځې د لمر د ګرمو وړانګو لاندې سوځېدلې پاريس يو ځل بيا بيدار شوې وو. سنان فکر کاوه چې لمر ولاړ دی. د سين د درياب په اوبو کې غټې ساکنې کونډې او د پاسکل سپين لباس اوس يوازې د يو خوب خبرې وی. يو سراب .

کله چې موټر د فتح د محراب په لويه دايره کې داخل شو نو پاسکل د سنان خواته وليدل او بې اختياره يې وخندل.

پاسکل ورته وويل ، فکر مه کوه زه اوس په دې دايره کې بې مقصده نه تاويږم زه خو اوس رقص هم کولی شم.

سنان ورته وويل ، که چيرته ته ما دلته ښکته کړی نو زه به پياده کور ته ولاړه شم . خاله به ستا انتظار کوي .

پاسکل ورته وويل ، بالکل نه ، ستا نيت خراب ښکاره کيږي . زه به تر کوره پورې تا رسوم .

سنان ورته وويل ، ستا خوښه او بيرته شاته شو او سګرټ يې ولګاوه . پاسکل ، د تيرو څو ورځو څخه ټوله ورځ له ماسره تيروی. ستا خاله خو به يې بد نه ګڼي ؟

پاسکل د سر په خوځولو سره ورته ووېلی ، اووه زما خاله ، هغې خو به د سيکری کر په کليسا کې د مريم د مجسمې لاندې شمعې روښانه کړی وي او شکر به يې ادا کړې وي چې د هغې وريرې بالاخره د کور څخه بيرون ته وتل زده کړل .

د مومارت سيمه چې راغله نو هلته ښه رش وو . ټولې قهوه خانې ښه ډکې وی په ځينې ځايونو کې خو به موسيقي هم وه . د سنان د کور مخ ته چې ورسيدل نو پاسکل ښه په قوت سره موټر ودراوه . سنان چې د موټر څخه په ښکته کيدو شو نو پاسکل د هغه مټ ونيوه ، پاسکل ورته وويل ،

په ژوند کې نن ورځ ما د هغه بوج احساس هم ونه کړ د کوم لاندې چې زه هره ورځ ماتيږم او کمزورې کيدم . زه نن د نورو عامو انسانانو په څير وم . ماته داسې احساس شوه لکه زه چې هيڅ معذوره نه يم . دا احساس که عارضي هم دې خو سنانه يوازې ستا له کبله دی. زه ستا مننډوی يمه . د پاسکل سترګې لمدې شوی.

سنان په خندا ورته وويل ، مننه بايد زه ستا ادا کړم چې ماته دې نن رقص وښوده .

پاسکل ورته وويل ، زه خو فکر کوم چې ستا له مخکې څخه نڅا زده وه کنه داسې ژر دی نشوه يادولې د هغې سترګې تر اوسه پورې نمجنې وی.

سنان په مينه سره د هغې مخ لمس کړ او ورته يې وويل ، پاسکل ته به ډيره ستړې شوې يې غوره داده چې ژر تر ژره بيده شي.

پاسکل خپلې اوښکې پاکې کړی او هغه ته یې وویل ، ښه ماته به څوک د خوب سندره وواېي ؟

سنان ورته وویل ، پاسکل ته نن دومره ستړې شوې یی چې د خوب د سندرې څخه پرته به درته درشي .شپه دې پخیر

سنان چې دا وویل او دروازې ته ورسیده نو پاسکل د موټر په هارن لاس کېښوده، سنان بیرته ژر پسې راغی هغې ته یې وویل پاسکل هارن مه وهه چیرته هغه میرمن ژې بیا بیرون ته رانه شي .

پاسکل چې د هارن څخه لاس پورته کړ په غصه یې سنان ته وویل ، د سبا په هکله خو تا څه ونه ویل ،

سبا؟ او د داکتر د آرام لاربښووني

پاسکل ورته وویل ، که چیرته ته سبا زما لیدو ته رانشی نو همداسې به می درد وي . درد وي .

سنان ژر ومنله سمه ده راځمه .

پاسکل خوشحاله شوه ، سنان ته یې وویل څو بجې؟

سنان ورته وویل ،نهه بجې به راشم ، د لودر د میوزیم لیدلو ته به هم ولاړ شو ږ

پاسکل ورته وویل سمه ده ، او بیا یې د خوشحالی څخه د موټر هارن وواهه .

سنان چې دروازې ته ورسیده نو شاته یې وکتل پاسکل د زنې لاندې لاس ایښې وو او دده خواته یی لیدل .

سنان ورته وویل ، ته ولې نه ځی ؟

پاسکل لږ وشرمیده ورته یې وویل دادې ځمه او بیا یې موټر چالان کړ.

سنان د تللو په وخت کې ورته لاس وخوځاوه ورته یې وویل ، ښه نو بیا نهه بجې صحیح ده بیا یې دروازه خلاصه کړه او کور ته داخل شو .

په زینو باندې د پورته کیدو په وخت کې هغه د څنگ د دروازې خواته ولیدل هلته مکمل تیاره وه. هغه په ډیرې خاموشی سره قلف خلاص کړ او په قراره ، قراره اطاق ته داخل شو. د جامو د بدلولو څخه مخکې هغه چې هسې لاندې ولیدل نو موټر لا همغسې د پیاده سړک سره ولاړ وو. او پاسکل چې په موټر کې ناسته وه د کړکی خواته یې لیدل . دسنان په لیدو لږ وشرمیده په زور سره یی ورته وویل دادې ځمه او بیا یې موټر روان کړ او د کوڅې په آخر سر کې تاوه شوه.

نن زه هم د عامو انسانانو په څیر وم او ما داسې احساس وکړ لکه زه چې هیڅ معذوره نه یم .
په یوې لیرې تیاره کې  د پاسکل د آواز انګازې شوی او د زنګ په څیر یو غږ د سنان د ویده ذهن په پردو ولګیده په تیاره کې بیا یو شرنګیدونکې غږ راپورته شو. په لیرې ځای کې د پاسکل یوه ښکلې ځیره ښکاره شوه چې لحظه په لحظه سنان ته نږدې کیدله او بیا د هغې په بندو سترګو کې ښکته شوه. د پاسکل په شونډو خفګان خپور وو او د هغې نیلې سترګې په سنان کې ښخې وی. هغې یو سپین وریښمي لباس اغوستې وو. هغې خپل لاسونه د کمان په څیر پورته کړي وو یوه پښه یې لږ راښکته کړې وه او نازک اندامې بیلې رینا په څیر په یو ستر سټیج باندې بی حرکته او بې حسه ولاړه وه، بالکل د یو بې روحه بت په څیر . د هغې شا وخوا په لسهاوو نڅا ګرې ولاړې وی. د هغوې تور لباسونه په تن وو. د تیاتر پراخه هال ټول تش وو. او سنان د اوچت تالار  په یوې کرسی ناست وو او سترګې یې په سټیج کې ښخې کړې وی .پاسکل یوه لړزه وکړه لکه د یو ډاروونکې خوب څخه چې بیداره شوې وي.
بیا یې سر ښکته کړ او په منظمو قدمونو یې نڅا پیل کړه . بیا د نورو نڅاګرو ساکن وجودونه هم په حرکت راغلل او د پاسکل ځلورو خواوو ته یې رقص پیل کړ. د هغوې په ځیرو کوم ډول جذبات نه ښکاره کیدل . یو ډول بې روحه حرکت کوونکې مړې ځیرې وی. ددوې ټولو سوځیدلو سترګو پاسکل تعقیبوله د رقاصو د حرکت له کبله چې  به د هغوې توری جامې په هوا کې ښکته پورته کیدلې نو ټوله منظره به لکه د سپینو مرغانو د یو جهیل په څیر ښکاره کیده کله چې به هغوي خپل اوږده بازوګان پورته کړل نو تور لباسونه به په هوا کې وښوریدل او بیا به په قرار قراره ددوې د بدنونو سره ولګیدل .
د پاسکل نیلې سترګې په سنان کې  ښخې وی. د هغې غږ د سټیج د ژورو څخه راپورته شو. زه نن معذوره نه یم . نه یم . هغې بار ، بار دا جمله تکراروله نن زه معذوره نه یم ،نه یم هغې به سنان ته په خواشني سره کتل ، او بیا به د ماهرې بیلې رینا په څیر د پښو په پنجو تاویدله .
زه نن –نه یم ، نه یم . غږ په ټول هال کې انګازې کولی . بیا هغه د یوې لحظې لپاره تم شو ، او بیاېې خپل لاسونه د تالار خواته پورته کړل او په ډیرې تیزۍ سره د خپلو پښتو په پنجو څرخیدل پیل کړل. هغې اوس د کیلې د یوې نانځکې په څیر په دومره بې صبرۍ او بې قرارۍ رقص کاوه لکه تم کیدل چې  اوس  د هغې د وس کار نه وي. د نورو نڅاګرو انداز د مخکې  په څیر په قراره او رو وو. پاسکل اوس  د سنان خواته هیڅ ته لیدل. هغه اوس پخپل مینه ناک رقص کې داسې ډوبه وه لکه په یو درویش چې وجد راشي او د نړۍ له هر څه بې خبره شي .
پاسکل د خپلی کرسۍ څخه پورته شو ګیلري یې کلکه ونیوه او په التجا یې باسکل ته وویل پاسکل دومره په تیزۍ سره نڅا مه کوه ستا درد به سخت شی ، ته به مړه شی.
د پاسکل غږ په فضاء کې انګازې وکړی زه نن معذوره نه یم . زه به نن حتمي نڅا کوم. سنان تر خطرناک حد پورې وړاندې او خم شو او د لیونو په څیر یې چیغې وهلی . پاسکل ، پاسکل ، د خدای لپاره نڅا بس کړه.

ليکن خو پاسکل خو د ده غږ نه اوريده . هغه اوس په ډيرې سره د خپلو پښو پر ګوتو باندې په ټول سټيج تاويده يو ، دوه درى او تاو شه . يو ، دوه ،درى او بيا د هغې سرعت کم شو . د هغې غږ په کميدو شو ناڅاپه هغه د سټيج په منځ کې ساکنه ودريده هغې لاسونه په هوا کې پورته نيولي وو ، سنانه لطفا زما مرسته وکړه ، يو درد ناکه غږ سنان واوريده ، د پاسکل په اوښکو لوند مخ په ژيړيدو شو. هغې يو ډول لړزه وکړه او بيا بې حاله په فرش وغورځيده.
نورې نڅاګرې پرى راغونډې شوى خپله ګيره يې وربانديې تنګه کړه بيا يې سرونه وربانديې ټيټ کړل او پخپلو نازکو لاسونو يې د هغې ټول وجود پټ کړ. هغه د سيلۍ مرغۍاوس مړه شوې وه.
سنان چې سترګې خلاصى کړى نو دهغه ټول جسم د خولو څخه لوند خيشت وو. د هغه تکيه لمده شوې وه. هغه راپورته شو او کښيناست. بيرون د پاريس په کوڅو کې يوه توره او طوفاني شپه خبره وه . هغه د بستر د څادر په يوه کونج خپل مخ وچ کړ.
يو آواز ورته وويل سنانه د پاريس څخه ولاړ شه . هغه د ځان سره فکر وکړ چې په هر صورت اوس بايد له پاريس څخه ولاړ شم . هغه ته معلومه وه چې هر ځومره چې ورځې تيريږي نو پاسکل به د هغه د ملګرتيا سره عادت کيږي او بيا به د بيلتون تصور هغه بيرته هغه ژورتياوو ته ورټيل وهي د کومو څخه چې هغه يوازې دده لپاره راوتلې وه هغه تصميم ونيوه چې په پاريس کې به دده سبا وروستې وي او هغه به سبا ته د پاسکل سره د وروستي ځل لپاره ګورى . او بيا به دشپې د غرناطه په لور په ريل ګاډي کې حرکت کوي.

سنان د سفري کمپلې څخه په غصه خوله راوويسته او غږ يې کړ راځي دروازه خلاصه ده .له ځان سره يې به بريدو وويل خداى خبر دومره وختي ځوک دروازه ټکوي. د دروازې لاستي تاو شو او جيني اطاق ته راننوته. هغې په لاس کې يو غټ پتنوس نيولي وو.
سنان ورته وويل ، زه بيده وم . آيا په دومره شين سهار د دروازې ټکول کوم شرافت دى؟
جيني ورته وويل ، شين سهار ؟ پتنوس يې په ميز کيښود او خپل لاس يې په خوله کيښود او هغه ته يې وويل لس بجې دى سنانه.
سنان ژر د کوچني ميز له سره ساعت راپورته کړهغه ته يې وليدل ، جيني صحيح ويل .
سنان وويل ، اووف زه خو چيرته روان وو. بيا ژر له بسترې څخه بيرون شو . جيني د هغه خواته ليدل او خندل يې . جيني ورته وويل که چيرته زه يوه پوښتنه وکړم چې ته چيرته ځې نو بيا ؟
سنان په ډيرې تيزې سره ورته وويل ، هو هو د پاسکل ليدو ته ځم . او بيا د خپل بکس څخه د جامو په راويستلو لګيا شو .
جيني ورته وويل نه پوهيږم چې ته به څه وخت دشپې خپل اطاق ته راغلې يې . خو ستا د قدمونو غږ زما تر غوږونو رارورسيده. خو زه شايد نيم خوبه وم .
سنان د جواب ورکولو څخه پرته د جامو په بدلولو لګيا شو .

جيني پتنوس ورووړاندې کړ او ورته يې وويل چې ناشته خو وکړه ، هغه ستا د کافي ډبې هم نن خلاص شو .
سنان د سپين کميس سره سپينه وريښمني نکټايي وتړله . او بيرته په تخت کښيناسته.
سنان ورته وويل ، ډيره ، ډيره منڼه .
د هغه موډ اوس لږ ښه شوی وو،او پخپل زړه کې د جيني مننندوی وو چې هغې له خوبه رابيدار کړ کنه تر کوم وخت پورې به بيده وو. جيني په ډبل روټی کوچ ولګول او د کافي پياله يې د هغه په لاس کې ورکړه او پوښتنه يې ورڅخه وکړه ، پاسکل څنګه ده ؟
سنان ، ښه ده .
جيني ، پرون ورځ مو چيرته تيره کړه؟
سنان: په بوي ډی بولون کی د سين د درياب په غاړه.
جيني : آها –بوي ډی بولون- ډير ښکلی ځای دی. زه هلته په يوه هستوګنيزه کښتۍ کې د يو پروګرام لپاره تللې وم .
سنان د کافي د پيالې څخه يو غړپ وکړ او پوښتنه يې ورڅخه وکړه ، او هلته دې بيا د وي آنا د ( ځنګل ) د سندرې سره نڅا هم وکړه؟
جيني په حيرانتيا سره ورته وويل نه ، د نڅا پروګرام نه وو. يوآزې ... خو خير ته دا خبری پريږده ، دا ووايه چې ورځ دې څنګه تيره شوه زه د نيوزيلانډ سفارت ته د خپلې عريضي د معلوماتو لپاره ورغلېوم .
سنان ورڅخه پوښتنه وکړه، ښه څه نتيجه شوه ؟
جيني ورته وويل ، سنانه زما عريضه منل شوې ده ، او زه به راتلونکې مياشت نيوزيلانډ ته ولاړه شم .
سنان په خندا سره ورته وويل ، رشتيا ؟ جيني دا خو ډير ښه کار وشو .
ماته هلته د يو کوچني کلی په يو مکتب کې د فرانسوي ژبې د تدريس دنده راکړل شوې ده. قونسل راته وويل چې دا کلی ټيپو د جهيل په غاړه واقع دی او د کوين ټاون په نوم سره يادېږي. د کلي شا وخوا تر ميليونو پورې شنه څر ځايونه دي . زه به هلته لومړی فرانسوی جينۍ يم . نو په دې ډول به هلته هيچا ته دا معلومه نه وي چې په ماضي کې ما کوم کار او پيشه درلوده .
سنان ورته وويل ، تر ټولو خو مهمه خبره همدا وه کنه ؟
جيني د سر په خوځولو سره ورته وويل ، بالکل سنان ته پوهيږی د نيوزيلانډ ټول نفوس شل لکه دی.
سنان ورته وويل ، نو آيا زموږ لاهور ورڅخه بيا ستر دی؟
جيني په ليوالتيا ورڅخه پوښتنه وکړه ، کوم لاهور ؟
سنان په ناز او پنجابۍ لهجه کې ورته وويل ( ميراسوهڼا شهر لاهور نيں) ، زما د لاهور ښکلي ښار ،
د جيني سترګې د حيرانتيا څخه خلاصی شوی څه وايي ؟

سنان ژر جدي شو ورته يې وويل ، په هر صورت جيني زه ډير خوشحاله شوم ستا د نوې ژوند په پيل سره زما دعاګاني او نيکي هيلې له تاسره دي .
جيني ورته وويل ، ډيره مننه او په دې خوشحالۍ کې ما نن شپه د يو پروګرام پلان نيولې دی. جيني راغله او د سنان سره کښيناسته هغه ته يې بيا وويل ، ته ، زه او زما يو دوه ملګرې به وي بس .
هغه ډيره خوشحاله ښکاره کيده .
سنان د خپلی سپينی نيکټايې په جوړولو سره ورڅخه وپوښتيل ، نن شپه ؟
جيني په ډار ورته وويل ، هو نن شپه شاوخوا نهه بجې .
سنان ورته وويل ، متاسفانه نن شپه به ستا په پروګرام کې زه ګډون ونشم کړلی ، هغه بخښنه وغوښته .
جيني ورته وويل ، مګر ولی؟ زما هدف دې چې .. هغه د خبرو تر منځ لږه تم شوه. بيا يې ورته وويل که چيرته ته غواړې چې پاسکل راشي نو هغه هم راوستلې شی .
سنان ورته وويل ، په پروګرام کې د شاميليدو وجه پاسکل نه ده.
جيني ورته وويل ، نو سنانه بيا علت څه شی دی؟ سنانه ته اوس بيا له ماسره په کوم ډول اړيکه کې ونه شرميږې. زه اوس يوه ښه جينۍ يم سنانه زما کار د نن څخه وروسته د فرانسوي ژبې معلمي ده .
سنان د هغې لاس کلک ونيوه ، او هغې ته يې وويل ، نه تا زما خبره صحيح درک نه کړه، زه ستا په پروګرام کې ځکه ګډون نشم کولی چې زه نن شپه له پاريس څخه روانيږم . سنان په تکرار سره وويل ، نن شپه
جيني په بې باورۍ سره بيا ورته وويل ، ته روان يې ؟
سنان : هو
جيني : پاسکل پريږدی؟
سنان ورته وويل ، زما نه خوښيږي چې په دې هکله خبرې وکړم .
جيني خپل لاس راټول کړ ، خاموشه شوه ، لږ وخت وروسته يې وويل سنانه ته سبا ولاړ شه آخر د يوې ورځې د تأخير له کبله به څه وشی ؟
سنان د ځان د خلاصولو لپاره ورته وويل ما د نن شپې ټکټ اخيستې دی .
جيني ورته وويل : ستا موټر څو بجې حرکت کوي . ؟
سنان : لس بجې
جيني ورته وويل ، بس صحيح ده زه به خپلو ملګرو ته ووايم چې چې هغوی اته بجې راشي . او بيا موږ ټول به شا وخوا نهه نيمي بجی تاسره تر سټيشن پوری ولاړ شو.او تا به رخصت کړو.
اوس د انکار هيڅ ځای نه وو پاتې.
سنان ورته وويل ، څنګه چې ستا خوښه وي.
جيني خپل لاسونه د هغه په اوږو کيښودل ، خپله خوله يې هغه ته ورنږدې کړه او په ډيره مينه سره يې ورته وويل ، اوو سنانه ته څومره ښه انسان يې .

سنان ورته وویل ، زه ښه یم خو دومره هم ښه نه یم لکه څومره چې ته ښه یې .
سنان د هغې دواړه لاسونه ونیول او ښکته یې کړل هغې ته یې وویل ښه زه به اته بجې راشم
. اوس ته مهرباني وکړه خپل اطاق ته ولاړه شه چې زه خپل ځان تیاروم. او د ناشتې لپاره هم
مننه .
جیني ورته وویل ، ګوره هیر دې نه شي ما خپلو ملګرو ته ستا اړوند ډیر څه ویلي دي .
جیني د میز څخه تش پتنوس پورته کړ، او د اطاق څخه بیرون ولاړه.
د هغې د وتلو سره سم سنان خپل نیلي کوټ واچاوه ، او لاندې ښکته شو. نن یې میرمن ژي
هم ولیده. هغې د لوبې دروازې سره تکیه کړې وه او د یو الجزایري قالین فروشه سره یې د
یوی عادي قالینې لپاره چنې وهلی . د سنان په لیدو سره هغې قالین فروشه رخصت کړ.
سنان ته یې وویل ، څه حال دی؟ نن سبا خو هیڅ نه ښکاره کیږی؟
سنان ورته وویل ، ما به د نن شپې څخه وروسته هیڅ ونه وینی .
میرمن ژي ورته وویل ، ولې کور دې خوښ نه شو او یا که دې چیرته د ګاونډیانو سره کوم
جنجال راغلې دی ؟
سنان ورته وویل ، نه ، نه په دواړو کې یوه خبره هم نشته . زه نن شپه هسپانیا ته روانیږم .
میرمن ژي ورته وویل ، نن شپه ؟ ښه نو بیا داسې وکړه چې هغه پاتی لس فرانکه هم راکړه
ځکه چې دټولی هفتی خبره مو کړی وه.
سنان د جیب څخه بټوه راوویسته او د لس فرانکو یو نوټ یې میرمن ژي ته ورکړ، میرمن
ژي د نوټ مخ و شا ولیدل او بیا یې نوټ پخپل پخواني او تنګ بلاوز کې واچاوه. او سنان ته
یې وویل ، مننه موسیو .
سنان چې روان شو نو میرمن ژي ورغږ کړ،او ، هو چې کله تللې نو د تللو څخه مخکې یو
ځل زما اطاق ته راشه چې یو الوداعي جام یو ځای وڅکو .سنان وخندل او سر یې ورته
وخوځاوه. او بیا بیرون کوڅې ته راووته . ساعت ته چې یې ولیدل نو لس نیمي بجې وی.
هغه فکر وکړ چې هسې خو هم ناوخته شوې دی راځه یو ځل هغه رسام پال هم وګوره. د
هغه کور هسې هم دلته نږدې دی. او دا هم نن د پاریس څخه روانیږي. کله چې هغه د پګال
د قهوه خانې څخه تیریده نو هغه تصمیم ونیوه چې داخل ته ولاړ شی او شاید پال به هملته
ناست وي. بیا یې فکر وکړ چې آیا د پال په څیر شخص د یوولس بجو څخه مخکې د کټ
څخه پورته کیدلې شی؟ناممکنه ده نو ځکه سنان له دې ځای څخه تیر شو .
د سیکرې کر د کلیسا سپینه ګنبذه په لمر کې ځلیده او د تل په څیر په زینو کې د کوچنیانو ،
ښځو سیاحینو او د رسامانو یو رش جوړ وو. هغه د ګړنجاني والا رسام ترننه پورې هلته
موجود وو. او یا چاق جرمنی سیاح یې د خپل تصویر اخیستلو ته آماده کاوه. سنان په زینو
کې ښکته شو او بیا د څنګ په زینو کې تاو شو. ددې کوڅې په آخر کې د پال کور وو. کله
چې دا هلته ورسیده نو ډیر زیات حیران شو. هغه ورځ چې ده پال په کوم ځای کې لیدلې وو
هلته اوس غټه کنډره وه او ډیرو کوچنیانو په کې لوبی کولی. سنان ددې په څنګ کې د قصابی
یو دوکان ته ورغی.

دوکاندار لاس په یوه ټوټه پاک کړ او په خندا سره یې ورځخه وپوښتل څه شی مو په کار دی آمر وکړی موسیو ، ماسره نن د آیرلینډ د چاقو آسونو غوښه شته دی.
سنان ورته وویل ، زما غوښه نه ده په کار.
دوکاندار ورته وویل ، د آس غوښه ده موسیو .
سنان ورته وویل ، د آس مې هم نه ده په کار، بیا یې ژر ورته وویل ، په اصل کې دلته ستا تر څنګ پخوا یو کور وو، او زما یو زما یو رسام ملګرې پال په هغې کې اوسیده. ممکن ته د هغه په هکله معلومات ولری.
قصاب ورته وویل ، پال ، پال هغه د اوږدې ږیرې والا یادوې او د هغه پیت پوزې ښځینه ملګرې یادوی.
سنان ورته وویل ، هو ، هو بلکل
قصاب ورته وویل ، شل فرانک
سنان ورته وویل څه مطلب شل فرانک ؟
قصاب ورته وویل ، مطلب دا چې هغه له ما څخه پوره شل فرانک قرض اخیستې وو.او بیا غیب شو . خو په هر صورت ښه نه ده چې زه شکایت ورځخه وکړم . دا عمارت د یوې مودې راهیسې غیر مصؤنه پیژندل شوې وو. او ددې ځای اصلي اوسیدونکو ته د ځای د پرېښودلو امر شوې وو. او دلته یوازې څو مفلسه تصویر جوړوونکي او بې کوره خلک اوسیدل . او بیا پرون سهار د ښاروالۍ نفر راغلل دوې ته یې اخطار ورکړ، ددې غریبانو لږ څه سامان یې بیرون ته وغورځاوه او په یوه ورځ کې یې ټول عمارت ونړاوه. اوس به هلته یو ستر مارکیټ جوړیږي.
سنان ورته وویل ، ددې معنی دا چې تاته د پال په اړه کوم معلومات نشته .
قصاب ورته وویل که چیرته راته معلومات وې نو آیا خپل شل فرانک مې ورځخه نه اخیستل .د دوکان مالک د یخچال څخه د آس سر راوویسته او د هغې په ټوټې کولو یې پیل وکړ او د سر په خوځولو سره یې سنان ته وویل ،د آس د سر مغزه ډیر خوندور وي څه وخت یې وخوره .
سنان ورته وویل هو حتمي سنان ته داسې احساس شوه لکه چې د آس اوږده غوږونه تر اوسه پورې خوځیږي او په هغې کې ساه وي .هغه ژر د دوکان څخه بیرون ولاړه د کوڅي په یو کونج کې ټکسي ولاړه وه خو تصمیم یې ونیوه چې د ترام په موټر کې به ولاړ شي نو د سیکرې کر د کلیسا خواته روان شو هلته د ترام د موټرو ستیشن وو. کله چې د پګال قهوه خانه راغله نو سنان فکر وکړ چې د قهوه خاني مالک ته به د پال په باره کې هر څه معلومات وي .هغه قهوه خاني ته ننوت . دا چې سهار وو نو هلته ډیر خلک نه وو. په یو کونج کې څو پریشان حاله خلکو په ډیر زور و شور سره په یوې موضوع بحث کاوه . په هغوې کې د پال آواز له ټولو څخه لوړ وو.
پال چې د سنان خواته ولیدل نو خوله یې همداسې خلاصه پاتې شوه هغه د سنان خواته داسې ولیدل لکه هیڅ چې یې نه وي پیژندلې او بیا د کرسی څخه راپورته شو. پخپله ږیره یې لاس تیر کړ او سنان ته یې وویل ، هیلو زما پاکستانیه ملګریه ، دلته راشه.

د پال سره د هغه رسام ملګرې ناست وو. په دوې کې داسې کسان هم وو چې د کلونو څخه په مومارت کې اوسیدل. او ددې قهوه خانې د مستقل مشتریانو او یا په قهوه خانه کې د مستقل کښیناستونکو خلکو څخه وو. او په دې کې ځینې نوی هم راغلي وو. چې ددې مشرانو سره یې د رسامۍ په نوو ارزښتونو بحث کاوه. پال د ټولو تعارف وکړ. هغه د معرفت څخه وروسته پوښتنه وکړه څه به څکې؟ او بیا خپله یې په خندا سره وویل ، موږ خو هیڅ هم نه څکو . په میز باندې تش بحث روان وو د خوراک و څښاک کوم شیان نه وو چې ددې څخه ښکاره کیده چې د ټولو محترمو جیبونه تش دي . خو سنان ورته وویل
زه خو به کافي څکم .
د پال وار پار خطا شو ، کافي ؟
سنان ورته وویل ، هو کافي خو پیسې به زه ورکوم . سنان هغوې ته هم دعوت ورکړ تاسو به څه شی څکې ؟
هلته ناستو کسانو د سنان څخه ډیره مننه وکړه او د خپلې خپلې خوښې شې یې ورته وښوده . کافي ، کوکا، پرتو ، کوني آک ، او داسی نور ..خو پال مشوره ورکړه چې زما په فکر که چیرته د ټولو لپاره د سرو شرابو یو بوتل راوغوښتل شي نو ډیره به ښه وي . هغه یوازې څلور فرانکه کیږي
سنان ورته وویل ، زما کوم اعتراض نشته .
بیا نورو خلکو هم تأیید کړه.
یو ځوان رسام د سنان څځه پیسې واخیستی او د کاونتر څخه یې د کافي یوه پیاله او د شرابو د یو بوتل د پیرلو څخه وروسته راوړل. د بوتل په لیدو سره لکه په ټول محفل کې چې ساه راپیدا شي. ټولو چیغې کړی. سنان د کافي څخه یو غړپ وکړ او پال ته یې وویل زه همدا اوس اوس ستا د کور څخه راغلم بلکه مناسبه به وي چې ووایم د هغه ځای څخه چیرته چې یو وخت ستا کور وو.
پال په خندا سره ورته وویل ، هو هغه خو یې په دوهمه ورځ ونړاوه. زه هغه ورځ د سیکرې کر په زینو کې د درې تصویرانو په پلورلو بریالی شوم . زما په جیب کې ټول ۳۵ فرانک وو هغه د مصورانو خواته په اشارې سره وویل ،بیا یې هغو ټولو ناستومصورانو ته په اشارې سره وویل ، نو ځکه ما په دې ټولو ښاغلو باندې چې زما نږدې ملګري هم دی په همدې قهوه خانه کې براندي وڅکله . په همدې وخت کې یو اوږد پوزې ټیټ قدي مصور انتقاد وکړ چې زموږ خو هسې نوم بدنام دی . دا پال یو غړپ موږ ته راکوي او نور ټول د شرابو بوتل ځانته ختموي .
په هر صورت ، پال د خبرو سلسله دوامداره روانه وساتله ، سنان ته یې وویل ، براندي زموږ د اندازې څخه لږ تیز وختل او موږ ټول په یو خاص موډ کې راغلو . بیا نو د خورا ستونزه وه. نو ځکه مي بیا دا محترمین خپلې سټوډیو ته د ډبل روټۍ او پنیر د مشهور طعام د خوړلو لپاره دعوت کړل.
پال به لا همدا ویلي وو چې نورو مصورانو به وړه خندا پیل کړه . پرته له دې چې پال د هغوې د خندا پروا وکړی خپلو خبرو ته یې ادامه ورکړه اوس نو کله چې موږ هغه ځای ته

لس بجې ورسيدو چيرته چې زما کور وو. په دې وخت کې پال هم د لاس په خوځولو سره خندا پيل کړه ، کله چې موږ هلته ورسيدو نو هيڅ هم نه وو. يوازې يوه کنډره وه او ته پوهيږې سنانه دوې ټولو کنډرې ته يوازې ليدل خو په ژبه بې څه نه ويل . ځکه دوې هر يو داسې فکر کاوه چې دوي ډير شراب څکلي او ډير نشه شوې دي نو ځکه کور ورته نه ښکاري .کنه دا څنګه امکان لري چې په سهار کې دې هلته يو درې منزله عمارت ولاړ وي او اوس دې هلته هيڅ هم نه وي .
سنان په خندا ورڅخه پوښتنه وکړه ښه تا نو بيا څه وکړل ؟ موږ ټولو تقريبا لس دقيقې هغې کنډرې ته د بتانو په څير ورليدل او په ژبه مو څه نه ويل ،خو ما همت وکړ او دوې ته مې وويل ، ملګرو يا خو موږ غلط ځاې ته راغلي يو او يا خو هغه بدبخته عمارت له دې ځاى څخه غايب شوې دى . په دې کې زموږ د نشې څه قصور نشته .
سنان ورڅخه پوښتنه وکړه ، په دې وخت کې هغه ستا ښځه چيرته وه ؟
پال ورته وويل ، زما ښځه ، هو لويس . هغه خو په همغه شپه چې موږ بيرون ته د ډوډۍ د خوړلو لپاره ولاړو جنګ مو وکړ او د بيل د تأديه کولو څخه وروسته ولاړه . هو نو ما ويل چې موږ هلته د کمعقلانو په څير ولاړ وو . په همغه کوڅه کې يوه بوډۍ ښځه اوسيده هغې بيا موږ ته وويل چې نن سهار د ښاروالۍ خلک راغلي وو ستاسو سامانونه يې بيرون ته وغورځول او عمارت يې ونړاوه. بدبختو زما د رنګ ډبې او کينوس هم له ځان سره يوړل .
سنان ورته وويل ، هو ماته د آسونو د غوښې په دوکان کې ددې معلومات وشو .
پال په ډار سره ورڅخه پوښتنه وکړه د آسونو د غوښې ؟
سنان په خندا سره ورته وويل ، شل فرانک
پال د ګوتو په خوځولو ورته وويل ، نه يې ورکوم ، بدبخته واېې د آيرلينډ د چاقو آسونو غوښه ده خو د فرانسې آسونه وي . د خولې په ورانولو سره يې وويل په پټيو کې د ناکاره کارکوونکو آسونو غوښه وي .
سنان ورڅخه وپوښتل ، نن سبا چيرته اوسيږې ؟
پال ورته وويل ، د سين د درياب د پلونو لاندې ، د سيکرې کر په زينو کې ، د پګال په پارک مونيک کې ،او همداسې په نورو ډيرو بې شميره ښکلو ځايونو کې اوسيږم . کله چې ماښام شى نو همغلته بيده کيږم . تاته معلومه ده چې نن سبا د پاريس د آسمان ستورې ډير روښانه شوې دي ، خو ځه خير دا خبرې پريږده ته وواېه چې پاريس دې خوښ شو ؟
سنان ته پاسکل ورياده شوه خوښيدل خو يوه ډيره ساده او عامه جذبه ده .
پال ورته وويل ، ډير ښه ، ته زما ومنه دا سياحت او دا قصې پريږده ، همدلته په پاريس کې پاتې شه او رسامي پيل کړه .
سنان ورته وويل ، بد فکر نه دې خو زه نن هسپانيه ته ځم .
په دې وخت کې يو اوږد پوزې مصور ژر د خبرو په منځ کې ورو غورځيده او سنان ته يې وويل د بارسلونا د پکاسو ميوزيم حتمي وګوره .
پال د سر په ګرولو سره ورته وويل ، بيا خو بايد تاته يو الوداعيدعوت درکړم . خو نن سبا مالي حالت لږ ....

www.af.dawatmedia24.com

سنان ورته وويل ، نه ددې اړتيا نشته . سنان د هغه د اخلاص څخه متأثره شو او ورته يې وويل ، زه نن ټوله ورځ ډي زيات مصروفه يم ، ستا کور ته ، چيرته چې ستا مخکې کور وو هلته ددې لپاره ولاړم تر څو له تاسره مخه ښه وکړم هغه د کافي څخه ورستی غرپ وکړ او بيا پورته شو پال ته يې وويل ، زه افسوس کوم چې له دې څخه مخکې زما له تاسره ملاقات ونشو پال د هغه د رخصت کولو لپاره تر دروازې پورې د هغه سره ولاړه . بيا يې سنان ته وويل ، ته خوش قسمته يې چې له دې ځای څخه ځی ، پاريس خو يوه نشه ده . که انسان يو ځل ددې عادي شی نو بيا يو ځای ته هم نشی تللی . زه هم نور دلته د هرې ورځی د ولړی څخه ستړې شوې يم ما تصميم نيولې چې مصوري پرېږدم چيرته نجاري يا بل کار زده کړم او نيوزيلانډ ته د تل لپاره ولاړ شم .
سنان په حيرانتيا سره ورته وويل ، نيو زيلانډ ؟ خو ما اوريدلي دي چې دا ډير عبث ځای دی . سنان ته دا فکر پيدا شو چې چيرته پال د جيني سره ونه ګوری او د هغې غريبي راز افشا نه شی .
پال په بی پرواهې سره ورته وويل ، بيا به کانادا ته ولاړ شم .
سنان ورته وويل ، هو ډير ښه ځآی دی . بيا يې لاس وراوږد کړ او ورته يې وويل ، الله حافظ
پال په ډير جوش لاس ورکړ..( بو وايج ) ، د سفر لپاره نيکې هيلې بيا يې ژر ورته وويل ، اووه، ته چې نن له پاريس څخه ځی نو ستا اطاق خو به وزګار وي کنه
سنان ورته وويل هو بالکل به وزګار وي . اما تاسره خو د کراېې پيسې نشته .
پال ورته وويل ، د هغې فکر راسره نشته ، پال سترګې پټې کړی او په خندا سره يې ورته وويل ، ميرمن ژي به د خپلې کراېې نعم البدل تر لاسه کوي .

سنان د قهوه خانې څخه بيرون ولاړه او په ډير سرعت سره د سيکرې کر خواته روان شو.
ترام ستيشن ته په رسيدو، رسيدو يوولس بجې شوی. د ستيشن په پياده لاره باندې يو بوډا سړي په يوه چټل ټوکر باندې کوچنې ، کوچنې مجسمې اېښې وی. سنان ورته ودريده او د هغې په ننداره شو. د فني لحاظه مجسمې ډيرې ښکلې جوړې شوې وی. په دې کې زياتره د ايټالوې او يوناني مجسمو کاپياني وی. د داوود ، مريم او د عيسی د مذهبي مجسمو سره ، سره د يوناني افسانو کرکترونه ، زويس ، پالو ډانيا او د داسې نورو کوچنی ، کوچنی مجسمې اېښودل شوې وی.
د سنان د سنګ مرمرو څخه جوړه شوې د وينس يوه مجسمه خوښه شوه. چې اوږدوالي يې شا و خوا شپږ انچ وو. هغه فکر وکړ چې دا به د پاسکل ډيره خوښه شی نو په ١٥ فرانک يې واخيسته. بوډا سړي ورته په يو نصواري کاغذ کې مجسمه تاوه کړه او سنان ته يې ورکړه .

په همدې وخت کې د ترام موټر هم راغی ، سنان ورپورته شو د پرونۍ ورځې د ناخوشګواره تجربې له کبله هغه د کښیناستلو هملته په دروازه کې ودریده.
نیولې پل ته په رسیدو هغه د یخنۍ احساس وکړ. لږ وخت مخکې ځلیدلې لمر پټ شوې وو. او په اسمان کې تورې وریځې خپرې وی. نن سهار موسم دومره ښکلی وو چې هغه خپل باراني کوټ په اطاق کې پریښې وو او همداسې راغلې وو. هغه مجسمه د کوټ په دننه جیب کې کیښوده . او دواړه لاسونه یې د پتلون په جیب کې ننویستل او په ډیر سرعت سره د پاسکل د اپارتمان خواته روان شو .
کله چې د کور مخ ته ورسیده نو اوسپنیزه دروازه یې خلاصه کړه او باغیچې ته داخل شو.
هغه په غیرې ارادې ډول دوهم منزل ته ولیدل . د کړکۍ مخ ته پرده وه او پاسکل هلته نه وه هغه له زینو تیر شو او د اپارتمان تر دروازې پورې ولاړه او په ټالۍ یې ګوته کیښوده . د ټالۍ په وهلو سره یې یو تت غږ واوریده. د سنان غوږونه د یو چا د قدمونو غږ ته منتظر وو. لږ وخت وروسته یې بیا ټالۍ ووهله خو د داخل څخه یې کوم جواب تر لاسه نه کړ.د سنان په تندې د خولو قطرې راپیدا شوی د هغه لپاره دا فکر د زغملو وړ نه وو چې پاسکل دې په اپارتمان کې موجوده نه وي او دا دې د تللو څخه مخکې هغه ونه ګوري . هغه په همدې ډار کې په مسلسل ډول د ټالۍ وهل پیل کړل خو ډیر وخت وروسته د اپارتمان له داخل څخه د یو چا ورو غږ راغی او بیا دروازه خلاصه شوه د سنان په شونډو مسکا خپره شوه. پاسکل په یوې غټې سور رنګه جانپاک کې دده مخ ته په غصه ولاړه وه. هغې په یو لاس د جانپاک غوټه کلکه نیولې وه او بل لاس یې د دروازې په لاستي ایښې وو. د اوبو څاڅکې په غټ جانپاک کې جذب کیدل د بدن څخه یې د څڅیدونکو اوبو له کبله د قالینې هغه برخه لمده شوې وه چې هغه پری ولاړه وه .
هغې د جانپاک په تولیه باندې ایښودل شوې لاس هوا ته پورته کړ او په غصه یې سنان ته وویل. ما لمبل . سنان خاموشه ولاړ وو او په خندا وو .
پاسکل ورته وویل ، په دې کې د کمعقلانو په څیر د خندا څه خبره ده ؟ جانپاک یې د اوږې څخه راځوړند او په ښوریدو وو.
سنان په ډیر سکون سره جواب ورکړ ښکلې ښکاری .
پاسکل ورته وویل ، زه د سهار د نهو بجو څخه ښکلې ښکارم. هغې په بې پرواهې سره د مړوند هغه ځاې ته ولیدل چیرته چې دلاسي ساعت د پټۍ یوه نرۍ نښه وه .
سنان خپل کیڼ لاس ور اوږد کړ او ورته یې وویل که چیرته وخت ګوری نو زما په ساعت کې یې وګوره . دولس بجې دي.
پاسکل په غصې سره سر ته څنډ ورکړ، او سنان ته یې وویل ، دولس بجې دي نو څه ؟ د سر په څنډلو سره د هغې په ویښتو کې د رنو اوبو څاڅکې د سنان په مخ پریوتل . سنان خپل دواړه لاسونه د پتلون په جیب کې ننویستل او په بې تفاوتۍ سره یې ورځخه وپوښتل نو بیا څه ؟
اووف ، پاسکل شونډې کلکې وروستلې او هغه ته یې وویل آخر ته درې ساعته ناوخته ولی راغلی؟

سنان په ډېر اطمنان سره د خپل لاس ورغوې په خوله کيښوده او پاسکل ته يې وويل ، اووو ، بس په دومره خبره باندې .
پاسکل ورته وويل ، دا دومره خبره ده؟ د پاسکل نيلي سترګې د حيرانتيا پراخه شوی، هغه خپل موټې راټول کړ او په زور سره يې دواړو لاسونو ته ټکان ورکړ.
سنان ورته وويل ، که چيرته بل ځل دې لاسونو ته داسې ټکان ورکړ نو د جانپاک غوټه به مکمل خلاصه شي او بيا به .....
پاسکل ژر په دواړو لاسونو جانپاک کلک ونيوه ، سر يې راپورته کړ او د سنان خواته يې وليدل ، سنان ته داسې احساس شوه چې د هغې سترګې لمدې دي مګر په هغې کې د اوبو څاڅکې نشته .
سنان ورته وويل ، بس هسې د شپې د ناوخته بيده کيدو له کبله راباندې ناوخته شو .
پاسکل د شک څخه په ډک نظر هغه ته وليدل او بيا يې ورته وويل ، ما ته پوره نهه نيمې بجې د کور مخ ته ښکته کړی نو بيا ته څنګه ناوخته بيده شوی؟
د سنان په ذهن کې د تيرې شپې ډاروونکې خوب په تاويدو شو . پاسکل ته يې وويل بس هسې بيده نه شوم . او بيا نن سهار زه د يو رسام ملګري ليدو ته هم ولاړم.
پاسکل ورته وويل، او زه ، زه د سهار له اتو بجو څخه يوولس بجو پورې په کړکۍ کې ناسته وم او ستا انتظار مې کاوه. د پآسکل په لهجه کې شکايت وو. ته رانغلی نو زما زړه وډار شو . ځکه ما يوازې د وخت د تيرولو لپاره بيا يې خبره بدله کړه او د جانپاک د يوې پيڅکې په نچوړولو سره يې ورته وويل ، غسل خانې ته د تللو څخه مخکې ما د دروازې کونډه خلاصه پريښې وه که چيرته تا د مسلسل ټالۍ وهلو په ځای لږ هم عقل استعمال کړې وو او دروازې ته دې ديکه ورکړې وه نو تاته به معلومه شوې وه چې دا بنده نه ده .
سنان ورته وويل ، که چيرته ته لږ عقل هم وکاروې نو تاته به معلومه شي چې زه د پنځو دقيقو څخه دلته بيرون په کوڅه کې ولاړ يم او ته هلته په جانپاک کې پټه په ناز او شوکت سره په قالينه ولاړه يې آيا داخل ته دې زما د غوښتو اراده نشته ؟
پاسکل ( اووه) وکړل او بيا يې په بې پامۍ سره په غوټه ايښې لاس تر شونډو ورساوه ، جانپاک يې د اوږو څخه په غورځيدو شو نو ژر يې بيا په دواړو لاسونو کلک ونيوه . او سنان ته يې وويل ، دننه راشه .
سنان ټيټ شو مننه يې ورڅخه وکړه او دننه اپارتمان ته داخل شو دروازه يې بنده کړه او بيا يې يوه او بله خوا نظر وځغلاوه .
پاسکل لکه چې د هغه په نا آرامۍ پوه شوې وه نو ورته يې وويل ، خاله نشته دی .
هغه وويل ، ډير ښه ، بيا يې په تسلي سره لاس ورکړ.
پاسکل د هغه لاس ونيوه ، ورته يې وويل ، راځه او بيا يې خپل اطاق ته بوته .
اطاق ټول تياره وو. پاسکل مخکې شوه او د کړکۍ څخه يې پردی ليرې کړی په ټول اطاق کې رڼا خپره شوه. پاسکل د سنان خواته نږدې راغله په ډير معصوميت او د سر په خوځولو يې ورڅخه پوښتنه وکړه . آيا زه جامې واغوندم .

سنان ورته وویل نه ددې څه ضرورت دی. همداسې به بیرون ته ولاړ شو خو البته د جانپاک غوټه ښه کلکه ونیسه .
پاسکل هغه ته نږدې راغله د هغه د غاړې څخه یې لاسونه چاپیر کړل او ورته یې وویل ، لطفا سنانه ما مه ځوروه ، بیا یې خپل مخ د سنان په کوټ کې پټ کړ او ورته یې وویل که ته مې تنګوې نو بیا ژاړم . پاسکل په قراره خپله یخه پزه د هغه دسینې پورې ومښله
سنان ورته وویل ، پاسکل د خپلو شونډو څخه زما دا سپینه نیکټایې لږ وساته .
پاسکل سر رابورته کړ، ورته یې وویل ، ولی ؟
سنان : په سپینه نکټایې سره سرخي ډیر ژر لګیږي .
پاسکل : ډیره ، ما ووی کنه ، لږ عقل ، ما اوس لمبلي دي ، سرخې ټوله وینځل شوي ده .
سنان لږ وشرمیده .
پاسکل : که زه لږ تر لږه همداسې ودریدم نو زما یخني به لیرې شي . هغې د کوټ بټن خلاصه کړه او خپل لاس یې دننه کړ. د هغې لامده وینته د سنان د شونډو سره لږیدل . او جانپاک نمی کوټ ته انتقالیده .
سنان د هغې وینتانو ته د پوکي په ورکولو سره وویل ، که چیرته زه د لږ وخت لپاره همداسې ودریدم نو زما به نمونیا شي.
پاسکل چې د هغې په جیب کې لاس دننه کړ نو یو څه یې په کې پیدا کړل ، سنان ته یې وویل ، دا په جیب کې څه شې ګرځوی؟
سنان ورته وویل ، اووو – زما خو هیر شوې وو، سنان دواړه لاسونه د هغې په اوږو کینودل او هغه یې له ځانه جدا کړه او بیا یې د جیب څخه په یو نصوارې کاغذ کې پیچلې مجسمه راوویسته او په میز یې کینودله او پاسکل ته یی وویل ، دا ستا لپاره .
پاسکل هملته په ولاړه ، ولاړه په کاغذ کې د پیچل شوې مجسمې خواته ولیدل او بیا یې خپلې نیلي سترګی خلاصې کړی او سنان ته یی وویل ،په دې که څه شی دی؟
سنان خپل لاس وروړاندې کړ او هغې ته یې وویل خپله یې وګوره .
پاسکل په قراره ، قراره قدمونه واخیستل او تر میز پورې ولاړه . هلته ودریده او تر یو وخت پورې یې همداسې مجسمې ته په ځیر ، ځیر کتل لکه هغه چې په دې پیچل شوې کاغذ کې د نامعلومه شی څخه ډاریږي بیا یی هغه پورته کړ او کاغذ یې خلاص کړ
د پاسکل څیره د خوشحالۍ څخه وغوړیده. اوو ، وینس دې میلو
سنان : آیا ستا دا مجسمه خوښه شوه ؟
پاسکل د کوچنیانو په څیر بار ، بار د سر په خوځولو جواب ورکړ، هو ، او بیا یې مجسمه د کتابونو د الماری په سر کینوده. او بیا یې سنان ته وویل مننه سنانه.
سنان د احترام څخه لاسونه پورته او اوږې یې راټولې کړی سنان خپل نظر په پاسکل کې ښخ کړ او فکر یوړ.
د ښکلا ملکه د لملو وروسته د سمندر څخه راووته ، کوچني ، کوچني نمجن وینته ، او په مناسب جسم ښکلې لباس .

پاسکل ښکلی نازکې ګوتی په مجسمه تیری کړی او سنان ته یې وویل ، هو د سنګ مرمرو دا مجسمه ډیره ښکلې ده .
سنان په خندا سره ورته وویل ، پاسکل زه د مجسمې خبره نه بلکه ستا خبره کوم .
د پاسکل په څیره باندې د شرم و حیا سرخي خپره شوه . د یوې آروپایې جینۍ لپاره داد شرم وړ خو د یوې مشرقي جینۍ لپاره دا تر ټولو ښکلې ځانګړتیا بلل کیږي .
پاسکل د سنان مټ ونیوه، او ورته یې وویل ، ښه اوس څه واغوندم ؟ نن به ته ماته لباس انتخابوی .
پاسکل وړاندې ولاړه ، او د خپلو جامو د الماریٔ دروازه یې خلاصه کړه. په الماریٔ کې په درجنونو ښکلی لباسونه ځړیدل. د هر لباس ډیزاین او د پرې کیدو ستایل تقریبا یو ډول وو. په آروپا کې نجونې زیاتره د لویو ځانګیزو پلورنځیو څخه خپل لباسونه اخلی . په دې پلورنځیو کې د یو رنګ او ډیزاین په لکونو لباسونه خرڅیږي. زیاتره وخت څو نجونې سینمیا هال او یا کوم محفل ته په یو ډیزاین او یو رنګ لباس کې ځی او د یوې جینې لپاره ددې څخه بله بده خبره څه کیدلې شي چې په عین محفل کې یوې بلې جینۍ هم عین لباس اچولې وي. ددې نا خوښه حالت څخه د خلاصونه په موخه دښه ذوق درلودونکې نجونې یا خو د فشن د کوچنیو کوچنیو دوکانونو څخه د ډیزاین له لحاظه ځانګړې او ګرانبیه جامی اخلی او یا یې هم پخپله په کور کې جوړوي .
پاسکل د هغه په اوږه ورکږه شوه او ورته یې وویل ، سنانه ، دا ټول لباسونه ما خپله جوړ کړی دي او د خاله یوې ملګری راته ګنډلي دي.
د الماریٔ په پورتنې خانه کې په درجنونو سکارفونه او ګردیٔ زنانه یې خولۍ پرتې وی.
سنان ورته وویل زما زړه دې چې نن ته دا غټه خولیٔ به سر کړی .
پاسکل په معصومیت ورڅخه پوښتنه وکړه ، او ددې سره کوم لباس واچوم؟
پاسکل له شاه څخه دده په ملا کې په زور سره ګوتې ننویستې ، او ورته یې وویل ، څه عبث خبری کوی .
په الماریٔ کې د پرون ورځی سپین رنګه او په ختو ککړ لباس هم راځړیده ، ژیړ ګلاب چې وچ شوې وو لا هم د کالر سره لګیدلې وو . سنان یو کوټ بند راوویسته ، پاسکل ته یې وښوده ، هغې ته یې وویل ، داد غټو کالرونو نرې ژیړ لباس به څنګه وي ؟
هغې ژر د هو سره هو وکړه بالکل صحیح دی .
سنان ورته وویل ، هغه سور کوټ ورباندې د پاسه واچوه .
پاسکل : سور کوټ ؟
هو ، هو هغه سور کوټ چې تا هغه شپه په ستیمر کې اغوستې وو .
پاسکل ورته وویل ، هغه سور کوټ خو زما ډیر خوښ دی . زه ډیر وخت همغه اچوم . حتی زما ملګرې داسې فکر کوي چې زه همدا یو کوټ لرم خو زه چپنه هم لرم . خو سنان ژر ورته خپله فیصله واوروله چپنه مې نه ده په کار .
پاسکل ورته وویل ، که چیرته بیرون ته تللو نو ضرور به یې واغوندم .

سنان ورته وویل ، نن خو به ضرور بیرون ته ځو ، ځکه چې زه غواړم چې د لودر میوزیم وګورم . ځکه چې ........په دې خبرې سره سنان خاموشه شو . او بیا یې وویل ځکه چې که چیرته موږ بیرون ته نه تللی نو بیا مو د لباس په باره کې دومره فکر د څه لباره کاوه ؟ یو ښه لباس خو ددې لپاره اغوستل کیږي چې انسان بیرون ته ولاړ شي او نور خلک ....
پاسکل ورته وویل ، یو ښه لباس یوازې ددې لپاره اغوستل کیږي چې انسان یې به اغوستلو سره ښه احساس وکړی،کوم بل انسان ته ښه ښکاره شي . اړینه نه ده چې بیرون ته ولاړ شی . او ددې نمایش وکړي . په همدې سره پاسکل د سنان د لاس څخه د ژیړ لباس کوټ بند واخیسته او د څنګ اطاق ته ولاړه .
سنان د کتابونو د الماری خواته ولاړه او هلته ودریده . داسې ښکاریده لکه د وینس مجسمه چې د همدې الماری په سر باندې د ایښودو لپاره جوړه شوي وي . بې اندازې ښکلې ښکاره کیده . هغه یو نظر کتابونو ته ولیدل او بیا ښکته شو ، د الماری لاندې برخې ته یې سر ورښکاره کړړ هلته امساګانې نه وی .په همدې وخت کې پاسکل اطاق ته راغله ، سنان ته یې وویل څه شی ګوری ؟
هغې ژیړ لباس اغوستې وو، او د هغې وینتان د یوې کوچنۍ ماشومې په څیر په یوه ژیړه پونې کې تړل شوي وو .
سنان ژر ودریده هغې ته یې وویل، نه هیڅ شي نه ګورم .
پاسکل ورته وویل ، که ته چیرته امساګانې لټوې نو هغه دلته نشته ، ما امساګانې د کباړ په سټور کې غورځولي دي .
سنان خاموش ولاړ وو .
پاسکل ، سنان ته وویل ، څنګه ښکارم ؟ بیا د پښو د ګوتو په سرونو تاوه شوه د یوې لحظې لپاره یې ژیړ لباس تر ملا پورې اوچت شو او بیا په قراره ، قراره د هغې د پښو څخه تاو شو .
سنان ورته وویل ، پاسکل ته کله هم بده نه یې ښکاره شوی.
بیا تر الماری پوری راغله ، په سپین لباس یې لګیدلې ژیړ ګلاب راواخیست او پخپل کالر یې ولګاوه سنان ته یې وویل ، دا ددې ژیړ لباس سره برابر او هم رنګه دی .
بیا څه وشو ؟ ددې خوشبوخو تر اوسه شته کنه ؟ هغه سر ښکته کړ او د ګل د بوی کولو په ځای یې خپلې شوندې په ګل باندې کیښودی . او وېې ویل ، دا خوشبو به تل وي .
سنان په خبرو ، خبرو کې چپ شو او پاسکل ته یې وویل ، پاسکل تاته به سبا زه یو بل ګل راوړم .
اما دا خو نن شپه هسپانیا ته روان وو .
پاسکل سر راپورته کړ د ګل ګډې وډې پاڼې یې جوړی کړی بیا د سینګار میز ته مخامخ کښیناست او د سرخي په لګولو یې پیل وکړ.
پاسکل د سنان خواته راتاوه شوه ، سنان ته یې وویل ډیره کمه سرخي لګوم تر څو ستا پر سپینه نیکټایې کومه نښه پاتې نه شي . د پاسکل په سترګو کې شرارت نڅیده .

د سنان زړه خپله دا ملامت کاوه ، هغه خپل ځان يو مجرم احساس کاوه .د يوې خندانه او د ژوند څخه د ډکې جينۍ پرېښودل خو جرم دې نو . هغه سر ښکته کړ ، هغه چې د ميک اپ څخه وزګاره شوه نو د هغه خواته ورغله هغه ته يې وويل ، ولې داسې خفه ولاړ يې؟
سنان ورته وويل ، څوک خفه دی؟ سنان د خندا هڅه وکړه شاته وګرځيد او داسې يې وليدل لکه پاسکل چې د هغه په سينه ګوته ايښې وي . او بيا يې د پالنګ تر څنګ ديوال ته وکتل او پاسکل ته يې وويل ، غوړوالۍ هم واچوه .
پاسکل ورته وويل ، هو ضرور
پاسکل ژر خپل بوټان وويستل او پر پالنګ باندې ورو ښته او د تصويرانو پر سر يې ځړيدلې غوړوالۍ راواخيستلې. سنان پاسکل ته لاس وراوږد کړ او د هغې په مرسته لاندې راښکته شو.
هغې غوړوالۍ سنان ته ورکړې سترګې يې بندې کړی او سنان ته يې ووی نن يې هم ته راته واچوه .
سنان چې د پاسکل دا حالت او ښه وليده نو ډير زيات خفه شو . د هغې په څيره کې ډير معصوميت وو، هغه په لړزيدلو لاسونو غوړوالۍ د پاسکل په غوږونو کې واچولې. پاسکل خپلې دواړه سترګې خلاصې کړی خپل دواړه ورغوې يې په غوږونو کيښودل او په خندا شوه په قراره يې وويل ، غوړ ـــ والۍ
سنان مخ واړاوه ، پاسکل ته يې وويل ، پاسکل ځه چې بيرون ته ولاړ شو ، دلته زه ډاريږم .
پاسکل کړکۍ ته مخامخ يوې کرسۍ ته اشاره وکړه سنان ته يې وويل ، ته په دې کرسۍ کښينه لږ وروسته به ولاړ شو نه پوهيږم نن زما بيرون تللو ته هيڅ زړه نه کيږي .
سنان په کرسۍ کښيناست، د پالنګ په څنګ کې يې د ديوال خواته وليدل چيرته چې د پاسکل د خوښې تصويران په ډير ښه شکل سره راځوړند وو. د رقص بې شميره ډولونه چې په هغې کې د روسيې بيلې رينا اولانوا تصوير په ټولو کې جوت وو. په سپين لباس کې مبلبوسه باوقاره بيلې رينا د يوې ښکلې سيلۍ په څير ولاړه وه . د سنان په ذهن کې يو ځل بيا د تيرې شپې سيورې په راپيدا کيدو شو . هغه د تصوير څخه خپل نظر ليرې کړ . يو ناڅاپه هغه ته خيال ورغې چې پر دې ديوال باندې ددې تصوير سره هغه ورځ د نړۍ يوه نقشه هم راځړيدلې وه .
سنان ورغږ کړ، پاسکل ! پاسکل شاته ورو ليدل
بلې سنانه
په لومړي ځل کله چې زه ستا اطاق ته راغلې وم نو دبيلې رينا د تصوير سره ددنيا يوه نقشه هم راځړيدلې وه .
پاسکل ورته وويل ، ما هغه نقشه وسوځوله .
سنان په حيرانتيا ورڅخه پوښتنه وکړه ، ولې پاسکل؟
پاسکل ورته وويل ، تا ماته هغه ورځ د نقشې پر مخ د خپل بيرته تګ لاره وښودله . بيا د هغه وروسته کله چې هم زه دشپې پر پالنګ څملاستلم نو زما نظر به بې اختياره په نقشه باندې پريوته . غرناطه ، استنبول ، او تهران نور د ما لپاره ښارونه نه وو بلکه د ما لپاره نور

کوچني ماران وو. ما داسې احساس کاوه چې دا به ما وچیچي.نن سهار ما نقشه د دیوال څخه لیرې کړه او هغه مې وسوځوله خپل دشمن مې وسوځاوه . که ته دې ته لیونتوب هم ووایې خو زه د هغې نقشې په سوځولو سره ډېر آرامه شوم . او د هغې د سوځېدو څخه به سنانه ته ، ته به هیڅ چیرته ولاړ نه شی . نقشې چې نه وي نو سیاح به څنګه سفر کوي ؟ لارې به څنګه پیدا کوې؟ د پاریس څخه بنکلی بل ځای نشته ټولې لارې بندی شوی دي.
سنان ورته وویل ، پاسکل اوس موږ دواړه باید ضرور بیرون ولاړ شو . سنان د کرسۍ څخه راپورته شو. د پاسکل د خبرو له کبله د سنان په ذهن کې د جرم احساس لا تقویت وکړ.
پاسکل په حیرانیتا سره وویل ، بیرون ؟
سنان ورته وویل ، هو چې د لودر میوزیم بند نه شي ، او نن زه هم ...
پاسکل په عذرسره ورته وویل، سنانه سبا ته به ولاړ شو.
سنان په تیزۍ سره ورته وویل نه
پاسکل په خفګان سره ورته وویل ، ولې خفه کیږې؟ همدا نن به ولاړ شو .
سنان د جیب څخه سګرټ راوویسته ، سګرټ یې ولګاوه او په خاموشۍ سره یې د سګرټ څکول پیل کړل .
پاسکل ورته وویل ، ښه نن به د لودر د میوزیم لیدو ته ولاړ شو او سبا به د پاریس څخه بیرون د وارسلز د محلاتو لیدو ته ولاړ شو صحیح ده ؟ پاسکل راپورته شوه او په پالنګ کښیناسته .
سنان ورته وویل ، هو نن به د لودر د میوزیم لیدو ته ولاړ شو ، لیکن سبا ، تا خو خپله ویلي وو چې د سبا په باره کې فکر کول نه وي په کار .
پاسکل : هو ، خو هغه د پخوانیو وختونو خبره ده . که د یوې خوا څخه ما ستا له کبله ډیرې خوشحالي تر لاسه کړې دي نو د بلې خوا په ما کې د سبا ورځې د فکر کولو احساس هم راپیدا شوې دی . سنانه زه اوس د سبا په باره کې فکر کول غواړم
د سنان زړه وغوښتل چې اوس او په همدې وخت کې د خپل بیرته تګ او د روانیدو په باره کې ورته ووایې خو هغه په خاموشۍ سره سګرټ څکل .
پاسکل ورته وویل ، سنانه ته نن په څه فکرونو کې ډوب یې ؟
سنان ژر ورته وویل نه ، نه یم .
پاسکل ورته وویل ، تا چې نن په اپارتمان کې ښه ایښې ده نو ته خبری نه کوی . همدا زه لګیا یم او خبرې کوم . سنان په زوره د مسکا کولو هڅه وکړه او پاسکل ته یې وویل ، خبرې کولو د ښځو پیدایشي حق دی او د ښځې خبرې اوریدل د نارینه پیدایشي بد قسمتي ده .
پاسکل ورته وویل ، ښه زه خیر ، زه ددومره خبرو والا هم نه یم . پاسکل د مصنوعي خفګان اظهار وکړ او بیا یې ژر وویل ، اوهو ، زه نن هم ښه میزبانه ثابته نه شوم له څخه می تر اوسه د کافي او یا بل څه هیڅ پوښتنه ونه کړه . نن چې راتللې نو څه دې خوړلي وو او که د هغه ورځې په څیر د ناشتې پرته داسې نیغ راغلی ؟
سنان : ما ناشته کړې وه .
پاسکل : ښه بیا نو زه کافي راوړم .

د سنان د څه ویلو څخه مخکې پاسکل د اطاق څخه وتلې وه .
نن لمر د کړکی څخه بیرون نه ځلیده . د وریځو له کبله داسې ښکاره کیده لکه مښام چې وي.
پیاده لاره تېوله د خلکو څخه تشه وه. او د هوا د نښتون له کبله د ځیرې د ونې پانې بلکل ساکښې وی. د پاڼو رنګ د تیز شین رنګ څخه په خاورین رنګ بدلیده . خزان د راتلو والا وو.
لږ وروسته پاسکل کافي راوړه په پتنوس کې یوازې یوه پیاله وه .
سنان د مینې په نظر پاسکل ته ولیدل .
پاسکل ورته وویل ، په ډیر مشکل سره د یوې پیالې لپاره کافي پیدا شوه ماته معلومه نه وه چې د کافي ډبې تش شوې دی. ماته بیا رایاده کړه چې د بازار څخه د سبا لپاره یو بل راوړم .
هغې سنان ته پیاله ورووړاندې کړه ، سنان ورته وویل ، ته بې ولی نه څکی ما اوس اوس ناشته وکړه او راغلم .
پاسکل وویل زه به یوازې یو غړپ ورڅخه وکړم بیا بې پیاله تر شونډو پورې یوړه او غړپ بې ورڅخه وکړ او بیا بې د سنان مخ ته پیاله ورووړاندې کړه، نوره ته وڅکه .
د کافي د ختمیدو څخه وروسته سنان د کرسی څخه پورته شو ، او وېې ویل ، پاسکل
پاسکل ورته وویل ، هو هو ځو . هغې په نه زړه سره ورته وویل او بیا بې د الماری څخه سور کوټ راوویست، پخپل بازو بې واچاوه او سنان ته بې وویل ، لطفا لږ د کړکی پردی کش کړه ، سنان پرده کش کړه او په آلماری باندې کینودل شوې د وینس مجسمه په تیارو کې ډوبه شوه .

هغه دواړه چې د اپارتمان څخه بیرون ووتل ، نو په آسمان باندې ګڼې وریځې خپرې وی. او اوس هوا هم چلیده . پاسکل سور کوټ اغوستې وو.

هغې د سنان مټ ونیوه او روانه شوه ، سنان ته بې وویل تا خپل باراني کوټ ولې نه دې راوړی .

سنان ورته وویل ، نن سهار لمر روښانه ځلیده . ما فکر وکړ په دومره خوشګواره موسم کې خو باران نشې کیدلې هسې د باراني کوټ څه ګټه . او اوس د ځلیدونکې لمر په ځای په هر ځاې کې تیاره خپره ده .

پاسکل : هو په یوه لحظه کې په پاریس کې موسم بدلیږي .

د نیولي پل ته چې ورسیدل نو هغوې یوه ټیکسي ودروله . د کنکورد په چوک کې پاسکل ډرایور ته په فرانسوي لهجه کې وویل ، ځه

سنان ورته وویل ، دې ډرایور ته ووایه چې موږ د فتح د محراب سره ښکته کړه هلته به چیرته په یو رستورانت کې ډوډی وخورو . او بیا به په شانز باندې په چکر ، چکر د لودر خواته ولاړ شو .

پاسکل ډرایور ته لارښوونه وکړه ( آرک دی ټرایمف ) ، ټکسي وان په جواب کې اوړې راټولی کړی او ټیکسي یې چالان کړه .

نن د فتح د محراب چارچاپیره موټرې هم کمې وی او د شانز په پیاده سړک باندې ډیر رونق هم نه وو شاید داد یخني تأثیر وو . د فرانسویانو موډ هم په موسم منحصر دی. په روښانه لمر کې خو هغوي خوشحاله وي او کوم وخت چې د لمر رڼا نه ویني نو بیا یې مخونه ځوړند نیولې وي .

ټکسي چلوونکي هغوي د محراب بلې خواته د ایونیو فاک په آخر کې ښکته کړل . د پیاده رو سره د یو چیناېي رستورانت لوحه راځوړنده وه په نیمه تیاره کې روښانه چیناېي توري ډیر ښکلي ښکاره کیدل .

سنان خپل نظر وړاندې کړ ، پاسکل ته یې وویل همدلته به ډوډۍ وخورو زما خو وریجو ته ډیر زړه شوی دی . په چیناېي رستورانت کې خو به وریجې هم پیدا کیږي.

پاسکل ورته وویل ، دا رستورانت چیناېي نه بلکه ویتنامي دی .

سنان : یوه خبره ده . دا د پیتو پوزو والا ټول قومونه وریجې خوری . سنان د پاسکل لاس ونیوه او هغوې دواړو د رستورانت دروازه خلاصه کړه او داخل ته ولاړل د رستورانت ټول ماحول ویتنامي او یا چیناېي وو. په یو کوچنۍ نیمه تیاره کې د بانس څخه جوړې شوې کرسیانې او کوچني میزونه په ډیر ښه شکل سره پراته وو . د چت څخه یو منقش لالټین راځړیده چې د نازکې سرې رڼا له امله یې اطاق ډیر پراسراره ښکاره کیده . رستورانت ټول تش وو. کله چې د هغوې ددې نیم تیاره حالت سره عادي شوی نو دواړه په یو کونج کې کښیناستل .

سنان یوه او بله خوا ولیدل بیا یې وویل ، دلته خو خدمه هم نه ښکاره کیږي .

پاسکل ورته وویل ، اوس خو لا یوه بجه ده . او فرانسویان د غرمې ډوډۍ د دوه نیمو بجو څخه مخکې نه پیل کوي . شاید د همدې لپاره خدمه هم چیرته آرام کوي . ددې په ویلو سره پاسکل پر میز پرته سګرټ دانۍ وټکوله لږ وخت وروسته د یو تیاره کونج څخه یو خوشکله پیت پوزې ښکلې جینې مینو په لاس راووتله . هغې یو چسپ وریښمني لباس اچولې وو. چې په هغې باندې د اژدهاوو او د مختلفو رنګونو ګلان جوړ شوې وو. د جامو کاټ یې د دواړو خواوو څخه د ملا تر کمر بنده پورې رسیده . هغه نږدې راغله مینیو یې په میز کیښوده او په خندا شوه هغې دوو مخکینیو غاښونو ته د سرو زرو پوښ ورکړې وو.

سنان پاسکل ته وویل ، آردر ورکړه زه خو نه په ویتنامي ژبه پوهیږم او نه په فرانسوي ژبه .

پاسکل ښه په غور سره مینیو ولوسته او بیا یې خدمه ته آردر ورکړ هغې چې د خپلې زرینې مسکا ځلا خپروله بیرته په همغه تیاره کونج کې ورکه شوه .

www.afghanmedia24.com

پاسکل ورته وویل ، ما د تا لپاره ژیړې خوندورې وریجې او د لمر ګلي په تیلو کې پوخ شوې ماهې راوغوښته .

سنان : دځان لپاره دې څه شې راوغوښته .

پاسکل خپلې دواړه څنګلې په میز کېښودی او سنان ته یې وویل ، زه ډیره وږې نه یمه . زه به په ډوډۍ کې یوه څکه درسره وکړم .

د سنان په ذهن بوج وو هغه لا تصمیم نه وو نیولې چې پاسکل ته د خپل بیرته تګ په باره کې څه وخت او څنګه ووایې .

پاسکل د هغه مټه ونیوه هغه ته یې وویل ، یو څه خبره خو وکړه سنانه ، آیا ته خو به زما د رفاقت څخه سترې شوې نه یې ؟

سنان د هغې لاس کلک ونیوه او هغې ته یې وویل ، نه داسې نه ده ، داسې بلکل نه ده .

پاسکل : نو بیا ته نن داسې خفه ، خفه ولی یې ؟

سنان : نه داسې کومه خبره نشته ، ستا درک صحیح نه دی .

پاسکل : ښه د لودر د میوزیم د لیدو څخه وروسته به موږ چیرته ځو ؟

سنان : چیرته چې وغواړی.

پاسکل : د سین د دریاب غاړې ته چیرته چې د څو کلونو راهیسې زه هر ماښام هلته یوازې ګرځم . د نوټر ډیم د کلیسا په سیوري کې به زه په همغه بینچ کښینم مګر نن به زه د نوټرډیم د ملا کړوپې په باره کې خبرې نه کوم .

سنان ژر ورته وویل ، صحیح ده ،صحیح ده .

په دې وخت کې خدمه ډوډۍ راوړه .

د ډوډۍ د خوړلو څخه چې فارغ شو او هغوې دواړه بیرون ته ووتل ، نو د یونیو فاک ونې په اوبو کې پاکې لمبیدلې ولاړې وی. پیاده لاره هم د مینځلو څخه وروسته پاکه شوې وه. وریځې لیرې شوې وی او د لمر د رڼا له کبله سترګې بریښیدلې .

پاسکل د هغه مټ ونیوه . او په خندا یې ورته وویل ، د پاریس د موسم تغیر ـ دلته زیاتره همداسې کیږي . سهار به تیز لمر وي بیا به ګڼې وریځې راشی او بیا به د یو ناڅاپه تیز باران څخه وروسته آسمان له وریځو پاکیږي . شکر دې د باران په وخت کې موږ په رستورانت کې وو . کنه د باراني کوټ څخه پرته به ډیر لوند شوې وی .

هغوې د دايروي مسير د تيريدو څخه وروسته د فتح د محراب خواته ولاړل . عين د محراب لاندې د يو نامعلومه عسکر په قبر باندې هميشني ډيوه روښانه وه. په وطن باندې بې شميره قربانيدونکو عسکرو ته د فرانسې د خلکو د ستاينې او درناوې تلپاتې اظهار .

پاسکل سنان ته يوه مشوره ورکړه ، هغه ته يې وويل سنانه د لفټ په واسطه به پورته چت ته ولاړ شو د هغه ځای څخه ټول پاريس ښکاره کيږي . سنان د سر په خوځولو سره ورته وويل سمه ده .

پاسکل هغه د مټ څخه ونيو او په ناز سره يې ورته وويل ته خو نن زما هره خبره منې.

سنان په خفګان سره ورته وويل ، هو ، هو -.. نن ... بيا هغه د ټکټ د کړکی څخه دوه ټکټونه واخيستل او په لفت کې کښيناستل .

د سنان د اندازې څخه چت ډير لوړ وو . په چت باندې د يو پراخه ډګر ګمان کيده هغه څهار ديوالي کلکه ونيوه او لاندې يې وکتل ، د محراب دسيني څخه په وتونکو بې شميره سړکونو باندې ګرځيدونکي موټرې د لوبو د سامان په څير ښکاره کيدلي . ښي لاس ته د عمارتونو څخه ليرې د آيفل ټاور زنګ وهلې پنجرې د آسمان سره خبرې کولې . مخامخ د شانزی ليزې په آخر کې د کنکورد په چوک کې مجسمې او يادګارونه سر لوړي ولاړ وو . ددې څخه ليرې د لودر عمارت ښکاره کيده. او بيا کيڼ خواته د پاريس د پخوانيو کورونو په ګڼ ځنګل کې د سيکرې کر د کليسا ګنبذه ځليدله .

سنان پاسکل ته وويل ، د پاريس خلک پخپل ښار باندې بالکل په ځای فخر کوي . شاته چې يې وليدل نو هلته پاسکل نه وه، هغه په ډار يوه او بله خوا وليدل خو پاسکل د چت په بل سر کې په حفاظتي ديوال سر ټيټ کړې وو او لاندې يې ليدل . د هغه په سترګو کې د تيرې شپې د خوب سيورې په ځليدو شو . هغه داسې احساس کړه چې دا به هم سلهاوو فوټه لاندې وغورځيږي . سنان په ډيرې تيزې سره د هغې خواته راغی او ورغږ يې، پاسکل ،

سنان د هغې سور کوټ کالر کلک ونيوه ورته يې وويل ، شاته ولاړه شه.

پاسکل شاته وليدل هغه ته يې وويل ، سنانه زه خو-ـــ هغې به لا همدومره ويلي وو چې سنان په غمجن غږ کې ورته وويل ، ته به له دې ځای څخه وغورځيږې او ته به مړه شې پاسکل ، هغه د پاسکل کالر  په زور سره شاته کش کړ.

هغې د سنان د مضبوط ګرفت څخه د خپل کالر د خلاصولو ناکامه هڅه وکړه . سنان ته يې وويل ، سنانه په تا څه شوي دي . لطفا زما کالر پريږده زما ساه بنديږي.

سنان کالر لږ سست کړ ، پاسکل ته يې وويل ، بس ته لاندې مه ګوره زه ډاريږم ، پاسکل ژر شاته ولاړه د هغې په څيره باندې د ډار او حيرانتيا نښې وی.

سنان د هغې د ملا څخه لاس تاو کړ هغې ته یې د یوې تکیې ورکولو هڅه وکړه او هغې ته یې وویل راځه لاندې ولاړ شو .

پاسکل د هغه لاس لیرې کړ هغه ته یې وویل زه خپله تللې شم هغه ډیره خفه ښکاره کیده .

سنان پخپل روش ډیر پښیمانه شو، له ځان سره یې فکر وکړ چې د پاسکل سره مې باید دومره تند روش نه وو کړی.

سنان د خندا کولو هڅه وکړه او پاسکل ته یې وویل ، ته هسې خفه شوی زه تل د لوړو ځایونو څخه ډاریږم ، زه ډیر متاسفه یم .

پاسکل په چوپتیا سره د هغه لاس ونیو دواړه په لفټ کې کښیناستل او لاندې راغلل .

د شانزې لیزې پراخه پیاده لاره چیرته چې د پاریس د ژوند زړه درزیږي یو ځل بیا د باران څخه وروسته له رش څخه ډکه وه . سنان پاسکل ته تکیه ورکړې وه او دواړه د خیړېو د ونو د قطار لاندې په قراره د کنکورد د چوک خواته روان وو. د هوا یوې کوچنۍ څپې به هم د ونو پر پاڼو باندې د پرتو رڼو اوبو څاڅکي په هغوې باندې ورشیندل. د چوک بلې غاړې ته د لودر میوزیم وو.

کله چې د هغې قهوه خانې خواته ورسیدل چیرته چې د دوې اتفاقات ملاقات شوې وو نو پاسکل هلته د یوې لحظې لپاره ودریده ، پاسکل د هغې میز خواته ولیدل کوم میز ته چې په هغه ورځ ناسته وه بیا یې وخندل او وړاندې روانه شوه. د یو لږ مزل څخه وروسته پاسکل بیا ودریده سنان ته یې وویل ، سنانه د ( پیا) دفتر ، سنان ورته وویل د کوم پیا ؟

پاسکل ورته وویل د ( پی -آیې - ای ) ستاسو د هوایی چلند نړیواله کمپنۍ ، موږ پې -آیې - ای یو ځای سره وایو آیا ته پوهیږې په ایټالوې ژبه کې پیا یوې ښکلې جینې ته وایې . سنان ورته وویل ،زموږ په هیواد کې پیا محبوب کس ته ویل کیږي . که ښایسته وی او که بدرنګه ، پاسکل په حیرانتیا سره ورته وویل ، رښتا ؟

سنان د تایید لپاره سر ورته وخوځاوه .

سنان د موضوع د بدلولو لپاره ژر ورته وویل ، راځه له نږدې یې وګورو، او هغوې دواړو د غټو کړکیو په ښیښو کې د دفتر لیدل پیل کړل. سنان چې د دفتر نوې او معاصر ډیزاین ولیده نو ډیر خفه شو سنان له ځان سره فکر وکړ چې په دې ډول ډیزاین سره خو د کوم پاتې هیواد خلک مرعوب کیدلې شی مګر د پاریس په څیر ښار کې چیرته چې د ښکلا او ذوق نوې ننداري هرې خواته لیدل کیږي دا دفتر ډیر ساده او بې روحه دی . په دیوال باندې د صادقین د ځړیدلې تصویر څخه پرته هلته د پاکستان د تهذیب او کلتور نور هیڅ شې نه ښکاره کیده . هغه له ځان سره فکر وکړ چې که چیرته په ساده دیوالونو باندې د ملتان نیلي ښختو کار شوې وو،د قیمتې صوفو پر ځای د ډیره غازي خان ساده پیړۍ کیښودل شوې وی په کاونټر کې د سوات د لرګیو استفاده شوې وه او په فرش باندې د پټ سن قالینې خپرې شوې وی او په

شوکیس کې د ګندهارا د فن کومه ښکلې مجسمه کیښودل شوې وی نو دا دفتر به واقعا ډیر ښکلی او باکماله وو .

سنان په دفتر کې یو راځړیدلې اشتهار خواته اشاره وکړه او پاسکل ته یې وویل داد شالیمار باغ دی .

پاسکل ورته وویل ، په دې خو د تاج محل ګمان کیږي . په ختیځ کې د باغ تخیل هم زموږ څخه مختلف دی . د آروپا په باغونو کې د سنګ مرمر د سپینو دولس دریابونو فکر تر اوسه پورې چاته پیدا نه شو . د لاهور د شالیمار باغ په نسبت دپاریس د تولیرز باغ څومره بې روحه ښکاره کیږي .

سنان ورته وویل ، دا خو د یوې مشرقي جینۍ خیالات دي .

پاسکل ورته وویل ، همدا تا خو ویلي وو چې کله چې پاکستانی غوږوالی واچوې نو باید د یوې مشرقي جینۍ په څیر فکر وکړی.

سنان په خندا سره ورته وویل ستا فکر باید یوازې تر باغونو پورې محدود نه وی . پاسکل خاموشه وه او بیا دواړه مخته روان شو .

هغوې چې به کله هم د کوم یوې قهوه خانې تر څنګه تیریدل نو په پیاده لاره کې به په کرسیو ناستو خلکو ددوې خواته لیدل ځینیو به ددې د سپینو زرو د غوږوالیو له کبله او ځینیو به ددې د ناسمو قدمونو له کبله ددې خواته ورلیدل .

د کنکورډ د چوک د لسهاوو فوارو د اوبو څخه د بچ کیدو په موخه هغو د لیرز باغ ته ننوتل کوم چې پاسکل لږ وخت مخکې بې روحه یاد کړې وو اما د ونو او ګلانو د ښه جوړښت له کبله دا باغ ډیره ښکلې ښکاره کیده . د باغ په یوه څنډه کې د لودر د میوزیم د جلاله ډک عمارت ولاړ وو چې پخپلو پراخه تالارونو کې یې د نړۍ د نادرترینه مجسمو ، شاهکاره تصویرونو او د بې شمیره هنري ټوټو ته ځاې ورکړې دی . دا تعمیر دومره پراخه دی چې ددې د ټولو برخو د سرسري لیدلو لپاره لږ تر لږه پوره یوه ورځ په کار ده .

په لودر کې د زیاتو مجسمو او د زرهاوو تصویرونو لپاره باید د فرانس خلک د نپولین څخه مننه وکړی چې د خپلو فتوحاتو په وخت کې یې په مفتوحه هیوادونو کې یې جارو وهلې وه او ټول نادره شیان یې د مفتوحه هیوادونو څخه راټول کړې وو او بیا یې فرانس ته انتقال کړي وو . د خپلو میوزیمونو د ډکولو لپاره نن ورځ امریکا هم دا نادره نسخه عملي کوي . یوازې طریقه او یا واردات یې لږ سره فرق لري . په تیرو وختونو کې به خلکو په ډیر احترام سره د یو هیواد نادره شیان لوټ کول او خپل هیواد ته به یې انتقالول او اوس د نورو هیوادونو دولت لوټ کیږي او وروسته بیا په همدې دولت سره د نوموړې هیواد نادره شیان اخلي او هغه خپل هیواد ته انتقالوي . په همددې نږدې وختونو کې د امریکا یو میوزیم د هسپانوي رسام ولا سکز د یو عادي تصویر د اخیستلو لپاره پنځه کروړه روپۍ تأدیه کړی.

سنان وړاندې شو او د ټکټونو د کړکۍ څخه یې دوه ټکټونه واخیستل او هغوی د میوزیم د مرکزي دروازې څخه دننه ننوتل .

لودر ته زیاتره بیروني سیاحین یوازې د ایټالوي رسام لیوناردو دي وینچي د مشهور تصویر ( مونالیزا) د لیدو لپاره راځي نو ځکه نن ورځ هم ددې تصویر د لیدو لپاره بې شمیره خلک راجمع شوي وو. پاسکل او سنان یوازې ددې تصویر شاوخوا ته ورسیدل . دا ځکه چې تصویر ته مخامخ د سیاحینو ټولې ، ټولې په ډیر احترام سره د خپلو لاربښوونکو تیزو او خوځنده شونډو ته متوجه وو او د هغوی لخوا یې د انځور بشپړ تاریخي او فني ځانګړتیاوو تشریح ته غوږ نیولی وو.

لکه څنګه چې تر نن ورځې پورې د هنر په زرهاوو قدرکوونکو او نقادانو د مونالیزا د موسکا پټ راز نه دی موندلی په همدې ډول سنان هم ددې عادي او ساده ښځې د عکس د شهرت او لوړتیا پټ راز نه دی موندلی . آیا دا خبره ضروري ده ، هغه ښځې چې شونډې یې لږې راټولې کړي وي نو د هغې د موسکا تر شاه به د پټو رازونو یو انبار پروت وي . په دې باره کې سنان د پاسکل څخه رایه واخیستله . هغې خپلې نیلي سترګې په سنان کې ښخې کړې او په خندا شوه . د مونالیزا خندا بې رونقه شوه .

کله چې د خلکو رش کم شو نو هغوی هم تصویر ته په یو ځغلنده نظر ورولیدل او مخ ته روان شو .

د میوزیم د اوږد او پراخه هال په څنګ کې یوه کوچنی دروازه خلاصه وه چې هلته په سپینه تخته باندې د وینس دې میلو الفاظ لیکل شوي وو. د وینس ددې مجسمې شهرت د مونالیزا د تصویر څخه یو څه کم وو .
د یونان د ساحل سره نږدې د اینونین په سمندر کې په سلهاوو ښکلې او روښانه جزیرې وی په دې کې د تر ټولو ښکلې جزیرې نوم میلو دی . په دې جزیره کط پخوا یو غریب خو ډیر ماهره سنګتراش اوسیده . د ځوان سنګتراش د نارینه وقار او میراني خبرې د جزیرې د ټولو نجونو پر ژبه وی مګر د هغه به دې ته پام نه وو او تل به د تیرو په یو ډیرې کې ورک وو . مګر د هغه لاس به هیڅ وخت نه دریده . د تیشې هر ګوزار به یې د مینې او هنر د یو ځای کیدو څخه سرچینه اخیسته.
یوه شپه د ښکلا دیوي وینس د خپل آسماني معبد څخه راښکته شوه او ددې غریب سنګتراش جونګړې ته راغله .
وینس ، ولاړ او حیرانه سنګتراش ته داسي وویل :

د پېړيو راهيسې سنګتراشان په تيره کې زما د ملکوتي حسن د اچولو په هڅه کې دي . مګر هغه ټول ناکام شو . ددې لپاره نه چې هغوی فني مهارتونه نه درلودل بلکه ددې لپاره چې هغوي تل ماته د يوې په شکل د ډير احترام په نظر ليدلي دي په دې ډول د هغوی لخوا جوړ شوو مجسمو د پاکوالي او روحانيت بڼه خپله کړه اما په هغې کې زما د ښځينه حسن کوم څه ښکاره نه شو زه د ښکلا د ديوي څخه پرته يوه ښځه هم يم . زما د مجسمې د تراشولو او جوړولو لپاره د پاکوالي تر څنګ د ميني او خواهش انساني احساسات هم په کار دي . په ټول يونان کې زما نظر په تا دی. ته يوه داسې مجسمه جوړه کړه چې په هغې کې زه د يوی ديوي سره سره د يوې ښکلی او بشپړې انساني ښځينه ځانګړتياوو سره وښودل شم . ماته ښه په ځير وګوره .

د ښکلا ديوي هغه شپه د غريب سنګتراش په جونګړه کې تيره کړه او د رڼا د لومړۍ وړانګې په راتللو سره بې بيرته د خپل آسماني مسکن لور ته پرواز وکړ.

د هغې د تللو سره سم سنګتراش يوه تيشه راواخيسته او د خپلې ملکې او محبوبې ( وينس ) د مجسمې د جوړولو لپاره د سنګ مرمر په يوې لويه ټوټه کې ورک شو . همداسې مياشتی او کلونه تير شو . د تيشي هر ګوزار نوي نقشونه جوړول خو بالاخره مجسمه جوړه شوه د ښکلا ديوي وينس د غسل څخه وروسته د سمندر څخه راووتله په يو لاس کې بې منه او په بل لاس کې بې خپل اوږد لباس نيولي وو ، هغې د خپلې مناسبې ښکلا او خدو خال له مخې تر کمر بنده پوری لباس اغوستي وو .

کله چې د ميلو خلکو د يوې سپيڅلي ديوي ځيره او د انساني احساساتو ښکاره کوونکي د ښکلي جسم مجسمه وليده نو بې اختياره بې وويل موږ به سر له نن څخه يوازې د وينس عبادت کوو . هغه د ميلو يوازينۍ ديوي وي . نو ځکه بيا يو ستر او عظيم الشانه معبد جوړ شو او په يوه اوچته ستنه بې د وينس مجسمه راوځړوله او د هغې عبادت بې پيل کړ.

په قرار ، قرار د مجسمې د بې حده ښکلا آوازه د نيلي اوبو څخه اخوا د يونان د ستر پاچا تر غوږونو ورسيده د زياتره جابره حکمرانانو په څير د يونان بادشاه هم دا ونشو زغملې چې دومره نادره مجسمه دی څو ميله ليری د يوی کوچنۍ جزيري د خلکو په ملکيت کی وي . نو ځکه بادشاه د ميلو خلکو ته پيغام ورواستاوه چې مجسمه دی ډير ژر بادشاه ته وليږی . د ميلو خلکو د خپلی محبوبې جدابې نشوه زغملې نو انکار بې وکړ.

په يو خړ سهار د معبد په اوچت منار باندې د ناست پيره دار نظر په نيلي سمندر کې د يونان د بادشاه په جنګي بيړيو پريوته . د هغې مخ د ميلو خواته وو. پيره دار ژر د معبد مشرانو ته خبر ورکړ. دا چې ميلو يوه کوچنۍ جزيره وه نو د يونان د دومره قوي بادشاه د مخنيوي توان بې نه درلوده . مداخله بې ګټي وه . د ميلو خلکو او مشرانو غوښتل چې په هر ډول وي بايد خپله ديوي د يونانيانو څخه وساتي نو ځکه هغوې يوه ډيره سخته پريکړه وکړه او هغه دا چې دا مجسمه بايد دومره بدرنګه شي چې يونانيان بې په ليدو سره زړه توري شي او بيرته تش لاسونه ولاړ شي . او دا کار بې همغه غريب سنګتراش ته وسپاره . هغه خپله تيشه تيره کړه په زړه بې د صبر غټه تيږه کيښوده او د وينس ښکلی لاسونه بې تراوږو پورې پرې کړل .

ددې پرې شوي لاسونه بې د ميلو د ساحل په غاړه کې په ډير احترام سره د نيلي اوبو په

ژورو کې لاهو کړل . مګر دې طریقې هم کار ونه کړ. و ینس د بې لاسونو مجسمو جسماني ښکلا اوس هم سحر انګیزه وه او یونیانو په همدې شکسته حالت کې له ځان سره یوړله .
د نن څخه څو کاله مخکې یو یوناني نژاده امریکایې لامبوزن د میلو شاوخوا ټول ساحل په دې امید وپلټه چې ګواکې د وینس پرې شوې لاسونه پیدا کړی او بیا یې د هغې د نیمګړې مجسمې سره ولګوي تر څو یو ځل بیا دې دیوي ته د زرهاوو کلونو مخکینې ملکوتې حسن ورکړی . اما ناکام شو .
نن پاسکل او سنان د هغې دروازې مخ ته ولاړ وو چیرته چې د میلو د دیوي وینس مجسمه ولاړه وه . اطاق ته په داخلیدو هغوې داسې احساس کړه لکه هغوې چې زرهاوو کلونه مخکې همغه معبد ته تللي وي چیرته چې په ستنه باندې د وینس مجسمه نصب وه . بس فرق یوازې دومره دی چې نن ورځ د وینس ښکلي لاسونه د میلو د جزیرې د شاوخوا اوبو په تل کې تور شوې دي .
سنان ولیدل چې د مجسمې سپین رنګ اوس یو څه تور شوې دی . د ښکلي جسم د زیاتره ځایونو څخه یې څه ټوټې جدا شوې دي او هلته کندې جوړې شوې دي . په دې شکسته حالت کې هم وینس د یو ذي روحه دیوي په څیر تر مسحورکن حده پورې ښکلې ښکاره کیده .
داسې ښکاره کیده چې هغه به اوس خپل اوږد لباس په لاس نیولې د ستنې څخه لاندې راښکته شي او په ډیرې حیرانتیا سره به پوښتنه وکړی چې زه د میلو د روښانه جزیرې څخه دې یخ هیواد ته څنګه راغلم .؟ زما لاسونه چیرته دي ؟ زه څنګه معذوره شوم ؟ پاسکل د مجسمې څخه چار چاپیره وګرځیده مجسمې ته یې تنقیدي نظر ولیدل بیا یې خپله فیصله پري وکړه ، سنان ته یې وویل ماته خو په دې مجسمه کې کومه خاصه خبره نه ښکاره کیږي دئ ته یې ددنیا د ښکلی ښځی خطاب ورکړې دی . تر دې چې په فرانس کې د هغې د څیرې او بدن اندازه د ښځینه بدن د تناسب وروستې معیار ګڼل کیږي او د ښکلا یوه سیالي هم ترسره کیږي . بیا یې د وینس ښکلو اوږو اوسینې ته یو نظر واچاوه او په بې پرواهې سره یې وویل ، زما په فکر وینس به ډیره چاقه وه . پاسکل وروستی جمله په حسد لړونکي لهجه کې داسې په معصومیت سره ادا کړه چې سنان د خندا څخه پرته پاتې نه شو د هغې په اوږه یې لاس کیښود او ورته یې وویل ، ته په حقیقت کې د وینس د ښکلي جسم څخه سوځیږې.
پاسکل ژر شاته ورتاوه شوه، د هغې په نیلي سترګو کې د قهر لمبې بلې وی .هغه لږ وخت خاموشه وه او بیا یې په لړزیدلي او کمزوري غږ ورته وویل ، زه څنګه سوځیدلې شم ؟
سنان مسلسل خندل .
پاسکل یو ناڅاپه په یوې قهرجنې چیغې سره ورته وویل ، هغه خو هم زما په څیر معذوره ده .
سنان په سکته کې راغی ، هغه داسې فکر هم نه کاوه چې پاسکل به په دې ښکلی مجسمه کې هم د خپلی دل آزارې جواز پیدا کوي .سنان په غصه شو او هغې ته یې وویل ، هو هغه هم ستا په څیر معذوره ده لیکن هغې خپل معذورالې د خپلې خود آذیتې سبب نه دې جوړ کړی . هغې د څو ورځو راهیسې هڅه کوله چې خپله جسماني نیمګړتیا له پامه وغورځوي خو نن چې دا له پاریس څخه روانیده نو نن هغه یو ځل بیا د درد همغو لارو ته ورستنه شوه .

پاسکل سر ښکته نیولې وو پاک او چمکداره فرش ته یې ورلیدل او بیا یې پر مخ د اوښکو یوه لیکه راغله .
سنان ته د خپل حماقت احساس وشو . د نن سهار راهیسې دده په لهجه کې تیزي وه . هغه خپله پخپلو نظرونو کې مجرم وو او د همدې جرم د احساس لاندې د هغه روش د پاسکل سره دومره تند شوې وو. هغه راوړاندې شو د پاسکل اوږې یې ونیولې او هغې ته یې په ډیرې نرمۍ سره وویل ، پاسکل ، دې دیوي ته ، دی وینس ته تر اوسه پورې پخپل حسن باندې دومره ناز دی چې خلکو ددې پرې شوي لاسونه هم هیر کړي دي ،تاته معلومه ده چې ته ډیره ښکلی یې، پاسکل ته هم خپل پرې شوې لاسونه ولې نه هیروې؟
هغې په قراره سره ورته وویل ، زه یې نشم هیرولې .
سنان د هغې د زنې لاندې ګوته کیښوده او د هغې څیره یې راپورته کړه او هغې ته یې وویل زما لپاره پاسکل .
پاسکل مسلسل سلګۍ وهلې ، د هغې د نیلي سترګو څخه د اوښکو فوارې روانې وې او ټول مخ یې لوند وو. هغې د کوجنیانو په څیر سر خوځاوه او بار ، بار یې همداسې ویل زه یې نشم هیرولې زه یې نشم هیرولې .
په اطاق کې څو راجمع شوو خلکو د هغوې خواته ولیدل د هغوې په سترګو کې د رحم او مهربانۍ سیورې وو سنان د جیب څخه رومال راوویسته د هغې اوښکې یې وچې کړې هغې ته یې تکیه ورکړه او د میوزیم څخه یې بیرون راوویسته .
بیرون لا لمر روښانه ځلیده ،هره خوا ژوند وو مګر ددې ټولو شیانو څخه ناخبره پاسکل پخپل ځان کې ورکه وه . نن د تللو په وخت کې هغې خپلې پښې د ځان پسې کش کولې داسې بریښیده لکه هغه چې بې ساه وي .
سنان د تولیرز په باغ کې بخپل لامده رومال باندې د یو بینچ سطح پاکه کړه او پاسکل یې هلته کښینوله . هغوي تر ماښام پورې همهلته ناست وو . پاسکل په خاموشۍ سره د هغه په اوږه سر ایښې وو . ژړا یې کوله او سلګۍ یې وهلې سنان په ډیرې خاموشۍ سره د هغې په اوښکو باندې لمدې معصومې څیرې او لمدو سترګو ته ځیر وو او یو ژور فکر وړې وو چې نن پاسکل د خپل معذوروالي احساس په دومره شدت سره ولې کوي ؟ آیا هغه دده د تللو په راز پوه شوې ده ؟ هغه ولې پرې شوي لاسونه نه هیروي ؟ او یا هغه عمر خوړلې ښځې چې تر شاه یې خبرې کوې او یا نجوني او سړي یې هیریدولو ته نه پرېږدي ؟
په ماښام کیدو سره سم د باغ په مختلفو برخو کې د پخوانیو نصب شوو پایو څراغونه روښانه شو. خړ او تور تم په سپینه روښنایې بدل شو او ګڼه ګونه پیل شوه . لاس په لاس ځواني جوړې د پاریس د سحر انګیزه شپې د حسن د راټولولو لپاره دلته راغلي وو . بهرني سیاحین هم د مختصر قیام په دوران کې ددې ښکلا څخه د خوند اخیستلو لپاره دلته راغلي وو . ددوي د بینچ شاوخوا ډیر کوچني ، کوچني ماشومانو په لوبو کې مصروف وو . د نانځکې په څیر یوې جینۍ چې خپل بال پورته کړ نو د پاسکل په پښو کې راوغورځید. کله چې داد بال د راپورته کولو لپاره ښکته شوه نو هغه نانځکه په منډې سره تر دې راورسیده پاسکل ژر خپلې اوښکې پاکې کړې او هغه یې په غیږ کې واخیسته . د نانځکې پسې شاته یوه

بوډۍ ښځه راغله او غږ يې کړ فرانسوا د ميډموزيل جامې خرابې نه کړی ستا بوټان پر ختو دي . بيا يې د پاسکل څخه بخښنه وغوښته د پاسکل د غيرږ څخه يې کوچنۍ ماشومه واخيسته او د خپل ځان سره يې روانه کړه.
پاسکل په تيرو پنځو ساعتونو کې د لومړي ځل لپاره شونډی خلاصی کړی. او سنان ته يې وويل سنانه څومره ښکلي ماشومه وه .
سنان په نرمۍ سره ورته وويل هو ډيره ښکلې ماشومه وه .
پاسکل د هغې د اوږې څخه سر پورته کړ او پوښتنه يې ورڅخه وکړه ستا ماشومان خوښيږي ؟
هغه په فکر کې شو ، ماشومان ، هو ، کيدلای شی زما خوښيږي .
پاسکل ورته وويل ، کيدلای شی ؟
سنان ورته وويل ، هو که چيرته هغه د پنځه شپږ کالو څخه کم وي نو بيا .زه نه بوهيږم د کوچنيو ماشومانو په ليدو سره زه يوه عجيبه احساس کوم . مثلا هيڅکله زما په زړه کې ددې احساس نه دی پيدا شوی چې زه کوم ماشوم په غيږه کې واخلم . سنان قصدا خبرې اوږدولې تر څو د هغې پام بلې خواته واړوي .
سنان ورته وويل ، ستا د خپل ځان په هکله څه فکر دی؟
پاسکل ورته وويل ، د هرې جينۍ په څير زما هم کوچنيان خوښيږي زما هم دا اميد دی چې زما خپل کوچنيان وي او زه هم مور جوړه شم . د پاسکل د سترګو څخه يو ځل بيا اوښکې په بهيدو شوی او هغه خاموشه شوه .
سنان ورته وويل ، لطفا پاسکل په دې کې د ژړا څه خبره ده ؟
پاسکل ورته وويل ، د وينس مجسمې ماته د خپل معذوروالي احساس راکړ او دې کوچنۍ ماشومې ماته د خپل معذوروالي او مجبوريو احساس راکړ. زما کوچنيان خوښيږي ليکن ماته معلومه ده چې زما واده به هيڅکله ونه شي.زه به مور جوړه نه شم ته شايد دا درک نه کړی خو د يوې ښځې لپاره ددې څخه بل ستر غم نشته .
سنان هغې ته تسلي ورکړه ،هغې ته يې وويل ته هسې خپل زړه کوچنی کوی . زه پوره يقين لرم چې يوه ورځ نه يوه ورځ به حتمي هغه اجنبي کس راځی کوم يو ته چې هر جينۍ انتظار کوي او بيا ـــــ
پاسکل ورته وويل ، زما انتظار نور ختم شوې دی . او په ما کې نور د انتظار توان نشته .
سنان خاموشه شو . لږ وخت وروسته د بونيوارډ سار ژرمين لخوا د ځوانو نجونو او هلکانو يو ګروپ په شور او ځوږ سره راغی او هغوي ټول ددوي سره په نږدې چمن کی کښيناستل په هغوي کې اکثره د شرابو په نشه کې ډوب وو. او خرابې فرانسوي سندرې يې زمزمه کولی . پاسکل د بينچ څخه پاڅيده سنان ته يې وويل ، زما په يو پر سکونه ځای کې کښيناستل خوښيږي دا وخت به د ګلانو بازار هم بند وي راځه هلته ولاړ شو د هغې مخ ډير ژير شوې وو سنان ورته وويل ، که چيرته ستا طبعيت جوړ نه وي نو زه به تا تر کور پوری ورسوم .
پاسکل ژر ورته وويل ، نه زما هدف دادې ـــ زه اوس بالکل ښه يم . او د خنديدو هڅه يې وکړه .

سنان په نه زړه ورته وویل سمه ده څنګه چې ستا خوښه وي ، پاسکل د سنان لاس پخپلو لاسونو کې ونیوه او سنان ته یې وویل ته لکه چې له ما څخه خفه شوې یې ؟
سنان ورته وویل ، نه ، نه یم خفه .
پاسکل ورته وویل ، زه ډیر افسوس کوم چې زما د حماقت له کبله تاسو هلته په میوزیم کې د ټولو خلکو په وړاندې شرمنده شوی . سنانه زه بې اختیاره شوم . نن سهار کله چې ما ستا د راکړل شوې ډالۍ کاغذ خلاص کړ نو حیرانه شوم . د وینس مجسمه او د هغې پرې شوی لاسونه . ما داسې احساس کړه لکه ته چې قصدا ماته د خپل معذوروالي احساس راکوی . زه پوهیږم چې زما دا فکر صحیح نه دی . او بیا کله چې ما په میوزیم کې کوم وخت ددې مجسمې اصلي شکل ولیده نو ستا یوې بې ضرره جملې زما په وجود کې پخیدونکي لاوا په جوش راوسته . سنانه لطفا ما وبخښه .
سنان ورته وویل ، ښه خیر دا قصې پریږده خو پاسکل په دې کې ستا خپله ګټه ده آخر تر څو به ته د خپلې محرومۍ ماتم کوې .
پاسکل ورته وویل ، همدې یو محرومۍ خو نورې سل محرومۍ زیږولې دي اخر کومه محرومي تر غاړې ونیسم .
سنان په ډیرې نرمۍ سره ورته وویل دا محرومي ستا د خپل فکر زیږنده ده . په هغه ورځ کله چې ته خپل ځان ته د خلکو د نظر په ځای د خپل ځان او زړه په سترګو وګورې نو په همغه ورځ به دا محرومیانې خپله مړې شي . ته ښکلې یې او بیا یو فکر کوونکې ذهن لرې او بیا دلته زما شتون ستا هغه اندیښنه ناسمه ثابتوي چې خلک ددې نیمګړتیا له کبله د رفاقت وړ نه ګڼي .
پاسکل بې حده وخندل ، بیا یې د خپلو ښو لاندې په شفافه نیلي سترګو سنان ته په ځیر ځیر سره ور ولیدل او ورته یې وویل ، سنانه ته خو ـــ ته خو ددې ټولو څخه مختلف یې .
سنان ورته وویل ، په دې دنیا کې زما په څیر بې شمیره خلک دی ته خو یو ځل د خپلې خود اذیتي د غلاف څخه بیرون وګوره .
پاسکل ورته وویل ، فی الحال ماته ددې څه ضرورت نشته بیا یې سنان د لاس څخه ونیوه او د خپلې ملا څخه یې چاپیره کړ او هغه ته یې وویل راځه چې د ګلانو بازار ته ولاړ شو او هلته کښینو هغوې د تولیرز د پراخه باغونو څخه تیر شو او د ګلانو بازار ته راغلل . سنان ته وریاد شو چې پرون سهار خو دوی له همدې ځای څخه د ماهیانو د نیولو سامان اخیستي وو. اما داسې ښکاره کیده لکه ددې خبرې چې کلونه تیر شوې وي . د پاسکل سپین لباس ، د سین د دریاب په اوبو کې لامبو وهونکي ساکنې کونډې ، نه پوهیږم چې د کوم وخت خبره وه .
نن شپه د ګلانو د انبارونو څخه ډکې د لرګي غرفې بندې او ټول بازار تش او خاموشه پروت وو. ددې کوچنی خاموشه غرفو په لیدو سره چا دا ګمان نشو کولې چې د ورځې به دلته هر ډول خوشبویانې وي او رنګونه به له دې ځایه خپریږي د بازار دواړو خواوو ته د ونو قطارونه وو چې د هغې وچې شوې پاڼې یوه او بله خوا پرتې وې . د یوې غرفې مخې ته څو ماتې کرسۍ پرتې وی سنان او پاسکل هملته کښیناستل هره خوا ټوله خاموشي وه . د پاریس په شور کې د سکون یوه آرامه جزیره -..

www.af.dawatmedia24.com

سنان خپل ساعت ته ولیدل نږدې اته بجې وی او ده ته په کار وو چې په هر ډول وي باید تر لسو بجو پورې ستیشن ته ځان ورسوي . د هغه څخه د جینې پروګرام بالکل هیر شوې وو. هغه تصمیم ونیوه چې په هر ډول وی اوس باید پاسکل ته د خپل تګ په باره کې ووایي . کنه پخپل وخت به ستیشن ته ونه رسیږي . او که چیرته نن د پاریس څخه ولاړ نه شي نو سبا هم نشي تللې او آینده هم بیا هیڅکله نه شی تللې.
سنان د هغې د زنې لاندې ګوته کیښوده د هغې ښکلې مخ يې د ځان خواته تاو کړ د هغې سترګې اوس ټولی وچې شوې وی سنان ورته وویل ، پاسکل زه د نن سهار څخه هڅه کوم چې تاته یوه ډیره مهمه خبره وکړم مګر په دې شرط چې ته ... پاسکل يې ژر خبره ورپرې کړه او ورته يې وویل :
د شرطونو د عایدولو ضرورت نشته . ماته معلومه ده چې ته پاریس پرېږدې او ځی. د هغه لاس لیرې کړ او سر يې ښکته کړ سنان په حیرانتیا ورڅخه وپوښتل تاته ددې په هکله څنګه معلومات وشو ؟
پاسکل ورته وویل ، ماته ؟ زه یوه نورماله جینۍ نه یم او ځکه د نورو خلکو روش هم له ماسره نورمال نه وي . هغوي کله هم په خلاص زړه له ماسره خبرې نه کوي د هغې خلکو روش په ما کې داسې يو حس پیدا کړې دی چې کله هم څوک وغواړي چې ما پرېږدي نو ماته خپله معلومات کیږي له نن سهار راهیسي ستا روش له ماسره نورمال نه وو ته د ضرورت څخه زیات خاموشه وی . کله به چې دې هم خبره کوله په هغې کې به زیاته تندي او سختي وه . او بیا ماته بار بار پخپل ژوند باندې د قناعت د کولو تلقین څه معنی کیدلې شي ؟ همدا کنه زه به له تاسره نه یم او زه دا ژوند باید له تا څخه پرته تیر کړم .
سنان ورته وویل ، تاته ما په لومړې ورځ ویلي وو چې زه په هیڅ شکل په پاریس کې نشم پاتې کیدلې .
پاسکل ورته وویل ، هو تا ماته ویلي وو خو آیا ما ستا دا تصمیم منلې وو؟ سنانه تاته ما ویلي وو کنه کله چې زه یوه خوشحالي تر لاسه کوم نو زه ددې بل سر ته ځم او د یوې بلې خوشحالي پلټنه کوم او بیا په همدې ډول زما دا زړه غواړي چې د خوشحالیو دا سلسله هیڅ وخت ختمه نه شي انسان نورمال وي او که معذوره خو د هغه فطرت خو هیڅکله نه بدلیږي. زه له تا څخه هیڅ کومه ګیله او شکایت نه لرم . نه تا له ماسره کومه وعده کړې وه . که د یوې خوا څخه زه په دې ورځو کې ډیره زیاته خوشحاله وم نو د بلې خوا څخه ستا د جدایې اغزې زما په ذهن کې ننوتې وو. ما ددې اغزي د ویستلو ډیره هڅه وکړه ما خپل ځان ستا د جدایې لپاره تیار نه کړ. ته څو بجې روانیږې؟
سنان سر ښکته کړ او هغې ته يې وویل ، د پاریس د ستیشن څخه غرناطه ته دشپې لس بجې اور ګاډې روانیږي .
سنان ورته وویل ، پاسکل آخر لږ فکر وکړه یوه ورځ خو به زه حتمي له دې ځای څخه تللم هغه د پیښمانتیا تر احساس لاندې همداسې تر فشار لاندې وو.
پاسکل ورته وویل، ته صحیح وایې او ما هم دا فکر ونه کړ. ما هم دا فکر ونه کړ چې ته یو سیاح يې . او سیاح هیڅکله کوم ډول رشتې نشي زغملې . او بیا د یوې معذورې رشتته ؟ ما

ټول عمر د یو مفروره مجرم په څیر د خلکو د سترګو څخه پټ تیر کړې دی . ما په چا باندې باور نشو کولې. ممکن نه وو. او بیا ما د خپل ځان لپاره خپله یوه دنیا جوړه کړه چې په هغې کې یوازې د خوبونو خلک اوسیدل. تا زه د خوب د دنیا څخه بیرون راوویستلم. زما سترګې وبریښیدلې. ما تر اوسه دومره رڼا نه وه لیدلې. او کله چې ـاو کله چې زما سترګې ددې تیزې رڼا سره عادي شوی اوس ته بیا ماته بیرته همغو عمیقو ژورو تیارو ته د تللو وایې ؟ زه نن یو ځل بیا خپل ځان بې وسه او معذوره احساس کوم . زه به د مخکې په شان د یو مفرور مجرم په څیر د خلکو د سترګو څخه پټ ژوند کوم . د پاسکل سترګې وچې وی او هغې ډیر په اطمنان سره خبرې کولې .

سنان دهغې لاس ونیوه او ورته یې وویل ، ته به اوس هیڅکله هغه عمیقو تیارو او ژورو ته نه ځی. ته به هیڅکله بیرته دخوبونو هغې دنیا ته بیرته نه ځی. تا ولیدل چې ستا په لیدو هیڅ یوې بودۍ ښځی پټي ، پټې خبرې ونه کړی.چیرته هم یوې ځوانې جینې تاته سترګې نه دې راپورته کړي . او نه کوم سړي زما په عقل ماتم وکړ. ستا ډار بې اساسه ثابت شوې دی.

پاسکل ورته وویل ، سنانه تا نه لیدل چې د هغو خلکو د نظر تیزو ستنو زما وجود سیورې کاوه . او دا ستنې اوس زما په نصیب شوې دي . زما د وجود څخه به ددې ستنو د لیرې کولو لپاره اوس هیڅ کوم شهزاده رانشي . زه به یو ځل بیا د رحم او همدردۍ د جذباتو سوالګره شم .

د سنان غږ چې د جذباتو د شدت له کبله تیز شو . ورته یی وویل پاسکل لطفا دا خبری مه کوه . زه څو ورځی نور هم پاتې کیدلې شوم خو که چیرته نن ولاړ نه شم نو بیا هیڅکله هم نشم تللې . لطفا ما مه ایساروه . او بیا په څو اونیو کې ژمي پیل کیږي او په هر ډول چې وي باید زه د ژمي د پیل کیدو څخه مخکې له ترکیې څخه تیر شم کنه واوره به پیل شي . سنان خپلې سترګې ښکته کړی. د هغه زړه ددې ټولو خبرو نفي کوله .

پاسکل د هغه دواړه لاسونه کلک ونیول ، هغه ته یې وویل ، که ژمی پیل شي نو څه کیږي بالاخره ختمیږي خو به هم . سنانه ته د سپرلي په موسم کې بیرته خپل وطن ته ولاړ شه . پاسکل

پاسکل ورته وویل ، هو سنانه تا ماته په سلهاوو ځل ویلي دي چې ته په پاریس کې نشې پاتې کیدلې . ته باید اندلس ته ولاړ شې. او د ژمي د رارسیدو څخه مخکې باید له ترکیې څخه تیر شی . خپلې کورنۍ او وطن ته باید ولاړ شی. دا هر څه ماته معلوم دی اما سنانه زه پرته له تا څخه نشم اوسیدلې . ته ...

سنان د خپل لاس ورغوي د پاسکل په یخو شونډو باندې کیښود او هغې ته یې وویل ، چپ شه پاسکل، ما پخپلو سترګو کې دومره مه غورځوه.پاسکل د سنان لاس د خپلو شونډو څخه لیرې کړ او ورته یې وویل سنانه ته له ماسره پاتې شه . ددې پر ځای چې زه له نورو څخه د رحم او همدردۍ خیرات وغواړم نو زه تاته کچکول غوړوم ماته خیرات راکړه.

سنان ژر چیغه کړه ،نه پاسکل

پاسکل د هغه مخ پخپل لاسونو کې ونیوه او سترګې یې پټې کړی. او ورته یې وویل سنانه مه ځه . ما خو ددنیا ټولې نقشې سوځولې دي . د هغې د بندو سترګو څخه اوښکې روانې وی. د سپینو زرو غوږوالی یې په تیاره کې خړ بخنې ښکاره کیدلې.
د سنان د ماغ ګرم شو او سوځیدل . هغه داسې احساس کړه چې اوس به لیونې شی . د هغه په وجود کې لاوا په جوشیدو وه . مه ځه سنانه مه ځه . دا د هغې د زړه غږ وو چې مسلسل یې دده په ذهن باندې ضربې وهلی . نقشې هم سوځیدلې دي . لارې هم محدودې شوې دي .
هغه څه وکړی ؟ څه ونه کړی؟ د هغه ذهن خراب شو . هغه د پاسکل خواته په خاموشۍ سره لیدل . د هغې اوږده بانوګان په اوښکو لامده وو. لږ وخت وروسته پاسکل سترګې خلاصی کړی هغې سنان ته ډیر په غور سره لیدل لکه دده د زړه د آواز انتظار چې کوي . او بیا د هغې لاسونه ولړزیدل او بیا یې یو ناڅاپه د سنان د مخ څخه لاسونه لیرې کړل .
سنان ولیدل چې د پاسکل ټوله څیره سپینه شوه . لکه هغه چې د موم څخه جوړه شوې وي .
اما د هغې اضطراري کیفیت ختم شوې وو. هغه ډیره پرسکونه ښکاره کیده لکه هغې ته چې آرام راغلې وي . هغه د کرسۍ څخه پاځیده سنان ته یې وویل زه څومره کمعقله یم . د هغې په شونډو یوه پیکه مسکا راغله . سنان ته یې وویل سنانه ما وبخښه.ما چې تاته څه هم وویل هغه ټولې د لیونتوب خبری وی . ما ته داسې کول په کار نه وو .
سنان هم د خپل ځای څخه راپورته شو راوړاندې شو او د پاسکل د لاس د نیولو هڅه یې وکړه. خو هغه شاته شوه.
سنان ته یې وویل ، نه سنانه ماته مه راوړاندې کیږه او ماته لاس مه راوړه کنه زه به بیا د لیونتوب خبرې پیل کړم او زه به بیا بې وسه شم .
سنان د یو مجرم په څیر ولاړ وو.
ته باید د ژمي د پیل کیدو څخه مخکې د ترکیې څخه تیر شی کنه بیا برفباري شروع کیږي .
تاته معلومه ده چې د ژمي د موسم راتلل ستا په نسبت به ماته ډیر اذیت ناک وي زه خو هغه وخت په اطاق کې قید کیږم . زما په ټول وجود کې ډیر سخت درد راپیدا کیږي کله چې منې شي نو زه به د خپل اطاق په کړکې کې کښینم او په پیاده لاره باندې چې د څیړیو د ونو د مسو په څیر د ځلیدونکو سرو پاڼو رالویدنه ګورم نو تا به یادوم او بیابه زما درد کمیږي.هغې په قراره د سنان لاس پخپلو لاسونو کې ونیوه او د خپلو یخو شونډو سره یې ولګاوه او هغه ته یې وویل خدای دی وکړی چې پخیر خپل وطن ته ورسیږی . الله حافظ
سنان ورته وویل ، زه تاته تکسي نیسم او تا تر کور پورې رسوم .
هغې د کوچنیانو په څیر د سر په خوځولو سره انکار وکړ نه ، نه زه اوس غواړم د سین د دریاب د غاړې سره ولاړه شم . تر څو یو ځل بیا زه هلته د یوازې ګرځیدو سره عادت شم .
ددې په ویلو سره یې د سنان څخه مخ واړاوه او بیا په ډیر قراره قراره د ګلانو د بازار په منځ کې روانه شوه . هره خوا خاموشي خپره وه . یوازې د پاڼو د لګیدو ، او د وچو خزان رسیده پاڼو د ماتیدو غږ وو . هغه په ډیره سختۍ سره ګوډه ، ګوډه روانه وه . هغه د برق د یوې پخوانې پایې سره تیره شوه د هغې د سپینو زرو غوږوالې وځلیدلې او په همغه لحظه کې بیا تیاره او ورکې شوی. پاسکل دده څخه لیرې شوه او دا هملته د بت په څیر ولاړ وو. د

غرفو د تشو قطارونو تر منځ د پاسکل ښکلو پښو وچې شوې پاڼې راښکلې او راټولولې . کله چې د بازار سر ته ورسيده نو د يوې لحظې لپاره ودريده . او بيا پرته له دې چې شاته وګوري په سړک باندې ښي خواته د سين د درياب په لور تاوه شوه .

چوپتيا مکمل شوه. وچې خزان شوې پاڼې مړې پرتې وې. د ګلانو بازار تور تم وو. د سنان په سترګو کې يوې نرۍ لمدې طبقې په لامبو پيل وکړ. هغه رومال راوويسته خپلې اوښکې يې پاکې کړې او په درندو قدمونو د خپل کور خواته روان شو د هغه سترګې سوځيدلې او ټول وجود يې ټپونه کول . هغه داسې احساسوله لکه چا چې د هغه جسم په ګرم اور کې ښکته کړې وي . د هغه په ذهن کې يو ځل د جيني غږ انګازې وکړې

په يو ځاى کې د پاتې کيدو څخه ـــ د ساکت کيدو څخه ګلان ـــ

او بيا به يې په ذهن کې د پاسکل غږ انګازې وکړې

ما نن نقشه وسوځوله ـــ خپل دشمن ته مې ـ

د هغه په ذهن کې د دواړو غږونه يوځاى کيدل او انګازې يې کولې . بيا به يې ذهن ته دا فکرونه راغلل چې ، پاسکل به اوس د درياب په غاړه تنها وي . هغه به مړه شي . خو نه ماته وطن ته تلل په کار دي . په ترکيه کې به واوره پيل شي . زما مور ، پلار ورونه او خويندې زما انتظار کوي . زه يو سياح يم . په يو ځاى کې به د پاتې کيدو له کبله زما پښې په ځمکه کې ښخې شي . په يو ځاى کې د پاتى کيدو څخه ګلان غوړيږي. ګل ، ژير ګلاب .

هغه په همدې فکرونکو کې خدا خبر څه وخت او څنګه خپل کور ته ورسيده . هغه لږ تم شو او د ساعت روښانه مخ ته يې نظر واچاوه .نهه بجې نږدې وې . ورياده شوه اوه، لس بجې خو موټر روانيږي . هغه په ډيرې تيزې سره د زينو څخه تير شو او اطاق ته ولاړه . خپل ګډ وډ سامان يې په يوه کڅوړه کې واچاوه په همدې وخت کې جيني اطاق ته راغله هغې يو تور لباس په تن کړې وو ، سنان ته يې وويل ، سنانه ته ـــ

سنان ژر شاته وليدل خپلې سوځيدلې سترګې يې په جيني کې ښخې کړې ورته يې وويل څه شى دى ؟

د جيني په لهجه کې ډار وو. سنان تا وعده کړې وه چې ...

سنان ورته وويل ، ما د هيچا سره هيڅ ډول وعده نه ده کړى ما د هيچا دل آزاري نه ده غوښتې . اما بيا هم هر شخص ما مجرم ګڼي ولى ؟ ولى ؟

جيني حيرانه شوه، د هغې په سترګو کې د ډار سيورې وو ، جيني ورته وويل زما ملګرې تاسره ليدل غواړي . زه له اتو بجو څخه انتظار کوم او پروګرام هم ...

سنان ورته وویل ، جیني له دې ځایه څخه ولاړه شه .

د جیني په ژبه کې دروندوالې وو سنان ته بې وویل او زما پروګرام به څنګه شي

سنان چیغې کړه ولاړه شه .

سنان بیا د خپلو شیانو په راټولولو کې مصروف شو . پاسپورت ، د ویښتانو د جوړولو سامان ، جانپاک، دشپې د سفر له کبله هغه د کوټ لاندې یو بنیان هم واچاوه ، د سفر کتابچه ، سکارف نیکټایې ، په سپینه نیکټایې باندې یې لړه سره نښه هم وه هغه د پاسکل د سرخي نښه وه . سنان پرته له دې چې نیکټایې ټوله کړی همداسې یې په کڅوړه کې ورواچوله . د کڅوړې د تړلو څخه مخکې یې د اطاق شاوخوا ته یې یو ځغلنده نظر واچاوه تر څو کوم شیان ورڅخه پاتې شوې نه وي . د پالنګ سره په څنګ کې په کوچني میز باندې یو کتاب ایښودل شوې وو دا د پاسکل لخوا ورکړل شوې کتاب وو. سنان سره له دې چې نه یې غوښتل بیا یې هم د کتاب پاڼه واړوله او هغه یې ولیده . او په دې لیک یې سترګې ولګیدلې

د شهزاده په نوم ـ بدرنګه خلک هم د مینې په څیر احساسات غواړي . اما ددوي زړه دا خبره نه مني چې دوی دې یوازې له دې کبله د محبت څخه محروم کړلې شي . په ډیرې مینې سره د پاریس د پاسکل له خوا .

سنان دا کتاب دومره ژر په هغه کڅوړه کې واچاوه لکه کتاب چې د یو سپین کاغذ په ځای د سوځیدونکو مسو څخه جوړ شوې وي او د پاڼو رنګ یې د خزان شوې څیرې د ونې د پاڼو د رنګ په څیر وي . هغه سامان په اوږه کیښود او بیرون ته ولاړه .

جیني د خپلې دروازې سره نږدې ولاړه وه ، دده په لیدو سره بیرون ته راووتله ، د هغې په لاس کې د شرابو ګیلاس وو. په اطاق کې یې تته رڼا وه او څو نجونې په صوفې ناستې وی . هغوې ټولو سنان ته ورلیدل .

جیني راوړاندې شوه سنان ته یې وویل ، سنانه نن ستا د ډبې کافي هم ختمه شوې وه کنه د تللو څخه مخکې ما درته د کافي یوه پیاله جوړوله د هغې سترګې نمجنې وی. زما د یوې ملګرې سره موټر دی که چیرته ته وغواړی نو هغه به دې ورسوي .

سنان پرته له دې چې د هغې خواته وګوري مخته روان شو ورته یې وویل ، نه مننه جیني .

جیني ورته وویل ، ستا د صحت جام ، او بیا یې په لاس کې نیولې ګیلاس په ستونې کې واړاوه. بیا یې سنان ته ورغږ کړ، سنانه په احتیاط سره په زینو ښکته شه . د تیرې شپې د ښیښنو ټوټې تر اوسه پورې پرتې دي . چیرته د ښیښې کومه ټوټه ستا په پښو کې ولاړه نه شي . ښه سفر ولری .

هغه لږ حیران شو او بیا په تیزی سره لاندې ښکته شو.

د کور څخه چې راووته نو ټيکسي ورته پيدا شوه هغه ټکسي کې کښيناسته او د پاريس تر ستيشن پورې راغی . چيرته چې هسپانيا ته تلونکې اور ګاډی تيا ولاړ وو. هغه د غرناطه پورې ټکټ واخيسته په ډبی کې يې سامان کيښود او بيا د اور ګاډي دروازې تر راغې او هلته ودريده . هغه په غير اختياري ډول د پليټ فارم په آخر کې دداخليدو د پاټک دروازې ته نظر شو په پليټ فارم کې د خلکو ډير زيات رش وو. خلک خپلوانو او ملګرو ته د الوداع د ويلو لپاره راغلي وو. په برقي ګروپونو ټول ستيشن روښانه وو او داسې ګمان نه کيده چې دشپې لس بجې دي . د اندلس خواته د سفر له کبله بايد دده زړه ښه خوشحاله شوې وو مګر نن په هغه تار کې يو څه بدلون راغلي وو چې سنان يې تر اوسه پورې د غرناطه د محلونو او د قرطبې د محرابونو سره تړلې وو مګر د سنان په ذهن کې يوازې د پاسکل ساده او غمجنه څيره ښکته پورته کيده . لکه هغه چې په خيالونو کې هم ګوډه ګوډه روانه وي . د انګلستان څخه تر فرانسې پورې د تلونکي ستيمر په چت باندې لړزيدونکې سور کوټ په بوي ډي بولون کې د سين د درياب په غاړه يوه روښانه ورځ او سحر انګيزه ماښام او بيا د وينس د پرې شوو لاسونو مجسمه چې هغه يې په ژړا کړه .

هغه په همدې فکرونکو کې ډوب وو چې انجن هارن وواهه . او په پليټ فارم باندې ولاړ مسافر ژر ، ژر اور ګاډي ته ختو شو خو سنان تر اوسه پورې د داخليدو دروازې ته په ځير ځير کتل . هغه خپله نه پوهيده چې دا د دروزاې سره لګيدلی پاټک ته ولې دومره په ځير ځير سره ګوري . د انجن لوی لوی څرخونه په حرکت راغلل او بيا د ريل ګاډی دبې يو د بل سره ولګيدلې او په حرکت راغی مسافرينو ته د الوداع ويونکو مخه اوس د وتلو د دروازې په لور وه . پليټ فارم په تشيدو وو. هلته د بريښنا نصب شوې پايې هم په حرکت کې وی. سنان هم شاته روان شو چې پخپله کرسۍ کښيني خو په دې وخت کې يې د پليټ فارم په آخر کې د رش تر منځ د پاسکل څيره وليده . سور کوټ او د سپينو زرو د غوږ.واليو تر منځ يوه ژيړه څيره . هغې په رش کې لاره کوله او په دواړو لاسونو يې خلک ټيله کول . هغې د دومره لوي هجوم په منځ کې ځانته د لارې د جوړولو هڅه کوله . سنان د کرسۍ څخه راپورته شو او په دروازه کې ودريده . او په ښه زور سره يې چيغه کړه . پاسکل .

هغه د يوې شيبې لپاره ودريده د هغې نظر د ريل ګاډي په کړکۍ او په دروازه کې د خلکو په څيرو تير شو او سنان ودريده . هغې په يوې قوي هڅې سره خپل ځان د خلکو د هجوم څخه خلاص کړ. او د سنان خواته يې د منډې هڅه وکړه . هغې هڅه کوله چې د خپل لاس په واسطه پخپل ران باندې فشار راوړي او ګړندۍ منډه کړی او بل لاس يې کلک پخپلو شونډو ايښې وو. هغه په ډيرې سختې سره ګوډه، ګوډه روانه وه . هغې خپلې پښې د خپل ځان پسې راښکلې . که څه هم د ريل ګاډي رفتار ډير کم وو خو بيا هم ددوې تر منځ فاصله په تدريجي ډول زياتيدله. د سنان زړه غوښتل چې خپل سامان او نور څه په ډبه کې پريږدي او پليټ فارم ته ورټوپ کړی تر څو پاسکل د تکليف څخه خلاصه شي .

سنان په خوله لاس کېښوده او په ډېر زور سره يې ورته وويل ، پاسکل منډې مه وهه ،ليکن هغې شايد غږ نه اوريده . د هغې سور کوټ د ريل ګاډي د تيزو تاويدونکو څرخونو د خارجيدونکي هوا له کبله په فضاء کې رپيده . سنان د ريل ګاډي د دروازې لاستې ښه کلک ونيوه او تر خطرناک حد پورې خم شو او د پاسکل خواته يې لاس وغځاوه. د هغې شونډې خوځيدلې او هغې سنان ته يو څه ويل ، مګر د څرخونو د ډيرې درزا له کبله د هغې غږ خپ شو . د ريل ګاډي رفتار اوس تيز شوې وو د هغې ښکلې ګرده څيره په اوښکو لمده وه او نيلي سترګې يې مکمل خلاصې وی . د پاسکل په څيرې باندې د تکليف نښې وی. هغه په ډير مشکل سره ګوډه روانه وه . هغې خپلې ګوتې په شونډو ايښې وی او د سنان خواته يې ور اوږدې کړی.

سنان يو ځل بيا ورچيغه کړه ، پاسکل د خدای لپاره منډې مه وهه ، پاسکل ته به مړه شی .

په همدې لحظه کې هغه په ډير زور سره پر پليټ فارم باندې وغورځيده هغې نه د همغه ځای څخه د پورته کيدو هڅه وکړه او نه يې هم د سنان خواته وليدل .

د هغې سور کوټ د هغې شاوخوا يوه هاله جوړه کړې وه او د هغې په منځ کې پاسکل د يوې ښکلی سپيني سيلي په څير بې حسه او بې حرکته پرته وه کله چې ريل ګاډې د پليټ فارم څخه بيرون شو نو پاسکل د يوی داسې نوې ناوې په څير ښکاره کيده چې خپل ځان يې راټول کړې وي . په قرار، قرار د هغې څيره په ورکيده شوه او بيا په سور کوټ کې مدغم شوه او بيا سور کوټ دشپې په تياره کې جذب شو، په يوه نقطه بدل شو چې بالاخره د سنان د سترګو څخه ورک شو .

Text

# تمت بالخير

www.dawatmedia.com
www.af.dawatmedia24.com

www.af.dawatmedia24.com